د افغانستان اسلامي امارت
لوړو زده کړو وزارت
پکتیا پوهنتون

# قلم
مجلۀ علمی-تحقیقی

علمي-څېړنيزه مجله

( طبيعي او ټولنيز علوم )

لسم کال، ۲۲مه گڼه، ۱۴۰۴ ل.ل.ژمی

سال دهم، شماره ۲۲، زمستان ۱۴۰۴ هـ.ش

علمي-څېړنيزه مجله

مجلۀ علمی-تحقیقی قلم

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher education
Paktia University

# QALAM
## Academic - Research Journal
Natural & Social Sciences

10th year, 22th Issue, 2025 Winter


بسم الله الرحمن الرحيم
ن والقلم
وما يسطرون

پکتیا پوهنتون

د علمي څېړنو معاونیت

د علمي مجلې آمریت


مجلۀ علمی- تحقیقی

# قلم

علمي- څېړنیزه مجله

طبیعي او ټولنیز علوم/ علوم طبیعی و اجتماعی


لسم کال، ۲۲مه ګڼه، ۱۴۰۴ل.ل، ژمی

# قلم

د پکتیا پوهنتون علمي - څېړنیزه مجله

مجلۀ علمی - تحقیقی پوهنتون پکتیا


## د هیئت تحریر غړي/ اعضای هیأت تحریر

| تولنیز علوم/ علوم اجتماعی | طبیعي علوم/ علوم طبیعی |
|---|---|
| پوهنمل دوکتور نوراجان عاطف | پوهاند هدایت الله سالاري |
| پوهنمل دوکتور بلال احمد فضلي | پوهنوال دوکتور عبدالله احمدي |
| پوهاند خواجه محمد چرخي | پوهندوی دوکتور عبدالوهاب حکمت |
| پوهندوی شفیع الله غوثي | پوهنمل دوکتور محمد داؤد احمدزی |
| پوهندوی عبدالناصر ستانکزی | پوهنوال عبدالظاهر محسن |
| پوهندوی عبدالرحمَن مبشر | پوهنوال محیب الرحمَن عارض |
| پوهنمل روح الله حمیدي | پوهنوال ذکي زرمتی |
| | پوهاند ضیاء الله احمدزی |

| پکتیا پوهنتون | د امتیاز څښتن |
|---|---|
| پوهنمل نورالله شاداب | مسؤل مدیر |
| پوهندوی حمیم الله وطن دوست | د طبیعي علومو سردبیر |
| پوهندوی کمال الدین کمال | د ټولنیزو علومو سردبیر |
| پوهندوی سید صدرالدین هاشمي | د مجلې آمر |
| سیف الله ضیاخېل | د مجلې عمومي مدیر |
| سید الرحمَن څار | د مجلې د نشریې مدیر |
| سیف الله ضیاخېل | ډیزاین او ترتیب |



**WWW.PU.EDU.AF**

q.journal@pu.edu.af

+93 777294372 / +93 772192289

پکتیا پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت، پکتیاــ افغانستان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين محمدٍ و على اله وصحبه اجمعين اما بعد!

د ننني نړۍ ګړندی پرمختګ د علمي څېړنو برکت دی او د نړۍ هېڅ اسانتيا هم له څېړنې پرته نه ده تر لاسه شوې. څېړنه د حقايقو يو منظم، هدفمند او سيستماتيک بهير دی چې د انساني پوهې د پراختيا، د ستونزو د حل او د نوښتونو د رامنځته کېدو لپاره بنسټيز ارزښت لري. الله تعالی انسان د اشرف المخلوقات په توګه پيدا کړی او هغه ته يې د تعقل، تدبر او تحقيق ځانګړې وړتيا وربخښلې، تر څو وکولای شي د حقيقت موندنې له لارې خپل فردي او ټولنيز ژوند په علمي بنسټونو برابر کړي .پوهنتونونه د علم د توليد، انتقال او ترويج ستر علمي بنسټونه دي، چې د تدريس ترڅنګ د معياري څېړنو له لارې د ټولنې د علمي، فرهنګي او اقتصادي پرمختګ په بهير کې مهم رول ادا کوي. د ننني نړۍ چټک پرمختګ او د بشري ژوند بېلابېل اسانتياوې د علمي څېړنو مستقيمه پايله ده، او هېڅ ملت نشي کولای پرته له علمي توليد او څېړنيز فعاليت څخه د پرمختللو ټولنو له کاروان سره سيالي وکړي.

علمي څېړنه د پرمختګ، ثبات، هوساينې او دوامداره ودې بنسټيز رکن دی. دا نه يوازې د ستونزو د حل اغېزمنه وسيله ده، بلکې د نوو مفاهيمو، نظريو، اختراعاتو او ابتکاراتو د رامنځته کېدو لپاره هم زمينه برابروي. په همدې اساس، معاصره نړۍ هغو څېړنو ته ځانګړی ارزښت ورکوي چې د ټولنې واقعي اړتياوې په نښه کړي او د عملي حللارو وړانديز وکړي. د ساينس او ټکنالوژۍ د پرله‌پسې او چټک پرمختګ په رڼا کې، اړينه ده چې علمي څېړنې د معياري ميتودونو پر بنسټ ترسره شي، پايلې يې د نړيوالو علمي معيارونو سره سم تحليل او تدوين شي، او د علمي شريکولو په موخه په معتبرو ملي او نړيوالو علمي-څېړنيزو مجلو کې خپرې شي.

له نېکه مرغه، پکتيا پوهنتون د علمي او څېړنيزو فعاليتونو په برخه کې د پام وړ پرمختګونه کړي او د "قلم" په نوم د يوې علمي-څېړنيزې مجلې د خپرولو وياړ هم لري. ياده مجله د طبيعي او ټولنيزو علومو په برخو کې د هېواد د بېلابېلو علمي بنسټونو د استادانو او څېړونکو د علمي مقالو د

خپرېدو لپاره يو معياري او باوري علمي چوکاټ برابروي، چې دا خپله د علمي ودې او فکري تبادلې په برخه کې يو ارزښتناک گام دی.

د خوښۍ ځای دی چې د پکتيا پوهنتون د علمي څېړنو معاونيت، د مجلې آمريت او د هغوی د متعهدو او زيارکښو کارکوونکو په هڅو سره د قلم علمي-څېړنيزې مجلې ۲۲ مه گڼه هم په برياليتوب سره چاپ ته چمتو شوې ده. دا لاسته راوړنه د پوهنتون د علمي تعهد، څېړنيز ليدلوري او علمي ظرفيت څرگندونه کوي.

په پای کې، د دې مهم علمي نوښت د مبارکۍ ترڅنگ، له ټولو قدرمنو استادانو، څېړونکو او ليکوالانو څخه چې خپلې ارزښتناکې علمي مقالې يې دې مجلې ته سپارلې دي، او همدارنگه له هغو ټولو مسؤولينو او تخنيکي کارکوونکو څخه چې د مجلې د ترتيب، ډيزاين او خپرولو په بهير کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، د زړه له کومې مننه او قدرداني څرگندوم .له لوی الله تعالی څخه ټولو ته د لا زياتو برياوو، علمي لاسته راوړنو او دوامداره پرمختگ هيله کوم.

په درنښت

شيخ مولوي صفت الله حقاني

د پکتيا پوهنتون رئيس

## د مطالبو لیکلړ


| ګڼه | د مقالې عنوان | لیکوال/لیکوالان | صفحې |
|---|---|---|---|
| ۱ | په پکتیا ولایت کې د چرګانو روزنې اقتصادي اهمیت او عاید لوړولو فرصتونه | محمد معصوم حسین خیل او رفیع الله قانع | ۱ - ۱۳ |
| ۲ | په شېدو ورکوونکو غواګانو کې د شېدو په تولید او ترکیب باندې د رڼا شدت، موده او د رڼا رنګ اغېزې | ضیاءالاسلام نوبهار | ۱۵ - ۲۵ |
| ۳ | د غوښینو چرګوړو پر وده د هورېږ د پوډرو اغېزې | ګل نبي نوري، ضیاءالاسلام نوبهار، حاجي ګل همت او نصیراحمد سیرت | ۲۷ - ۴۸ |
| ۴ | بررسی تاثیر تغذیه تفالهٔ لبلبو بالای اخذ غذا و وزن گرفتن میش‌ها | محمد فرهاد قیامی، عبدالغفور مرادی و محمد داود شیرزاد | ۴۹ - ۶۰ |
| ۵ | ملچ او د کرنیزو سیستمونو اګرانومیکي اغېزې | سمیع الله آشنا | ۶۱ - ۸۲ |
| ۶ | بررسی نقش هلیکوباکتریا در ایجاد تغیرات در وظایف نورمال معده | فرشته ملکزاده و محمدشریف آرین مل | ۸۳ - ۹۳ |
| ۷ | د صاحب شاه صابر په شعرونو کې موکده تشبیه | حیات الله حامد | ۹۵ ـ ۱۲۱ |
| ۸ | د ګړني او لیکني ادب د برید پولو نوي پیوندونه | یاسر پاچا سادات | ۱۲۳ ـ ۱۳۸ |
| ۹ | د روسي ښکېلاک پر وړاندې د پښتو شعر ونډه | صفي الله اثر | ۱۳۹ ـ ۱۵۸ |
| ۱۰ | په اسلامي شریعت کې اسانتیاوې او رخصتونه | روح الله حمیدي او سمیر احمد احمدي | ۱۵۹ ـ ۱۸۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۱ | په موضوعي لحاظ د امیر کروړ شعر ته لنډه کتنه | محمد داوود منګل او کمال الدین کمال | ۲۰۴ ـ ۱۸۷ |
| ۱۲ | پیوند خودشیفتگی و رسانه‌های اجتماعی: مروری بر دیدگاه‌ها و شواهد تحقیقی | حامد محمدی | ۲۲۵ ـ ۲۰۵ |
| ۱۳ | د حقانی علماوو سره د نفرت ناوړه اغېزې | محمد روحانی او محمد بصیر صدیقی | ۲۴۷ ـ ۲۲۷ |
| ۱۴ | د (طلب العلم فریضة علی کل مسلم) حدیث سمه معنیٰ او د ناسمې معنیٰ تردید یې | محمد زمان صارم | ۲۷۱ ـ ۲۴۹ |
| ۱۵ | بررسی نخستین مهاجرت افغان‌ها به کشور استرالیا، خدمات و آثار به‌جامانده آنها | ملاجان رحمانی | ۲۹۴ ـ ۲۷۳ |
| ۱۶ | مطالعهٔ تطبیقی مؤلفه‌های بیداری اسلامی در اشعار اقبال لاهوری و خلیلی | شفیق الله شفقت و امام الدین ابراهیمی | ۳۲۲ ـ ۲۹۵ |
| ۱۷ | برر سی حکم کالاهای ممنوع الاحتکار ازمنظر فقه حنفی | عبدالهادی مصباح و عبدالباقی واحدی | ۳۳۵ ـ ۳۲۳ |
| ۱۸ | پر ادبیاتو او ادبي مطالعاتو د مصنوعي ځیرکتیا اغېزې | ایمل | ۳۵۲ - ۳۳۷ |

# په پکتیا ولایت کې د چرګانو روزنې اقتصادي اهمیت او عاید لوړولو فرصتونه

محمد معصوم حسین خیل [1*] او رفیع الله قانع [2]

د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګه[1]، علوم حیواني څانګه[2]، د کرنې پوهنځی، پکتیا پوهنتون

masoomsabarnak@gmail.com

## لنډیز

دا څېړنه د (۱۴۰۴) ل.ل کال په اوږدو کې په پکتیا ولایت کې ترسره شوې ده. دا چې د هګیو د چرګو روزنه د کلیوالي اقتصاد د پراختیا یوه بنسټیزه سرچینه ده؛ نو پر همدې بنسټ د دې څېړنې موخه په پکتیا ولایت کې د هګیو د چرګانو ساتنې اقتصادي وضعیت تحلیلول او له دې لارې د عاید د لوړولو فرصتونه په ګوته کول دي. د ډېټا د راټولولو لپاره د څو مرحله یي تصادفي نمونې اخیستنې مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده. د کوکران د فورمول په بنسټ ټول ۳۸۵ ځواب ویونکو څخه ډېټا راټوله شوې او راټوله شوې ډېټا د SPSS 24 ورژن سره تحلیل شوې ده. د څېړنې پایلو وښوده چې په پکتیا ولایت کې زیاتره کورنۍ د عاید او غذا د لاسته راوړلو لپاره په کورونو کې چرګې ساتي. همدارنګه نږدې ټولې کورنۍ د چرګانو محلي نسلونه روزي، چې محصول یې د اصلاح شویو نسلونو په پرتله خورا کم دی. د دې څېړنې موندنې ښیي؛ که په پکتیا ولایت کې اصلاح شوي نسلونه ترویج او وروزل شي نو د اوسیدونکو عاید به یې دوه برابره لوړ شي.

**کلیدي کلیمې:** اقتصادي پراختیا، عاید، کورني چرګان.

# سریزه

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمدٍ و علی اله وصحبه اجمعین اما بعد!

افغانستان یو کرنیز هیواد دی، چې ۸۰ سلنه خلک یې په کرنه او مالداری بوخت دي. په دې هېواد کې مالداري د عاید او خوړو د لاسته راوړلو اساسي سرچېنه ده( Zrawar *et al.*, 2023; Samadi, 2025). د چرګانو روزنه د کرنې او مالداری سکتور یوه مهمه برخه شمېرل کېږي( Shaiq *et al.*, 2024; Khatami, 2022). په افغانستان کې د چرګانو روزنې سکتور شاوخوا ۱,۵ میلیون خلکو ته د کار او عاید زمینه برابروي(Zrawar *et al.*, 2023)، چې د کرنې په وده کې یې ونډه ۴,۸۱٪ او د مالداری په وده کې ۹,۸۴٪ ده. د چرګانو غوښه په هېواد کې د غوښې د ټول تولید ۱۹٪ برخه جوړوي(Khatami, 2022; Zrawar *et al.*, 2023).

د چرګانو صنعت د خوړو خوندیتوب او کورني اقتصاد په پیاوړتیا کې مهم رول لوبوي ( Ali *et al.*, 2024; Kumar *et al.*, 2021). د حیواني محصولاتو یو ډېر استعمالیدونکی او د انساني غذا د پروټین یوه مهمه سرچینه د هګیو تولید دی(Guillaume *et al.*, 2022; Ali *et al.*, 2024). زمونږ په هېواد کې د هګیو د تولید زیاته برخه د چرګانو Free-range یا ازاد ګرځنده سیستم له لارې لاسته راځي. په داسې حال کې چې د نړۍوالو د څېړنو د موندنو په اساس یې د هګیو کلنی تولید ۲۰-۸۰ (Manyelo *et al.*, 2020)، ۴۰ – ۱۰۰ (Kingori *et al.*, 2010) او (Kumar *et al.*, 2021) د څېړنې پایلو ۳۰ – ۸۰ هګۍ ښودلې دي. په داسې حال کې چې د اصلاح شویو نسلونو اړوند د نړۍوالو څېړنو موندنې ښیي، چې په کلني ډول ۳۰۰ هګۍ تولیدوي( Ali *et al.*, 2024; Shahid *et al.*, 2025; Manyelo *et al.*, 2020). له بلې خوا په کلیوالي سیمو کې اکثره ښځې د چرګانو په روزنه بوختې دي؛ نو په همدې اساس ویلی شو چې له دې لارې د عاید لوړول به د دوی په معیشت کې مثبت بدلون رامنځته کړي(Dolberg, 2007).

په افغانستان کې د چرګانو د سکتور اړوند ځینې څېړنې تر سره شوې دي، چې پایلې یې په لاندې ډول سره دي. په افغانستان کې د چرګانو د غوښې او هګیو د تولید په هر پړاو کې جدي

صحي تدابیر باید عملي شي(Faizy *et al.*, 2022). همدارنګه (Khatami, 2022) په بادغیس ولایت کې د چرګانو د تولید د اقتصادي وضعیت تحلیل ترسره کړی او موندنې یې ښيي چې د چرګانو ساتل د فارم تولید او عاید لوړوي. په بغلان ولایت کې د غوښينو چرګانو پر پایداري باندې تاثیر لرونکي عوامل یې څېړلي دي او موندنې یې ښيي چې مختلف عوامل د غوښينو چرګانو پایداري او ګټورتوب اغېزمنوي(Shaiq *et al.*, 2024 ). له بلې خوا (Nicnam and Ghafari, 2020) هغه ټولنیز-اقتصادي عوامل تر څېړنې لاندې نیولي دي، چې د کورني چرګانو په تولید کې د ښځو ونډه اغېزمنوي او موندنې یې ښيي چې د کورني چرګانو تولیدي کچه ټيټه ده او په غذايي امنیت، او د ښځو په استخدام کې مهم رول لري. د (Abozar *et al.*, 2021) موندنې ښيي چې په لومړیو درې اونیو کې بهرنۍ او داخلي غذا د چرګو په وزن اخیستلو د پام وړ اغېزې نه درلودې. همدارنګه (Pashtoon and Qurishi, 2025) له فارم څخه تر مارکیټ د چرګانو ځنځیري ارزښت څېړلی دی. ترسره شویو څېړنو یوازې پر غوښينو چرګانو تمرکز کړی او همدارنګه په موجوده څېړنو کې هیڅ داسې څېړنه نه ده ترسره شوې، چې د چرګانو روزنې له لارې د کورني اقتصاد د پیاوړتیا لپاره لارې لټول شوي وي؛ نو پر همدې اساس مهمه ده چې په دې برخه کې علمي څېړنې ترسره شي او هغه فرصتونه را برسیره شي چې له دې سکتور څخه د کورني اقتصاد او په پایله کې د ملي اقتصاد د ودې لپاره کار واخیستل شي.

د چرګانو روزنې رول د شتمنۍ په تولید او د معیشت په لوړوالي کې باید له پامه ونه غورځول شي. نو په همدې اساس د دې څېړنې موخه دا ده چې په پکتیا ولایت کې د چرګانو روزنې اقتصادي اهمیت تحلیل او هغه فرصتونه رابرسېره کړي، چې د چرګانو د تولید د پراختیا او د عاید لوړوالي لپاره ترې ګټه اخیستل کیدای شي.

## د څېړنې مېتودولوژي

دا څېړنه د (۱۴۰۴) ل.ل کال په اوړدو کې په پکتیا ولایت کې ترسره شوې ده. په پکتیا ولایت کې اکثره کورنۍ د چرګو په روزنه بوختې دي. په دې څېړنه کې د معلوماتو راټولولو لپاره د څو مرحله یي تصادفي نمونې اخیستنې له مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده. لومړی د پکتیا ولایت ولسوالۍ په تصادفي ډول انتخاب شوې، وروسته په هره ولسوالۍ کې کلي او بیا په هر کلي کې د چرګانو

روزونکې کورنۍ انتخاب شوي دي. د کوکران د فورمول په اساس ټولې ۳۸۵ نمونې اخیستل شوې دي. په دې څېړنه کې لومړۍ لاس شمېرې، چې د پوښتنپاڼې په وسیله او د چرگانو د روزونکو سره د مرکې له لارې راټولې شوې دي، راټولې شوې شمېرې مخکې له دې چې تحلیل شي، ترتیب او کوډینگ او د غلطیو مخنیوي لپاره چک شوې او بیا د تشریحي احصائیې څخه په گټه اخیستنې د SPSS 24 ورژن په کارولو سره تحلیل شوي دي. پایلې یې د اوسط، فریکونسي، سلنې، جدولونو او گرافونو په شکل ښودل شوې دي.

## د څېړنې پایلې

په دې څېړنه کې د فریکونسي ویش د څواب ویونکو ډیمو گرافیک خصوصیاتو لپاره کارول شوی، چې د ځواب ویونکو مختلف ډیموگرافیک خصوصیات د فریکونسي او سلنې په توگه بیانوي. د څېړنې پایلې ښیي چې (۴۱,۴٪) ځواب ویونکي د ۱۸ کالو او ۳۰ کالونو د عمر لرونکي دي، (۲۴,۹٪) یې د ۳۱ څخه تر ۴۰ کاله عمر لرونکي دي او پاتې (۸,۵٪) ځواب ویونکي له ۵۱ کاله څخه لوړ عمر لرونکي دي (۱ـجدول). پایلې ښیي چې د (٦٤,۴٪) ځواب ویونکو اساسي شغل کرنه او (۳۵,٦٪) یې په نورو کارونو بوخت دي. د دې څېړنې اکثره (٦٤,۷٪) ځواب ویونکي بې سواده او (۳۵,۳٪) یې باسواده دي. سربیره پر دې (۴۸,۱٪) ځواب ویونکي یې د ۱۱ او ۲۰ ، (۴۰,۸٪) یې ٦ څخه تر ۱۰، (٦,۸٪) یې ۱-۵ کسیزه کورنۍ لري او پاتې (۴,۴٪) ځواب ویونکي یې د هغو کورنیو غړي دي چې تر ۲۰ کسانو څخه زیات غړي لري.

۱- جدول: د ځواب ویونکو ډیموګرافیکي ځانګړنې

| عمر | فریکونسي | سلنه |
|---|---|---|
| ۱۸-۳۰ کاله | ۱۶۰ | ٪۴۱,۶ |
| ۳۱-۴۰ کاله | ۹۶ | ٪۲۴,۹ |
| ۴۱-۵۰ کاله | ۸۱ | ٪۲۱ |
| ۵۱-۶۰ کاله | ۳۱ | ٪۸,۱ |
| ۶۰ کلنۍ څخه پورته | ۱۷ | ٪۴,۴ |
| **مجموعه** | **۳۸۵** | **٪۱۰۰.** |
| دنده | | |
| کروندګر | ۲۴۸ | ٪۶۴,۴ |
| بل یو | ۱۳۷ | ٪۳۵,۶ |
| **مجموعه** | **۳۸۵** | **٪۱۰۰.** |
| د زده کړو کچه | | |
| باسواده | ۱۳۶ | ٪۳۵,۳ |
| بې سواده | ۲۴۹ | ٪۶۴,۷ |
| **مجموعه** | **۳۸۵** | **٪۱۰۰.** |
| د کورنۍ د غړو شمېر | | |
| ۱-۵ نفره | ۲۶ | ٪۶,۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۶-۱۰ نفره | ۱۵۷ | ٪۴۰,۸ |
| ۱۱-۲۰ نفره | ۱۸۵ | ٪۴۸,۱ |
| ۲۱-۳۰ نفره | ۳ | ٪۰,۸ |
| ۳۱ څخه زيات | ۱۴ | ٪۳,۶ |
| **مجموعه** | **۳۸۵** | **٪۱۰۰.** |

د دې څېړنې په اوږدو کې له چرگانو څخه د عايد د لاسته راوړلو د معلوماتو لپاره له اوسط، فاصله، اعظمي او اصغري عايد اندازې او سټنډرډ ډيويشن څخه استفاده شوې ده. پايلې ښيي چې د ځواب ويونکو کورنۍ په اوسط ډول ۱۰،۶۹ چرگې، چې له ۲ څخه تر ۵۰ پورې د هگيو چرگې روزي له ۶,۱۲۶ ± سټنډرډ ډيويشن سره، د يوې چرگې قيمت له ۴۰۰ افغانۍ څخه تر ۶۶۰ افغانيو پورې ده، چې اوسط قيمت يې ۵۱۷,۶۹ افغانۍ کيږي؛ له ۲۶۰ رنج او ۴۱,۰۶۸± سټنډرډ ډيويشن سره(۲-جدول). همدارنگه د يو نر چرگ قيمت له ۳۰۰ څخه تر ۶۰۰ پورې ده، چې اوسط يې ۴۳۰,۲۶ کيږي له ۳۰۰ رنج او ۳۸,۰۱۶ ± سټنډرډ ډيويشن سره. همدارنگه د څېړنې پايلې ښيي چې ځواب ويونکي له چرگانو روزنې څخه په اوسط ډول ۱۳۴۲,۷۵ افغانۍ عايد له ۱۶۰ اصغري او ۵۰۰۰ اعظمي او ۸۶۹,۴۱۸ ± سټنډرډ ډيويشن سره په لاس راوړي.

۲- جدول: د چرگانو له روزنې څخه عايد

| | فاصله (Range) | اعظمي | اصغري | اوسط | سټنډرډ ډيويشن |
|---|---|---|---|---|---|
| په يو کلچ کې د هگيو شمير | ۴۸ | ۶۰ | ۱۲ | ۲۹,۴۶ | ۹,۶۴۶ |
| د مياشتې منځنی عايد | ۴۸۴۰ | ۵۰۰۰ | ۱۶۰ | ۱۳۴۲,۷۵ | ۸۶۹,۴۱۸ |
| د يوې چرگې قيمت | ۲۶۰ | ۶۶۰ | ۴۰۰ | ۵۱۷,۶۹ | ۴۱,۰۶۸ |
| د چرگ قيمت | ۳۰۰ | ۶۰۰ | ۳۰۰ | ۴۳۰,۲۶ | ۳۸,۰۱۶ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د چرګانو شمیر | ۴۸ | ۵۰ | ۲ | ۱۰،٦٩ | ٦،۱۲٦ |

د دې څېړنې په اوږدو کې له ځواب ویونکو څخه د چرګانو د نسل په باره کې نظر غوښتل شوی چې (۹۹،۷٪) یې په طبیعي ډول یا محلي توګه غیر اصلاح شوي نسلونه روزي (۱-چارټ). همدارنګه د هګیو د تولید اړوند د ځواب ویونکو نظر ښیي چې اکثره (۵۴٪) چرګې هرو دوه ورځو کې هګۍ کوي او (۴۵٪) چرګې هره ورځ د هګۍ کولو د تولید توانایي لري(۲-چارټ). د دې څېړنې په اوږدو کې له ځواب ویونکو څخه د هګیو د قیمت اړوند پایلې ښیي (۸۱٪) ځواب ویونکي ۱۰ افغانۍ، (۱۷٪) ۸ افغانۍ او یوازې (۲٪) سلنه ښیي چې د یوې هګۍ قیمت په ۷ افغانۍ دی(۳-چارټ). سربېره پر دې د ځواب ویونکو نظر د عمده ستونزې په اړوند ښیي چې مختلف مرضونه، ښکارکوونکي حیوانات او غذايي مواد په ترتیب سره د دوی د چرګانو عاید اغېزمنوي(۴-ګراف).

۱- چارټ: د چرګانو موجوده نسل




۲- چارټ: د چرګو د هګیو تولید




۳- چارټ: د یوې هګۍ قیمت




۴- چارټ: د عاید کموالي عمده ستونزه



## مناقشه

د دې څېړنې د پایلو موندنې ښيې، چې په پکتیا ولایت کې په زیاتره کورنیو کې زیات شمېر وگړي یو ځای او گډ اوسیږي، یعنې لویې کورنۍ تشکیلوي. د اکثره کورنیو د عاید لومړنۍ سرچینه د کرنې او مالداری سکتور ده(Zrawar *et al.*, 2023). سربیره پر دې هره کورنۍ د خپلو ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په کورونو کې چرگې ساتي. د دې چرگو له هگیو او غوښو څخه د خپلو ورځنیو اړتیاوو په پوره کولو کې گټه اخلي. د چرگو روزنه د کلیوالي اقتصاد د پراختیا یوه غوره وسیله ده. د چرگو هگۍ د غذایي موادو په ډول مصرفوي او له غوښو څخه یې هم استفاده کوي. همدارنگه د ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یوه اندازه هگۍ او یا چرگې او چرگان په مختلفو قیمتونو سره په خرڅلاو رسوي. د څېړنې په ساحه کې د چرگانو روزنې سکتور د عاید لاسته راوړلو او کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې مهم رول لري. همدارنگه د څېړنې په ساحه کې نوموړی سکتور د ښځو او کورنیو لخوا پر مخ وړل کیږي.

د څېړنې پایلې ښيي چې اکثره کورنۍ د هگیو چرگو تر څنگ نران چرگان هم د غوښې او خرڅلاو لپاره ساتي. په هر کور کې په اوسط ډول د هگیو د چرگو شمېر ته په کتو نوموړې کورنۍ خورا ټیټ عاید تر لاسه کوي. په داسې حال کې چې د یوې چرگې یا چرگ قیمت خورا مناسب ده؛ مگر د چرگو د هگیو تولید ته په کتو چې اکثره یې په دوه ورځو کې یو ځل هگۍ اچوي نو دوی نشي کولای یو مناسب عاید په لاس راوړي. د څېړنې د پایلو په اساس اکثره کورنۍ غیر اصلاح شوي نسلونه یا په کورونو کې په طبیعي ډول لاسته راغلي نسلونه ساتي، چې د نوموړو نسلونو تولید خورا ټیټ ده. په داسې حال کې که چېرې د دې پرځای اصلاح شوي نسلونه Fayoumi, Albalady and Black Australorp ترویج شي نو د دې خلکو عاید به دوه چند لوړ شي لکه څنگه چې( Ali *et al.*, 2024; Shahid *et al.*, 2025; Alam *et al.*, 2025) ویلي دي. په داسې حال کې چې په نړۍ کې اوس یوه اصلاح شوې چرگه د کال تر ۳۵۰ هگۍ(Kittelsen *et al*, 2021)، ۳۰۹ هگۍ په کال کې تولیدوي (Erik and Zoltan, 2021). سره له دې چې زمونږ په هیواد کې د چرگانو محصولاتو ته ورځ تر بلې تقاضا په زیاتیدو ده او د چرگو هگۍ په مناسب قیمت پلورلای شو(Azizi, 2024). سربیره پر دې مختلف مرضونه، وحشي ښکاري حیوانات او د مناسبې تغذیې

نشتون په ترتیب سره هغه ستونزې دي چې د چرګانو عاید یې د څېړنې په ساحه کې زیانمن کړی دی.

## پایله اخیستنه

د دې څېړنې د پایلو موندنې څرګندوي، چې په پکتیا ولایت کې د خلکو د عاید اساسي سرچینه کرنه او مالداري ده. د څېړنې د ساحې اکثره وګړي د خپلو ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو او عاید تر لاسه کولو لپاره په کورونو کې د هګیو چرګې روزي. همدارنګه د څېړنې پایلې ښیي، چې د دې سیمې خلک د چرګانو غیر اصلاح شوي نسلونه ساتي، چې د چرګانو د اصلاح شویو نسلونو په پرتله خورا کم تولید ورځخه په لاس راځي. په داسې حال کې چې زموږ په هېواد کې د چرګانو محصولاتو ته تقاضا ورځ تر بلې پر زیاتیدو ده. همدارنګه که چېرې د دې محلي نسلونو پرځای اصلاح شوي نسلونه وساتل شي نو د دې سیمې د اوسیدونکو عاید به له دې سکتور څخه دوه چنده لوړیدای شي. د هګیو د چرګو روزنه د کلیوالي اقتصاد د پراختیا یوه اساسي سرچینه ده.

## وړاندیزونه

د څېړنې د پایلو په اساس موږ وړاندیز کوو، چې د کلیوالي اقتصاد د لوړوالي لپاره دې د څېړنې د ساحې اوسیدونکو ته نوي اصلاح شوي نسلونه ترویج شي او د ساتنې او عاید د لاسته رواړلو اړوند دې د عامه پوهاوي سیمینارونه ورته په لار واچول شي.

## اخځلیکونه


Abozar, F., Himat, A. M., Nazari, Z. A., Zafari, N., & Hamdard, E. (2021). Comparative Study of Foreign and Domestic Feeds and Their Effects on Eggs Production in Golden Breed in Baghlan Province of Afghanistan. *Asian Journal of Research in Animal and Veterinary Sciences*, *7*(2).

Alam, M., Chand, N., Naz, S., Khan, M., Khan, R. U., Alhidary, I. A., & Ragni, M. (2024). Comparative growth, production, carcass characteristics and reproduction performance of Naked Neck,

Black Australorp and their crossbred chicken. *Italian Journal of Animal Science*, *23*(1), 1624-1634.

Ali, M., Jan, A. W., & Rehman, S. U. (2024). Impact of Seasonal Variation on Egg Production and Mortality in Fayoumi, Albalady, and Black Australorp Breeds. *Trends in Biosciences Research*, *1*(01), 19-26.

Ali, M., Jan, A. W., Ahmed, A., Farooq, U., & Iqbal, S. (2024). Longitudinal study on egg laying patterns and mortality rates of fayoumi, albalady, and black australorp breeds in narc, pakistan. *Bioscience Insights*, *1*(02), 34-41.

Azizi, M. N. (2024). Constraints of Livestock Sector Development and Low Economic Contribution to The Economy of Afghanistan. *Journal of Natural Science Review*, *2*(Special. Issue), 593-606.

Dolberg, F. (2007). Poultry production for livelihood improvement and poverty alleviation. *Poultry in the 21st Century; FAO: Rome, Italy*, 26.

Erik, G., & Zoltán, S. (2021). Study on performance traits of laying hens with crossing the White Leghorn and the Rhode Island breeds.

Faizy, H., Azimi, A., Alam, S., Safari, Z. S., & Atif, A. (2022). Food safety status on poultry meat and egg in Afghanistan. *AgroTech-Food Science, Technology and Environment*, *1*(1), 57-60.

Guillaume, A., Hubatová-Vacková, A., & Kočí, V. (2022). Environmental impacts of egg production from a life cycle perspective. *Agriculture*, *12*(3), 355.

Khatami, S. (2022). Analysis of The Economic Situation of Poultry Production in Badghis province. *The Journal of Academic Social Sciences (ASOS JOURNAL).*

Kingori, A. M., Wachira, A. M., & Tuitoek, J. K. (2010). Indigenous chicken production in Kenya: A review. *International journal of poultry science, 9*(4), 309-316.

Kittelsen, K. E., Gretarsson, P., Jensen, P., Christensen, J. P., Toftaker, I., Moe, R. O., & Vasdal, G. (2021). Keel bone fractures are more prevalent in White Leghorn hens than in Red Jungle fowl hens—A pilot study. *PloS one, 16*(7), e0255234.

Kumar, M., Dahiya, S. P., & Ratwan, P. (2021). Backyard poultry farming in India: A tool for nutritional security and women empowerment. *Biological Rhythm Research, 52*(10), 1476-1491.

Manyelo, T. G., Selaledi, L., Hassan, Z. M., & Mabelebele, M. (2020). Local chicken breeds of Africa: their description, uses and conservation methods. *Animals, 10*(12), 2257.

Nicnam, M. M., & Ghafari, S. R. (2020). Socio-economic factors affecting the role of women in family poultry production: A case study at Paghman district, Kabul province, Afghanistan.

Pashtoon, R., & Qurishi, J. (2025). From Farm to Market: Structural Barriers and Institutional Gaps in Afghanistan’s Poultry Value Chain. *Gandhara Journal of Natural Sciences, 1*(1).

Samadi, A. (2025). Opportunities and Challenges to Afghanistan's Self-sufficiency in Livestock Production Sector. *Journal of Natural Science Review, 3*(2), 1-17.

Shahid, B., Khan, M. I., & Imtiaz, S. (2025). Assessing Productive and Reproductive Performance in Kashmiri Black Australorp Chicken Over 200 Generations.

Shaiq, Muhammad Asef, Moienuddin Naiemi, Khalil Razavi, and Shir Agha Asim Hamidi. "Importance-Performance Analysis of Factors Affecting the Sustainability and Development of

Poultry Farms (Evidence from Broiler Farms in Baghlan Province, Afghanistan)." (2024).

Zrawar, M., Rasikh, M., Danishyar, E., & Motmain, Z. (2023). Study of Production Performance and Economic of Broiler Farms in Parwan Afghanistan. *Journal for Research in Applied Sciences and Biotechnology*, *2*(5), 108-112.

# The Economic Importance of Poultry Farming in Paktia Province and Opportunities for Increasing Income

[1*]Mohammad Masoom Hussainkhil [2] and Rafiullah Qani
[1]Department of Agricultural Economics and Extension, [2]Department of Animal since, Faculty of Agriculture, Paktia University
masoomsabarnak@gmail.com

## Abstract

This research was conducted in Paktia Province during the year 1404. Since layer poultry farming is a fundamental source for the development of the rural economy, the purpose of this study is to analyze the economic status of layer chicken production in Paktia Province and identify opportunities for increasing income through this sector. For data collection, a multi-stage random sampling method was used. Based on Cochran's formula, a total of 385 respondents were selected, and the collected data were analyzed using SPSS version 24. The findings of the research showed that most households in Paktia keep chickens at home to generate income and obtain food. It was also found that almost all households raise local chicken breeds whose productivity is significantly lower compared to improved breeds. The results of the study indicate that if improved breeds are promoted and adopted in Paktia province, the income of residents could double.

**Key words:** Backyard poultry, Economic development and income

# په شېدو ورکوونکو غواګانو کې د شېدو په تولید او ترکیب باندې د رڼا شدت، موده او د رڼا رنګ اغېزې

ضیاءالاسلام نوبهار

مالداری څانګه، کرنه پوهنځی، میرویس خان نیکه پوهنتون- زابل

dr.nowbahar21@gmail.com

## لنډیز

غواګانې د اهلي څارویو له جملې څخه دي چې د Bovidea کورنۍ او Bos جنس پورې اړه لري دلته اساسي ستونزه دا ده، چې زمونږ مالداران د شېدو غواګانو روزنې او ساتنې اړوند کافي معلومات نه لري او همدارنګه د شېدو غواګانو د ساتنې لپاره عصري وسایلو نشتون د دې سبب ګرځي چې د غواګانو د تولید کموالې شکایت کوي؛ نو په همدې اساس دا یوه مروري څېړنه ده چې مونږ ضروري وګڼله چې د شېدو ورکونکو غواګانو کې د شېدو په تولید او ترکیب باندې د رڼا شدت، موده او د رنګ اغېزې وڅېړو، چې په پایله کې دا ثابته شوه چې د رڼا شدت، موده او رنګ نه یوازې د شېدو غواګانو په تولید کې زیاتوالی رامنځته کوي، بلکې د حیواناتو صحت، د بدن فزیالوژیکي دندو په سرته رسولو کې هم مثبت رول لري همدانګه هغه غواګانو ته چې په ورځ کې ۱۸ ساعته رڼا او ٦ ساعته تیاره موجوده وي د شېدو په تولید کې د ۵ تر ۱۵ سلنه پورې زیاتوالی راغلی او همدارنګه د ګروپ سپین رنګ نسبت نورو رنګونو ته د شېدو په تولید او هورمونونو نورمالو دندو په رسولو کې مثبتې اغېزې درلودې؛ نو په پایله کې ویلی شو، چې رڼا نه یوازې د څارویو د تولید په زیاتوالي کې بلکې د دوی په صحت او فیزیالوژیکي دندو کې مهم رول ترسره کوي.

**کلیدي کلیمې:** د رڼارنګ، موده، شدت، شېدو تولید او شېدو غواګانې

## سريزه

بسم اللّٰه الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين محمدٍ و على اله وصحبه اجمعين اما بعد!

غواګانې د تي لرونکو حيواناتو له جملې څخه دي، چې (Bovini) فرعي نوعي او (Bovidae) کورنۍ پورې اړه لري، چې د نړۍ ډېر مهمو او لويو اهلي حيواناتو څخه شمېرل کېږي. غواګانې او ورته حيواناتو اهلي کيدل د نړۍ تر ټولو مهمو پرمختګونو څخه ګڼل کېږي، غواګانې د خپل ځانګړي هضمي سيستم له امله سيلولوز هضمولی شي او له همدې لارې انسانانو ته شېدې، غوښه او نور فرعي محصولات لکه فاضله مواد، څرمن او داسې نور شيان برابروي. زرګونه کاله کېږي چې غواګانې د کرنې په کارونو کې د بارکښو څارويو په توګه کارول شوې دي، عصري کرنيز پرمختګ کې يې اساسي رول درلود. په ډېرو ټولنو کې يې کلتوري او آن مذهبي ارزښت هم پيدا کړی دی. او دا ارزښت تر نه پاتې دی. همدارنګه غواګانې د دوه سومه حيواناتو په ډله کې دي چې (Artiodactyla) اردر پورې اړه لري (Ruvinsky *et al*,. 1998). همدارنګه د يوې څېړنې پايلې ښودلې چې ځراغونه او رڼا د غواګانو په شېدو او غوښې په توليد، د خوسکيو په وده او تکامل، تناسلي فعاليت کې وده او د حيواناتو په عمومي روغتيا کې خاص رول لري. دا تحليلونه په عمومي ډول ښيي چې د رڼا محرکات ډېر وخت د حيوان د فعاليت په څو برخو کې بدلونونه رامنځته کوي، يا هم په غيرمستقيم ډول د دې بدلونونو د رامنځته کېدو لپاره شرايط برابروي( Penev *et al.*, 2014; Parkunan *et al.*, 2015; Patbandha *et al.*, 2016; Rao *et al.*, 2017.). هغه غواګانې او حيوانات چې هره ورځ د طبيعي لمر يا مصنوعي ځراغونو له لارې تر رڼا يا فوتو پېريود (Photoperiod) لاندې وخت تيروي. د يادو حيواناتو تناسلي فعاليت، وده، شېدو توليد، حيواناتو د روغتيا او فيزيولوژيکي پروسو باندې مثبتې اغېزې لري( Dahl GE *et al*,. 2012). دا چې زمونږ زياتره وګړي په کرنه او د مختلفو حيواناتو په روزنه بوخت دي. زمونږ مالداران د خپلو څارويو (غواګانو) څخه داسې توليد په لاس نه راوړي، په کومه اندازه چې دوی ورڅخه تمه لري. يوه اساسي ستونزه د مديريت، خصوصاً خپلو غواګانو ته رڼا سيستم لکه: د رڼا موده، د رڼا شدت او د رڼا رنګ، نه

برابروي؛ نو په همدې اساس مونږ اړینه وګڼله چې په شېدو ورکوونکو غواګانو کې د شېدو په تولید او ترکیب باندې د رڼا شدت، موده او د رڼا رنګ اغېزې د څېړلو په اړه یوه مروري څېړنه ترسره کړو تر څو خپلو مالدارانو ته د رڼا ارزښت، شدت (ولټ) او د رڼا جریان په اړه کافي معلومات په واک کې ورکړو.

## مېتودولوژي

دغه څېړنه مروري ده، چې د دویم لاس منابعو څخه پکې استفاده شوې ده. د معلوماتو د راټولولو په پار له معتبرو کتابونو، مقالو، رسالو څخه ګټه اخېستل شوې ده.

## اصلي موضوع

د یوې څېړنې پایله ښیي، چې هغه غواګانې چې د ورځې زیات وخت لپاره د رڼا ( Long-day photoperiod) ترلاسه کوي، د طبیعي رڼا لاندې ساتل شوو غواګانو پرتله تر ۱۰٪ پورې شېدو تولید کې زیاتوالی رامنځته کړی و، چې همدارنګه د شېدو ورکولو دورې په اولو لسو ورځو کې، هغه غواګانې چې هره ورځ ۱۶ ساعته رڼا ترلاسه کوي، په اوسط ډول د طبیعي رڼا لاندې ساتل شوو غواګانو څخه ۳،۷ پونډه ډېرې شېدې تولید کړې وې، د شېدو ورکولو له شلو ورځو وروسته د دواړو ډلو ترمنځ د شېدو د تولید توپیر نور هم زیات شوی وو، چې ۶،۸ پونډه ته رسېدلی و، دا توپیر تر هغه وخته ثابت پاتې کېږي، چې د شېدو ورکولو ۱۰۰ ورځې پوره شي او په همدې وخت کې د دواړو ډلو د رڼا سیسټمونه سره بدل شي. له رڼا بدلولو وروسته، هغه غواګانو چې په لومړي سر کې د طبیعي رڼا لاندې ساتل شوې وې او وروسته یې ۱۶ ساعته رڼا تر لاسه کړه، د شېدو تولید د کمېدو بهیر په څرګند ډول ورو شو (Derek Nolan *et al*,.2012).

هغه غواګانو ته چې ۲ - ۴ اونیو پورې رڼا ورکول شوې وه د شېدو په تولید کې په تدریجي ډول ۵ څخه تر ۱۶ سلنې پورې زیاتوالی راغلی و، خو اوسط ډول سره ۹-۱۰ سلنې پورې زیاتوالی کړی و (Rajan Niraula and P.Eng,2021).

هغه شېدو ورکوونکو غواګانو ته چې د ۱۶-۱۸ ساعته رڼا د (۱۶۲-۲۱۵) لوکس (۱۵-۲۰) (Foot Candales) په شدت ترلاسه کړي او وروسته ورته بیا د ۶-۸ ساعته توره شپه برابره شي په اوسط

ډول يې د شېدو په توليد کې ۸-۱۰ ٪ پورې زياتوالی رامنځته شوی و، چې دغه ډول د رڼا مديريتي سيستم ته (Long-Day Photoperiod — LDPP)ويل کېږي(Chastain *et al*,. 1998).



۱ـ انځور: پورتنې انځور کې د غواګانو لپاره د رڼا سيستم ښودل شوی دی.
https://www.agcled.com/static/images/applications/Agriculture-Lighting.jpg

په شېدو ورکوونکو غواګانو کې د ورځې رڼا موده مديريت کول تر ټولو اړينه مسئله ګڼل کېږي. چې د شېدو توليد د زياتوالي ترڅنګ د کارکوونکو د کاري چاپيريال د کارونو په رامنځته کولو کې هم اسانتياوې رامنځته کوي. کله چې د شېدو ورکولو پر مهال د لمريزې ورځې شاوخوا ۸ ساعته رڼا د مصنوعي رڼا په مرسته تر ۱۶ ساعتونو پورې وغځول شي نو د غواګانو د شېدو په توليد کې لوړوالی رامنځته کېږي (Dahal GE , 2000 and Peters , 1978).

هولستين نسل په غواګانو باندې د رڼا شدت د شېدو توليد، د شېدو ترکيب، هورمونونو او حياتي فعاليتونو باندې ترسره شوې وو، چې پايلې داسې ښيي، چې هغه غواګانې د۵۰-۱۰۰ لوکس رڼا لرونکې غواګانې د نورو ډلو په پرتله زياتې شېدې توليد کړې وې او هغه غواګانې چې ۱۰۰ لوکس رڼا تر تاثير لاندې وې د نورو غواګانو پرتله د شېدو شحم، پروټين او نور جامد مواد زيات وو او همدارنګه د ميلاتونين اندازه په شېدو کې د رڼا شدت په زياتېدو لوړه شوې وه او کورټيزون هورمون اندازه کمه شوې وه ، د رڼا موده او شدت د هورمونونو فعاليت، د شېدو توليد او ترکيب په بدلون

کې د خارجي محرک په توګه عمل کوي او په دې توګه د فوتوپیریود په کارولو سره د شېدو د غواګانو په صنعت کې د شېدو کیفیت او تولید کې زیاتوالی رامنځته کوي(Dong *et al* ,. 2021).

هغه غواګانې چې د زیات وخت لپاره د لمر رڼا تر تاثیر لاندې وي نسبت هغه غواګانو چې کم وخت لپاره د لمر رڼا تر تاثیر لاندې وي ۵-۱۵سلنه پورې د شېدو تولید کې زیاتوالی رامنځته شوی وو (Bodurov ,1979).

همدارنګه یوه څېړنه چې د هولستین فریز نسل غواګانو باندې څلور ډوله ګروپونه ( ابي، ژېړ، سپین او طبیعي لمر) رنګونه یې درلودل ترسره شوې وه، په نتیجه کې هغه غواګانو ته چې ابي رنګ ګروپ لاندې ژوند کاوه په پایله کې شېدو تولید، شېدو کې شحم، پروټین او لاکتوز کچه ټیټه وه خو برعکس د کوریټزول اندازه یې لوړه وه ، هغه غواګانو ته چې ژېړ رنګ ګروپونو لاندې ژوند کولو په دې کې هم د شېدو اندازه کمه وه او هغه غواګانو چې سپین رنګ او کنټرول ګروپ چې طبیعي لمر لاندې ژوند یې کاوه د شېدو تولید یې زیات وه (Jiseon_Son *et al*,. 2020).




۲-انځور: پورتني شکل کې د شېدو په تولید باندې د ګروپونو مختلف رنګونو اغېزې ښودل شوې دي. **(Park *et al.*, 2017; Aydin *et al.*, 2020)**

۱ـ گراف : لاندې گراف کې د رڼا شدت تاثيرات د شېدو په توليد باندې ښودل شوي دي( Dahl *etal*., 2000 ).




۱ـ جدول: لاندې جدول کې د رڼا مختلفو موده پر ساعت باندې د شېدو په توليد، شحم او پروټين باندې اغېزه ښودل شوې ده.

| د رڼا موده پر ساعت | د رڼا ډول | د شېدو توليد کيلو گرام په ورځ کې | د شېدو شحم | د شېدو پروټين |
|---|---|---|---|---|
| ۱۴-۱۲ | طبيعي لمر | ۳۲،۲ | ۳،٦ | ۳،۲ |
| ١٦ | مصنوعي گروپ | ۳۸،۵ | ۳،۸ | ۳،۳ |
| ۱۸ | مصنوعي گروپ | ۴۰،۱ | ۳،۹ | ۳،۴ |
| ۸ | مصنوعي گروپ | ۲۸،۷ | ۳،۵ | ۳،۱ |

.(Dahl *et al*.1997)

## موندنې

د دې څېړنو پايلو وښودله چې د رڼا موده او شدت د شېدو غواگانو په توليد باندې مثبت تاثير لري هغه غواگانې چې په ورځ کې ۱۸ ساعته رڼا او ٦ ساعته تياره کې وي په اوسط ډول ۵ تر ۱۵ سلنه پورې د شېدو په توليد کې يې زياتوالی رامنځته کيږي او همدرانگه سپينه خفيفه رنگ گروپ نسبت نورو رنگونو ته د غواگانو په اداره او مديريت کې تر ټولو مهم او د دوی په توليد او زياتوالي کې مثبت رول لري.

همدارنګه رڼا نه یوازې د حیوان د شېدو په تولید کې زیاتوالی رامنځته کوي، بلکې د حیواناتو په تناسلي فعالیتونو او د حیوان په صحت په ساتلو کې او د غواګانو د بدن فزیالوزیکي فعالیتونو په ترسره کولو کې خاص رول ترسره کوي.

## پایله اخیستنه

دا چې د شېدو غواګانې د اهلي څارویو له جملې څخه دي، چې د (Bovidea) په کورنۍ او د (Bos) په جنس پورې اړه لري. او د خپل ځانګړي هضمي سیستم له امله سلولوز په هیمي سلولوز او نورې مغلقې شکرې هضموي او هغه مواد چې انسانان ترې استفاده نه شي کولی په با کیفیته او انساني خوړو یې بدلوي.

دا څېړنه چې یوه مروري څېړنه ده، په شېدو ورکوونکو غواګانو کې د شېدو په تولید او ترکیب باندې د رڼا شدت، موده او د رڼا رنګ اغېزې تر عنوان لاندې ترسره شوي ده ، د رڼا رنګ، شدت او موده د شېدو غواګانو په تولید زیاتوالي کې مثبت رول لري نو پایله کې داسې ویلی شو، چې شېدو غواګانې په ورځ کې ۱۸ ساعته رڼا نه یوازې د شېدو په تولید کې زیاتوالی منځته راوړي. بلکې د حیواناتو په صحت او د دوي فیزیالوژیکي دندو سرته رسولو کې هم مهم رول ترسره کوي او د ګروپونو له رنګونو څخه سپین رنګ د غواګانو تولید په زیاتوالي کې خاص اثر لري.

## وړاندیزونه

۱. ټولو مالدارانو څخه هیله لرو چې د شېدو غواګانو په روزنه کې د متخصصینو څخه اړینې مشورې واخلي او خپلو فارمونو کې دې عملي کړي.
۲. مالداران باید د شېدو غواګانو په غوجلو کې د رڼا تطبیق او استفادې لپاره خاصه پاملرنه وکړي.
۳. د کرنې او اوبو لګولو او د مالدارۍ متخصصین باید مالدارانو ته د شېدو غواګانو ساتنې او د دوي د محصولاتو زیاتوالی په تړاو مختلف سیمینارونه دایر کړي.
۴. مالداران باید د شپې لخوا په غوجلو کې خفیفه سپین رنګه ګروپ لګولو څخه استفاده وکړي.
۵. مالداران باید د رڼا شدت ، د موده او رنګ په اړه له تجربه لرونکو اشخاصو له تجربو څخه استفاده وکړي.

## اخځليکونه

القران الکريم

ديوبندي، مولانا محمودالحسن، عثماني،مولانا شبير احمد.(۱۹۸۲). قران مجيد با ترجمه او تفسير. ج ۲ . *دارالعروته للدعوت الاسلاميه*، المنصورت، لاهور.

Aydın, S., Yapıcı, S., Balcı, F., & Yaman, H. (2020). Interaction effect of LED colour temperatures and light-protective packaging on photo-oxidation in milk. *Food Chemistry*, *323*, 126699. https://doi.org/10.1016/j.foodchem.2020.126699

Bodurov, N. (1979). Effect of supplementary artificial illumination with visible rays on biochemical indices in the blood serum, milk yields and fertilization during lactation. Vet Med Nauki, 16, 58–65.

Chastain, J. P., & Hiatt, R. S. (1998). Supplemental lighting for improved milk production. *Electric Power Research Institute Bulletin*. National Food and Energy Council.

Dahl, G. E., Elsasser, T. H., Capuco, A. V., Erdman, R. A., & Peters, R. R. (1997). Effects of a long daily photoperiod on milk yield and circulating concentrations of insulin-like growth factor-I in dairy cows. *Journal of Dairy Science*, 80(11), 2784–2789. https://doi.org/10.3168/jds.S0022-0302(97)76241-6

Dahl, G. E., Buchanan, B. A., & Tucker, H. A. (2000). Photoperiodic effects on dairy cattle: A review. *Journal of Dairy Science*, 83, 885–893. https://doi.org/10.3168/jds.S0022-0302(00)74952-6

Dahl, G. E., Tao, S., & Thompson, I. M. (2012). Lactation biology symposium: Effects of photoperiod on mammary gland development and lactation. *Journal of Animal Science*, 90, 755–760. https://doi.org/10.2527/jas.2011-4630

Lim, D. H., Kim, T. I., Park, S. M., Ki, K. S., & Kim, Y. (2021). Effects of photoperiod and light intensity on milk production and milk composition of dairy cows in automatic milking system. *Journal of Animal Science and Technology*.

Niraula, R. (2021). Lighting for more milk in dairy cows (Replaces OMAFRA Factsheet #06-053). Ontario Ministry of Agriculture.

Nolan, D., Amaral-Phillips, D., & Bewley, J. (2012). The effects of lighting manipulation on dairy cattle management. Cooperative Extension Service, University of Kentucky, College of Agriculture.

Park, H. T., Kim, H. J., & Suh, G. H. (2017). Effects of different LED light colors on milk production, composition, and hormone levels in Holstein dairy cows. *Animal Production Science*, 57(4), 735–742.

Patbandha, T. K., Swain, D. K., Pathak, R., Mohapatra, S. K., & Sahoo, S. K. (2016). Photoperiodic manipulation for augmentation of dairy animal performance. *International Journal of Science*, Environment and Technology, 5(6), 4594–4601.

Parkunan, T., Kumar, R. D., Chandrasekar, T., Preedaa, M. G., Selvan, A. S., Barathi, M. S., Bharathy, S., & Prakash, M. A., Sheikh, A. A. (2015). Production aspect of photoperiodism in dairy cattle. *International Current Research Academic Review*, 3, 118–125.

Penev, T., Radev, V., Slavov, T., Kirov, V., Dimov, D., Atanassov, A., & Marinov, I. (2014). Effect of lighting on the growth, development, behaviour, production and reproduction traits in dairy cows. *International Journal of Current Microbiology and Applied Sciences*, 3, 798–810.

Peters, R., Chapin, L., Leining, K., & Tucker, H. (1978). *Supplemental lighting stimulates growth and lactation in cattle. Science*, 199, 911–912. https://doi.org/10.1126/science.622576

Rao, T. K. S., Kumar, B., Singh, A., Sriranga, K. R., Patel, V. A., & Chaurasia, S. (2017). Photoperiod management in dairy herd: A review. *International Journal of Science and Environment and Technology*, 6, 669–683.

Ruvinsky, A., & Haresign, W. (1998). The genetics of cattle (2nd ed.). CABI Publishing.

Son, J., Park, J., Kang, D., Belal, S. A., Cha, J., & Shim, K. (2020). Effects of white, yellow, and blue colored LEDs on milk production, milk composition, and physiological responses in dairy cattle. *Animal Science Journal*, 91(1), e13337. https://doi.org/10.1111/asj.13337

# Effects of Light Intensity, Photoperiod, and Light Color on Milk Yield and Composition in Lactating Dairy Cows

Ziaulislam Nowbahar

Department of Animal Science, Faculty of Agriculture, Mirwias Khan Nika University- Zabul

dr.nowbahar21@gmail.com

## Abstract

Cattle belong to the family Bovidae and the genus Bos. In many production systems, dairy cattle management is constrained by insufficient farmer knowledge and limited access to modern husbandry technologies, which collectively contribute to reduced milk productivity. This review was undertaken to synthesize existing evidence regarding the effects of light intensity, photoperiod, and light color on milk yield and composition in dairy cows. The literature demonstrates that these lighting factors not only enhance milk production, but also positively influence animal health, hormonal regulation, and overall physiological performance. Notably, cows exposed to an 18-hour light and 6-hour dark regimen exhibited a 5–15% improvement in milk yield. Furthermore, white light was more effective than other wavelengths, resulting in superior milk production and more stable endocrine responses. Overall, the findings emphasize that strategic light management constitutes a critical component of dairy production systems, with substantial benefits for milk yield, animal well-being, and physio metabolic function.

**Keywords:** Dairy cows; light intensity; photoperiod; light color; milk product.

# د غوښينو چرګوړو پر وده د هوړې د پوډرو اغېزې


ګل نبي نوري[1*]، ضیاءالاسلام نوبهار[2]، حاجي ګل همت[3] او نصيراحمد سيرت[4]

مالداري څانګه، کرنې پوهنځی، میرویس خان نیکه پوهنتون ـ زابل[1-2-3-4]

gulnabinoori66@gmail.com


## لنډیز


د غوښينو چرګانو په روزنه کې د هوړې پوډر په وده، روغتیایي وضعیت، د غوښې په کيفيت، او د معافيتي سيستم په پیاوړتیا کې مهم رول لري.نوموړې څېړنه د زابل ولایت مرکز په یوه څېړنیز فارم کې ترسره شوې، موخه یې د هوړې پوډر د اغېزو معلومول و، دا څېړنه د (Completely Randomized Design CRD) مېتود له مخې ترسره شوې، چې ټول 80 چرګوړي ، په تصادفي ډول په څلورو مساوي ګروپونو ویشل شوي و، په هر ګروپ کې د چرګوړو تعداد 20 و. یو د کنټرول او درې د تداوې ګروپونه چې T1 ته 1% ، T2 ته 1.5% او T3 ته 2% هوړې پوډر په غذا کې اضافه کیدل. د دې څېړنې پایلو وښودله چې د عمر په دریيمه، څلورمه او پنځمه اونۍ کې د T3ګروپ د بدن وزن اخیستنه د کنټرول،T1 او T2 ګروپونو په پرتله لوړه وه (P<0.05). په داسې حال کې چې د غذا اخیستنه د کنترول او T3 ګروپونو د T1، T2 ګروپونو په زیاته وه(P<0.05) . د (Feed Conversion Ratio FCR) له مخې، د عمر په دریيمه اونۍ کې د کنټرول ګروپ (FCR) د تداوي ګروپونو په پرتله لوړ و(P<0.05). خو د تداوي ګروپونو ترمنځ کوم خاص توپير موجود نه و (P>0.05).او د عمر په پنځمه اونۍ کې T3ګروپ د تداوي ګروپونو په پرتله ټيټ (FCR) درلود (P<0.05). د دې څېړنې پر بنسټ، فارم لرونکو ته سپارښتنه کېږي چې د غوښينو چرګانو په غذا کې د 2% هوړې پوډر د غذا د اغېزمنې اضافه کوونکې مادې په توګه وکاروي.



**کلیدي کلمې:** د غذا مصرف ، ژوندی وزن ،غوښين چرګوړي، هوړې پوډر او FCR.

## سریزه

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمدٍ و علی اله وصحبه اجمعین اما بعد!

د نړۍ او افغانستان په کچه د چرگانو صنعت د حیواني پروټین د برابرولو له مهمو سرچینو څخه گڼل کېږي او د نفوس د زیاتوالي سره د چرگانو د غوښې تقاضا ورځ تر بلې لوړېږي. د تولید د زیاتوالي لپاره پخوا انټي بیوټیکونه د ودې هڅوونکو په توگه کارېدل او هم کاریږي، خو د هغوی پاتې شونو او د مایکروبي مقاومت د رامنځته کېدو له امله د بدیلو طبیعي موادو کارول یوه جدي اړتیا گرځېدلې ده.

هوږه (Allium sativum) د خپلو انټي مایکروبیل، انټي اکسیډنټ او معافیت پیاوړتیا ورکوونکو ځانگړتیاوو له امله د چرگانو په تغذیه کې د یوه اغېزمن طبیعي اضافه کوونکي په توگه پېژندل شوې ده. له همدې امله، د چرگانو په روزنه کې د هوږې کارول نه یوازې د تولیدي فعالیت د ښه والي سبب گرځي، بلکې د خوندي او صحي محصولاتو په برابرولو کې هم مهم رول لري. نو ځکه، د هوږې د اغېزو ارزونه کولای شي د چرگانو د صنعت د پرمختگ او اقتصادي ودې لپاره ارزښتناک ثابت شي.

سره له دې چې په وروستیو کلونو کې د چرگانو په تغذیه کې د طبیعي اضافه کوونکو د کارولو په اړه گڼې څېړنې ترسره شوې دي، بیا هم زموږ په هېواد کې د هوږې د پوډرو د مناسبې کچې او د هغې د اغېزو په اړه د چرگانو پر ودې، فعالیت، د غذا مصرف او روغتیایي وضعیت لا هم بشپړ او کره معلومات شتون نه لري. سربېره پردې، په سیمه ییزه کچه ورته څېړنې محدودې دي، چې دا د چرگانو د روزونکو لپاره د علمي لارښوونو د نشتوالي لامل گرځي.

له همدې امله، دا څېړنه ترسره کېږي ترڅو د غوښینو چرگانو په تغذیه کې د هوږې د پوډر اغېزې وارزول شي او د تولید د ښه والي لپاره علمي بنسټ برابر کړي.

هوږه (Garlic ) چې علمي نوم يې (Allium sativum) ده یو ډول نباتي بوټی دی چې د پیازو له کورنۍ (Amaryllidaceae) سره تړاو لري او د تُند بوی لرونکی څوکلن نبات ده او اکثره د یو فصل لپاره کرل کېږي. د آسیا هېوادونو لکه افغانستان، ایران او هند څخه سرچینه اخلي. هوږه تر ډېره د خوړو د خوند زیاتولو او همدا راز د درملو په توګه کاریږي. د نبات اوږدوالی یې د ۲۰ څخه تر ۷۰ سانتي مترو پورې رسېږي، اصلي برخه یې د ځمکې لاندې غوزه (Bulb) ده چې څو توټې ( Cloves) لري، د کرلو لپاره یې تر ټولو مناسب وخت د مني موسم دی، او شاوخوا د ۵ تر ۶ میاشتو پورې حاصلات ورکوي. ښه اوبه لرونکې، ښه عضوي مواد لرونکې خاوره ورته مناسبه ده. هوږه ویټامین B6، ویټامین C، مګنیزیم، فاسفورس، سلینیم او انټي اکسیدانونه خاصیتونو درلودونکې ده. هوږه د زړه د ناروغیو، لوړ فشار، کولیسټرول، نزلې او د بدن د فاعي سیستم پیاوړتیا لپاره خورا ګټوره ګڼل کېږي (Siegers *et al.*, 1999).

هوږه د دودیزې درملنې لپاره کارول کېږي، او د طبیعي انټي بیوټیک، انټي اکسیدنټ او معافیتي سیستم ته په پیاوړتیا ورکولو کې مشهوره ده. هوږه د انساني تاریخ په اوږدو کې د خورا مهمو درملیزو بوټو څخه ګڼل شوې او په نږدې هر کلتور کې د مختلفو ناروغیو د درملنې لپاره کارول شوې ده (Rivlin *et al.*, 2001).

هوږه د بېلابېلو ناروغیو په درملنه کې له ډېره وخته کارول کېږي؛ لکه د روماتیزم، زخمونو، او ځینې ناروغیو چې په بدن کې التهاب رامنځته کوي (Reutet *et al.*, 1996) .

څېړنو ښودلې چې هوږه ګڼ ګټور غوړ لرونکي مرکبات لري، چې د بدن د وینې فشار کمولو لپاره ګټور دي(Gardzielewska *et al.*, 2003). د چرګانو د خوراک او روغتیا په برخه کې د هوږې کارول د چرګانو (Broilers) په بدن کې د غوړو د کمولو او د وینې سالم جریان په برخه کې مهم رول لوبوي (Gardzielewska *et al.*, 2003). هغه مرکبات چې په هوږه کې موجود دي، د بدن د ناروغیو ضد خاصیت لري او کولای شي له مختلفو ناروغیو څخه مخنیوي وکړي، لکه خطرناک او خپرېدونکي غوټې (سرطاني دانې) چې بدن ته زیان رسوي. هوږه داسې خاصیتونه لري چې د ناروغیو په مخنیوي کې مرسته کوي او د بدن روغتیا لپاره ډېر ګټور ګڼل شوي دي، په دې کې د (Oregano sulfate) مرکبات شامل دي، چې د ناروغیو ضد ځانګړنې لري (Siegers *et al.*, 1999).

په هوره کې يو داسې مهم مرکبات شته چې د بدن په معافيتي سيستم مثبت اغېز لرونکي دي. دا مرکبات کولای شي چې د بدن ګرام مثبتې او ګرام منفي باکترياوو سره کومې چې پاتوجينک خاصيت لري مبارزه وکړي ، او همدارنګه د (Albicans) فنګسي ناورغۍ سره د مبارزې توان لري(Chang et al,. 2008).

همدارنګه هوره د H. Pylori نومي بکتريا سره په مبارزه کې ګټوره ده نوموړي باکتريا د معدې ناروغيو لامل کېږي (Adeniyi *et al.*, 2006).

د چرګانو په خوراک کې د هوړې کارول چې د چرګانو روغتيا او د غوړو کچه کنټرولوي، په ځانګړي ډول د هغو چرګانو لپاره چې د هوړې خوراک ترسره کوي. چرګان د حيواني پروټين يوه مهمه سرچينه ګڼل کېږي، ځکه چې دا د تغذيې اړتياوې په اغېزمنه توګه پوره کوي او د اقتصاد په وده کې مهم رول لري، په وروستيو کلونو کې د چرګانو صنعت په چټکۍ سره وده کړې، او د دې ودې په مختلفو برخو کې د تطبيقي څېړنو د پرمختګونو او نوښتونو پايله ده،په ځانګړې توګه، د چرګانو په توليد کې د مؤثرو بديلو لارو چارو موندل دي، لکه د درملو اغېزمنتوب لرونکي نباتات، چې په پراخه کچه د انټي بيوټيکونو او دوديزو ودې هڅوونکو پر ځای مطالعه شوي دي (Kareem *et al.*, 2018).

په دې وروستيو کلونو کې، څېړنې او علمي مقالو پر طبيعي اضافه کوونکو موادو لکه عضوي اسيدونو او پروبيوټيکونو تمرکز کړي، هوره کولای شي د بدن د ګټورو او زيان رسوونکو باکترياوو ترمنځ توازن وساتي، په ځانګړي ډول د کولمو (Gut micro biota) لپاره ګټوره ده، چې هاضمي او معافيتي سيستم ته ګټه رسوي او د بدن په وده کې مرسته کوي (Gadde et al,. 2017).

د هوړې اضافه کول هم د هغې بيولوژيکي ځانګړتياوو له امله د ودې هڅوونکي او معافيت پياوړې کوونکي په توګه کارول شوې ده. دا ځانګړتياوې د هوړې انټي اکسيډنټ، انټي مايکروبيل او هيپاټوپروټيک (ځيګر ساتونکي) اغېزې شاملې دي (Sangilimadan *et al.*, 2019).

د انټي بيوټيکونو پاتې شوني اغېزې او اړوند روغتيايي خطرونه د دې لامل شوي چې د تغذيې بديلې لارې وموندل شي چې د چرګان فعاليت ښه کړي (Windisch *et al.*, 2008).

هوږه يو له خورا دوديزو بوټو څخه ګڼل کېږي چې په ټوله نړۍ کې په پراخه کچه د مسالې او بوټو په توګه کارول کېږي.دا نبات د ګڼو درمليزو موخو لپاره شهرت لري، لکه د (Atherosclerosis)، وينې ټپونو ضد، د وينې لوړ فشار ضد، او د شکر ضد اغېزې لري(Mansoub, 2011).

هوږه د خپلو بې شميره روغتيايي ګټو له امله په طبابت کې د اغېزمنو درملو په توګه پېژندل کېږي، دا نبات لږ تر لږه 33% سلفر لرونکي مرکبات، انزايمونه، امينو اسيدونه، او منرالونه لري. په عمومي توګه، د هوږه او د هغې مشتقات په غوښينو چرګانو د ترسره شويو پخوانيو څېړنو پايلې ښيي چې د ودې په فعاليت، هيماتولوژيکي پروفايل( وينې معاينه) چې روغتيايي وضعيت ښيي، د محصول په کيفيت، معافيتي غبرګون، او د بکتريا ضد وړتياوو کې مثبتې اغېزې لري (Singh *et al.*, 2020).

د چرګانو په توليد کې د بوټو مختلف ډولونه، لکه هوږه (Garlic) او (Thyme) د حيواني پروټينونو اکمالاتو او د غوښې کيفيت ښه کولو لپاره کارول شوي، هوږه په ځانګړي توګه د اکسيډيشن ضد ځانګړتياوو لري، چې د چرګانو د غوښې د ذخيره کولو ستونزو حلولو کې مرسته کوي، په هغو هيوادونو کې چې پرمختللي ذخيره کولو وسايل نه لري (Agbede *et al.*, 2003).

په افريقا او نورو لږ پرمختللي هېوادونو کې د حيواني پروټينونو د عرضې او تقاضا ترمنځ واټن په عمده توګه د چرګانو د کمزوري توليد له امله رامنځته کېږي (Aletor, 1986).

د چرګانو صنعت د انسانانو لپاره د لوړ کيفيت پروټين سرچينه ده او په ډېرو هېوادونو کې د عايد ښه منبع ګڼل کېږي. دغه صنعت د هېوادونو په اقتصادي پرمختګ کې هم مهم رول لري (Tarhyel *et al.*, 2012).

د هوږې د پوډرو يا اوبو محلول په جلا يا ترکيبي ډول د چرګانو د ودې، غوښې کيفيت، د غذايي موادو د تبديلی تناسب، او د وينې هيماتولوژيکي ارزښتونو باندې اغېزې ښودلې شوي دي او غوره پايله يې ورکړه ده.

د هوږې پوډر د انټي بيوټيکونو يو ښه بديل بلل کېږي (Manesh *et al.*, 2012). هوږه د چرګانو په خوراک کې د روغتيا او ودې لپاره ګټوره ده (Guo *et al.*, 2003). څېړنو ښودلې چې د انسانانو

او چرګانو د تغذیې لپاره کاربهډونکې مکمل مواد او د هوږې څخه اخیستل شوي خوراکي اضافي مواد انټي بکتریایي خاصیت لري(Toghyani *et al.*, 2011) .

د چرګانو په خوراکه کې، خاصتاً په غوښینو چرګانو کې هوږه په مختلفو بڼو کارول کیږي، ماته شوې هوږه (crushed bulbs) ، هوږې پوډر(garlic powder) ، د هوږې تېل(garlic oil) ، د هوږې استخراجات(garlic extracts) ، د نورو بوټو سره ترکیب(Rivlin *et al.*, 2013) .

## د څېړنې ستونزه

زابل د افغانستان د جنوبي ولایتونو څخه یو د ضعیف اقتصادي حالت لرونکی ولایت دی چې زیات شمېر وګړي یې په کرنه او مالداری بوخت دي او د دوی اقتصادي عواید هم د همدې لارې ترلاسه کیږي. په زابل کې د تولیدي حیواناتو په روزنه او خصوصا د غوښینو چرګانو په وده د هوږې پوډرو اغېزې په اړه کوم خاص علمي او تحقیقي معلومات شتون نه درلود. او د فارم کارکوونکو د هوږېپوډر د استعمال په اړه د خاصې پوهې نه شتون، هغه علتونه دي چې د غوښینو چرګانو د روزنې صنعت تر نورو وروسته پاتې ده.

۱. د غوښینو چرګوړو په غذا کې د هوږېپوډر د استعمال اړوند د معلوماتو نشتون.
۲. د غوښینو چرګوړو په غذا کې د علاوه کوونکي په توګه د انټی بیوټیکونو استعمال او د انټي بیوتیکو بدیلو موادو اړوند د معلوماتو نشتوالی
۳. د غوښینو چرګوړو په غذا کې د ګټورو غذایي موادو او علاوه کوونکو نه استعمال.
۴. د فارمدارانو او سوداګرو په اقتصاد باندې منفي اغېزه.
۵. د چرګوړو روزنه د انساني ټولنې او فارم لرونکو د ژوند لپاره یوه اړینه موضوع ده.

## د څېړنې ارزښت

دا چې زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې په اوسني وخت کې د چرګانو د روزنې سکټور مخ پر ودې حالت کې ده نو موږ دا اړینه وګڼله چې په زابل ولایت مرکز قلات ښار کې د غوښینو چورګوړو په وده باندې د هوږې پوډرو اغېزې معلومې کړو تر څو ګرانو فارمدارانو ته دا په ګوته کړو چې هوږې پوډر د غوښینو چرګوړو په وده مثبت یا منفي اغېزې لري.

**موخه**

د غوښينو چرګوړو په وده د هوږې د پوډرو اغېزې معلومول.

**فرضيې**

Ho : د هوږې پوډر مختلفې کچې د غوښينو چرګوړو په وده کومه اغېزه نه لري.

H1: د هوږې پوډر مختلفې کچې د غوښينو چرګوړو په وده مثبته اغېزه لري.

**پارامترونه**

- د چرګوړو ژوندي وزن معلومول.
- (Feed Conversion Ratio) معلومول.
- د غذا مصرف معلومول.

## د څېړنې مېتودولوژي

**د کارکولو ځای:** دا څېړنه زابل ولايت په مرکز قلات ښار کې په يوه څېړنيز فارم کې 1403/9/2 څخه تر 1403/10/7 نېټې پورې تر سره شوې ده، چې ټولې يې 35 ورځې دوام وکړ.

**د څېړنې ډيزاين**

نوموړې د (Completely Randomized Design CRD) له مخې ترسره شوې. دا څېړنه کې 80 چرګوړي چې د يوې ورځې عمر لرونکې و، د بازار څخه اخيستل شوي وو، فارم ته د چرګوړو د راوړلو مخکې لومړۍ فارم د حفظ الصحي شرايطو مطابق ضد عفوني او د معلومو انتي سيپتيک موادو، څخه پکې کاراخيستل شوی وو او د چرګوړو لپاره د بستر، رڼا، او ګرموالي امکانات برابر شوي وو ، چرګوړو ته فرشي مواد د ارې بور او د هغې د پاسه کاغذ هوار شوی و، وروسته چرګوړي په څلورو مساوي ګروپونو ويشل شوي و، چې د هرګروپ د چرګوړو تعداد20 قطعې وو C ګروپ يې د کنټرول ګروپ او نور ګروپونه T1، T2 ، او T3 د تداوي ګروپونه و، د هوږې پوډر د دوهمې اونۍ څخه وروسته په خوراکه کې ورکول کيدل، چې په ترتيب سره T1 ګروپ ته 1% د هوږې

پوډر په غذا کې ، T2 ګروپ ته 1,5% هوږې پوډر او T3 ګروپ ته 2% هوږې پوډر په غذا کې علاوه شوي و.

### د هوږې پوډر

د بازار څخه اخيستل شوي وو او په معلومه اندازه يې د چرګوړو په غذا کې اچول شوې وه. همدارنګه د غذايي موادو او چرګوړو د وزن لپاره د يوحساس ترازو څخه استفاده شوې وه.

### غذا

کله چې چرګوړي فارم ته راوړل شول، نو په لومړيو درېو ساعتونو کې په اوبو کې ګلوکوز ورکول شول او د دې څخه وروسته (Starter) غذا شروع شوه چې نوموړې غذا د دوه اونيو پورې ورکول کېدله د دوه اونيو څخه وروسته دڅېړنې تر وروستۍ ورځې پورې (Finisher) غذا ورکول کېدله، چې هره ورځ به ورکړل شوې او پاتې شوې غذا وزن کېدله، او د مصرف شوي غذا اندازه به ترې معلومېدله. همدارنګه د دې څېړنې په دوام کې د هرې اونۍ په پای (په اوومه ورځ) کې ټول چرګوړي وزن کېدل چې په اوسط ډول به د هر ځل وزن ياداشت کېده.

په دې علمي څېړنه کې د ځينو ويروسي ناروغيو ضد واکسينونو څخه استفاده شوې ده. چې په شپږمه ورځ ND+IB چې ND يې B1-strain او IB يې H-120strain درلودونکي وو، په دولسمه ورځ د ګمبور ( IBD ) واکسين ورکړل شو ، ياد واکسينونه په سترګو کې د قطرې او د څښلو اوبو له لارې تطبيق شوي دي.

### احصايوي تحليل

د څېړنې پايلې د (MS. Excel (2019 په وسيله تحليل شوي او د ګرافونو په شکل په نتيجې کې ځای پر ځای شوي دي.

## د څېړنې موندنې

ددې څېړنې په پايله کې T3 ګروپ د عمر په دريمه، څلورمه او پنځمه اونۍ کې نظر د کنټرول او د تداوي نورو ګروپونو ته ښه وزن اخيستنه درلوده(P<0.05). په داسې حال چې د کنټرول او T3 ګروپ نظر د تداوي ګروپونو ته زياته غذا اخيستنه درلوده(P<0.05) . او د عمر په دريمه اونۍ کې د کنټرول ګروپ FCR د تداوي ګروپونو ته زيات و. (P<0.05) خو د تداوي ګروپونو تر منځ کوم خاص توپير موجود نه و(P>0.05).د عمر په څلورمه اونۍ کې د کنټرول او T3 ګروپ FCR نظر نورو د تداوي ګروپونو ته زيات و(P<0.05). په داسې حال کې چې په پنځمه اونۍ کې T3 ګروپ نظر د تداوي نورو ګروپونو ته ښه FCR درلود(P<0.05). ارقام په ترتيب سره د هرې اونۍ د وزن اخيستنې، د خوراکې مصرف او FCR په لاندې ګرافونو کې ښودل شوې ده. په پايله کې ويلای شو چې د غوښينو چرګانو په روزنه کې د هوريږي پوډر په غذا کې اضافه کول د چرګوړو په تولیز توليدي فعاليت باندې ښه اغيزه لري.

### وزن اخيستنه

۱ـ ګراف: د دريمې اونۍ په پای کې د چرګوړو ژوندی وزن.




پايلو وښودله چې د عمر په دريمه اونۍ کې هغه چرګوړو ته چې په غذا کې ٪۲ د هوريږيپوډر اضافه شوي وو، ښه وزن اخيستی و(P<0.05) نظر کنټرول او هغه ګروپونو ته چې ٪۱ او ٪۱،۵ د هوريږيپوډر په غذا کې اضافه شوي وو (۱ـ ګراف).

۲ـ ګراف: د څلورمې اونۍ په پای کې د چرګوړو ژوندی وزن.




پايلو وښودله چې د عمر په څلورمه اونۍ کې هغه چرګوړو ته چې په غذا کې ۲٪ د هوړې پوډر اضافه شوي وه، ښه وزن اخیستی و(P<0.05) نظر کنترول او هغه ګروپونو ته چې ۱٪ او ۱,۵٪ د هوړې پوډر په غذا کې اضافه شوي وو (۲ـ ګراف).

۳ـ ګراف: د پنځمې اونۍ په پای کې د چرګوړو ژوندی وزن.




پايلو وښودله چې د عمر په پنځمه اونۍ کې هغه چرګوړو ته چې په غذا کې ۲٪ د هوړې پوډر اضافه شوي وو، ښه وزن اخیستی و(P<0.05) نظر کنترول او هغه ګروپونو ته چې ۱٪ او ۱,۵٪ د هوړې پوډر په غذا کې اضافه شوي وو (۳ـ ګراف).

**د غذا مصرف**

۴ـ ګراف: د دريیمې اونۍ په پای کې د چرګوړو غذا اخيستنه.




پايلو وښودله چې د عمر په دريیمه اونۍ کې هغه چرګوړو ته چې د ٪۲ (T3) د هورېي پوډر په غذا کې ور کول شوي وه او کنټرول ګروپ چرګوړو زياته د غذا اخيستنه درلوده(P<0.05) ، نظر هغه چرګوړو ته چې ٪۱ او ٪۱,۵ هورېي پوډر په غذا کې استعمال شوي وو(۴ـ ګراف).

۵ـ ګراف: د څلورمې اونۍ په پای کې د چرګوړو غذا اخيستنه.




پايلو وښودله چې د عمر په څلورمه اونۍ کې د کنټرول ګروپ چرګوړو او هغه چرګوړو ته چې د ٪۲ (T3) د هورېي پوډر په غذا کې ور کول شوي وه زياته د غذا اخيستنه درلوده(P<0.05) ، نظر هغه چرګوړو ته چې ٪۱ او ٪۱,۵ هورېي پوډر په غذا کې استعمال شوي وو(ګراف۵).

۶ـ ګراف: د پنځمې اونۍ په پای کې د چرګوړو غذا اخيستنه.




پايلو وښودله چې د عمر په پنځمه اونۍ کې د کنترول ګروپ چرګوړو نظر ټولو هغه چرګوړو ته چې د ۲٪ (T3) د هوريې پوډر، ۱٪ او ۱,۵٪ هوريې پوډر په غذا کې ور کول شوي وه زياته د غذا اخيستنه درلوده ($P<0.05$) (۶ـ ګراف).

## په وزن اخيستنه باندې د غذا د تبديلي مؤثريت (FCR)

۷ـ ګراف: د درېيمې اونۍ په پای کې د چورګوړو FCR




د موندنو له مخې د درېيمې اونۍ په پای کې د کنترول ګروپ لوړ (FCR) درلوده نظر نورو د تداوي ګروپونو ته ($P<0.05$). (۷ـ ګراف).

۸ ـ ګراف: د ځلورمې اونۍ په پای کې د چورګوړو FCR




د مونډنو له مخې د ځلورمې اونۍ په پای کې د هغه ګروپونو FCR ټیټ و(P>0.05), چې ۱٪ او ۱,۵٪ د هوړېپوډر په غذا کې ور کول کیدل نظر نورو ګروپونوته او د هغه ګروپ FCR چې ۲٪ د هوړې پوډر په غذا کې ورکول کیدل نظر د کنټرول ګروپ ته ټیټ و(P<0.05) (۸ـ ګراف ).

۹ ـ ګراف: د پنځمې اونۍ په پای کې د چورګوړو FCR




د مونډنو له مخې د پنځمې اونۍ په پای کې د کنټرول ګروپ FCR نظر نورو د تداوي ګروپونو ته لوړ و(P<0.05). (۹ـ ګراف).

## اقتصادي تحلیل

که څه هم هوږه (Allium sativum) د خوراکي توکو له جملې څخه یو نسبتاً قیمتي نباتي محصول بلل کېږي، خو د غوښینو چرګانو په تغذیه کې د هوږې پوډر استعمال له اقتصادي پلوه د پام وړ ګټې لري. د دې څېړنې د اقتصادي تحلیل پایلې ښیي چې د هوږې پوډر اضافه کول، سره له دې چې د خوراک لګښت لږ زیاتوي، خو د وزن د زیاتوالي، په وزن اخیستنه باندې د غذا د تبدیلي موثریت (FCR) د ښه کېدو، د ناروغیو د کموالي، او د مړینې د کچې د ټیټېدو له امله د ټول تولید لګښت راکموي. سربېره پر دې، د انتي‌بیوتیکونو پر ځای د هوږې کارول د درملنې لګښتونه کموي او د چرګانو د روغتیايي وضعیت ښه کېدو سبب ګرځي، چې په پایله کې یې د بازار لپاره د لوړ کیفیت غوښه تولیدېږي. له همدې امله، د هوږې پوډر محدود او کنټرول شوی استعمال نه یوازې د بیولوژیکي پلوه بلکې اقتصادي پلوه هم د چرګانو په روزنه کې یو اغېزمن او توجیه کېدونکی انتخاب ګڼل کېږي.

## مناقشه

په پاکستان هیواد کې یوه څېړنه ترسره شوې وه چې د غوښینو چرګوړو په وده د هوږېپوډر مختلفې اندازې تر څېړنې لاندې ونیسي، هغه غوښینو چرګوړي چې د عمر له 22- 42 ورځې پورې ساتل شوي وو او په غذا کې 2٪ د هوږېپوډر ورعلاوه شوي وو زیاته وزن اخیستنه او ښه (FCR) درلوده خو په غذا اخیستنه کې د ګروپونو تر منځ کوم خاص توپیر موجود نه وو(Javandel *et al.*, 2008).

د دې څېړنې په پای کې دا ثابته شول چې هغه غوښینو چرګوړو ته په غذا کې 3٪ هوږه پوډر ورکول کیدل زیات وزن اخیستنه او ښه (FCR) درلود نو د نوموړي عالمانو د څېړنو سره ورته والی لري.

یوه څېړنه ترسره شوې وه چې د غوښینو چرګوړو په وده د هوږې پوډر مختلفې اندازې تر څېړنې لاندې ونیسي، هغه ګروپ چرګوړو ته چې په غذا کې 0,1% د هوږې پوډر په غذا کې ښه وزن اخیستنه او ټیټ (FCR) درلود نظر هغه ګروپ ته چې په غذا کې 0,5% د هوږېپوډر علاوه کیدل (Makwana *et al.*, 2015).

د دې څېړنې په پای کې دا ثابته شوه هغه غوښینو چورګوړو ته په غذا کې زیات د هوږې پوډر ورکول کیدل زیات وزن اخیستې وو نو د نوموړي عالمانو د څېړنو سره کوم ورته والی نلري.

داسې څېړنه ترسره شوې وه چې 1% د هوږې پوډر د چرگوړو په وده اغېز لري او د غذا ښه کارولو، د چرگوړو روغتيا ښه والي او د عضلاتو فعاليت اغېزمن وي(Pourali *et al.*, 2010).

د دې څېړنې په پای کې دا ثابته شول هغه گروپ غوښينو چرگوړو ته چې په غذا کې 1٪ د هوږې پوډر علاوه کيدل، نظر کنترول گروپ ته ښه وزن اخيستنه نو د نوموړي عالمانو د څېړنو سره ورته والی لري.

يوه څېړنه ترسره شوی وه چې د غوښينو چرگوړو په غذا کې د هوږې پوډر اضافه کول د غوښينو چرگوړو په ژوندي وزن او (FCR) اغېزه درلوده(Issa & Omar, 2012).

د دې څېړنې په پای کې دا ثابته شوه چې د هوږې پوډر د غوښينو چرگوړو په ژوندي وزن او (FCR) اغيزه کړی وه، نو دا څېړنه د نوموړي عالمانو د څېړنې سره ورته والی لري.

يوه څېړنه ترسره شوی وه چې د غوښينو چرگوړو په غذا کې د هوږې پوډر اضافه کول د غوښينو چرگوړو په ژوندي وزن او (FCR) مثبته اغېزه درلوده(Chukwu & Adeolu, 2014).

د دې څېړنې په پای کې دا ثابته شول چې غوښينو چورگوړو ته په غذا کې هوږه ورکول د چورگوړو په وزن او (FCR) مثبت تاثير کوي نو د نوموړي عالمانو د څېړنو سره ورته والی لري.

داسې څېړنه ترسره شوی وه چې 3% د هوږېپوډر د غوښينو چرگانو په غذا کې د بدن په وزن باندې د پام وړ اغېزې لري(Mulugeta *et al.*, 2019).

د دې څېړنې په پای کې دا ثابته شول چې غوښينو چرگوړو ته په غذا کې3% د هوږې پوډر ورکول د چرگوړو په وزن مثبت تاثير کوي نو د نوموړي عالمانو د څېړنو سره ورته والی لري.

داسې څېړنه ترسره شوې وه چې په غذا کې د هوږې پوډر علاوه کول د غوښينو چرگوړو وزن اخيستنه ښه کړې وه او هم چرگوړو کمه غذا (دانه) اخيستنه درلوده(Hossain, 2013).

د دې څېړنې په پای کې دا ثابته شول چې غوښينو چرگوړو ته په غذا کې د هوږې پوډر ورکول د چرگوړو په وزن مثبت تاثير کړی وو او هم چرگوړو کمه غذا اخيستنه درلوده، نو د نوموړي عالمانو د څېړنې سره ورته والی لري.

داسې څېړنه ترسره شوی وه چې د هوړې پوډر د غوښينو چرګانو عمر په څلورمه اونۍ کې زياته وزن اخيستنه درلوده او د چرګوړو روغتيا يې ښه وه(Ms *et al.*, 2014).

د دې څېړنې په پای کې دا ثابته شول چې غوښينو چرګوړو ته په غذا کې هوړه ورکول د چرګوړو عمر په وروستيو اونيو کې په وزن مثبت تاثير کړی و، نو د نوموړي عالمانو د څېړنې سره ورته والی لري.

داسې يوه څېړنه ترسره شوي وه چې د هوړې پوډر مختلفې کچې په غوښينو چرګوړو وګوري په پايله کې د چرګوړو په کوچنيو کولمو کې مورفولژيکي بدلون موجود وو او د جذب د پروسې فعاليت يې ښه کړی وو (Adibmoadi *et al.*, 2006).

د دې څېړنې په پای کې دا ثابته شول چې غوښينو چورګوړو ته په غذا کې هوړه ورکول د چورګوړو په وزن مثبت تاثير کوي نو د نوموړي عالمانو د څېړنو سره ورته والی لري.

داسې څېړنه ترسره کړي وه چې هوړه د برايلر چرګانو د ودې فعاليت او بايو کېمياوي ځانګړتياوو ته د پام وړ وده ورکوي(Aarti & Khusro, 2020).

د دې څېړنې په پای کې دا ثابته شول چې غوښينو چرګوړو ته په غذا کې هوړه ورکول د چرګوړو ودې فعاليت ښه کړې و، نو د نوموړي عالمانو د څېړنې سره ورته والی لري.

## پایله اخیستنه

د غوښينو چرګوړو روزنه د مالداري يوه مهمه برخه ده، او غوښه يې د پروټينونو منرالونه او ويټامينونه يو ښه منبع ده چې خاص اقتصادي ارزښت لري. نوموړې څېړنه زابل ولايت مرکز په يوه څېړنيز فارم کې تر سره شوې ده. په دې څېړنه کې ټول 80 چرګوړي چې شامل و، چې په تصادفي ډول په څلورو مساوي ګروپونو ويشل شوي و. يو د کنټرول ګروپ او درې د تداوي ګروپونه چې T1 ګروپ ته 1% ، T2 ګروپ ته 1.5% او T3 ګروپ ته 2% هوړې پوډر په ټاکلې اندازه په غذا کې ورکول کيدل. د دې څېړنې پايلو وښودله چې د غوښينو چرګانو په غذا کې د هوړې پوډر اضافه کول د ژوندي وزن پر زياتوالي مثبت اغېز لري. هغه چرګوړو چې په غذا کې يې ۲٪ د هوړې پوډر ور کړل شوي و، د عمر په دريمه، څلورمه او پنځمه اونۍ کې د کنټرول ګروپ او همدارنګه د ۱٪

او ۱،۵٪ هوږې پوډر لرونکو ګروپونو په پرتله په احصايوي ډول د پام وړ لوړ وزن (P<0.05) درلوده. د وزن د زياتوالي احتمالي دليل دا کېداى شي چې هوږه د بايواکتيف مرکباتو لکه اليسين **(Allicin)** درلودونکې ده، چې د هاضمې سيستم فعاليت ښه کوي، د کولمو مضر مايکرو ارګانيزمونه کموي، او د غذا د جذب کچه لوړوي. سربېره پر دې، هوږه د انټي مايکروبيل او انټي اکسيډنټ ځانګړتياوې لري چې د چرګانو عمومي روغتيا پياوړې کوي او د ودې لپاره مناسب فزيولوژيک شرايط برابروي. نو ځکه، د هوږې پوډر په ځانګړې ډول د ٪۲ په کچه کارول د غوښينو چرګانو د ودې د ښه کولو لپاره اغېزمن غذايي علاوه کوونکی بلل کېداى شي ، سره له دې چې د کنټرول ګروپ چرګوړو د نورو ګروپونو په پرتله زياته غذا مصرف کړې وه، خو د ژوندي وزن کچه يې ټيټه وه. دا حالت ښيي چې د کنټرول ګروپ د غذا د تبدبلی موثريت (Feed Conversion Ratio) کمزورې و، يعنې د مصرف شوې غذا ډېره برخه په اغېزمن ډول وزن اخيستنه نه درلوده. برعکس، هغه چرګوړو ته چې په غذا کې د هوږې پوډر اضافه شوی و که څه هم نسبتاً کمه غذا يې مصرف کړه، خو لوړ وزن يې ترلاسه کړ. دا ښايي د هوږې د فعالو مرکباتو له امله وي، کوم چې د هاضمې بهير ښه کوي، د کولمو مضر باکترياوې کموي، او د مغذي موادو د جذب کچه لوړوي. سربېره پر دې، د هوږې انټي مايکروبيل او معافيت پياوړونکي ځانګړتياوې د فرعي ناروغيو او ميتابوليک فشار د کمېدو لامل ګرځي، چې په پايله کې انرژي د ساتنې پر ځاى د ودې لپاره کارول کېږي. نو ځکه، ويلی شو چې د هوږې پوډر استعمال د غذا موثريت لوړ کړی، حال دا چې کنټرول ګروپ که څه هم زياته غذا مصرف کړی، خو د هغې د اغېزمنې استفادې وړتيا کمه وه. په لنډ ډول که وواېو د کنټرول ګروپ د غذا لوړه اخيستنه سره له ټيټ وزن څخه ښيي چې د غذا د بدلون نسبت يې کمزورې و، په داسې حال کې چې د هوږې پوډر د هاضمې د ښه والي او د مغذي موادو د جذب د زياتوالي له لارې د غذا موثريت لوړ کړی او د کم مصرف با وجود يې د وزن زياتوالي رامنځته کړی. د موندنو له مخې، د دريمې او پنځمې اونۍ په پاى کې د کنترول ګروپ د غذا د تبديلی موثريت (FCR)د تداوې ګروپونو په پرتله لوړ و(P<0.05) ، چې دا د غذا د کمې اغېزمنتيا څرګندونه کوي. همدارنګه، په څلورمه اونۍ کې هغه ګروپونه چې ٪۱ او ٪۱،۵ د هوږې پوډر ترلاسه کاوه، ټيټ(FCR) يې درلود، او هغه ګروپ چې ٪۲ د هوږې پوډر ور کول کيدل هم د کنترول په پرتله ښه(FCR) درلود (P<0.05).په ټوله کې، د هوږې پوډر اضافه کول د غذا د اغېزمنتيا په ښه کولو او د چرګوړو د ودې

په پیاوړتیا کې مثبت رول لري په پایله کې ویلای شوو چې د غوښینو چرګانو په روزنه کې هوږې پوډر په غذا کې اضافه کول د چرګوړو په ټولیز تولیدي فعالیت باندې ښه اغیزه لري.

## وړاندیزونه

۱. ټولو فارمدارانو څخه مو غوښتنه ده چې په خپلو فارمونو کې چرګوړو ته د هوږې پوډر په غذا کې استعمال کړي.

۲. د هوږې پوډر د انتي بیوتک یو ښــه بدیل ده ، نو د ګرانو فارمدانو څخه مو هیله ده چې د غوښینو چرګوړو په روزنه کې ور څخه استفاده وکړي.

۳. د دولتي ، خصوصي سکتور او دخیلو اورګانو څخه مو هیله ده چې د غوښینو چرګوړو په غذایي رژیم کې د هوږې پوډر د استعمال لپاره د ملاتړ پروګرامونه په لاره واچوي تر څو د غوښینو چرګوړو په روزنه کې د هوږې پوډر استعمال عام شي.

## اخځلیکونه

Aarti, C., & Khusro, A. (2020). Role of garlic (Allium sativum) as feed supplements in poultry industries: An overview. World News of Natural Sciences, 29, 151–161.

Agbede JO, Aletor VA (2003). Evaluation of fish meal replaced with leaf protein concentrate from glyricida in diets for broiler chicks: Effect on performance, muscle growth haematology and serum metabolites. *Int. J. Poult. Sci. 2(4): 242-250.*

Aletor VA (1986). Some agro-industrial by-products and wastes in livestock feeding. Review of prospects and problems. *World Rev. Anim. Prod. 22: 36-41.*

Adibmoadi, M., Navidshad, B., Seifdavati, J., & Royan, M. (2006). Effect of Dietary Garlic Meal on Histological Structure of Small Intestine in Broiler Chickens. *Journal of Poultry Science*, *43*(4), 378–383. https://doi.org/10.2141/jpsa.43.378

Adeniyi, B. A., Oluwole, F. S., & Anyiam, F. M. (2006). Antimicrobial

and antiulcer activities of methanol extract of Allium sativum on Helicobacter pylori. Journal of Biological Sciences, 6(3), 521–526.

Chukwu, G. C., & Adeolu, A. I. (2014). *effect of ground ginger and garlic on the growth performance , carcass quality and economics of production of broiler chickens*. *3*(3), 225–229.

Chang, k.J. and S.H. Cheong, 2008. Volatile organosulfur and nutrient compounds from garlic by cultivating areas and processing methods. Fed. *Am. Soc. Exp. Bio. J., 22: 1108- 1112.*

Gadde, U., Kim, W., Oh, S.T. and Lillehoj, H.S. 2017. Alternatives to antibiotics for maximizing growth performance and feed efficiency in poultry: a review. Anim. *Health. Res. Rev. 18(1), 26–45.*

Guo, F. C. (2003). Mushroom and herb polysaccharides as alternative for antimicrobial growth promoters in poultry (Unpublised doctoral dissertation). *Wageningen University, Netherlands*

Gardzielewska, J., K. pudyszak, T. Majewska, M. Jakubowska and J. pomianowski, 2003. Effect of plant-supplemented feeding on fresh and frozen storage quality of broiler chicken meat. *Electronic J. polish Agric. Univ., 6: 12-12.*

Hossain, A. (2013). *Effect of garlic powder (*. 215–224.

Issa, K. J., & Omar, J. M. A. (2012). *Effect of garlic powder on performance and lipid profile of broilers*. *2*(2), 62–68. https://doi.org/10.4236/ojas.2012.22010

Javandel, F., Navidshad, B., Seifdavati, J., Pourrahimi, G. H., & Baniyaghoub, S. (2008). The favorite dosage of garlic meal as a feed additive in broiler chickens ratios. In *Pakistan Journal of Biological Sciences* (Vol. 11, Issue 13, pp. 1746–1749). https://doi.org/10.3923/pjbs.2008.1746.1749

Kareem, K.Y., Abdulla, N.R., Foo, H.L., Mohd, A.N., Zamri, N.S., Loh, T.C. and Alshelmani, M.I. 2018. Effect of feeding larvae meal in the diets on growth performance, nutrient digestibility and meat quality in broiler chicken. *Ind. J. Anim. Sci. 88(10), 1180– 1185.*

Khan, MA, Ashfag, MK, Zuberi, HS, Mohmood, MS & Gilani, AH. (2003) "The in Vivo antifungal of the aqueous extract from Nigella sativa seeds". *Phytother Resarch 17:183-186*

Mansoub, N.H. 2011. Comparative effects of using garlic as probiotic on performance and serum composition of broiler chickens. *Ann. Biol. Res. 2(3), 486–490.*

Makwana, R. B., Raval, A. P., Chauhan, H. D., Kulkarni, R. C., Srivastava, A. K., Bhagwat, S. R., & Rajgor, B. B. (2015). Effects of Garlic ( Allium sativum ) Supplementation on Growth Performance, Carcass Characteristics and Economics of Broilers . *Journal of Animal Research*, *5*(4), 843. https://doi.org/10.5958/2277-940x.2015.00140.0

Manseh, M. K., Kazemi, S., & Asfari, M. (2012). Influence of poly germander (trucrium polium) and watercress (Nasturtium officinale) extract on performance, carcass quality and blood metabolites of males broilers. *Research Options in Animal & Veterinary Sciences, 2, 66-68.*

Ms, A., Kamruzzaman, M., & Khandaker, Z. H. (2014). *Effects of feeding garlic powder on growth performance and meat quality of broiler*. 79–83.

Mulugeta, M., Worku, Z., Seid, A., & Debela, L. (2019). *Effect of garlic powder ( Allium sativum ) on performance of broiler chicken*. *31*(4).

Pourali M., Mirghelenj S. A., Kermanshashi D. (2010). Effect of garlic powder on productive performance and immune response of

broiler chickens challenged with Newcastle disease virus. *Global Veterinarian, 4:616-621.*

Reuter, H.D., H.P. Koch and L.D. Lawson, 1996. Therapeutic Effects and Application of Garlic and its preparation. In: Garlic; The Science and Therapeutic Application of *Allium sativum* L. and Related Species, Koch H.P. and L.D. Lawson (Eds.). *Williams and Wilkins, Baltimore, MD., pp: 135-213.*

Rivlin, R. S. (2001). Historical perspective on the use of garlic *Journal of Nutrition, 131 (35): 957- 954.*

Singh, P., Kumar, G., Yadav, D., Rajput, M. and Srivastava, R. 2020. Dietary supplementation of garlic as feed additive in poultry: *a. World. News. Nat. Sci. 29(3), 151–161.*

Sirgers, C.P., B. Steffen, A. Robke and R. pentz, 1999. The effects of garlic preparations against human tumor cell proliferation. *Phytomedicine, 6: 7-11.*

Toghani M., Toghani M., Gheisari A., Ghalamkar i G., Eghbalsaied S. (2011). Evaluation of cinnamon and garlic as antibiotic growth promoter substitutions on performance, immune responses, serum biochemical and haematological parameters in broiler chicks. *Livest. Sci., 138: 167–173*

Tarhyel R, Hen SA, Tanimomo BK. Effect of age on organ weight and carcass characteristics of Japanese quail (Coturnix Japonica). *Scientific Journals-Agis, 2012; 1(1): 21-26*

Windisch, W., Schedle, K., Plitzner, C. and Kroismayr, A. 2008. Use of phytogenic products as feed additives for swine and poultry. *J. Anim. Sci. 86(suppl. 14), E140–E148.*

# Effects of Garlic Powder on Growth performance of Broiler chickens

[1*]Gul nabi Noori, [2]Ziaulislam Nowbahar, [3]Haji gull Hamat, [4] Nasir Ahmad serat

[1,2,3,4] Department of Animal Science, Faculty of Agriculture, Mirwais khan Nika University- Zabul

gulnabinoori66@gmail.com

## Abstract

The inclusion of garlic (Allium sativum) powder in broiler chicken diets plays a crucial role in enhancing growth performance, health status, meat quality, and immune competence. The present study was conducted at an experimental farm in the central region of Zabul province to evaluate the effects of garlic powder supplementation. A Completely Randomized Design (CRD) was employed, comprising 80 one-day-old broiler chicks randomly allocated into four equal groups of 20 birds each. One group served as the control, while the three treatment groups were supplemented with 1% (T1), 1.5% (T2), and 2% (T3) garlic powder in their diets. Results demonstrated that during the 3rd, 4th, and 5th weeks of age, body weight gain was significantly higher in the T3 group compared to the control, T1, and T2 groups ($P < 0.05$). Feed intake was significantly greater in the control and T3 groups relative to T1 and T2 ($P < 0.05$). Analysis of the Feed Conversion Ratio (FCR) revealed that during the 3rd week, the control group exhibited a higher FCR than the treatment groups ($P < 0.05$), whereas no significant differences were observed among the treatment groups ($P > 0.05$). Notably, by the 5th week, the T3 group achieved a significantly lower FCR compared to the other treatment groups ($P < 0.05$). Based on these findings, it is recommended that poultry producers incorporate 2% garlic powder into broiler diets as an efficacious dietary supplement to optimize growth performance and feed efficiency.

**Keywords:** Broiler chickens, body weight, feed intake, FCR , garlic powder.

# بررسی تأثیر تغذیهٔ تفالهٔ لبلبو بالای اخذ غذا و وزن گرفتن میش‌ها

محمد فرهاد قیامی[1*]، عبدالغفور مرادی[2] و محمد داود شیرزاد[3]

دیپارتمنت علوم حیوانی، پوهنځی زراعت، پوهنتون پکتیا[1,3]، پوهنتون کابل[2]

mohammadfarhadqiami@gmail.com

## چکیده

این تحقیق جهت بررسی تاثیر تغذیهٔ تفالهٔ لبلبو بالای اخذ غذا و وزن گرفتن توسط میش‌ها در یک مخلوط جیره همراه با کاه گندم، بیدهٔ رشقه، دانهٔ جو، کنجارهٔ زغر و منرال پلس (کلسیم، فاسفورس، زینک، آهن و مگنزیم) در فارم تحقیقاتی پوهنځی زراعت پوهنتون کابل انجام شده است. هدف این تحقیق بررسی تاثیر تغذیه تفالهٔ لبلبو بالای اخذ غذا و گرفتن وزن میش‌ها بود. ۱۲ راس میش در سه گروپ و چهار تکرار به طور تصادفی در داخل اطاق‌های انفرادی جابجا شدند. این تحقیق در مدت ۲۸ روز انجام شد و در آن از دیزاین (CRD) استفاده صورت گرفته است. این تحقیق شامل سه ترتمنت بوده، ترتمنت اول یا کنترول (۰٪) تفالهٔ لبلبو، ترتمنت دوم (٦٪) تفالهٔ لبلبو و ترتمنت سوم (۱۲٪) تفالهٔ لبلبو بودند به میش‌های مورد مطالعه تمام ترتمنت‌ها ۵۰۰ گرام بیدهٔ رشقه، ۵۰۰ گرام کاه گندم، ۱۷۰ گرام کنجارهٔ زغر، ۴ گرام منرال پلس به‌طور یکسان و دانهٔ جو بالترتیب ۵۰۰ گرام ۴۰۰ گرام و ۳۰۰ گرام در هر ترتمنت روزانه یکبار تغذیه گردیدند. به اساس آزمایش تحلیل وریانس(ANOVA) و کمترین تفاوت معنی‌دار (L.S.D) در اخذ غذا و وزن گرفتن در بین ترتمنت‌ها تفاوت قابل ملاحظه احصایوی موجود بود که نشان می‌دهد ترتمنت دوم در مقایسه به ترتمنت‌های دیگر در اخذ غذا و وزن گرفتن بهتر بوده است؛ بناً نتایج این تحقیق بر اهمیت گنجانیدن شش فیصد تفالهٔ لبلبو در جیرهٔ غذایی میش‌ها تأکید دارد.

**واژه‌های کلیدی:** تفالهٔ لبلبو، میش‌ها و وزن گرفتن.

## مقدمه

بسم اللّه الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمدٍ و علی اله وصحبه اجمعین اما بعد!

افغانستان منابع طبیعی فراوان و اقلیم مساعد برای تربیهٔ حیوانات داشته و دارای ٦٥٠٠٠٠ کیلومتر مربع مساحت می‌باشد. که از آن جمله ۱۲٪ زمین قابل کشت، ۴۶٪ ساحات علف‌چرهای طبیعی، ۳۹٪ کوه‌ها و ۳٪ جنگلات را احتوا نموده (سلیمی،۱۳۹۴). زراعت و مالداری ستون فقرات اقتصاد ملی کشور ما را تشکیل داده و منبع عمدهٔ غذا، منبع عایداتی، امتعهٔ صادراتی و اشتغال در کشور به حساب می آید. چنانچه از این جمله حیوانات ۱۴٪ انرژی و ۳۳٪ پروتئین نیاز مردم جهان را تشکیل می‌دهد (مرادی،۱۳۹۸). ثلث نفوس کشور ما به‌صورت مستقیم یا غیر مستقیم مصروف زراعت و مالداری بوده و از فروشات محصولات عاید نسبتاً خوبی به‌دست می‌آورد (ضیاء،۱۳۹۵). طبق احصائیه‌های دست داشته در حدود ۵۰,٦٪ امتعه صادراتی کشور را محصولات زراعتی و مالداری تشکیل می‌دهد که سهم محصولات مالداری در مجموع صادرات کشور به ۱۷,۹٪ بالغ می گیردد (ضیاء،۱۳۹۲).

افزایش روزافزون جمعیت در دنیا ایجاب می‌کند تا کارشناسان و دست‌اندرکاران تهیه و تأمین مواد غذایی از محصولات حیوانی و نباتی به‌طور جدی به دنبال روش‌ها و منابع غذایی جدید به منظور بالا بردن تولیدات باشند. بخش‌هایی از مواد غذایی که می‌توانند جهت تبدیل به محصولات حیوانی مورد استفاده واقع شوند محصولات فرعی برخی از محصولات نباتی اند. تفالهٔ لبلبو یکی از محصولات فرعی حاصل از تولید شکر (بوره) است که در وقت تولید شکر از ریشه لبلبو، دو نوع مواد خوراکی با ارزش غذایی بلند به‌نام تفالهٔ لبلبو و ملاس لبلبو تولید می‌شود این دو نوع مواد خوراکی را می‌توان به‌صورت جداگانه یا مخلوط با سایر مواد خوراکی به اشکال مختلف در جیرهٔ غذایی حیوانات نشخوارکننده شامل ساخته و با معدهٔ چهار جوفی گاو و گوسفند سازگاری دارد (ابرغانی،۱۳۹۳). تفالهٔ لبلبو دارای قابلیت هضم بالا و خوش‌خوراک است میزان فایبر ناخالص این مادهٔ غذایی برای یک کانسنتریت بالا است و کاملاً قابل هضم بوده که بخشی از این

خصوصیات به‌خاطر پایین بودن لگنین آن است (Church,1984). مقدار مجموعهٔ مواد غذایی قابل هضم (TDN) آن ۷۲٪ و پروتئین ۶،۶- ۹،۷٪ می‌باشد (lardy,2015). تعویض بخشی از لگیوم‌ها با غذای پکتین دار (پکتین یک مادهٔ فایبری است) مانند تفالهٔ لبلبو باعث جلوگیری از بی‌نظمی‌های هضمی می‌شود (Bodas,2007). اگر تفالهٔ لبلبو ۲۵٪ با مخلوط کانسنتریت‌ها تغذیه گردد بالای رشد گوسفندان اثر گزار است (Abedo,2005). یافته‌های (Ozturk,2011) نشان می‌دهد که وزن گرفتن کوسفندان با تغذیه ٪۳۵ تفالهٔ لبلبو نسبت به دیگر مقادیر تفاله تغذیه شده بیش‌تر بوده است. (Adie,2018) لبلبو یک نبات یکساله و منبع غنی انرژی برای حیوانات فارم می‌باشد. (Rouzbehan,1994) گزارش دادند که تفالهٔ لبلبو یک منبع فایبر بوده و هم‌چنان می‌تواند جاگزین خوب علوفه‌جات در جیرهٔ غذایی نشخوار کننده‌گان باشد اگرچه تعویض کردن مقدار زیاد این محصول فرعی با حبوبات، باعث کاهش در مصرف ماده خشک می‌شود.

در پرورش حیوانات چالش اساسی را تغذیه حیوانات تشکیل می‌دهد که از یک طرف رقابت غذایی بین انسان‌ها و حیوانات افزایش یافته و از طرف دیگر قیمت جیرهٔ غذایی حیوانات افزایش می‌یابد بناً خوراکه‌های متراکم که به‌طور مستقیم توسط انسان‌ها به‌مصرف نمی‌رسد در جیرهٔ غذایی حیوانات شامل ساخته شوند در نتیجه قیمت تمام شد جیرهٔ غذایی و محصول تولید شده کاهش می‌یابد.

**اهداف تحقیق**

۱ – بررسی تاثیر تغذیهٔ تفالهٔ لبلبو بالای اخذ غذا و وزن گرفتن میش‌های نسل ترکی.

۲ – بررسی تاثیر تفالهٔ لبلبو بالای ضریب غذایی و موثریت تبدیل غذا در میش‌های نسل ترکی.

**سوالات تحقیق**

۱ – آیا تغذیه تفالهٔ لبلبو برای میش‌ها بالای مصرف غذایی روزانه و وزن گرفتن آن‌ها تاثیرگذار است یا خیر؟

۲ – تأثیرات تغذیهٔ تفالهٔ لبلبو بالای ضریب تبدیل غذا و مؤثریت تبدیل غذا به محصول در گوسفندان چگونه است؟

**فرضیۀ تحقیق**

۱ – فرضیۀ الترناتیف(Alternative hypothesis) تغذیۀ تفالۀ لبلبو برای میش‌های نسل ترکی سبب گرفتن وزن و بالا رفتن اخذ غذا می‌گردد.

۲ – فرضیۀ صفری (zero hypothesis) تغذیۀ تفالۀ لبلبو برای میش‌های نسل ترکی سبب باختن وزن و پایین آمدن مصرف غذا می‌گردد.

## مواد و روش تحقیق

این تحقیق در فارم تحقیقاتی پوهنځی زراعت پوهنتون کابل برای مدت ۲۸ روز بالای ۱۲ رأس میش نسل ترکی دوساله با اوسط وزن ابتدایی ۵۴,۶ کیلو گرام صورت گرفت بود. تا حال کدام تحقیق در ارتباط به موضوع، بالای گوسفندان در کشور صورت نگرفته است. خوراکه‌های مورد استفاده در این تحقیق شامل تفالۀ لبلبو، کاه گندم، بیدۀ رشقه، دانۀ جو، کنجارۀ زغر و نمک است.

**دیزاین تجربه و گروپ‌ها:** دیزاین تجرب(Completely Randomized Design CRD ) بوده میش‌ها به طور اتفاقی درسه ترتمنت، ترتمنت اول یا کنترول(T1) حاوی صفر فیصد تفالۀ لبلبو، ترتمنت دوم(T2) حاوی ۶ فیصد تفالۀ لبلبو و ترتمنت سوم(T3) حاوی ۱۲ فیصد تفالۀ لبلبو که در هر ترتمنت چهار تکرار در نظر گرفته شده و در قفس‌های جداگانه جابجا شده بود.

**مصرف غذا:** مقادیر خوراکه‌های تغذیه شده و پس‌ماندۀ غذای روزانه هر حیوان به‌طور جداگانه وزن و ثبت کتابچه دیتا گردیدند. به اساس جدول معیاری (NRC,2001). ضروریات غذایی میش‌های نسل ترکی قرار ذیل اند. مواد مغذی قابل هضم ۶۵٪، پروتین خام ۱۲٪، کلسیم ۰,۲۸٪، فاسفورس۰,۱۷٪ و ویتامین A ۱۰۲۶,۵ واحد بین المللی مسجل گردیدند. به اساس این جدول خوراکه‌های محلی جهت تأمین ضروریات غذایی میش‌های مورد مطالعه عیار ساخته شدند.

جدول ۱: اجزای تشکیل دهندهٔ خوراکه‌ها و ترکیب کیمیاوی خوراکه‌ها:

| اجزای ترکیبی غذا | کنترول (ترتمنت اول) | ترتمنت دوم | ترتمنت سوم |
|---|---|---|---|
| کاه گندم ٪ (گرام) | ۳۰ (۵۰۰ گرام) | ۳۰ (۵۰۰ گرام) | ۳۰ (۵۰۰ گرام) |
| تفالهٔ لبلبو ٪ (گرام) | ۰ (۰ گرام) | ٦ (۱۰۰ گرام) | ۱۲ (۲۰۰ گرام) |
| منرال پلس ٪ (گرام) | ۰,۳۸ (۴ گرام) | ۰,۳۸ (۴ گرام) | ۰,۳۸ (۴ گرام) |
| کنجارهٔ زغر ٪ (گرام) | ۱۰ (۱۷۰ گرام) | ۱۰ (۱۷۰ گرام) | ۱۰ (۱۷۰ گرام) |
| دانهٔ جو ٪ (گرام) | ۳۰ (۵۰۰ گرام) | ۲۴ (۴۰۰ گرام) | ۱۸ (۳۰۰ گرام) |
| بیدهٔ رشقه ٪ (گرام) | ۳۰ (۵۰۰ گرام) | ۳۰ (۵۰۰ گرام) | ۳۰ (۵۰۰ گرام) |
| مجموع | ۱۰۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰ |
| **ترکیب کیمیاوی (٪)** | | | |
| مادهٔ خشک | ۸۷,۲۷ | ۱۳۳,۴۲ | ۱۳۲,۰٦ |
| مواد مغذی قابل هضم | ۷۸ | ۷۷,۲۷ | ۷٦,٦۲ |
| پروتین | ۱۲,۸۴ | ۱۹,٦۳ | ۱۹,۴۳ |
| کلسیم | ۰,۹۲۳ | ۱,۴۱۱ | ۱,۳۹۷ |
| فاسفورس | ۰,۴۲۳ | ۰,٦۴۷ | ۰,٦۴۰ |
| نسبت انرژی با پروتین | ٦,۰۷ | ۳,۹۳ | ۳,۹۴ |

**وزن بدن حیوان:** در شروع تحقیق، میش‌ها توسط ترازوی الکترونیکی قید وزن شده و هر ۷ روز بعد برای مدت ۱۲ ساعت بیدون این‌که به آن‌ها غذا داده شود از طرف صبح قید وزن شده بود. در نتیجه، تفاوت وزن اولی و نهایی تقسیم روزهای تغذیه، اوسط وزن گرفتن روزانه به‌دست می‌آمد.

**تحلیل و تجزیۀ احصایوی:** ارقام جمع آوری شده در ارتباط به پارامترهای مذکور با استفاده از تحلیل وریانس (Anova) مورد مطالعه قرار گرفت، تفاوت بین ترتمنت‌ها با استفاده از آزمایش (LSD) مورد آزمایش قرار گرفت (snedecor,1967; steel,1981; Gomez,1984)(ایفرین، ۱۳۸۹).

## نتایج

از تحلیل وریانس تاثیر ترتمنت‌های مختلف بالای اخذ مجموعی غذا و وزن گرفتن چنین بر می‌آید که در بین ترتمنت‌ها به احتمال ۵ فیصد تفاوت مؤثق احصایوی (P<0.5) موجود بود. به اساس آزمایش LSD دریافت گردید که ترتمنت دوم (٦٪) تفالۀ لبلبو در بین ترتمنت‌ها در قسمت وزن گرفتن و اخذ غذا مؤثر بود.

جدول ۲ : اوسط وزن گرفتن و اوسط اخذ غذا توسط میش‌های مورد مطالعه.

| پارامترها | ترتمنت اول (کنترول) | ترتمنت دوم | ترتمنت سوم |
|---|---|---|---|
| تعداد حیوانات | ۴ | ۴ | ۴ |
| اوسط وزن اولی (کیلوگرام) | ۵۸,۵±٦,۳۳ | ۵۰,۷±۰,۷۹ | ۵۵,٦±۸,۳۷ |
| اوسط وزن نهایی (کیلوگرام) | ٦۲,۵±۵,۲۲ | ۵۵,۴±۱,۳۰ | ۵۸,۸±۵,۰٦ |
| اوسط مجموع وزن گرفتن (کیلوگرام) | ۴,۰۲±۱,٦۱ | ۴,۷±۰,٦۹ | ۳,۲±۲,۱۹ |
| مدت تجربه (روز) | ۲۸ | ۲۸ | ۲۸ |
| اوسط وزن گرفتن روزانه (گرام) | ۱۴۳,٦±۷,٦۲ | ۱٦۷,۸±۴,۵۲ | ۱۱۴,۲±۸,۰۹ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| **اخذ غذا** | | | |
| مجموع غذایی اخذ شده (کیلوگرام) | ۴۱,٦±۰,٦۷ | ۴۱,۹±۰,۰۷ | ۳۹,۵±۱,۱۴ |
| مجموع غذایی اخذ شده (٪) | ۹۸,٦±۱,٦۰ | ۹۹,۴±۱,۷۲ | ۹۳,۷±۲,۰۰ |
| اوسط غذایی اخذ شده روزانه (کیلوگرام/خشک) | ۱,۴۸٦ | ۱,۴۹۸ | ۱,۴۱۲ |
| ضریب تبدیل غذا | ۱۰,۳۴ | ۸,۹۱ | ۱۲,۳۴ |
| مؤثریت تبدیل غذا (٪) | ۹,٦۷ | ۱۱,۲۱ | ۸,۱۰ |
| مجموع مصرف غذا (افغانی) | ۸۴۰ | ۸٦۸ | ۹۲۴ |
| قیمت فی کیلو گرام وزن گرفتن (افغانی) | ۲۱۰ | ۱۸۵ | ۲۸۸ |

در جدول (۲) نشان داده شده است که تعداد گوسفندان در هر ترتمنت ۴ رأس بوده و اوسط وزن ابتدایی آن‌ها به ترتیب ۵۸، ۵۰ و ۵۵ کیلوگرام ثبت شده است. بیشترین اوسط افزایش وزن روزانه در ترتمنت دوم (۱٦۷,۸٦ g/day) و کمترین آن در ترتمنت سوم (۱۱۴,۲۹ g/day) مشاهده گردیده، در حالی‌که ترتمنت اول در سطح متوسط قرار گرفته است. در جریان ۲۸ روز تحقیق تفاوت وزن اولی و نهایی در بین ترتمنت اول، دوم و سوم به ترتیب ۴، ۴,۷ و ۳,۲ کیلوگرام وزن زنده است.

اوسط ضریب تبدیل غذا به وزن و همچنان اوسط موثریت تبدیل غذا به وزن در ترتمنت سوم (۱۲,۳۴kg) نسبت به دو ترتمنت دیگر پایین‌تر بوده و از موثریت کمتری برخوردار است. در مقایسه، ترتمنت دوم با ضریب تبدیل (۸,۹۱ kg) در جایگاه اول و ترتمنت اول با ضریب (۱۰,۳۴kg) در جایگاه دوم قرار دارند؛ یعنی برای افزایش هر کیلوگرام وزن زنده، در ترتمنت دوم نسبت به دیگر ترتمنت‌ها خوراکه کمتری اخذ شده است.

فیصدی اخذ خوراکه توسط میش‌ها در هر ترتمنت تفاوت زیاد چشم‌گیری نداشته، اما بیشترین فیصدی اخذ غذا در ترتمنت دوم (٪۹۹) و کمترین آن در ترتمنت سوم (٪۹۳) ثبت شده است.

هرچند قیمت واحد خوراکه در تمام ترتمنت‌ها مشابه بوده است، اما با افزایش مقدار تفالهٔ لبلبو در جیرهٔ غذایی، قیمت مجموعی خوراکه افزایش یافته که این امر ناشی از قیمت بلند تفالهٔ لبلبو می‌باشد. در نهایت، کم‌ترین قیمت تمام‌شده فی کیلوگرام وزن (وزن زنده) در میش‌ها در ترتمنت دوم (۱۸۵ افغانی) و بیشترین آن در ترتمنت سوم (۲۸۸ افغانی) به ثبت رسیده است.

## مناقشه

یافته‌های این تحقیق نشان می‌دهد که تغذیهٔ تفالهٔ لبلبو تأثیرات معناداری بر افزایش وزن زنده و اخذ خوراکه در میش‌های نسل‌ترکی داشته است این نتایج با مطالعات پیشین هم‌خوانی دارد. به‌طور مثال، یافته‌های این تحقیق نشان می‌دهد که علاوه کردن ٦٪ تفالهٔ لبلبو توام با کاه‌گندم، بیده رشقه، دانه جو، کنجارهٔ زغر و منرال‌پلس در جیرهٔ غذایی میش‌های نسل ترکی باعث افزایش وزن و مصرف خوراکه می‌گردد. این نتیجه با مطالعاتی نظیر تحقیقات (Yuksel,2009) که تاثیر تغذیه کاه گندم و تفالهٔ لبلبو را بالای حیوانات مشابه بررسی کرده اند، مطابقت دارد. همچنان (Mahmoud,2016) در بره‌های نسل ترکی تاثیر تغذیه تفالهٔ لبلبو را مورد بررسی قرار دادند که با یافته‌های این تحقیق هم‌خوانی داشته و بر اهمیت شامل ساختن تفالهٔ لبلبو در جیرهٔ غذایی حیوانات نشخوارکننده تأکید می‌کند. برخی تحقیقات (Abedo,2005) تاثیر تغذیهٔ تفالهٔ لبلبو را بر افزایش وزن ضعیف‌تر گزارش کرده‌اند، بر خلاف تحقیق حاضر، این می‌تواند به دلیل موجودیت مقدار بیشتر تفالهٔ لبلبو در جیرهٔ غذایی حیوانات باشد.

## نتیجه‌گیری

این تحقیق به منظور بررسی تأثیر تفالهٔ لبلبو همراه با خوراکه‌های متراکم و غیرمتراکم بر میزان اخذ غذا و افزایش وزن میش‌های نسل ترکی اجرا گردید. نتایج حاصل نشان داد که افزودن تفالهٔ لبلبو در جیرهٔ غذایی میش‌ها، در بهبود عملکرد رشد به‌خصوص افزایش وزن، اخذ غذا و ضریب تبدیل غذایی مؤثر واقع شده است. در میان فیصدی‌های مختلف تفالهٔ لبلبو که در جیرهٔ غذایی به کار رفت، فیصدی ٦٪ بهترین نتایج را از نظر رشد و تغذیه نشان داده. از این‌رو، فرضیهٔ آلترناتیف تحقیق تأیید گردید. این مؤفقیت را می‌توان به طعم شیرین و طبیعی لبلبو نسبت داد که موجب افزایش جذابیت خوراکه برای میش‌ها شده و نیز بهبود تخمر در شکمبه را تسهیل نموده است؛ در نتیجه،

جذب مواد مغذی افزایش یافته است. در مقابل، ترتمنت سوم (با ۱۲ فیصد تفاله لبلبو) کم‌ترین میزان اخذ خوراکه و وزن گرفتن را به ثبت رسانده است. دلیل آن را می‌توان به مقدار بیش از حد منابع کاربوهایدریتی در جیرهٔ غذایی نسبت داد که باعث بروز اختلالات شکمبه‌ای مانند اسیدوز، نفخ و اسهالات گردیده است؛ این اختلالات در ترتمنت سوم حاوی (۱۲٪) تفالهٔ لبلبو در جریان تحقیق مشاهده شده بود و منجر به کاهش وزن و اخذ غذا گردیده بود.

به طور کلی، نتایج این تحقیق بر اهمیت گنجانیدن تفالهٔ لبلبو در جیرهٔ غذایی میش‌های نسل ترکی تأکید دارد؛ این راه‌کار می‌تواند نقش مؤثری در کاهش رقابت غذایی میان انسان‌ها و حیوانات ایفا کند و در نهایت منجر به کاهش قیمت تمام‌شد محصولات تولیدی گردد.

## پیشنهادات

۱- توصیه می‌گردد که در جیرهٔ غذایی میش‌ها از مقدار متوسط تفالهٔ خشک لبلبو (٦٪) استفاده شود، زیرا این مقدار در تحقیق حاضر عملکرد بهتری را نشان داده است.

۲- به‌منظور تعیین دقیق‌ترین مقدار قابل استفاده تفالهٔ لبلبو در جیرهٔ گوسفندان، پیشنهاد می‌شود که تحقیقات بیشتری در این زمینه صورت گیرد و در آن از بره‌های جوان نیز استفاده گردد.

۳- همچنان پیشنهاد می‌گردد که تأثیر تفالهٔ لبلبو بر میزان تولید شیر گاوهای شیری نیز مورد بررسی و تحقیق قرار گیرد.

## منابع

ابرغانی، اکبر. (1393). استفاده از تفاله چغندرقند در پرواربندی بره. اردبیل: سازمان جهاد کشاورزی استان اردبیل. ص:۳.

ایفرین، النویروس. (۱۳۸۹). طرح و تحلیل تجارب، ترجمه غلام رسول صمدی پوهنځی زراعت پوهنتون کابل. ص ص: ۲۴-۴۱.

سلیمی، فضل حامد. (۱۳۹۴). ارزیابی تولید و بازاریابی محصولات لبنی در کابل تیزس ماستری پوهنتون کابل ص ص: ۵،۱۰.

ضیاء، ضیاءالدین. (۱۳۹۲). مبادی ،مالداری، پوهنتون کابل انتشارات نعمانی کابل. ص:۲۰-۲۱.

ضیاء،ضیاءالدین (۱۳۹۵). تغذیه حیوانی پوهنتون کابل انتشارات نعمانی کابل. ص ص:۱۹۲،۲۰۴،۲۵۸.

مرادی، عبدالغفور. (۱۳۹۸). تاثیر تغذیه یوریا بالای اخذ غذا و وزن گرفتن برههای نسل ترکی اثر علمی جهت ترفیع به رتبه علمی پوهندوی انتشارات پوهنتون کابل، کابل افغانستان. ص: ۳۸.

Abedo, A. A., El-Ashry, M. A., El-Badawi, A. Y., Helal, F. I. S., & Fadel, M. (2005). Effect of feeding biologically treated sugar beet pulp on growth performance of sheep. *Egyptian J. Nutrition and Feeds, 8*, 579-590.

Adie, A., Bezabih, M., Mekonnen, K., & Thorne, P. J. (2018). Fodder beet (Beta vulgaris) for livestock feed.P:1.

Bodas, R., Giráldez, F. J., López, S., Rodríguez, A. B., & Mantecón, A. (2007). Inclusion of sugar beet pulp in cereal-based diets for fattening lambs. *Small Ruminant Research*, *71*(1-3), 250-254.

Church, D. C. (1984). Livestock feeds and feeding (2nd ed.). O & B Books. Englewood Cliffs, Newjersey, P: 127.

Gomez, K. A., & Gomez, A. A. (1984). *Statistical procedures for agricultural research*. John wiley & sons.P:704.

Lardy, G. P., Anderson, V. L., & Dahlen, C. R. (2015). *Alternative feeds for ruminants*. North Dakota: NDSU Extension Service.P:9

Mahmoud, A. E. M., & El-Bordeny, N. E. S. (2016). The nutritive value of sugar beet pulp-substituted corn for barki lambs. *Pakistan Journal of Zoology*, *48*(4). Pp: 995- 1002.

National Research Council, Committee on Animal Nutrition, & Subcommittee on Dairy Cattle Nutrition. (2001). *Nutrient requirements of dairy cattle: 2001*. National Academies Press.P:277

Ozturk, Y., MA, K., Aldemir, R., & Bolat, D. (2011). Effects of substituting barley with wet sugar beet pulp silage prepared with wheat bran on fattening performance, carcass quality of lambs and cost. *Kafkas Üniversitesi Veteriner Fakültesi Dergisi*, *17*(3).P:3

Rouzbehan, Y., Galbraith, H., Rooke, J. A., & Perrott, J. G. (1994). A note on the effects of dietary inclusion of a yeast culture on growth and ruminal metabolism of lambs given diets containing unground pelleted molassed dried sugar-beet pulp and barley in various proportions. *Animal Science, 59*(1), 147-150.

Snedecor, G. W., & Cochran, W. G. (1967). Multiple regression. *Statistical methods,*Pp: 381-418.

Steel, R. G. D., & Torrie, J. H. (1981). *Principles and procedures of statistics, a biometrical approach* (No. Ed. 2, p. 633pp).

Yüksel, S., Yanar, M., Turgut, L., Özlütürk, A., Kopuzlu, S., & Sezgin, E. (2009). Feed efficiency and carcass and meat quality characteristics of bulls finished on diets containing varied proportions of wheat straw and wet sugar beet pulp. *South African Journal of Animal Science, 39*(4).Pp:313-316.

# Evaluation of the Effect of Feeding Sugar Beet Pulp on Feed Intake and Weight Gain in Ewes

[1*]Mohammad Farhad, [2]Qiami Abdul Ghafoor Moradi and Mohammad [3]Dawood Shirzad

Faculty of Agriculture, Department of Animal Sciences, [1,3] Paktia University, [2]kabul University

mohammadfarhadqiami@gmail.com

## Abstract

The research was conducted to determine the effects of feeding sugar beet pulp in a mixed ration with wheat straw, alfalfa hay, barley grain, cotton seed cake and mineral plus (calcium, phosphorus, zinc, iron & magnesium) on feed intake and weight gain in ewes. The research was carried out at the research farm of Agriculture Faculty of Kabul University. The aim of this research was to evaluate the effect of sugar beet pulp feeding on feed intake and weight gain in ewes. Twelve ewes were caged individually in 3 groups and 4 replications. The duration of the experiment was 28 days and design used was completely randomized design (CRD). three treatments included in this experiment were, first treatment (Control) (0%SBP), second treatment (6% SBP) and third treatment (12% SBP). In addition, each ewe was fed with 500g wheat straw, 500g alfalfa hay, 170g cotton seed cake, 4g mineral plus with the same amount and barley grain for (control group) T1, T2 and T3, 500g, 400g and 300g respectively once in a day. Based on the results of Analysis of Variance (ANOVA) and Least Significant Difference (LSD) test, there was a statistically significant difference in feed intake and weight gain among of treatments. The second treatment showed better performance in terms of feed consumption and weight gain compared to other treatment. Therefore, the results of this research emphasize the importance of including 6% sugar beet pulp in the diet of ewes.

**Key words:** Sugar Beet Pulp, Ewes & weight gain.

# ملچ او د کرنیزو سیستمونو اګرانومیکي اغېزې

سمیع الله آشنا

اګرانومي څانګه، کرنې پوهنځی، بامیان پوهنتون

samiullah.ashna@yahoo.com

## لنډیز

ملچ د پایدارې کرنې او تولیدي سیستمونو لپاره یو مهم اګرانومیکي او چاپېریالي مدیریت ګڼل کېږي، څکه نه یوازې د خاورې د حاصلخېزۍ د لوړوالي، رطوبت د ساتنې او د نبات د ودې په پیاوړتیا کې رغنده اغېزه لري، بلکې د اقلیمي بدلون د اغېزو د کمولو او د طبیعي سرچینو د مؤثر استعمال لپاره هم یوه ارزښتمنه کړنلاره ده. د دې څېړنې اساسي موخه د مختلفو ملچونو لکه عضوي، غیرعضوي، تجزیه کېدونکو او ژوندیو ملچونو د کارونې اګرانومیکي، چاپېریالي او اقتصادي اغېزو تحلیل او د پایدارې کرنې لپاره د مناسب ملچ د انتخاب علمي ارزونه ده. څېړنه مروري څېړنه ده، چې معلومات یې د نړیوالو معتبرو ساحوي او تجروبوي مقالو څخه راټولاو تحلیل شوي دي. څېړنه ښیي چې عضوي ملچ د خاورې د عضوي کاربن زیاتوالي، د مایکروبي فعالیت پیاوړتیا، د اوبو د ضایعاتو د کمښت او د حاصل د کیفیت په لوړوالي کې تلپاتې او دوامداره اغېز لري، په داسې حال کې چې پلاستیکي ملچ یوازې لنډمهاله اګرانومیکي ګټې لري د چاپېریال ککړتیا او د خاورې د بیولوژیکي جوړښت د زیان سبب ګرځي. د څېړنې موندنې څرګندوي چې عضوي او تجزیه کېدونکي ملچ د اقلیم هوښیاره کرنې (Climate-Smart Agriculture) او پایدارې تولیدي سیستمونو لپاره غوره انتخاب دي.

**کلیدي کلمې:** اګرانومیکي اغېزې، اقلیمي بدلون، پایداره کرنه، ملچ

## سريزه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين محمدٍ و على اله وصحبه اجمعين اما بعد!

ملچ (د ځمکې پوښل) هغه فزيکي پوښ دی چې د خاورې پر سر خپرېږي، تر څو خاوره لنده وساتي، د خاورې تودوخه برابره کړي، د واښو وده کمه کړي او خاوره له تخريب او ککړتيا وساتي ((Prosdocimi *et al.*, 2016; Iqbal *et al.*, 2020). ملچ د خاورې پر سطحه د عضوي او غيرعضوي موادو اچولو تگلاره ده چې د اگرانوميکو سيستمونو په وده کې د اوبو سپما، د رطوبت ثبات او د حاصل لوړولو په موخه کارول کېږي(Beltagi *et al.* 2022). ملچ د خاورې سطحې ته د عضوي يا غيرعضوي موادو يو پوښ دی چې د خاورې رطوبت ساتنه، د تودوخې تنظيم، د واښو مخنيوی او د حاصل زياتولو لپاره کارول کېږي. په وچو او نيمه‌وچو سيمو کې د ملچ کارول د اوبو د تبخير کمولو او د اوبو مؤثريت لوړولو له لارې د فصلونو په توليد او پايداره کرنه کې حياتي رول لوبوي. د پلاستيکي يا غيرعضوي ملچونو لکه تور پلاستيک، کولای شي د خاورې د تودوخې په تعديل او د اوبو د تبخير مخنيوی کې مؤثره وي، چې د واښو کنټرول او د فصلونو په وده کې مرسته کوي. سربېره پر دې، ملچ د واښو مخنيوی، کوم چې د کيمياوي يا ميخانيکي کنټرول اړتيا راکمه وي (Demo *et al.* 2024; Verma and Pradhan, 2024). ملچ کولای شي د خاورې د فزيکي او کيمياوي جوړښت په ښه کولو کې مرسته وکړي، لکه د نفوذپذيري زياتول، د حجمي کثافت (Bulk density) کمول، او د غذايي عناصرو ثبات ته وده ورکول(Qu *et al.* 2019). عضوي ملچونه (لکه واښه، کمپوست، نباتي پاتې شوني) د خاورې عضوي مواد زياتوي، د رطوبت ساتنه کوي، او د مايکروبيولوژيکي فعاليتونو د ودې له لارې حاصل زياتوي. علاوه پر دې، ملچ د تيرو او باراني اوبو د سطحې بهېدنې (Runoff) او د خاورې د تخريب (Erosion) مخه نيسي، په ځانگړې توگه په غرونو او يا غونډيو کې (Iqbal *et al.* 2020; Zhang *et al.* 2023). عضوي ملچ خاورې ته يخوالی ورکوي، ځکه د تودوخې د زياتېدو مخه نيسي. خو پلاستيکي ملچ خاورې تودوخه زياتوي، په ځانگړي ډول د ودې د پيل په وخت کې (Amami *et al.*, 2025).

څېړنې ښيي چې د مختلفو ملچونو (عضوي او غیرعضوي) په کارونې سره د حاصل او د اوبو د کارونې مؤثریت(Water Use Efficiency) په ښکاره توګه ښه کېږي. وروستي ازمايښتي شواهد ښيي چې مناسب ملچ د خاورې د تودوخې او رطوبت حالت منظم ساتي ، د انزایمونو فعالیتونه اصلاح کوي او په بېلابېلو کرنیزو حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی را منځته کوي ( Song *et al.* 2024). ملچ د خاورې تودوخه بدلوي، او دا بدلون د ملچ له ډول او د کال له موسم سره تړاو لري. عضوي ملچونه عموماً د ورځې د سختې ګرمۍ اغېزه کمه کوي، خو پلاستیکي ملچونه په سړو موسمونو کې خاورې ته زیات تودوخه ورکوي، چې د لومړنیو کرنیزو عملیاتو کې مرسته کوي(Lamont,2005). په وچو او نیمه‌وچو سیمو کې ملچ د تبخیر د کمولو، د خاورې د تودوخې د نظم او د اوبو د کارونې مؤثریت د ښه کېدو له لارې د کرنیزو خطرونو د کمولو لپاره یو بنسټیز مدیریت ګڼل کېږي(Kader *et al.* 2019). پلاستیکي ملچونه که څه هم د خاورې د رطوبت او حاصلخېزۍ په ساتنه کې مهم رول لري، خو د نه تجزیه کېدونکو موادو له امله د چاپېریال لپاره د اوږدمهاله ککړتیا یو سرچینه ګرځي. د مایکروپلاستیک ذرات د خاورې فزیکي جوړښت بدلوي او د خاورې ایکوسیستم ته جدي زیان رسوي(Huang *et al.*, 2020). ملچ کارول د بزګرانو لپاره ځینې نوې تخنیکي ستونزې هم پیدا کوي. د بېلګې په توګه، د ملچ ایښودل او بیا لرې کول زیات کار او وخت غواړي، چې د کوچنیو کروندګرو لپاره اسانه نه وي. دا ستونزه په ځانګړي ډول د پلاستیکي ملچ د راټولولو او لرې کولو پر مهال ډېره څرګندیږي ( Kasirajan and Ngouajio, 2012).د څېړنې موخې، د دې څېړنې موخې د ملچ د بېلابېلو ډولونو (عضوي، غیرعضوي، تجزیه کېدونکي او ژوندی ملچ) اګرانومیکي اغېزې، د خاورې د حاصلخېزۍ، رطوبت ساتنې، اوبو مدیریت، د نبات د ودې او حاصل په ښه والي کې د هغې نقش په علمي ډول وارزول شي. همدارنګه، د ملچ د کارونې چاپېریالي او اقتصادي ننګونې او د پایدارې کرنې او اقلیمي بدلون په مدیریت کې د هغې ستراتیژیک اهمیت تحلیل شي.

## د څېړنې تگلاره

دغه مقاله یوه مروري (Literature Review) څېړنه ده، چې معلومات یې د نړیوالو معتبرو ساحوي او تجروبوي مقالو څخه راټول او تحلیل شوي دي

## اصلي موضوع

### د ملچ ډولونه او ځانگړتیاوې

**عضوي ملچ (Organic mulches):** عضوي ملچونه له طبیعي سرچینو لکه بوس یا پروړه، واښو، پاڼو، لرگیو وړې ټوټو او کمپوست څخه جوړېږي. کله چې دا مواد په خاوره کې ورو ورو تجزیه شي، عضوي مواد او مهم غذایي عناصر لکه کاربن ، نایتروجن او لږ لگښته عناصرخوشې کوي. چې دا کار د د خاورې عضوي مواد زیاتوي، میکروبي فعالیت پیاوړی کوي، د اوبو نفوذ ښه کوي، د خاورې جوړښت ښه کوي، د حجمي کثافت کموي او د ریښو لپاره مناسب یو کوچنی اقلیم برابروي، کمزوري یې دا ده چې دا ملچ ژر ختمېږي، نو باید بېرته واچول شي. همدارنگه کله ناکله د خوسا کېدو پر وخت خاوره کې نایتروجن لږ شي که سمه پاملرنه ورته ونه شي ( Iqbal *et al.*, 2020; Van Dung *et al.*, 2022).




۱ـ شکل: په کرنه کې کاریدونکې بیلابیل عضوي ملچونه (TractorKarvan,2025)

**غیرعضوي ملچ**(**Inorganic mulches**):  غیرعضوي ملچونه لکه پلاستیکي فلم، شګه، ډبرې او ربړ د خاورې پر سر د اوږدې مودې لپاره پوښ جوړوي، خو خاورې ته کومه غذایي ګټه نه رسوي. دا ډول ملچونه عموماً د واښو د مخنیوي، د اوبو د تبخیر د کمولو او د خاورې د چاپېریالي حالت د ژر بدلون لپاره کارول کېږي. پلاستیکي ملچ په ځانګړې ډول تور پلاستیک د خاورې تودوخه زیاتوي، چې د کښت د پیل په پړاو کې د نبات له ټینګېدو سره مرسته کوي او د اوبو ضایع کېدل هم کموي. خو که اوږده موده وکارول شي، نو د پلاستیک پاتې شوني او میکروپلاستیکونه د چاپېریال د ککړتیا اندېښنې راپورته کوي(Lamont, 2005; Steinmetz *et al.*, 2016).




۲ـ شکل : په کرنه کې کارېدونکي بېلابېل غیرعضوي ملچونه (TractorKarvan,2025)

**د خاورې تجزیه کېدونکي (Biodegradable) پلاستیکي ملچونه:**  تجزیه کېدونکي پلاستیکي ملچونه د عادي پلاستیک بدیل دي. دا ملچونه له کارولو وروسته په خاوره کې ورو ورو تجزیه کېږي او له منځه ځي. په لنډ وخت کې د نبات وده او حاصل د عادي پلاستیک په څېر ښه ساتي، خو د اوږدې مودې اغېزې یې لا تر اوسه بشپړډول نه دي معلومې او نورو څېړنو ته اړتیا لري (Sintim *et al.*, 2021; Menossi *et al.*, 2021).



۳ـ شکل: تجزیه کېدونکی پلاستيکي ملچ (Shuresh Ghimire, 2022) .

**ژوندی ملچ (Living mulches / cover crops):** ژوندي ملچونه هغه پوښښي بوټي دي چې د اصلي فصل تر څنګ کرل کېږي. دا بوټي د خاورې ساتنه کوي، د واښو په کمولو کې مرسته کوي، او ځينې يې په ځانګړي ډول ليګومي نباتات خاورې ته نايتروجن هم برابروي. همدارنګه، د آفتونو په کمولو کې هم ګټور تماميږي. خو د ژوندي ملچونو اغېز د کرلو په مناسب وخت، د بوټي په ښه انتخاب او دا چې کله او څنګه ملچ له منځه يوړل شي پورې تړلی دی. د ژونديو ملچونو يو مهم خطر دا دی، چې که سمه اداره ونه شي، نو ژوندي ملچونه د اصلي فصل سره د اوبو او نايتروجن لپاره سيالي کوي، چې دا کار د حاصل د کمېدو سبب کېدای شي. له همدې امله، دې طريقې ته متوازن او دقيق مديريت ته اړتيا ده (Fracchiolla *et al.*, 2020; Bhaskar *et al.*, 2021).



۴ـ شکل: ژوندی ملچ (Nandhini, 2020) .

## د ملچ اګرانومیکي اغېزې

### د خاورې په حاصلخېزۍ باندې اغېزې

**د عضوي موادو زیاتوالی:** عضويملچ پوښ کول د خاورې د عضوي موادو د زیاتوالي یو مهم میکانیزم ګڼل کېږي، ځکه چې عضوي ملچونه (لکه بوس، پاڼې او کمپوست) د وخت په تېرېدو سره تجزیه کېږي او د خاورې د عضوي کاربن زېرمې ته وده ورکوي (Huang *et al.*, 2022). سربېره پر دې، عضوي ملچ د خاورې د مایکروبیولوژیکي فعالیت د زیاتوالي له لارې د خاورې کیفیت ښه کوي، ځکه چې د تجزیه کېدونکو موادو شتون د مایکروارګانیزمونو د فعالیت لپاره انرژي او غذایي مواد برابروي(Zhang *et al.* 2024) . په اوږدمهاله توګه، د عضوي ملچ تطبیق د خاورې جوړښت ښه کوي، د اوبو ساتنې ظرفیت لوړوي، او د حاصلخېزۍ د دوام ملاتړ کوي (Liang, 2025). د بوسو ملچ د خاورې د مایکروبیولوژیکي ټولنې جوړښت بدلوي، چې په نتیجه کې د میکروبیال فعالیت او د عضوي کاربن (SOC) مهمې برخې لکه MBC (Microbial Biomass Carbon) او DOC (Dissolved Organic Carbon) یا د حل شوی عضوي کاربن کمیت زیاتېږي. دا مو په ژور ډول ثابته کړې چې ملچ د کاربن او نایتروجن دورانونه ، د مایکرواګانیزمونو د فعالیت له لارې زیاتوي(Liu *et al.*, 2023). سربېره پر دې، ځینې تازه څېړنې ښيي چې د واښو ملچ نه یوازې د خاورې عضوي کاربن زیاتوي، بلکې د اوبو د ساتنې ظرفیت او حاصل هم لوړوي (Pang *et al.*, 2025).

**د غذایي عناصرو ساتنه او دوران:** د ځمکې پوښول د خاورې د غذایي موادو د حرکت (Nutrient dynamics) د ښه کېدو لپاره یو مهم میکانیزم ګڼل کېږي، ځکه چې د ملچ یا پوښ ټوټه کېدو او تنوع د تجزیې په بهیر کې د نایتروجن او نورو غذایي موادو ازادېدو (Release) ته وده ورکوي، او د خاورې میکروبي فعالیت ته مساعد چاپېریال برابروي(Gaitanis *et al.*, 2023 ). څېړنې ښيي چې ملچ، په ځانګړي ډول عضوي ملچونه، د نباتاتو د پاتې موادو د C/N نسبت له امله د غذایي موادو، په ځانګړې ډول د خاورې څخه د نایتروجن د مینځلو اندازه کموي ( Truong and Marschner, 2020). څېړنې ښيي چې عضوي ملچونه، لکه کمپوست او بوس، په خاوره کې ورو ورو خوسا کېږي او غذایي مواد خوشې کوي. دا کار د خاورې حاصلخېزي ښه ساتي او د نبات لپاره د خوړو

تلپاتې سرچینه برابروي(Kumar *et al.*, 2024). ملچ د خاورې د نایتروجن ضایع کېدو کمولو کې مرسته کوي؛ یوه کرنیزه څېړنه ښيي چې ملچ د نایتریټ مینځل نږدې۲۸-۳۹ سلنه کم کړی دی (Wang and Xing, 2016). نوې څېړنې ښيي چې ملچ د عضوي موادو د ورو ورو خوسا کېدو له لارې د خاورې غذایي مواد ساتي او د کرنې د دوام (پایښت) ملاتړ کوي(Demo *et al.*, 2024). عضوي ملچونه معمولاً د نایتروجن او نورو غذایي عناصرو د ساتنې او د هغو د تدریجي خوشې کېدو (Mineralization/Immobilization Balance) له لارې د حاصلخېزۍ په ښه‌والي کې مرسته کوي(El-Beltagi *et al.*, 2022; Dou *et al.*, 2023) .

یو ۱۰ کلنه ساحوي څېړنه ښيي چې سټرا (بوس) ملچ د خاورې د نایتروجن په دوران کې د مایکروبونو مهم جینونه فعالوي او نایتریټ په امونیم په بدلولو اړوند جینونه هم فعاله کوي. دا بدلونونه د نایتریټ د اوبو سره د وتلو احتمال کموي او د نایتروجن محلي ثبات ته وده ورکوي، چې په نتیجه کې یې خاوره د اوږدمهاله کرنې لپاره سالمه پاتې کېږي او حاصل لوړ ساتل کېږي. په بل اړخ کې، **پلاستیکي** ملچونه(Plastic film mulch) لنډمهاله ګټې لري، ځکه چې د خاورې د تودوخې او رطوبت د بدلون له لارې د نایتروجن منرالیزیشن زیاتوي او د $NH4^{+}$، $NO3^{-}$ او N-اندازه لوړولی شي. خو د اوږدمهاله کارونې په صورت کې دوامداره پلاستیکي ملچ ممکن د خاورې د عضوي موادو (SOM) سرچینې کمې کړي او د پلاستکي پاتې شونو(Micro/Macro plastics) له امله چاپېریالي ستونزې رامنځته کړي. په لنډ ډول، بوسو ملچ د خاورې د نایتروجن ساتنې او میکروبي فعالیت د ښه کولو لپاره ګټور دی، په داسې حال کې چې پلاستیکي ملچ یوازې لنډمهاله ګټې لري او د اوږدمهاله استعمال لپاره یې خطرونه شته دي ( Dou *et al.*, 2023; Lee *et al.*, 2019; Steinmetz *et al.*, 2016).

## د رطوبت په ساتنه او اوبو مدیریت کې رول

**د اوبو د تبخیر کمول:** ملچونه د خاورې د سطحې او هوا تر منځ د اوبو بخاراتو تبادله کموي، چې د اوبو د تبخیر سرعت راکموي. دا ځکه کېږي چې ملچ د خاورې سطحه ساتي او د رطوبت او تودوخې شرایط نرموي. څېړنو ښودلې چې دواړه، پلاستیکي او عضوي ملچونه، د خاورې د سطحې تبخیر کموي. د ټول هېواد پهکچې مطالعې کې موندل شوي چې تور پلاستیکي ملچونه

معمولا حاصل زیاتوي، د اوبو کارول مؤثره کوي (WUE) او د خاورې تبخیر کموي. په دې توګه، تولیزه اوبه ورکول یا Evapotranspiration (ET) تل نه زیاتېږي، ځکه پلاستیکي ملچ د تبخیر برخه کموي او نباتات کولی شي اوبه په ښه ډول د (Transpiration) لپاره وکاروي (Prosdocimi *et al.*, 2016; Demo *et al.* 2024).

**د باراني اوبو جذب زیاتول:** ملچونه په ځانګړي ډول عضوي ملچونه لکه بوس، او واښه د باران د څاڅکو ضربه (Raindrop impact) کموي، د خاورې سطحه نرموي او د خاورې د سطحې د تخته کېدو (Surface crusting) مخنیوی کوي، چې دا په نتیجه کې د سطحي بهېدنې (Runoff) کچه راکموي او د اوبو نفوذ (Infiltration) ته اجازه ورکوي چې زیات شي. د نړیوالو ګډو شننو پایلې ښیي چې ملچونه په عمومي ډول د باران اوبه بهېدنه (Runoff) شاوخوا ۴۷٪ او د خاورې له منځه وړنه (Soil loss) شاوخوا ۷٦ ٪ کموي (Fan *et al.*, 2023). ساحوي تجربو ښودلې چې د ملچ ډول، ضخامت، د خاورې جوړښت او د چاپېریال شرایط لکه شیب، باران او خاورې ځانګړتیاوې د اوبو د خاورې نفوذ کچه بدلولی شي. ځینې نرم او لږ ضخامت لرونکي ملچونه لکه ورځپاڼو کاغذونه یا ګراس ملچونه د اوبو نفوذ زیاتوي. یعنې اوبه په اسانه خاورې ته ننوزي. په مقابل کې، کلک او لوی ذره لرونکي ملچونه لکه د لرګیو وړې ټوټې په لنډ مهال کې د اوبو نفوذ کموي، ځکه دا مواد اوبه لومړی جذبوي او بیا ورو ورو خاورې ته ورکوي (Adekalu *et al.*, 2007). څېړنې ښیي چې د ملچ اغېزمنتیا لپاره مهمه ده چې د هغه مقدار یا ضخامت د ځمکې د حالت (لکه میلان، د باران شدت او د خاورې ډول) سره سم وکارول شي. په ډېرو پېښو کې، منځنی ضخامت لرونکی عضوي ملچ (نه ډېر نری او نه ډېر غټ) د اوبو نفوذ زیاتوي او د بهېدونکو اوبو (Runoff) کمولو لپاره غوره پایلې ورکوي (Prosdocimi *et al.*, 2016).

## د تودوخې او کوچني اقلیم اغېزې

**د خاورې د تودوخې تنظیم:** ملچ د خاورې د تودوخې په تنظیم کې مهم رول لري، ځکه چې د خاورې سطحه د لمر د مستقیمو وړانګو او د شپې د د تودوخې د ناڅاپي بدلونونو څخه ساتي (Fan *et al.*, 2023). د څېړنو پایلې ښیي چې عضوي ملچ لکه بوس یا پروړه د خاورې تودوخه د کرنیزو فصلونو د اړتیا سره برابره ساتي، په ځانګړې توګه په تودو او وچو سیمو کې، چې دا د نبات د ریښو

وده او د خاورې فزیکي شرایط ښه کوي (Liu *et al.*, 2023). سربېره پر دې، د ملچ مختلف ډولونه د موسمي شرایطو له مخې توپیر لري؛ د مثال په توګه، تور پلاستیکي ملچ په پسرلي کې د خاورې ګرمېدو ته وده ورکوي، خو په دوبي کې د حرارت د زیاتوالي سبب کېدای شي( Wang *et al.*, 2016).

**د کښت د ودې لپاره مناسب شرایط:** د کوچني اقلیم بدلون چې د ملچ له لارې منځ ته راځي، د نبات د ودې لپاره یو مناسب چاپېریال برابروي، ځکه چې ملچ د رطوبت او تودوخې توازن ساتي، چې په پایله کې د ضیایي ترکیبکچه او د نبات فزیالوژیکي فعالیتونه لوړوي(Pang *et al.*, 2025). سربېره پر دې، ملچ د نبات د ریښو شاوخوا د اوبو او تودوخې حالت ثابت ساتي. دا کار د نبات فشار کموي او د حاصل په زیاتېدو کې مرسته کوي(Demo and Bogale, 2024).

**د نبات په وده او حاصل اغېز**

**د حاصلاتو زیاتوالی:** ملچ کول د کرنیزو فصلونو د حاصل په زیاتوالي کې مهم رول لري، ځکه چې دا د رطوبت ساتنه، د خاورې د تودوخې تنظیم او د غذایي عناصرو ښه دوران تضمینوي(Demo and Bogale, 2024). د یوې نړیوالې څېړنې پایلې ښیي چې د ملچ کارول په منځني ډول د نبات د حاصل په کچه کې د پام وړ زیاتوالی رامنځته کوي، په ځانګړې توګه د وچکالۍ او د اوبو محدودیت لرونکو سیمو کې(Fan *et al.*, 2023). په نورو څېړنو کې هم ښودل شوې چې د بوسو ملچ د جوارو او غنمو په شان فصلونو کې نه یوازې حاصل لوړوي، بلکې د نایتروجن او فاسفورس کارونې مؤثریت هم زیاتوي(Liu *et al.*, 2023) .

**د نبات د ودې کیفیت:** ملچ کول د نبات د فیزیولوژیکي ځانګړتیاوو ښه کولو له لارې د کیفیت لوړوالي لامل ګرځي. د مثال په توګه، د خاورې د رطوبت او حرارت ثبات د فوتوسنتز کچه زیاتوي او د نبات د بیولوژیکي فعالیت دوام تضمینوي(Pang, 2025)، سربېره پر دې، ملچ د ریښو شاوخوا د اکسیجن او غذایي موادو توازن ساتي. دا کار د ریښو ښه وده کوي، د میوو کیفیت ښه کوي او د حاصل ارزښت لوړوي(Wang *et al.*, 2016).

## د ناروغیو او آفتونو کنټرول

**د ملچ رول په ناروغیو کې:** ملچ کول د نباتي ناروغیو په مدیریت کې د خاورې کوچني اقلیم د بدلون له لارې مهم رول لري. د عضوي ملچ استعمال د خاورې رطوبت او حرارت توازن ته وده ورکوي، چې دا د ځینو فنګسي ناروغیو لکه( Rhizoctonia اوFusarium) د پراختیا مخه نیسي (Liu *et al.*, 2023).سربېره پر دې، څېړنو ښودلې چې ملچ د خاورې د میکروبونو فعالیت زیاتوي. د ګټورو میکروبونو په ډېرېدو سره د نبات د ناروغیو فشار هم کمېږي(Pang, 2025).

**د آفتونو د زیاتېدو یا کمېدو اغېزې:** ملچ کول د آفتونو پر حرکت دوه‌ګوني اغېزې لري. د یوې خوا، ملچ د خاورې په سطحه د آفتونو لپاره د فزیکي خنډ په توګه عمل کوي او د ځینو واښو او حشراتي آفتونو زیاتوالی کموي(Demo and Bogale, 2024) . خو له بلې خوا، ځینې ډولونه لکه پلاستیکي ملچ کېدای شي د ځینو حشراتو لپاره د مناسبو شرایطو سبب شي، چې په ځینو مواردو کې د آفتونو د زیاتوالي لامل ګرځي (Wang *et al.*, 2016). په ټوله کې، د ملچ اغېز پر آفتونو او ناروغیو د استعمال شوي موادو ډول، د چاپېریال شرایط او د کرنیز سیستم له ځانګړتیاوو سره تړاو لري(Fan *et al.*, 2023) .

## ملچ او پایداره کرنه

**د ملچ رول په دوامدارې کرنه کې:** ملچ کول د پایدارې کرنې یوه مهمه برخه ده، ځکه دا د خاورې رطوبت ساتي، د خاورې تودوخه تعدیلوي، د اوبو مصرف کموي، او د حاصلخېزۍ دوام تضمینوي. مطالعات ښیي چې عضوي او د خاورې تجزیه کېدونکي (Biodegradable) ملچونه د خاورې د جوړښت ساتنې او د غذایي عناصرو د دوراني پروسو په ښه کولو کې مثبت رول لري(Iqbal *et al.*, 2020).

**د چاپېریال ساتنې اړخونه:** نویو څېړنو چې د یو محصول د جوړېدو نه تر له منځه تلو پورې ټول پړاوونه ارزوي، ښودلې چې په خاوره کې خوسا کېدونکي پلاستیکي ملچونه د عادي پلاستیکي ملچونو په پرتله چاپېریال ته لږ زیان رسوي. دا ډول ملچونه د ځمکې د تودوخې د زیاتېدو اغېز کموي او د داسې انرژۍ کارول هم راکموي چې بیا نه نوي کېږي. په ځینو څېړنو کې موندل شوي چې دا کموالی ان تر شاوخوا ۶۰ سلنه او ۸۰ سلنه پورې رسېدلی دی(Dada, 2025).

**د اقلیم بدلون سره تړلې گټې:** د جودرو (Rye) ملچ د خاورې شاوخوا کوچنی اقلیم ساتي. دا د خاورې تودوخه په توازن کې ساتي او د نبات د ودې لپاره مناسبه تودوخه برابروي. سربېره پر دې، دا کار د شنو خونو گازونو اخراج نه زیاتوي. له همدې امله، د جودرو ملچ د اقلیم بدلون پر وړاندې د مقابلې لپاره یوه گټوره لاره بلل کېږي (Dix, 2024).

**ننگونې او محدودیتونه**

**د لگښت ستونزې:** د ملچ کارونه د کرنیزو سیستمونو لپاره اقتصادي گټې لري، خو د موادو د برابرولو او نصب کولو لوړ لگښت د کوچنیو بزگرانو لپاره یو جدي خنډ دی. پلاستیکي ملچونه په ځانگړې ډول گران تمامېږي، ځکه د تولید، ټرانسپورټ او د کارگرانو د مزد له امله د تولیدي لگښت کچه لوړه ساتي (Steinmetz *et al.*, 2016). سربېره پر دې، د عضوي ملچونو لکه کمپوست، واښه او بوسو تطبیق په لویه کچه د محلي منابعو شتون (د موادو راټولول او انتقال) او د اضافي کار ځواک اړتیا پورې تړلی دی، چې په ځانگړې ډول د کوچنیو او منځنیو کروندو لپاره د اقتصادي پایداري لپاره ننگونې پیداکوي (Jacobse, 2010; Nguyen *et al.*, 2013) .

**د پلاستیکي ملچ چاپېریالي اغېزې:** پلاستیکي ملچونه که څه هم د خاورې د رطوبت او حاصلخېزۍ په ساتنه کې مهم رول لري، خو د نه تجزیه کېدونکو موادو له امله د چاپېریال لپاره د اوږدمهاله ککړتیا یو سرچینه گرځي. د د پلاستیکونو کوچنی ټوټې د خاورې فزیکي جوړښت بدلوي او د خاورې ایکوسیستم ته جدي زیان رسوي (Huang *et al.*, 2020). پلاستیکي ملچونه که څه هم د خاورې د رطوبت او حاصلخېزۍ په ساتلو کې گټور دي، خو د دوی پاتېشوني د وخت په تېرېدو سره د خاورې په جوړښت بد اغېز کولای شي. د پلاستیکونو پاتې شوني د خاورې فزیکي ځانگړنې لکه د اوبه نفوذ او بیولوژیکي ځانگړنې لکه د خاورې کوچنیو ژوندیو موجوداتو فعالیتونهگډوډوي. د دې له امله، د پلاستیکي ملچ اوږدمهاله کارونه د چاپېریال د ککړتیا او اندېښنو لامل گرځي (Steinmetz *et al.*, 2016). د دې تر څنگ، په هغو سیمو کې چې پلاستیکي ملچ په کې په پراخه توگه کارول کېږي، د پاتې شونو مدیریت یوه لویه ستونزه ده، ځکه چې د خاورې له سطحې د پلاستیک لرې کول وخت، مصرف او تخنیکي اسانتیاوې غواړي. دا حالت د سپینې ککړتیا (White pollution) په نوم هم یادیږي (Liu *et al.*, 2014).

**د مديريت تخنيکي ننګونې:** ملچ کارول د بزګرانو لپاره ځينې نوې تخنيکي ستونزې هم پيدا کوي. د بېلګې په توګه، د ملچ ايښودل او بيا لرې کول زيات کار او وخت غواړي، چې د کوچنيو کروندګرو لپاره اسانه نه وي. دا ستونزه په ځانګړي ډول د پلاستيکي ملچ د راټولولو او لرې کولو پر مهال ډېره ښکاره کېږي (Kasirajan and Ngouajio, 2012). همدارنګه، د کوچنيو ذره بيني موجوداتو په واسطه تجزيه کيدونکي ملچونو کارونه که څه هم د چاپېريالي اغېزو د کمولو يوه حل لاره ده، خو د هغوی د تجزيې سرعت او کيفيت د اقليم او د خاورې د شرايطو پورې تړلي دي. په ځينو مواردو کې دا مواد د کرنيزو فصلونو د دورې په اوږدو کې بشپړ نه تجزيه کېږي او مديريت يې ستونزمن پاتې کېږي. څېړنې ښيي چې **د** د تجزيه کيدونکو ملچونو لګښتونه معمولاً د دوديزو پلاستيکي ملچونو په پرتله دوه څخه تر څلور برابره زيات وي، چې د کروندګرو لپاره لوی اقتصادي خنډ ګڼل کېږي (Sintim and Flury, 2017).

## موندنه او مناقشه

د دې څېړنې موندنه ښيي چې د ملچ کارول په کرنې سيستمونو کې ډېر مثبت اغېزې لري، په ځانګړي توګه د خاورې حاصلخېزی، رطوبت ساتنې، د نبات ودې او د پايدار توليد په برخه کې. عضوي ملچونه لکه بوس، کمپوست او نباتي پاتې شوني د وخت په تېرېدو سره د خاورې عضوي مواد زياتوي، د کوچنيو ژونديو موجوداتو فعاليت پياوړی کوي او د غذايي موادو دوران ښه کوي.

د بوسو ملچ د خاورې عضوي کاربن، د مايکروبونو د بايومس کاربن، او د حل شوي عضوي کاربن کچه لوړوي او د خاورې غذايي مواد او کيفيت ښه کوي چېدا کار د خاورې اوږدمهاله حاصلخېزی او د حاصلاتو د زياتوالي لپاره ډېر مهم دی. دا موندنې د(Dou *et al.*, 2023) د څېړنې له پايلو سره همغږې دي، هغوی څرګنده کړې چې د بوسو ملچ د نايتروجن دوران ته وده ورکوي،د امونيم جوړولو اړوند جينونه فعالوي او د نايتريټ منځنې کچه راکموي، چې دا د پايدار توليد لپاره ډېر ارزښت لري .

د اوبو مديريت په اړه، د دې څېړنې په موندنه کې څرګنديږي چې ملچ د اوبو د تبخير کچه راکموي، د اوبو بهېدنې مخنيوی کوي او(Infiltration) ته وده ورکوي، په ځانګړې توګه عضوي ملچ د باراني اوبو د جذب لپاره تر ټولو اغېزمن ثابت شوی دی، چې ورته موضوع ( El-Beltagi *et*

*al.*, 2022) په څېړنه کې هم یادونه شوې ده، چې ملچ د خاورې د بخاراتو کچه کموي او د اوبو کارونې مؤثریت لوړوي. د خاورې د تودوخې په تنظیم کې، ملچ د موسمي تودوخې د بې ثباتۍ مخه نیسي او د ریښو په شاوخوا کې مناسب کوچنی اقلیم رامنځته کوي. بوسو ملچ د خاورې د حرارت د کمښت (Cooling) لامل کېږي، خو د تور پلاستیکي ملچ کارونه د لومړنیو فصلونو لپاره د خاورې گرمښت لوړوي او د کرنیزو عملیاتو ملاتړ کوي. دا موندنه د (Lamont, 2005) څېړنې سره همغږې ده، چې ښيي پلاستیکي ملچ په پسرلي کې د خاورې د تودوخې د زیاتوالي لپاره ډېر گټور دی. خو په دوبي کې دا کار د نباتاتو لپاره حرارتي فشار رامنځته کولای شي، یعنې نباتات د ډېرې گرمي له امله ستړي کېږي او د ودې او حاصل په برخه کې ستونزې رامنځته کېږي.

د نبات د حاصل په برخه کې، د دې مقالې تجربوي موندنه کې لیدل کېږي، چې عضوي ملچ د حاصل د زیاتوالي تر ټولو غوره انتخاب دی، ځکه نه یوازې تولید لوړوي بلکه د (Nutrient Use Efficiency)، لکه د نایتروجن او فاسفورس جذب او استعمال هم ښه کوي، چې ( Liu *et al.*, 2023) په خپله څېړنه کې هم ورځخه یادونه کړې ده، چې د بوسو ملچ د کوچنیو ژوندیو موجوداتو فعالیت د زیاتوالي له لارې د نبات ریښو وده، حاصل او کیفیت لوړوي. پلاستیکي ملچ په لنډه موده کې حاصل زیاتوي، خو که د اوږدې مودې لپاره وکارول شي، نو په خاوره کې د پلاستیک واړه پاتې شوني (مایکروپلاستیک) پرېږدي. څېړنو ښودلې چې دا واړه پلاستیکي ذرې د خاورې جوړښت ته زیان رسوي او د چاپېریال لپاره هم ستونزې جوړوي. دا موضوع د( Huang *et al.*, 2020) په څېړنه کې هم روښانه شوې ده. په خلاصه توگه ویلای شم چې عضوي ملچ د خاورې د روغتیا، ایکوسیستم د پایدارې، د حاصل د دوامداره لوړوالي او د اقلیمي بدلون د اغېزو کمولو لپاره د ټولو ملچونو په منځ کې تر ټولو مناسب انتخاب دی، په داسې حال کې چې پلاستیکي ملچ یوازې لنډمهاله اگرانومیکې گټې لري.

## پایله

د څېړنې پایلې ښيي چې د ملچ کارونه د کرنیزو سیستمونو د اگرانومیکي، چاپېریالي او اقتصادي پایښت لپاره یو مهم تخنیکي او بیولوژیکي مدیریت گڼل کېږي. عضوي ملچونه (لکه بوس، کمپوست او نباتي پاتې شوني) د خاورې د عضوي کاربن زېرمې زیاتوي، د کوچنیو موجوداتو د

فعالیتونو له لارې د غذایي عناصرو دوران ته وده ورکوي او د خاورې حاصلخېزي، لندبل ساتنه او د نبات د حاصل لوړتیا تضمینوي. د عضوي ملچونو پایلې څرګندوي چې دا د خاورې جوړښت، د اوبو نفوذ، او د رېښو زون کې د تودوخې او لندبل د ثبات له لارې د کرنیزو محصولاتو د کیفیت او کمیت په لوړوالي کې مستقیمه ونډه لري. پلاستیکي ملچ که څه هم په لنډ مهال کې د لندبل ساتنې، د خاورې د تودوخې د زیاتوالي او د حاصل د مؤقتي لوړوالي لپاره موثر واقع کېږي، خو د اوږدمهاله کارونې پر مهال د پلاستیک واړه پاتې شوني، د خاورې د فزیکي او بیولوژیکي ځانګړتیاوو ګډوډۍ او د چاپېریال د ککړتیا له امله د پایدارې کرنې لپاره مناسب نه ګڼل کېږي. د ملچ کارونه کې د موادو د برابرول او نصب کول لوړ لګښت غواړي چې د کوچنیو بزګرانو لپاره یو جدي خنډ دی. پلاستیکي ملچونه په ځانګړي ډول ګران تمامېږي، ځکه د تولید، ټرانسپورټ او د کارګرانو د مزد له امله د تولیدي لګښت کچه لوړه ساتي او همدارنګه نه تجزیه کېدونکي پلاستیکونه د چاپیریال د ککړتیا لام هم ګرځي. په ټوله کې، ویلای شو چې عضوي ملچ د خاورې د روغتیا، اکولوژیکي پایداري، د حاصل د دوامداره لوړوالي او د اقلیمي بدلون د اغېزو د کمولو لپاره تر ټولو پایدار او مناسب انتخاب دی، په داسې حال کې چې پلاستیکي ملچ یوازې لنډمهاله اګرانومیکې ګټې وړاندې لري او د اوږدمهاله کارونې لپاره مناسب بدیل نه ده.

## وړاندیزونه

دا چې ملچ د خاورې د سطحې پوښ ګڼل کېږي او د خاورې لندبل ساتنې، خاورې تودوخې تنظیم، اوبو د تبخیر کمولو او غذایي عناصرو دوران د ښه کولو مسول ګڼل کېږي نو بزګران او مسلکي اشخاص دې د لاندې وړاندېزونه په نظر کې ونیسي تر څو وکولای شي د خپلو کرنیزو پیداوارو څخه مثبته پایله ترلاسه کړي.

١. د عضوي ملچونو کارونه باید په لومړیتوب کې ونیول شي، ځکه چې د خاورې په اوږدمهاله حاصلخېزۍ کې ډېر مثبت اغېز لري.

٢. د پلاستیکي ملچونو پر ځای د خاورې تجزیه کېدونکو ملچونو د استعمال هڅونه ضروري ده، څو د چاپېریال د ککړتیا ستونزې راکمې شي.

۳. د ژوندیو ملچونو اداره باید په دقیق ډول ترسره شي، څو د اصلي فصل سره د سرچینو پر سر د سیالۍ ستونزې رامنځته نه کړي.

٤. د ملچ ډول او ضخامت باید د ځایي شرایطو (لکه د خاورې جوړښت، د باران شدت او د فصل ډول) سره سم تنظیم شي.

٥. د کروندګرو د پوهاوي لوړولو لپاره باید روزنیز پروګرامونه جوړ شي تر څو د ملچ د اغېزو، ډولونو او سم مدیریت په اړه عملي پوهه ترلاسه کړي.

## اخځلیکونه


Adekalu, K. O., Olorunfemi, I. A., & Osunbitan, J. A. (2007). Grass mulching effect on infiltration, surface runoff and soil loss of three agricultural soils in Nigeria. *Bioresource technology*, *98*(4), 912-917.

Amami, R., Ibrahimi, K., Tarchoun, N., Saadaoui, W., Boughattas, N. E. H., Ghazouani, H., ... & Milham, P. (2025). Soil quality and eggplant productivity in response to different mulching strategies under conservation tillage in organic greenhouse production. *Frontiers in Agronomy*, *7*, 1603762.

Bhaskar, V., Westbrook, A. S., Bellinder, R. R., & DiTommaso, A. (2021). Integrated management of living mulches for weed control: A review. *Weed Technology*, *35*(5), 856-868.

Dada, O. I., Liyanage, T. U. H., Chi, T., Yu, L., DeVetter, L. W., & Chen, S. (2025). Towards sustainable agroecosystems: A life cycle assessment review of soil-biodegradable and traditional plastic mulch films. *Environmental Science and Ecotechnology*, 100541.

Demo, A. H., & Asefa Bogale, G. (2024). Enhancing crop yield and conserving soil moisture through mulching practices in dryland agriculture. *Frontiers in Agronomy*, *6*, 1361697.

Dix, B. A., Hauschild, M. E., Niether, W., Wolf, B., & Gattinger, A. (2024). Regulating soil microclimate and greenhouse gas emissions with rye mulch in cabbage cultivation. *Agriculture, Ecosystems & Environment, 367,* 108951.

Dou, Y., Wen, M., Yang, C., Zhao, F., Ren, C., Zhang, N., & Wang, J. (2023). Effects of straw and plastic film mulching on microbial functional genes involved in soil nitrogen cycling. *Frontiers in Microbiology, 14,* 1205088.

El-Beltagi, H. S., Basit, A., Mohamed, H. I., Ali, I., Ullah, S., Kamel, E. A., & Ghazzawy, H. S. (2022). Mulching as a sustainable water and soil saving practice in agriculture: A review. *Agronomy, 12*(8), 1881.

Fan, D., Jia, G., Wang, Y., & Yu, X. (2023). The effectiveness of mulching practices on water erosion control: A global meta-analysis. *Geoderma, 438,* 116643.

Fracchiolla, M., Renna, M., D’Imperio, M., Lasorella, C., Santamaria, P., & Cazzato, E. (2020). Living mulch and organic fertilization to improve weed management, yield and quality of broccoli raab in organic farming. *Plants, 9*(2), 177.

Gaitanis, D., Lukac, M., & Tibbett, M. (2023). Fragment size and diversity of mulches affect their decomposition, nutrient dynamics, and mycorrhizal root colonisation. *Scientific Reports, 13*(1), 9383.

Huang, C., Cheng, C., Wang, Z., Zhao, X., Yang, Y., Hu, L., & Zhang, H. (2022). Straw strip mulching increased soil organic carbon components of a wheat field in dry farming regions of the Loess Plateau. *Water, 14*(17), 2645.

Huang, Y., Liu, Q., Jia, W., Yan, C., & Wang, J. (2020). Agricultural plastic mulching as a source of microplastics in the terrestrial environment. *EnvironmentalPollution, 260,* 114096.

https://publications.extension.uconn.edu/2022/06/03/soil-biodegradable-plastic-mulch-is-it-right-for-you/

Iqbal, R., Raza, M. A. S., Valipour, M., Saleem, M. F., Zaheer, M. S., Ahmad, S., Toleikiene, M., Nisi, R., Anwar, M.R., & Nazarat, S. (2020). Potential agricultural and environmental benefits of mulches—a review. *Bulletin of the National Research Centre, 44*(75), 1–16.

Jacobsen, K. L., Escalante, C. L., & Jordan, C. F. (2010). Economic analysis of experimental organic agricultural systems on a highly eroded soil of the Georgia Piedmont, USA. *Renewable Agriculture and Food Systems*, *25*(4), 296-308.

Kader, M. A., Singha, A., Begum, M. A., Jewel, A., Khan, F. H., & Khan, N. I. (2019). Mulching as water-saving technique in dryland agriculture. *Bulletin of the National Research Centre*, *43*(1), 1-6.

Kasirajan, S., & Ngouajio, M. (2012). Polyethylene and biodegradable mulches for agricultural applications: a review. *Agronomy for sustainable development*, *32*(2), 501-529.

Kumar, S. S., Wani, O. A., Prasad, B., Banuve, A., Mua, P., Sharma, A. C., & Mattar, M. A. (2024). Effects of Mulching on Soil Properties and Yam Production in Tropical Region. *Sustainability*, *16*(17), 7787.

Lamont Jr, W. J. (2005). Plastics: Modifying the microclimate for the production of vegetable crops. *Horttechnology.*, *15*(3), 477–481.

Liang, M., Chen, L., Chen, G., Zhao, Y., Liu, G., Sun, E., & Qu, P. (2025). Protective effects of straw mulching on soil health and function: a review. *Environmental Pollutants and Bioavailability*, *37*(1), 2533900.

Liu, B., Dai, Y., Cheng, X., He, X., Bei, Q., Wang, Y., & Wang, L. (2023). Straw mulch improves soil carbon and nitrogen cycle by

mediating microbial community structure and function in the maize field. *Frontiers in Microbiology*, *14*, 1217966.

Liu, E. K., He, W. Q., & Yan, C. R. (2014). ‘White revolution ‘to ‘white pollution’—agricultural plastic film mulch in China. *Environmental Research Letters*, *9*(9), 091001.

Menossi, M., Cisneros, M., Alvarez, V. A., & Casalongué, C. (2021). Current and emerging biodegradable mulch films based on polysaccharide bio-composites. A review. *Agronomy for Sustainable Development*, *41*(4), 53.

Nandhini, U., & Somasundaram, E. (2020). Intercropping—a substantial component in sustainable organic agriculture. *Ind. J. Pure App. Biosci*, *8*(2), 133-143.

Nguyen, T. T., Fuentes, S., & Marschner, P. (2013). Effect of incorporated or mulched compost on leaf nutrient concentrations and performance of Vitis vinifera cv. Merlot. *Journal of soil science and plant nutrition*, *13*(2), 485-497.

Pang, L., Wu, H., Lu, J., Zheng, H., Wang, X., Mumtaz, M. Z., & Zhou, Y. (2025). Microbially Mediated Carbon Regulation by Straw Mulching in Rainfed Maize Rhizosphere. *Agronomy*, *15*(6), 1412.

Prosdocimi, M., Tarolli, P., & Cerdà, A. (2016). Mulching practices for reducing soil water erosion: Areview. *Earth-Science Reviews, 161,* 191–203.

Qu, B., Liu, Y., Sun, X., Li, S., Wang, X., Xiong, K. ... & Zhang, H. (2019). Effect of various mulches on soil physico—Chemical properties and tree growth (Sophora japonica) in urban tree pits. *PLoS One*, *14*(2), e0210777.

Sintim, H. Y., & Flury, M. (2017). Is biodegradable plastic mulch the solution to agriculture’s plastic problem?.

Sintim, H. Y., Bandopadhyay, S., English, M. E., Bary, A., y González, J. E. L., DeBruyn, J. M., ... & Flury, M. (2021). Four years of continuous use of soil-biodegradable plastic mulch: impact on soil and groundwater quality. *Geoderma*, *381*, 114665.

Song, W., Han, F., Bao, Z., Chai, Y., Wang, L., Huang, C., & Chang, L. (2024). Mulching practices improve soil moisture and enzyme activity in drylands, increasing potato yield. *Agronomy*, *14*(5), 1077.

Steinmetz, Z., Wollmann, C., Schaefer, M., Buchmann, C., David, J., Tröger, J., & Schaumann, G. E. (2016). Plastic mulching in agriculture. Trading short-term agronomic benefits for long-term soil degradation?. *Science of the total environment*, *550*, 690-705.https://tractorkarvan.com/blog/types-of-mulch-used-in-agriculture

Truong, T. H. H., & Marschner, P. (2020). Plant residues differing in C/N ratio in mulch and soil—the effect of the mulch on nutrient availability and microbial biomass is more pronounced with higher leaching amount. *Soil Ecology Letters*, *2*(4), 317-326.

Van Dung, T., et al. (2022). Impact of cover crop and mulching on soil physical properties and crop performance. *[Article]*. *Journal/PMC article* (see: PMCID available)

Verma, S., & Pradhan, S. S. (2024). Effect of mulches on crop, soil and water productivity: A review. *Agricultural Reviews*, *45*(2), 335-339.

Wang, X., & Xing, Y. (2016). Effects of mulching and nitrogen on soil nitrate-N distribution, leaching and nitrogen use efficiency of maize (Zea mays L.). *PLoS One*, *11*(8), e0161612.

Zhang, P., Zhang, Z., Xiao, M., Chao, J., Dai, Y., Liu, G., & Senge, M. (2023). Effects of organic mulching on moisture and temperature of soil in greenhouse production of tomato under unheated

greenhouse cultivation in the cold zone of China. *Food Science & Nutrition*, *11*(8), 4829-4842.

Zhang, X., Ren, X., & Cai, L. (2024). Effects of different straw incorporation amounts on soil organic carbon, microbial biomass, and enzyme activities in Dry-Crop Farmland. *Sustainability*, *16*(23), 10588.

# Agronomic Effects of Mulching on Agricultural Systems: A Comprehensive Review

Samiullah Ashna

Department of Agronomy, Faculty of Agriculture, Bamyan University

samiullah.ashna@yahoo.com

## Abstract

Mulching is an important agronomic and environmental management practice in sustainable agriculture and production systems. It not only helps improve soil fertility, conserve moisture, and strengthen plant growth, but also plays a valuable role in reducing the impacts of climate change and promoting the efficient use of natural resources. The main objective of this study was to analyze the agronomic, environmental, and economic effects of using different types of mulch, including organic, inorganic, biodegradable, and living mulches, and to scientifically evaluate the most suitable mulch options for sustainable agriculture. This research is a literature review based on information collected and analyzed from reputable international field and experimental studies. The results show that organic mulch has long-lasting and sustainable effects, such as increasing soil organic carbon, enhancing microbial activity, reducing water loss, and improving crop quality. In contrast, plastic mulch provides only short-term agronomic benefits and leads to environmental pollution and damage to the soil's biological structure. The findings of the study indicate that organic and biodegradable mulches are better choices for Climate-Smart Agriculture and sustainable production systems.

**Keywords:** Agronomic effects; Climate change; Mulch; Sustainable agriculture

# بررسی نقش هلیکوباکتریا در ایجاد تغییرات در وظایف نورمال معده

فرشته ملک‌زاده [1*] و محمدشریف آرین‌مل [2]

دیپارتمنت بیولوژی، پوهنتون تعلیم وتربیهٔ کابل [1]، پوهنتون پکتیا [2]

freshta.malikzada901@gmail.com

## چکیده

معده مهم‌ترین عضو بدن انسان در سیستم هاضمه است که کارکرد نورمال این عضو باعث صحت‌مندی تمام سیستم هاضمه در بدن انسان می‌شود. نوعی باکتری که به نام هلیکو باکترپایلوری شناخته می‌شود (H.Pylori) از حدود دو هزار سال پیش تا کنون در کنار ما حضور دارد و موجودیت این باکتری باعث می‌شود که کارکرد نورمال معده برهم بخورد. بنا براین، تحقیق حاضر به هدف علت عفونت و عامل اچ‌پایلوری به روش کتابخانه‌ای انجام گرفت. نتیجهٔ این تحقیق نشان می‌دهد که هلیکوباکترپایلوری می‌تواند طیف وسیعی از مشکلات« گاستریت مزمن، بیماری زخم معده، کم‌خونی ناشی از کمبود آهن، سرطان معده تا بیماری‌های کبد، سیستم قلبی و عروقی پوست» و بسیاری از سیستم‌های دیگر بدن را ایجاد کند. شیوع این انتان در کشورهای در حال توسعه ۸۰% و در کشورهای توسعه‌یافته ۵۰% گزارش شده‌است. این انتان در اوایل دوران کودکی رخ می‌دهد که می‌تواند به وضعیت نامساعد اقتصادی، اجتماعی، فقر و بهداشت فردی ناکافی اشاره کرده و از آنجایی که‌این باکتری می‌تواند تأثیرات نامطلوب را بر وضعیت صحی و اقتصادی جامعه وارد کند، باید مورد توجه قرار گیرد. انتان هلیکو باکتر پایلوری در افرادی که‌این انتان را تداوی نکرده‌اند، ممکن است سال‌های طولانی باقی بماند. شیوع مبتلایان به هلیکو باکتر پایلوری و گاستریت مزمن فعال در سنین پائین بیشتر است.

**واژه‌های کلیدی:** ارکیتوسون، انتان، باکتریا، پایلوری، هلیکو باکتر.

## مقدمه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمدٍ و علی اله وصحبه اجمعین اما بعد!

بلندرفتن، عفونت، مصاب‌شدن و حتی مرگ‌ومیر ناشی از آلوده‌شدن با باکتریایی هلیکوباکتریا پایلوری در افغانستان یک مسأله مهم بوده، که‌این مسأله یک چالش عمده و بااهمیت در کشور و حتی سطح منطقه است که همواره توجه محققین را به خود جلب داشته است، زیرا آلوده‌شدن با این نوع باکتریا صحت وحیات انسان رادر معرض خطر قرار داده و در نهایت هرگاه شناخته و تداوی نگردد، باعث ایجاد سرطان معده و سرانجام باعث مرگ انسان می‌گردد(خاورین،۱۴۰۰: ۱۶۷ -۱۷۰). (H.Pylori) که معمولاً به آن (Helicobacter Pylori) هلیکوباکترپایلوری (میکروب معده نیز می‌گویند که درسال" ۱۹۹۸" کشت شد و بیماری‌های چون زخم معده، سرطان معده و گاستریت (ورم معده) را افزایش می‌دهد(اکبرزاده، ۱۳۸۵: ۵۶-۵۸). نوعی باکتری که به نام هلیکو باکتر پایلوری شناخته می‌شود (H.Pylori). می‌تواند کارکردهای نورمال معده را تحت تأثیر قرار داده، مختل سازد و باعث می‌شود تا فرد از ناحیۀ معده، درد شدید احساس کرده و در درازمدت باعث به وجودآمدن سرطان معده نزد انسان گردد(بابایی، ۱۳۹۱:۸۸ -۸۹). عفونت هلیکو باکتر پایلوری به شدت با بیماری قلبی عروقی، روده‌ای، آسم، بیماری پارکینسون، میگرن و فیبرسیالژیا ارتباط دارد (فروتن،۱۳۹۳: -۴۷ ۴۵)، هدف از این تحقیق دریافت علت چگونگی اچ‌پایلوری یا هلیکو باکتر پایلوری، دریافت درمان و دریافت علایم آن می‌باشد. قابل یادآوری‌ست که اچ‌پایلوری یا هلیکو باکتر پایلوری یک میکروب بسیار خطرناک است که از آلودگی هوا و غذاهای ناپاک به وجود می‌آید و وظایف عادی معده را تحت تأثیر قرار می‌دهد.

## میتودولوژی

در این مقاله از روش کتابخانه‌ای استفاده صورت گرفته است که از کتاب‌ها و مقالات معتبر علمی برای جمع‌آوری معلومات مؤثق و تحلیل نظریات سایر دانشمندان مرتبط به موضوع این مقاله استفاده صورت گرفته است. تحقیق کنونی درجریان سال ۱۴۰۳ انجام شده‌است. مواد لازم این تحقیق کتاب‌ها، مقالات، آثار علمی دانشمندان و تمام وسایل که در یک تحقیق استفاده می‌شود، را شامل است که جهت تشریح و تحلیل از آن کار گرفته می‌شود. در این تحقیق از علت اچ‌پایلوری، عفونت، عوامل آن و کارهایی‌که در گذشته صورت گرفته را با کارهای تازه مورد بررسی کلی قرارداده و در نهایت توسط نتایج و پیشنهادات تقدیم می‌گردد.

## موضوع اصلی

معده یک اندام عضلاتی می‌باشد که در سمت چپ بخش فوقانی ناحیه شکم قرار گرفته است. معده غذا را از طریق مری دریافت می‌کند. کار کرد اصلی معده؛ تجزیه و هضم غذا به منظور استخراج مواد مغذی لازم از آن چیزی‌است که خورده می‌شود(آرین مل، ۱۳۹۶:۱ -۲). برای انجام این پروسه لازم است که معده غده گوارشی و روده‌ها، آنزایم‌های مختلف را از جمله «پپسین و اسید» تولید کنند. این اسیدها و آنزایم‌ها باید غذا را تغییر داده و آن را به شکل نیمه‌مایع در بیاورند. در مرحله بعدی نشایسته، چربی و پروتئین باید به واحدهای کیمیایی کوچکتری تجزیه شوند که امکان جذب به جریان خون از طریق دیواره روده را داشته باشد. «کارد یاک» اولین قسمت معده است و جایی است که محتوای غذائی از طریق آن به‌واسطهٔ مری به معده می‌رسند. اسیدها و آنزایم‌هایی که به‌عنوان شیرهٔ معده شناخته می‌شوند در کاردیا، تولید می‌شوند. قعر معده غذای هضم‌نشده را ذخیره کرده و گازهای آزادشده از هضم شیمیائی غذا را در خود نگه می‌دارد(نسیمی، ۱۳۹۱: ۱۰۲). تنهٔ معده یا (کور پوس) بزرگ‌ترین قسمت از بخش‌های چهار گانه است که معده را تشکیل می‌دهند. و این قسمت جایی است که بزرگ‌ترین بخش پروسه هضم ناقص در آن رخ می‌دهد. پایلور به اثنی‌عشر یا ابتدای روده کوچک متصل می‌شود و محتوای معده از طریق کانال پایلور وارد روده کوچک می‌شوند (خاورین، ۱۳۹۶: ۱۷۷). تحقیق کنونی نشان می‌دهد. که روش‌های متعددی جهت تشخیص انتان هلیکوباکترپایلوری موجود است که به دو دستهٔ عمده (روش‌های تهاجمی

اندوسکپی وبیوپسی از مخاط معده) و (بررسی نمونه پس از رنگ‌آمیزی اختصاصی و تیزکشت باکتری در نمونه اخذ شده، روش PCR و روش تست سریع یوریاز و غیرتهاجمی، سیرولوژی تست تنفسی) (انور،۱۳۹۰:۲۰۷ -۲۰۸). استفاده از روش‌های غیرتهاجمی برای اطفال و والدین آنها نیز راحت‌تر و قابل قبول‌تر است. روش‌های تشخیص غیرتهاجمی انتان هلیکوباکترپایلوری بسیار متعدد می‌باشد (دانش،۱۳۹۴:۱٦ -۱۵).

بنابراین اغلب زخم‌های ناشی از میکروب هلیکوباکتری پایلوری پس از چند هفته تداوی برطرف می‌شود. در صورت که دچار زخم معده(از عوارض ابتلاء به میکروب هلیکوباکتر معده) هستید، از خوردن دواهای ضد التهابی غیراستروئیدی برای تسکین درد، خودداری کنید، زیرا این دواها به غشای معده آسیب وارد می‌کنند. در صورتی که به دوای مسکن نیاز دارید، از داکتر خود بخواهید تا مسکن مناسب را برای شما تجویز کند. تداوی میکروب معده معمولاً آسان است و مشکلی را به وجود نمی‌آورد؛ اما در صورت بی‌توجهی به علائم آن، ممکن است مبتلا به زخم معده، ویا روده شوید(آریاپور، ۱۳۹۸:۱۵٦ -۱۵۷). تحقیق کنونی نشان می‌دهد. که روش‌های متعددی جهت تشخیص انتان هلیکوباکترپایلوری موجود است که به دو دستهٔ عمده (روش‌های تهاجمی اندوسکپی وبیوپسی از مخاط معده) و (بررسی نمونه پس از رنگ‌آمیزی اختصاصی و تیزکشت باکتری در نمونه اخذ شده، روش (PCR) و روش تست سریع یوریاز و غیرتهاجمی، سیرولوژی تست تنفسی) (انور،۱۳۹۰:۲۰۷ -۲۰۸). استفاده از روش‌های غیرتهاجمی برای اطفال و والدین آنها نیز راحت‌تر و قابل قبول‌تر است. روش‌های تشخیص غیرتهاجمی انتان هلیکوباکترپایلوری بسیار متعدد می‌باشد (دانش،۱۳۹۴:۱٦ -۱۵).

بنابراین اغلب زخم‌های ناشی از میکروب هلیکوباکتری پایلوری پس از چند هفته تداوی برطرف می‌شود. در صورت که دچار زخم معده(از عوارض ابتلاء به میکروب هلیکوباکتر معده) هستید، از خوردن دواهای ضد التهابی غیراستروئیدی برای تسکین درد، خودداری کنید، زیرا این دواها به غشای معده آسیب وارد می‌کنند. در صورتی که به دوای مسکن نیاز دارید، از داکتر خود بخواهید تا مسکن مناسب را برای شما تجویز کند. تداوی میکروب معده معمولاً آسان است و مشکلی را به وجود نمی‌آورد؛ اما در صورت بی‌توجهی به علائم آن، ممکن است مبتلا به زخم معده، ویا روده شوید(آریاپور، ۱۳۹۸ :۱۵۷-۱۵٦).

## نتایج

نتایج دست یافته از این تحقیق نشان می‌دهد که از خصوصیات و وظایف اصلی معده؛ ذخیره کردن مواد غذایی و تبدیل آن به کیموس و هم‌چنان هضم غذا می‌باشد. مصاب‌شدن با اچ‌پایلوری سبب می‌شود تا معده، وظایف خود را به شکل نورمال انجام داده نتوانسته و باعث ایجاد بی‌نظمی در تمامی اعضای تشکیل‌دهنده سیستم هاضمه در انسان گردد(رودوس، ۱۳۸۴ :۱۰۵ -۱۰۶).

در نتایج تحقیق هم‌چنان دریافت گردید که هلیکوباکتر، یک باکترگرام منفی بوده، ساختمان فنری‌شکلِ کروی دارد و به صورت فعال متحرک می‌باشد. نوع که دراین جنس خوب شناخته شده هلیکوباکترپایلوری می‌باشد. هلیکوباکترپایلوری با انواع کمپایلوباکتری شباهت دارد و یک باکتری مارپیچی است که دارای چند فلاجیل در یک قطب خود می‌باشد. این باکتریا باداشتن فلاجیل، قدرت حرکت را دارد و در طی مدت سه تا شش روز در حرارت ۲۷ċ در محیط کشت رشد می‌کند. باکتریای مذکور در عمق جدار مخاطی نزدیک به سطح اپیتیلیال یافت می‌شود. این باکتریا قدرت رشد در محیط تیزابی را ندارد. بنا براین از چنین محیط که با تولید آنزایم مخاط معده را تغییر داده، از نفوذ تیزاب به مخاط جلوگیری کرده شرایط زیست را برای خود مساعد می‌کند. این باکتریا باعث التهاب مزمن وعفونت در معده و زخم اثنی‌عشر می‌شود و اغلب، به‌نام باکتری (زخم معده) مشهور است.

به دلیل این‌که یک سیتوتوکسین (سیتوتوکسین واکویل زا) تولید می‌کند، می‌تواند زخم را در جای سیستم گوارشی ایجاد کند. سیتوتوکسین نوع سَمّ پروتیئنی قوی است که بر سایتوپلازم سلول‌ها اثرمی‌گذارد. باکتری‌های هلیکوباکترپایلوری به طور معمول، پناه‌گاه خود را درلایهٔ مخاطی قرار می‌دهد که بافت‌های روی معده و رودهٔ کوچک را پوشانیده و محافظت می‌کند. هنگامی‌که این باکتر به طور موفقانه لایهٔ داخل معده را ملتهب می‌کند، یک زخم شکل می‌گیرد. گفته می‌شود که پایلوری عامل بیش از ۹۰% موارد ابتلاء به زخم اثناعشر است و بالای ۸۰% زخم معده و آلودگی به هلیکوباکتر، به نظر کارشناسان؛ ظاهراً پیچیده است و هنوز هم دقیقاً مشخص نیست که نحوهٔ دقیق انتقال آن از یک فرد به فرد دیگر چگونه است. به نظر می‌رسد در وضعیت زندگی در مکان‌های مزدحم و شرایط آلوده، شایع‌تر است (هال،۱۳۹۱: ۲۰۰-۱۸۰). اچ‌پایلوری هم‌چنان باعث

تولید (Protese) می‌گردد که سبب تغییر مخاط معده گردیده و اسید، قدرت نفوذ از مخاط را پیدا می‌کند. (H.pylori) فعالیت قوی (Urease) داشته که آنزایم نامبرده امونیا را تولید کرده، سبب زیادشدن اسید می‌گردد (فروتن ،۱۳۹۳: ۱۳۴ -۱۳٦).

علل ایجاد کننده عفونت هلیکوباکترپایلوری زیاد نیستند. به طور عمده یک شخص می‌تواند از انتقال فرد به فرد به وسیله تماس مستقیم با بزاق یا مدفوع یک فرد آلوده دریافت کند. بنابراین بوسیدن و ظروف مشترک دو راه اصلی انتقال باکتریا اند. ممکن است اچ‌پایلوری ازطریق مصرف آب و غذای آلوده دریافت گردد. هم‌چنان رعایت‌نکردن بهداشت فردی امکان گسترش عفونت را دارد (نبوی زاده ،۱۳۸۹: ۹۲ -۹۳).

نتایج نشان می‌دهد که بیشتر افراد مبتلا به عفونت هیلوباکترپایلوری علایم کمی دارند و یا اصلاً نشانه‌ای ندارند. بعضی از آن‌ها ممکن است، برخی از علایم مربوط به قسمت‌های خفیف گاستریت را تجربه کنند. گاستریت و قرحه پپتیک با دردهای متواتر در قسمت بالای بطن مشخص می‌شود. همان طورکه گفته‌شد اکثر افراد مبتلا به عفونت هلیکوباکترپایلوری حتی نشانه‌ای ازآن را ندارند و علایم گاه‌به‌گاه هلیکوباکترپایلوری در آن دیده می‌شود. مانند: نفخ، باد، حالت تهوّع، استفراغ، احساس ناراحتی درشکم، آروغ‌زدن مکرر، بی‌اشتهایی، کاهش وزن، رنگ پریدگی، تب و درحالت شدیدتر، علایم مانند: حالت تهوع و استفراغ که بعضی اوقات با خون باشد، مدفوع تیره رنگ، کمبود تعداد گلبول‌های خون، احساس پربودن و خستگی به دلیل خون ریزی دارا می‌باشد (زهرایی ،۱۳۹۰: ۱۱۲ -۱۱۳) .

## مناقشه

نظر به مطالعات دانشمندان محمد آصف معروف نبی زاده، احمدمنیر یزدان‌پرست، ذبیح الله خروش در سال ۱۳۹۹ "محمد آصف معروف نبی زاده" استاد میکروبیولوژی رشتهٔ طب موسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی تاج (نویسندهٔ مسؤل ) "احمد منیر یزدان‌پرست" استاد میکروبیولوژی رشتهٔ طب موسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی تاج. "ذبیح الله خروش" استاد فزیولوژی رشتهٔ طب موسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی رشتهٔ تاج. مطالعات و واقعات هلیکوباکتری پایلوری یا (H. pylori) در نزد اطفال پرورشگاه ولایت بلخ انجام شد، گفتند که درحال حاضر روش‌های لابراتواری

متفاوتی برای تشخیص انتان هلیکوباکترپایلوری موجود بوده و هستولوژی یک روش استندرد طلایی برای تشخیص، شناخته شده است. نتایج تحقیق نشان داده که تست یوریاز تنفسی و ترکیب دو تست(breath test Rapia Urea) الی یوریار تنفسی از موافقت بیشتری با هیستولوژی در مقایسه با تستی انتیجن مدفوعی و سیرولوژی و ترکب دیگرتست‌ها برخوردار است. حساسیت و ویژگی روش سیرولوژی مکرر ۹۵% است و احتمال نتایج مثبت کاذب نیز وجود دارد. در مطالعۀ انجام‌شده در این انستیتوت پاستور ایران حساسیت کیت‌های الیزا ساخت ایران درمقایسه قرار گرفته ومحققین نشان دادند، حساسیت و ویژگی این کیت به ترتیب ۱۰۰% و ۹۶,۶% است. مطالعات انجام شده در پاکستان یک تست سیرولوژی جدید با حساسیت و ویژگی ۸۵و ۹۰ فیصد به ترتیب مورد بررسی قرار گرفت وتنایج تست با هستولوژی و (Rapid Urease test) مقایسه گردید ومولفین پیشنهاد کردند این تست ابزار سریع مفید برای تشخیص سریع عفونت به صورت سرپایی می‌باشد. نتایج تحقیق که در اسپانیا نشان داد که ترتیب تست سریع یوریاز وهیستولوژی از ارزش تشخیص بالای برخوردار است. ونتایج حساسیت و ویژه گی تست یوریاز تنفسی نزدیک به مطالعه انجام شده‌ای "سیامک خالقی" وهمکارانش بوده است.

هم‌چنان تحقیق که توسط سیامک خالقی "درسال ۱۳۹۶ انجام شد گفته شد که درکشور ایران شیوع مختلفی از عفونت هلیکوباکترپایلوری وجود دارد. می‌توان شیوع عفونت هلیکوباکترپایلوری در شهر سمنان را ۴۸% و در سایر شهرها مانند: یزده، اردبیل وشیراز شیوع عفونت هلیکوباکترپایلوری به ترتیب ۴۹,۸ و ۴۷,۵ و ۳۰,۶ برآورده شده است. انسان‌ها جزء مخازن مهم این باکتری هستند .

در انواع کمپایلو باکتریا از شباهت زیاد دارد. اما از نظرفلاجیل مونوتریش است که دارای یک فلاجیل در یک قطب خود می‌باشد که توسط فلاجیل خود حرکت می‌کند. در طی مدت ۳تا ۶ روز در حرارت ۳۷درجه حرارت سانتی گرید در محیط کشت رشد می‌کند.

بنابراین نتایج به دست‌آمده در تحقیق توسط تمام محققین و دانشمندان هم‌خوانی دارد.

## نتیجه گیری

با توجه به تحقیقات انجام‌شده، به‌این نتیجه می‌رسیم که هلیکو باکتر پایلوری دارای شکل چوبک‌های فنری مانند گرام منفی بوده، هلیکو باکتر پایلوری با انواع کمپایلو باکتر شباهت زیاد دارد؛ ولی هلیکو باکتر پایلوری از نظر فلاجیل، لوفوتریش است که دارای چند فلاجیل در یک قطب خود می‌باشد و توسط آن حرکت می‌کنند که در طی مدت ۳ تا ٦ روز در حرارت ċ۳۷ درجه سانتی گرید، در محیط کشت رشد می‌کند و این باکتر باعث التهاب مزمن و عفونت در معده و زخم اثنی‌عشر، می‌شود. این نوع باکتری اغلب به نام باکتری(زخم معده) مشهور است، به‌دلیل این‌که یک سیتوتوکسین (سیتوتو کسین واکوئل زا) تولید می‌کند و زخم را درسیستم گوارشی ایجاد می‌کند. اکثر افراد مبتلا به عفونت هلیکو باکتر پایلوری، حتی نشانه‌ای از آن را ندارند و علایم آنها صفر است، اما در سایر موارد، عفونت در علائم گاه‌به گاه، هلیکو باکترپایلوری دیده می‌شود؛ مانند: نفخ، آروغ‌زدن، حالت تهوع، احساس ناراحتی در شکم، استفراغ و درمورد جدی تر عفونت (H.pylori) علایم مانند: درد شکم، خستگی، سوزش سری دل، تهوع واستفراغ که می‌تواند خون هم همراه داشته باشد، مدفوع تیره یا قیری رنگ، اسهال، بوی بد دهان، کم خونی، کاهش یا از دست‌دادن اشتها، زخم‌های گوارشی و انتقال این مکروب از فرد به فرد به وسیله تماس مستقیم با بزاق یا مدفوع یک فرد آلوده دریافت می‌کند. بوسیدن و ظروف مشترک دو راه اصلی انتقال باکتری هستند. و ازمصرف آب آلوده یا غذا دریافت می‌گردد. مطالعات نشان می‌دهد.که افراد مبتلا به عفونت معده در اثرهلیکوباکترپایلوری هم‌چنین دارای خطر افزایش سرطان معده هستند و اشخاص در معرض خطر مبتلاشدن به میکروب هلیکو باکتر پایلوری کودکان می‌باشند که به علت عدم بهداشت مناسب، احتمال بیشتری دارند که به (H.Pylori) مبتلا شوند. خطر ابتلا به عفونت تا حدود بستگی به محیط زیست و شرایط زندگی افراد نیز دارد. افرادی که در کشورهای در حال توسعه زنده گی می‌کنند بیشتر و افراد که در کشورهای توسعه یافته زنده گی می‌کنند کمتر می‌باشد. هم‌چنان، افراد در دهات نسبت به شهرها بیشتر مبتلا می‌شوند

## پیشنهادها

با توجه به موضوع تحقیق، پیشنهادهای این تحقیق را می‌توان به شرح زیر نوشت:

پیشنهاد می‌گردد که روش‌های متعددی جهت تشخیص انتان هلیکو باکتر پایلوری موجود است، مانند: تست خون، نمونه مدفوع، اندوسکوپی و غیره که می‌توان تشخیص داد آیا به‌این میکروب مبتلا هستیم یاخیر. دو نوع رژیم تداوی وجود دارد. رژیم تداوی اول سه قلم دوا برای هفت الی چهارده روز می‌باشد. در اکثر واقعات همین دوره کافی است. ولی در صورت که زخم یا قرحهٔ وسیع‌تر و یا اختلاطی باشد بعد از این دوره تداوی صرفاً با (Pentaprazol40mg) یا (Omeprazol20mg) روزانه یک مرتبه قبل از غذا برای سه هفته دیگر ادامه می‌یابد.

## منابع


آرین‌مل، محمدشریف. (1396). بررسی مقایسه معده در حیوانات نشخوارکننده‌گان. *مجله علمی تحقیقی قلم ۷*، ۷۷ – ۸۲.

اکبرزاده پاشاه، حجت الله. (۱۳۸۵). اناتومی و فزیولوژی پایه و کاربردی، جلد دوم، تهران: پاشا گلبان.

انور، محمد افضل. (۱۳۹۰). هستولوژی جهازات، کابل: انتشارات عازم.

آریاپور، لطف‌الله.(۱۳۹۸). فزیولوژی طبی، کابل: انتشارات بصیرت.

بابائی، پروین. (۱۳۹۰). فزیولوژیکی پزشکی، تهران: انتشارات ارجمند.

خاورین، غلام دستگیر. (۱۳۸۲). غدوات داخلی و تأثیر ترشحات آن بر شخصیت، کابل: انتشارات موسسه کور.

خاورین. غلام دستگیر.(1396). اناتومی و فزیولوژی انسان، کابل: انتشارات نویسا.

خاورین، غلام دستگیر. (۱۴۰۰). بیولوژیکل سایکولوژی، کابل: انتشارات سعید.

دانش، هدایت‌الله. (۱۳۹۴). اناتومی و فزیولوژی، کابل: انتشارات تمدن شرق.

رودوس، رادنی. (۱۳۸۴). فزیولوژی بدن انسان، مترجم غروری، علمی، تهران: انتشارات مولوی بلخی.

زهرایی، میهن، فرزامی، بیژن، دوستی، محمود و همکاران. (۱۳۹۰). بیوشیمی پزشکی. جلد دوم، تهران: انتشارات آییژ.

فروتن، محمد ناصر. (۱۳۹٦). فزیولوژی طبی. کابل: انتشارات عازم.

نبوی‌زاده، رفسنجانی فاطمه، گلستان جهرمی، معصومه. (۱۳۸۹). فزیولوژی دستگاه گوارش. چاپ اول، تهران: انتشارات نسل فردا.

نسیمی، طاهر. (۱۳۹۱). اناتومی و فزیولوژي انسان. کابل: انتشارات مطبعه افغانستان تایمز.

هال، جان ای. (۱۳۹۱). فزیولوژی پزشکی گایتون هال. مترجمین: حوری سپهری، علی، رستگار فرج زاده، کامران قاسمی، جلد دوم، تهران: انتشارات اندیشهٔ رفیع.

# The role of Helicobacter pylori in the normal functions of the stomach

[1*]Fereshta Malekzadeh and [2]Mohammad Sharif Arianmal

Department of Biology، [1]Kabul University of Education, [2]Paktia University

freshta.malikzada901@gmail.com

## Abstract

The stomach is one of the most important organs of the human body and plays a fundamental role in the digestion of food. By maintaining an acidic environment، the stomach, helps break down food and eliminate many harmful microorganisms. However، according to scientific research، a type of bacterium known as Helicobacter pylori (H. pylori) can survive in the stomach، and nearly two thousand years ago it was identified in the human stomach. This bacterium can be present in the stomach of many people without causing symptoms، but in some individuals, it leads to serious health problems. Studies have shown that because of infection with Helicobacter pylori، various diseases may occur، including gastritis، stomach ulcers، duodenal ulcers، and in severe cases، stomach cancer. In addition,، this bacterium can affect other body systems such as the immune، cardiovascular، and nervous systems. The spread of Helicobacter pylori is higher in developing countries due to poor sanitation، unsafe drinking water، overcrowding، and low public health awareness. This infection not only affects individual health but also has social and economic impacts such as chronic pain، reduced quality of life، and increased medical costs. Therefore، prevention، early diagnosis، and proper treatment are essential to control this disease and improve public health.

**Keywords:** infection, bacteria, pylori, architosan, helicobacterium

# د صاحب شاه صابر په شعرونو کې موکده تشبیه


حیات الله حامد

پښتو ژبه او ادب څانګه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، د ماسټری برنامې محصل

hayathamid500@gmail.com


## لنډیز


صاحب شاه صابر له هغه شاعرانو څخه دی چې په شعرونو کې یې سمبولونه، تشبیهات او استعارې تر ډېره کارولي دي. په دې مقاله کې د صاحب شاه صابر پېژندنه، اثار، موکدې تشبیه پېژندنه او ډولونه یې او د صاحب شاه صابر له شعرونو څخه هغه بیتونه راټول شوي او تشریح شوي دي چې موکده تشبیه پکې کارول شوې ده. د ټاکل شوې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د پښتو ژبې او ادب څانګې مینه والو اړوند د موکده تشبیه د بېلګو په ډېروالي کې هغه ستونزه چې وار د مخه په دې اړه موجوده وه، له منځه ولاړه شي، بل دا چې په دې برخه کې تر اوسه پورې لیکوالانو او څېړونکو څېړنې نه دي تر سره کړې چې دا خپله یوه تشه ده همدې تشې ته په کتو په دې موضوع باندې کار شوی دی. د څېړنې د سرته رسېدو موخه د ادبیاتو په برخه کې د موکده تشبیه د بېلګو ډېروالی دی. د څېړنې لپاره له کتابتوني څېړنیز ډول تشریحي - تحلیلي مېتود څخه استفاده شوې ده لومړی د موضوع اړوند بېلګې د صاحب شاه صابر په شعرونو کې پلټل شوي، ورپسې د موکدې تشبیه د ډولونو سره تطبیق شوي چې تر یوې اندازې پورې دا څېړنه پرتلیزه بڼه هم لري. د څېړنې پایله دا شوه چې د صاحب شاه صابر په شعرونو کې د موکدې تشبیه او ډولونو اړوند ډېرې بېلګې شته چې یو شمېر یې دلته راوړل شوي دي.



**کلیدي کلمې:** اثار، صاحب شاه صابر، شعرونه، موکده تشبیه او ډولونه یې.

## سريزه

بسم اللّٰه الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين محمدٍ و على اله وصحبه اجمعين اما بعد!

د صاحب شاه صابر په شعرونو کې موکده تشبيه څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د نوموړې له اشعارو څخه د تشبيه او په ځانگړې ډول د موکده تشبيه ډولونو اړوند بېلگې راټولې شوي چې دا کار د لوستونکو لپاره د هغوی سره په پوهېدنه کې مرسته کوي؛ دا چې تر اوسه ليکوالانو او څېړونکو په دې موضوع باندې څېړنه نه ده کړې، همدې تشې ته په کتو مو په ياده موضوع باندې څېړنه وکړه ترڅو له دې لارې دغه خاليگاه له منځه ولاړه شي. د څېړنې د سرته رسېدو موخه هم د صاحب شاه صابر له شعرونو څخه د موکده تشبيه اړوند بېلگو راټولول او په ځانگړې ډول څېړل دي. د څېړنې د سرته رسېدو لپاره له کتابتوني څېړنيز ډول تحليلي او تشـريحي مېتود څخه گټه اخېستل شوې ده، د څېړنې په پايله کې تر لاسه شوه چې صاحب شاه صابر په خپلو شعرونو کې د موکده تشبيه ټول ډولونه کارولي دي. د نوموړي په شعرونو کې د موکده تشبيه څېړلو په اړه تر اوسه پورې کومو ليکوالو او څېړونکو څېړنې نه دي تر سره کړې، همدې تشې ته په کتو په دې موضوع باندې کار شوی دی ترڅو دغه ستونزه او خاليگاه له منځه يوړل شي. بل دا چې د موکده تشبيه د بېلگو په اړه تر اوسه پورې زيات شمېر بېلگې شته البته په ځينو برخو کې به څېړنې شوي وي، خو بسنه نه کوي، پر همدې اساس د نوموړي په شعرونو کې د موکده تشبيه بېلگې پلټلو سره به په دې برخه کې لومړنی پل کېښودل شي؛ همدې اړتيا او ستونزې ته په کتو په دې موضوع باندې څېړنه تر سره شوې ده.

د موکدې تشبيه پېژندنې سره به د پښتو ژبې او ادب په برخه کې يوه نوې زياتونه وشي او له دې لارې به د ادب مينه والو ته يوه گټه ورسېږي. د نوموړي په شعرونو کې د تشبيه او په ځانگړي ډول د موکدې تشبيه اړوند بېلگې راټولول، ځکه د ارزښت وړ موضوع ده چې تر اوسه پورې ليکوالو او څېړونکو په دې موضوع باندې څېړنه نه ده کړې، البته د نوموړي د شعرونو په نورو محتوياتو باندې څېړنې شوې وي، خو په پښتو ادبياتو کې د ياد شاعر د شعرونو په اړه چې ايا موکده تشبيه پکې په پام کې نيول شوې او که نه؟ دا يوه پوښتنه وه چې له نيکه مرغه د ټاکل شوې څېړنې په تر سره کېدو

سره دې پوښتنې ته ځواب ویل شوی دی. د معاصرې دورې شاعرانو د شعرونو له محتویاتو څخه خبرېدل هم د ارزښت وړ خبره ده همدې ارزښت ته په کتو په دې موضوع باندې کار شوی دی. دا چې د صاحب شاه صابر په شعرونو باندې چا تر اوسه پورې کار نه دی کړی؛ نو همدې اړتیا ته په کتو دا موضوع څېړل شوې ده چې موخې یې په دې ډول دي: د صاحب شاه صابر پېژندنه، د موکدې تشبیه او ډولونو پېژندنه، د صاحب شاه صابر له شعرونو څخه د موکده تشبیه اړوند بېلګو راټولول او څېړلو سربېره دې پوښتنو ته ځواب موندل شوی دی: صاحب شاه صابر چېرته زیږېدلی او د کومې ادبي دورې شاعر دی؟ موکده تشبیه څه ته وایي او څو ډولونه لري؟ د صاحب شاه صابر په کومو بیتونو کې موکده تشبیه کارول شوې ده؟

د صاحب شاه صابر په شعرونو کې موکده تشبیه په اړه په مستقیم ډول تر اوسه پورې لیکوالو او څېړونکو لیکنې او څېړنې نه دي کړې، البته د نوموړي د شعرونو اړوند نورو برخو په اړه څېړنې او لیکنې شوي دي چې په لاندې ډول دي:

۱. د صاحب شاه صابر په شعرونو کې د انسان دوستۍ څېړنه: یاده څېړنه په (۱۴۰۲) لمریز کال د عبدالجلیل رحیمي په نوم یو محصل د لېسانس دورې د پایلیک په توګه په (۲۵) مخونو کې چاپ کړې ده، په دې لیکنه کې د صاحب شاه صابر پېژندنه، اثار، انسان دوستي پېژندنه او د انسان دوستۍ اړوند شعرونه او بېلګې راوړل شوي دي چې ټوله لیکنه په انسان دوستۍ باندې څرخېږي.

۲. د صاحب شاه صابر په شاعرۍ کې انساني لارښوونې: دا لیکنه په (۱۴۰۱) لمریز کال د عنایت الله نوبهار په نوم یو محصل د لېسانس دورې د پایلیک په توګه په (۲۹) مخونو کې چاپ کړې ده. په دې لیکنه کې د صاحب شاه صابر له اشعارو څخه هغه بیتونه راټول شوي دي چې د انساني ژوند اړوند لارښوونې پکې ځای پر ځای شوي دي.

د پورتنیو دواړو لیکوالو لیکنې د صاحب شاه صابر د شعرونو څخه د انسان دوستۍ او انساني لارښوونو اړوند بېلګو راټولولو ته ځانګړې شوې دي، اما دا مقاله د صاحب شاه صابر په شعرونو کې د موکده تشبیه اړوند بیتونه پلټل، راټول، تحلیلول او تشریح کولو ته ځانګړې شوې ده چې له نیکه مرغه د مقالې په بڼه چاپ شوه.

## د څېړنې مېتودولوژي

د صاحب شاه صابر په شعرونو کې د موکدې تشبیه او ډولونو پلټنې او څېړنې لپاره له کتابتوني څېړنیز ډول تشـریحي – تحلیلي مېتود څخه استفاده شوې ده چې لومړی د موکدې تشبیه د ډولونو اړوند بیتونه د نوموړي شاعر په شعرونو کې پلټل شوي هغه بیتونه چې موکده تشبیه پکې کارول شوې په دې مقاله کې راټول، تر راټولوونې وروسته تحلیل او تشـریح شوي دي او د موکدې تشبیه اړوند ډول یې هم ښودل شوی دی. په څېړنه کې د څېړنې اخلاقي برخې او ادبي سرقت په اړه پوره پاملرنه شوې ده، د څېړنې د سرته رسېدو لپاره د لوړو زده کړو وزارت اړوند د قلم علمي – څېړنیزې مجلې د مقاله لیکلو فارمټ په پام کې نیول شوی دی.

## اصلي موضوع

### د صاحب شاه صابر لنډه پېژندنه

صاحب شاه صابر د پښتو ادب معاصرې دورې نوموتی شاعر په (۱۹۵۶) م کال د مارچ میاشتې پر (۹) نېټه د ملاکنډ په سخا کوټ کې زیږېدلی. د پلار نوم یې باز پاچا دی. لومړنۍ او ثانوي زده کړې یې د ملاکنډ په ښوونځي کې سرته رسولې دي. نوموړی په (۱۹٦۲) م کال شامل او په (۱۹٦۷) م کال له ښوونځي څخه فارغ شو. نورې زده کړې یې په مردان کې تر سره کړې، لېسانس یې د پېښور پوهنتون څخه په ټولنیزو علومو کې واخیست، لومړنۍ ماستري یې په پښتو ژبه او ادب څانګه کې او دویمه یې په اردو ژبې او ادب کې، درېیمه یې په پولیټیکل ساینس (حقوقو او سیاسي علومو) په برخه کې تر لاسه کړې ده، دوکتورا زده کړې یې د پښتو اکاډمۍ څېړنې څانګه کې تر سره کړې دي. له زده کړو وروسته یې په بېلا بېلو کالجونو کې د استادۍ مقدسه دنده تر سره کړې ده. صابر سترګور، پر مینه مین، قوم پرست، ریالیست، دردمن ادیب او څېړونکی و چې پر تخلیق او تحقیق دواړو یې لاس بر و. صابر د پښتو ژبې او ادب ګلبڼ ته د عالي پنځونو تر څنګ علمي کتابونه هم کښلي دي. ارواښاد صابر په کال (۲۰۰۷) م کې د زړه د درېدو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ نوموړی د (٦۲) کلونو په عمر وفات شوی دی (رفیقي، ۱۳۹۵: ۲۳۵۰ - ۲۳۵۱).

**د صاحب شاه صابر اثار**

د صاحب شاه صابر اثار په لاندې ډول دي:

تکل (شعري ټولګه) لومړي ځل لپاره په (۱۳۷٦) لمریز کال کې چاپ شوې ده، خوبونه (شعري ټولګه)، واورې او ګلونه، کړ کیسې (افسانې)، په پښتو شاعرۍ کې ټولنیز اړخ (ایم فل تیزس)، په پښتو ادب کې تحقیق او تنقید (علمي اثر) (۱۳۷۴ل/ ۱۹۹۵) م کال کې چاپ شوی دی، تنقید او د تنقید ډولونه، د تنقید تاریخ (علمي اثر)، پښتانه او پښتو ټپه (علمي لیکنه)، رڼا او ګلونه (مقالو ټولګه)، قامتونه قیامتونه (شعري ټولګه) (۱۳۸۵ لمریز/ ۲۰۰٦) م کال کې چاپ شوې ده، ام –فېل یا ما سترې دورې مقالې، د پښتو شاعرۍ په وده کښې د تنقید کردار (۱۳۹۴ل/ ۲۰۱۵) م کال کې چاپ شوی، د صاحب شاه صابر کلیات (۱۳۸۹ل/ ۲۰۱۰) م کال کې لومړي ځل لپاره په (۴۵٦) مخونو کې چاپ شوی دی(رفیقي، ۱۳۹۵: 2351).

**د صاحب شاه صابر د شعرونو سبک**

صاحب شاه صابر د مینې نړۍ یو سمبول دی، دی د ښکلاګانو په ښارونو کې د حسن په مغرورتیا نه دی ستومانه شوی، بلکې د نړۍ ښکلاګانو ته یې په منظمه توګه انعکاس ورکړی. نوموړی د ښکلا، مینې، امن او ژوند شاعر و. په خپلو شعرونو کې یې ښودلې چې انسان باید د انسان په لباس کې ژوند وکړي، له بدبختۍ، ناچارۍ، ناپوهۍ، بې اتفاقۍ څخه لرې و اوسي. د ژوند په ټولو چارو کې له مینې کار واخلي او مینه تر سره کړي. پوهاند همکار لیکي: "د هر ادیب سبک په خپله په ادیب پورې ځانګړی دی او د هغه له شخصیت سره متناسب دی، له دې کبله د سبک مسایل شخصیت دی"(همکار، ۱۴۰۳: ۱۰۲) صاحب شاه صابر یو ځیرک او حساس شاعر و؛ نه یوازې شاعر بلکې صابر یو زیږ پښتون هم و چې له خپلې ژبې، وطن او خلکو سره یې بې ساري مینه لرله همدغه مینه یې په شعرونو کې څرګنده ده، تر ډېره یې شعرونه د غزل په قالب کې ویلي دي او د غزل په اړه محمد ابراهیم همکار لیکي: "غزل د کیفیت نوم دی او کیفیت د معنا نومونو له ډلې څخه دی چې د هغې لپاره جامع او مانع تعریف نه شي کېدلی"(همکار، ۱۳۹۱: ٦۷) د شعرونو ځانګړنې یې په دې ډول راوړې ده:

۱. نوموړي په خپلو شعرونو کې ډېره ساده او روانه ژبه کارولې ده چې بېلګه په یو بیت کې وایي:

زړه د مینې سمندر ګـــرځوو
ستا د غم غرونه په سر ګرځوو (صابر، ۱۳۸۹: ۱۶۸)

۲. نوموړی ډېرې لنډې لنډې جملې کاروي یعنې جملې یې لنډې، خو د معنا له پلوه پراخه مفهوم په ځان کې رانغاړي په دې اړه زلمی هېوادمل لیکي: "ایجاز د دې سـبک بل خصـوصـیت دی، د دغه سبک شاعران زیاتې خبرې په لږ الفاظو کې بیانولای شي"(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ص ۲۱۴) چې د یادې ځانګړنې بېلګه په لاندې ډول ده:

د ګـــــــــلونو تماشه وي، کله لږه کله ډېره
په نصیب کـــې مې نشه وي، کله لږه کله ډېره
خپل زخمونه ښکلومه، خپلو څړیکو ته تودېږم (صابر، ۱۳۸۹: ۳۳۵)

۳. د نورو تصوفي شاعرانو په څېر یې خودي (خپلواکي) یا ازادي ته داسې اشاره کړې ده:

ازادي ده، ازادي ده، ازادي ده
خـــو په نـــوم رښتیا خبرو پابندي ده
څه خـــو شته چې امېد ډیوه مړه نه ده
څه خودي چې فکر وړې خاموشي ده (صابر، ۱۳۸۹: ۳۲)

په پورتنیو بیتونو کې د ازادي کلمه تکراري راغلې ده چې دلته د یادې کلمې تکرار نیمګړتیا نه؛ بلکې د کلام د ښـکلا، آهنګ او بلاغي ابهام لپاره راوړل شـوې ده، ځکه د کلمو د تکرار په اړه فضـــل ولي ناګار لیکلي دي: "د یوې ځانګړې ګټې لپاره په وینا کې د یوه لفظ بیا بیا راوړل د یوې خاصې ګټې لپاره وي چې د شعر ښکلا، آهنګ او بلاغي ابهام یې خورا زیات راښکون لري"(ناګار، ۱۴۰۱: ۲۰۹). نو پورتنی تکرار هم د شعر د ښکلا، آهنګ او بلاغي ابهام په موخه راوړل شوی دی.

۴. صاحب شاه صابر د بل چا د منت خواږه نه خوري؛ بلکې د هغې پر ځای د خپل لاس خواري او کار کول اړین بولي په دې اړه وایي:

ګـــران دي په ګرانه لاره تله د شعور
خو بې خواري نه شي خواږه د شعور (صابر، ۱۳۸۹: ۲۲۳)

په پورته بیت یو تخیلي انځور راوړل شــوی دی او د همدې تخیلي حرکت په اړه لعل پاچا ازمون لیکي: "د بیان تیوري د نظم او نثر په بېلا بېلو چوکاټونو کې تخیلي حرکت په تشبیه، استعاره او سېمبول کې رانښيي"(ازمون، ۱۴۰۰: ۴۴۰). دلته هم یوه تخیلي صحنه او حرکت په تشبیه کې راوړل شوی دی.

**د موکدې تشبیه پېژندنه او ډولونه**

د موکدې تشــبیه په اړه پوهاند محمد ابراهیم همکار په خپل اثر "ادبي فنون" بیان برخې کې لیکلي دي: "تشــبیه د وییکو د راوړو او نه راوړو له مخې په دوو ډولونو ده، مرســله تشــبیه او موکده تـشبیه"(همکار، ۱۳۹۸: ٦٢). خو عبدالرحیم مـسلم دو ست په "خوږه ژبه" نومې اثر کې بیا لیکلي دي: "د تشــبیه پنځم وېش د برخیزونو (اداتو) له مخې دی چې په درې ډوله ده، مرســله تشــبیه، موکده تشبیه او بلیغه تشبېه"(مسلم دوست، ۱۳۸۸: ۹۷).

موکده تشــبیه: دا هغه تشــبیه ده چې یوازې مشــبه او مشــبه به پکې راغلي وي او د تشــبیه وییکي (ادات) پکې نه وي راوړل شوي، نوموړې تـشبیه په درې ډوله ده: ا ضافي موکده تـشبیه، تو صیفي موکده تـشبیه او موکده محض تـشبیه(همکار، ۱۳۹۸: ٦٢) عبدالرحیم مـسلم دو ست بیا لیکي: "موکده تشبیه هغه تشبیه ده چې د تشبیه ادات ورځخه غورځېدلي وي او د ورته والي لامل یاد شوی وي" لکه:

په ارزښت کـې ته سره زر یې
په ښکـــــلا کې ته قـمر یې(مسلم دوست، ۱۳۸۸: ۹۷)

پورته بیت په ا صل کې دا سې دی چې: ته لکه سره زر یې او ته لکه قمر یې، خو ((لکه)) چې د تشبیه وییکی دی غورځېدلی دی، اما د تشبیه وجه چې ارزښت او ښکلا ده یاده شوې ده(مسلم دوست، ۱۳۸۸: ۹۷).

**د موکدې تشبيه ډولونه**

محمد ابراهيم همکار موکده تشبيه په درې لويو ډولونو باندې ويشـــي چې عبارت دي له: اضافي موکده تشـبيه، توصـيفي موکده تشـبيه او موکده محض تشـبيه چې هر ډول يې بيا په نورو ډولونو باندې وېشل کېږي، خو عبدالرحيم مسلم دوست بيا د موکدې تشبيه ډولونه درې ياد کړي دي چې عبارت دي له: مرسله تشبيه، موکده تشبيه او بليغه تشبيه.

د پوهاند ابراهيم همکار د وېش له مخې چې موکده تشبيه په درې ډولونو باندې ويشـي لومړی يې اضافي موکده تشبيه ده.

**اضافي موکده تشبيه:** دا هغه ډول تشبيه ده چې د يو شي اضافت پکې مشبه ته شوی وي او يا د مشبه او مشبه به تر منځ يو اضافي ترکيب موجود وي، اضافي موکده تشبيه د اضافت له مخې په درې ډوله ده:

ستــــا د ژوند ورانـــې خبـــرې
ستــــا د کـــــور لـــوړې ژورې (صابر، ۱۳۷٦: ۱۲۵)

په پورته بيت کې شـــاعر ورانې خبرې د کور د لوړو ژورو سره تشـبيه کړې دي ورانې خبرې (مشـبه) او لوړې ژورې (مشـبه به) په ډول راغلي دي، خو دلته ورسره ويل شـوي دي چې کومې ورانې خبرې دي؟ ځواب يې ځرگند دی چې ستا د ژوند ورانې خبرې دا داسې دي لکه ستا د کور لوړې ژورې؛ نو د تشـبيه د ډولونو له مخې چې دلته د ژوند ورانې خبرې او د کور لوړې ژورې يعنې د ژوند او د کور کلمې اضافي ترکيبونه دي چې پر اساس يې په دې بيت کې اضافي موکده تشبيه کارول شوې ده.

يا لکه په لاندې بېلگه کې چې صاحب شاه صابر ويلي دي:

ستـــا د مينې په هـــر دشت کـې
يو څـــو سروې دي چـــنار دی
څـو نښتر قـــطار قـــطار دي
نور خو وچ کــــــانې د غره دي (صابر، ۱۳۷٦: ۱۱۹)

په پورتنیو بیتونو کې د شــاعر قد او قامت د سروې او چنار ونې سره تشــبیه شــوی دی او د مخاطب مینه بیا د هغې د شتې سره تشبیه شوې ده چې نښتر پکې قطار قطار ولاړ وي او نوره وچه وي یعنې د غره د کاڼو په څېر وچ کلک وي. دلته د شاعر قد (مشبه) او د سروې او چنار ونه (مشبه به) په ډول راوړل شوي دي. همدارنګه د انسان مینه (مشبه) او په دشته کې د نښترو قطارونه (مشبه به) په ډول کارول شوي دي، خو کومه دشته د مینې دشته چې دا یو اضافي ترکیب دی، بل دا چې درېیمه تشبیه هم شته د انسان سینه (مشبه) او په غره کې وچ کاڼي (مشبه به) دي خو پوښتنه دا ده چې کوم کاڼي دي؟ ځواب یې څرګند دی چې د غره کاڼي دي چې دا خپله یو اضــافي ترکیب دی؛ نو د تشبیه له مخې په پورتنیو بیتونو کې اضافي موکده تشبیه کارول شوې ده.

په بل ځای کې بیا د موکدې تشبیه په اړه وایي:

زمونږ څه خو یا په سترګو کې لمبې د خمار
یا په تنکي زخم کــې ستا د یاد شغله راوړې(صابر، ۱۳۸۹: ۹۱)

پورتني بیت کې شاعر د خمار سترګې د اور د لمبو په څېر یادې کړې دي، لکه څرنګه چې اور لمبې کوي دغه رنګ خماري سترګې هم سرې شوي وي، نو دلته خمار (مشبه) د اور لمبه یا شغله (مشبه به) په ډول راوړل شوې ده. بیا په همدغې بیت کې خماري سترګې د تنکي زخم سره تشبیه شوي دي خماري سترګې (مشبه) او تنکی زخم (مشبه به) په ډول راغلی دی، خو کومې خماري سترګې؟ هغه چې د مخاطب د یاد شغله یې راوړې ده چې دا خپله یو اضافي ترکیب دی. د ادبي فنونو او تشبیه د ډولونو له مخې په پورته بیت کې اضافي موکدې تشبیه څخه استفاده شوې ده.

**الف:** تشبیهي اضافت: دا هغه ډول تشبیه ده چې مشبه او مشبه به پکې یو بل ته د اضافت په بڼه راغلي وي. یعنې مشــبه مضــاف الیه او مشــبه به مضــاف واقع شــوی وي او کله کېدای شي مشــبه مضاف او مشبه به مضاف الیه واقع شي(همکار، ۱۳۹۸: ۶۲).

ستــــــا د علمه وحشـي ښه یم
لــــه غلامه باغــــــــــي ښه یم(صابر، ۱۳۷۶: ۱۲۸)

په پورتني بيت کې بيا هم متکلم خپل ځان د وحشـــي سره تشبيه کړی دی متکلم (مشبه) او وحشي (مشبه به) دی خو دلته د یو دلیل له امله ځان د وحشـــي سره تشبيه کوي چې هغه دليل او علت يې د مقابل لوري د علم له امله دی؛ نو دلته د (علمه) کلمه یو اضافي ترکیب دی چې همدې ډول تشبيه ته د بيان له مخې تشبيهي اضافي موکده تشبيه وايي.

يا لکه په لاندې بيتونو کې چې صابر ويلي دي:

دا د اوسپنو ســـــخت زړونــــــه
پکې کلک د کـــــــاڼو زړونه
د چــــمن او پشـــــين داړې
د تـــوبې د غــــرونو غـــــاړې (صابر، ۱۳۷٦: ۱۲٦)

په پورته لومړي نيم بيت کې شاعر د انسان زړه له اوسپنې سره تشبيه کړی دی زړونه (مشبه) او اوســپنې (مشــبه به) راغلي دي. په دويم نيم بيت کې يې زړونه د کاڼو سره تشــبيه کړي دي زړونه (مشبه) او کاڼي (مشبه به) په توگه کارول شوي دي. په دريیم نيم بيت کې چمن د توبې له غره سره تشبيه شوی دی چې چمن (مشبه) او د توبې غر (مشبه به) دی؛ نو په پورتنيو ټولو تشبيه گانو کې د کاڼو او اوســپنو په څېر ســخت زړونه او د توبې غره په څېر چمنونه تشــبيهي ترکيبونه دي چې په بيتونو کې شته د تشبيه د علم له مخې په دې بيتونو کې تشبيهي اضافت تشبيه کارول شوې ده.

**ب:** تلميحي اضافت: د اضافي موکد تشبيه له هغه ډول څخه عبارت دی چې په وجه شبه پوهېدل يې په يوه داستان، کيسې يا پېښې پورې تړلې وي (همکار، ۱۳۹۸ل، ص ٦۴). د صاحب شاه صابر په شعرونو کې د تلميحي اضافت تشبيه بېلگې په لاندې ډول دي:

ستــــــا زرتشت خو لېونی وو　　گـــوتم بدهـ هم څــه سړی وو
یو فتنه وه لــــــوی فساد وو　　جـلالــه وو کـــه احـــداد وو
مرزاخان غريب مجـذوب وو　　دولت تش په ځان کې ډوب وو
رحمان خــوار غريب سړی وو　　خوشحـــال مست وو لېونـی وو
ايمل خـــــان د تورې نه وو　　درياخـــان غريب د څـــه وو

د خپل قـــــام فکر تاوان وو          کـــه حمید که علی خـــان وو
میرویس ځـــان دنیا ته پړ کړو          چې گورگین غریب یې مـړ کړو
احمد شـــــاه جهان لتاړ کړو          گوره ټول هـــند یې ویجاړ کړو(صابر، ۱۳۷٦: ۱۱۹)

په پورته شعر کې شاعر د پښتو ژبې او ادبیاتو اړوند د گڼو شاعرانو نومونه او د هغوی د ژوند پېښې راوړې دي چې په پښتو ادبیاتو کې دغه ډول پېښو راوړلو ته تلمیح ادبي صنعت وایي، دا چې زموږ موضوع د موکدې تشبیه ډولونو بېلگې دي؛ نو ویلای شو چې په پورتنیو بیتونو کې ټولې راغلې بېلگې او پېښې د ادبي فنونو او د تشبیه د ډولونو له مخې تلمیحي موکده تشبیه بېلگې دي پر همدې اساس په پورتنیو بیتونو کې تلمیحي موکده تشبیه کارول شوې ده.

یا لکه په لاندې بیت کې چې صاحب شاه صابر ویلي دي:

په کـــــربلا کې به سحر وي رڼا شوې به وي
چې د حسین پرې کړی سر د یزید در ته رسي(صابر، ۱۳۸۹: ۱۲۵)

په دې بیت کې شاعر د اسلامي تاریخ یوې لویې پېښې او واقعې ته اشاره کوي چې دا پېښه د حسن او حسین رضي الله علیهم اجمعین شهادت پېښه ده، دې ډول پېښو ته په شعرونو کې اشاره کول د ادبي فنونو له مخې د تلمیح ادبي صنعت بلل کېږي. خو دا چې دلته د تشبیه خبره ده او بیا د موکد تشـبیه بحث دی؛ نو د تشـبیه د ډولو له مخې په پورتني بیت کې تلمیحي موکده تشـبیه کارول شوې ده.

په بل ځای کې بیا صاحب شاه صابر ویلي دي:

د خوشحال خلی ترېنه کـــوم تېرا ته وتښتوو
د اورنگزېب داسې د پښو دوړه خیبر ته رسي(صابر، ۱۳۸۹: ۱۲۹)

په پورتني بیت کې شـاعر د پښـتنو په تاریخ کې دوه لویو او وتلیو څېرو هر یو خوشـحال خان خټک او اورنگزیب چې د شاه جهان زوی و او د مغولو له لوري په هند کې واکمن ټاکل شوی و اشــاره شــوې ده او د دوی دواړو تر منځ هغه وخت چې کوم اختلافات او جگړې موجودې وې هغې ته اشاره شوې ده. دلته شاعر ویلي خو شحال بابا چې کله د مغولو سره په جنگ کې ښکېل

شو؛ نو غوښتل يې چې تيرا ته ولاړ شي او هلته وتښتي، خو اورنګزيب داسې پادشاه و چې ان هلته ورپسې ورغلی او د خوشحال خان خټک سره يې جګړه پيل کړه چې بالاخره دغه جنګ د خوشحال بابا په ګټې باندې تمامېږي؛ نو دا چې په دې بيت کې د پښتنو تاريخ لويې پېښې ته اشاره شوې ده د تشبيه د ډولونو له مخې په دې بيت کې تلميحي موکده تشبيه کارول شوې ده.

په بل ځای کې بيا صاحب شاه صابر ويلي دي:

نور نه کښېني ورځې د مغل خېلو خبر اخلي
خوشحال راپاڅېدلی دی شلولی يې کفن دی(صابر، ۱۳۸۹: ۱۴۷)

په دې بيت کې د پښتنو زلميانو هغه مېړانې او بهادرۍ ته اشاره ده چې د خوشحال خان خټک په وخت کې يې د مغلو پر وړاندې له ځان څخه ښکاره کړې ده. خو شحال خان خټک يو دا سې پښتون شاعر او ملي مشر تېر شوی دی چې د پښتنو د ازادۍ او ارامه ژوند تېرولو لپاره يې د مغلو لښکرو سره څو څو ځل جنګونه کړي دي، دا چې په دې بيت کې د خوشحال خان خټک د وخت د مغلو پر وړاندې د جنګ صحنه پکې انځور شوې چې د پښتنو تاريخ دغه پېښه يوه نه هېرېدونکې پېښه ده؛ نو د تشبيه د ډولونو له مخې په دې بيت کې تلميحي موکده تشبيه څخه استفاده شوې ده.

**ج:** سمبوليکي اضافت: دا هم د اضافي موکدې تشبيه يو ډول دی، دا هغه وخت پېښېږي چې مشبه به (مضاف) د مشبه (مضاف اليه) سمبول يا نښانه وي، لکه:

راشه چې خپل مخ پکې ووينې ځان و پېژنې
ما په ورغوي کې د مينې آينه راوړې(صابر، ۱۳۸۹: ۹۷)

په پورتني بيت کې شاعر مخاطب ته خطاب کړی دی چې راشه او خپل مخ دې پکې ووينه دا کار په دې خاطر وکړه تر څو خپل ځان و پېژنې چې ته څه ډول څېره او شکله لرې؟ په دويم نيم بيت کې بيا صابر ويلي ما درته په ورغوي کې آينه راوړې کومه آيينه؟ د مينې آيينه چې دلته ورغوی (مشبه) د سمبول په ډول د بخت يا قسمت کتلو لپاره راوړل شوی دی او آيينه (مشبه به) په ډول راغلی دی ښايي دلته د شاعر مطلب د ورغوي له آيينې څخه هغه کرښې او ليکې وي چې

فال ویســتونکي د هغې په واســطه فال ښــايي؛ نو په پورتني بيت کې ورغوی د بخت او طالع کتلو لپاره د سمبول په ډول راوړل شوی چې د ادبي فنونو له مخې په پورته بيت کې سمبوليکي اضافت تشبيه کارول شوې ده.

يا لکه په لاندې بېلګه کې چې صاحب شاه صابر ويلي دي:

ستــــا د بڼو د بڼ الــــوتې مرغۍ
راځـــــي زما د زړه درزا ګـــــوري(صابر، ۱۳۸۹: ۱۴۹)

په دې شعر کې شاعر د محبوبې او معشوقې تنه او جسم د مرغۍ سره تشبيه کړی دی شاعر ويلي ستا جسم داسې دی لکه د باغ څخه الوتلې مرغۍ، مرغۍ چې کله بڼ ته راشي؛ نو هره شيبه يې زړه درزا کوي چې اوس به څوک وربانديې انداخت کوي او اوس به مې څوک وولي ټول عمر يې په همدې ويره کې تېريږي؛ نو اوسنۍ پېغلې هم دغه ډول دي له هلکانو څخه دومره ځان ساتي لکه مرغۍ چې له ښکاري څخه ځان ساتي په پورتني بيت کې محبوبه (مشبه) د بڼ مرغۍ (مشبه به) دی چې د پېغلې لپاره د ســمبول په توګه راوړل شــوی دی چې دې ډول تشــبيه ته ســمبوليکي اضافت تشبيه ويل کېږي.

په بل ځای کې بيا وايي:

مونږه هغسې د زمــکې لايق نه يو
د دنيا قامونه ستوري د اسمان دي(صابر، ۱۳۸۹: ۱۹۰)

په پورتني بيت کې شاعر د خپل ځان يادونه کړې ده چې موږ خو دومره لايق او وړ اشــخاص نه يو چې په دې ځمکه کې دې وګرځو او له همدې خاورې څخه دې ګټه واخلو، خو د دنيا نور قومونه بيا ډېر ښه خلک لري هغوی داسې دي لکه د اسمان د ستورو په څېر ځلېږي؛ نو په پورتني بيت کې قومونه (مشــبه) او ســتوري (مشــبه به) دی چې د قوم لپاره د ســمبول په توګه راوړل شــوی دی د تشبيه د ډولونو له مخې په دې بيت کې سمبوليکي اضافت تشبيه کارول شوې ده.

**توصيفي موکد تشبيه:** هغه ده چې مشبه پکې موصوف او مشبه به پکې صفت واقع شوی وي، يا هغه تشبيه ده چې مشبه او مشبه به په خپلو کې توصيفي ترکيب جوړ کړي (همکار، ۱۳۹۸: ۶۵). د صاحب شاه صابر په شعرونو کې د توصيفي موکد تشبيه بېلگې په لاندې ډول دي:

د هما پري جمالو
د جرمن سره جگړه ده (صابر، ۱۳۷۶: ۱۲۷)

په پورتني بيت کې شاعر د انجونو د ښکلا ستاينه کړې ده او د هغوی د ښکلا معيار يې د پري د ښايست سره تشبيه کړی دی يعنې د انجونو ښايست دومره زيات دی چې اوس د جرمني هېواد د انجونو له ښايست سره سيالي کوي. په دې بيت کې د هما انجونې (مشبه) په توگه راغلي او پري يا محبوبې د (مشبه به) توگه راغلي دي، خو کومې پري گانې او د هما کومې انجونې هغه چې د محبوبو په څېر جمال او ښايست لري؛ نو د بيان له مخې په دې بيت کې توصيفي ترکيب پري جمالو راغلی چې له مخې يې په بيت کې توصيفي موکده تشبيه کارول شوې ده.

يا لکه په لاندې بيت کې چې صاحب شاه صابر ويلي دي:

هر شاعر مې لوی مجنون دی
هر فنکار مې افلاطون دی (صابر، ۱۳۷۶: ۱۲۲)

پورتني بيت کې شاعر صاحب شاه صابر د هېواد هر يو شاعر د مجنون سره تشبيه کړی دی، کوم مجنون؟ هغه چې د ليلا د تر لاسه کېدو لپاره يې خپل ځان قرباني کړی دی او اوس دغه کيسه په پښتو ادبياتو کې مشهوره شوې ده. بيا يې فنکار شاعر او هنرمند انسان د افلاطون سره تشبيه کړی دی افلاطون هم هنرونه درلودل، په ډېر څه پوهېده او فنکار هم هنرونه زده وي او په ډېر څه پوهېږي، نو دلته شاعر (مشبه) مجنون (مشبه به) دی، خو کوم مجنون لوی مجنون چې دا يو صفت دی او تو صيفي ترکيب يې رامنځته کړی دی، بل نيم بيت کې فنکار (مشبه) او افلاطون (مشبه به) دی دلته بيا هم توصيفي ترکيب شته؛ نو ويلای شو چې په پورته بيت کې د ادبي فنونو له مخې توصيفي موکد تشبيه کارول شوې ده.

يا لکه په لاندې بيت کې چې وايي:

یا لــــــوپټه مروړي یا شونډې چیچي
لفظونه زوري چـــــــې خبرې کوي(صابر، ۱۳۸۹: ۸۷)

په دې بیت کې شاعر صاحب شاه صابر د خبرو پر وخت د کلمو او وییونو ځای پر ځای کول او له لفظونو څخه کار اخېستل د لوپټې د مروړلو (تاوولو) او نغښتلو سره تشبیه کړی یا یې د شونډو چیچلو سره تشـبیه کړي دي چې له مخې یې لفظونه (مشـبه) او لوپټې مروړل یا شـونډو چیچل (مشبه به) په ډول راوړل شوي دي چې د شونډو چیچل او د لوپټې مروړل خپله تو صیفي ترکیب دی د الفاظو د کارونې لپاره د صفت په توګه راوړل شوي دي، پر همدې ا ساس د ادبي فنونو او د تشبیه د ډولونو له مخې په پورته بیت کې توصیفي موکده تشبیه کارول شوې ده.

په بل ځای کې بیا صاحب شاه صابر ویلي دي:

بیا به په هـــر سړي په زور خپله خبره مني
زورور بیا د خپل غـــــرض توره تېره راوړي(صابر، ۱۳۸۹: ۱۰۱)

په پورته بیت کې شـاعر د ظالم او جابر انســان او د هغه انســان په اړه چې د هغه له ژبې څخه خلک په زیان او ضرر کې وي یادونه کړې ده وایي: بیا دا سې ظالم راغلی دی چې خپله بده خبره به په خلکو په زور سره مني، ځکه دا ظالم انسان دی او د ظلم لپاره له ژبې څخه لکه د تېرې تورې په څېر کار اخلي؛ نو دلته په دې بیت کې ژبه له تورې سره تشـبیه شـوې چې ژبه (مشـبه) او توره (مشبه به) په ډول راغلي دي، اما خبره په دې کې ده چې کومه توره د شاعر مقصد او هدف دی؟ تېره توره چې هدف او مقصد ترېنه د ظالم انسان ژبه ده؛ نو تېره توره دلته یو تو صیفي ترکیب دی چې د ژبې لپاره کارېدلی دی د ادبي فنونو له مخې په پورتني بیت کې توصـیفي موکده تشـبیه کارول شوې ده.

یا لکه په لاندې بیت کې چې صاحب شاه صابر ویلي دي:

ما د مینې په راز څو څو ځـــــله پوی کړه
خــــــــو د حسن جادوګره نه پوهېږي(صابر، ۱۳۸۹: ۱۸۷)

په دې بیت کې شـاعر بیا هم خپله معشـوقه یاده کړې چې په راز باندې مې څو څو ځله پوهه کړه، خو دا داسـې ښـایسـت لرونکې ده چې هېڅ په خبره باندې نه پوهېږي؛ نو په پورته بیت کې محبوبه (مشبه) او جادوګره (مشبه به) په ډول راغلي دي او د حسن جادوګره یې تو صیفي ترکیب دی چې محبوبې صفت کوي. د تشبیه د ډولونو له مخې په پورتني بیت کې توصیفي موکده تشبیه کارول شوې ده.

یا لکه په لاندې بیت کې چې شاعر ویلي دي:

ستـــــــا د ښایست تخم به نه ورکوي

د زړونو ځمـــــــکې دې ودانې به شي (صابر، ۱۳۸۵: ۲۷)

په دې بیت کې شاعر مخاطب لوري ته اشاره کړې ده او ورته ویلي یې دي: ستا اصل او نسب ته په کتو داسـې اټکل کېږي چې الله تعالی به سـتاسـو کورنۍ او غړي ډېروي او سـتاسـو ژوند به ودانېږي، دلته د ښایست تخم د زړونو ځمکې سره تشبیه شوی چې له مخې یې د ښایست تخم (مشبه) د زړونو ځمکه (مشبه به) په ډول کارول شوي دي، خو د تخم کلمې سره د ښایست کلمې یو ځای کېدل چې صـفت دی او د ځمکې سره د زړونو کلمه یو ځای کېدل چې دا هم د ځمکې لپاره صفت دی دواړه تو صیفي ترکیب په ډول کارول شوي دي؛ نو د تشبیه د ډولونو پر ا ساس په پورتني بیت کې توصیفي موکده تشبیه کارول شوې ده.

په بل ځای کې صاحب شاه صابر ویلي دي:

ژوند څـــــه دی خو د ژوند په حقیقت پورې خندا ده

په حسن پورې ټوکـــــــــې دي، الفت پورې خندا ده (صابر، ۱۳۸۵: ۳۳)

پورتني بیت کې شاعر د ژوند تشـریح کړې ده او بیا یې د حقیقت پورې خندا کولو سره تشبیه کړی دی په دویم قدم کې یې ژوند بیا په حسـن پورې ټوکو سره تشـبیه کړی او په دریيم قدم کې یې بیا په الفت پورې خندا سره تشـبیه کړی دی دلته د یوې مشـبه لپاره درې مشـبه به راوړل شـوي دي چې له مخې یې ژوند (مشـبه) حقیقت پورې خندا، حسـن پورې ټوکې او الفت پورې خندا (مشبه به) دي چې د یوې تشبیه لپاره راغلي دي او دا ټول د ژوند تشـــریح او تو صیف دی؛ نو په

دې بیت کې توصیفي ترکیب په توگه راغلي دي چې د تشبیه د ډولونو له مخې په پورتني بیت کې توصیفي موکده تشبیه کارول شوې ده.

یا لکه په لاندې بیت کې چې ویلي یې دي:

د حسن د رنگونو دکـــــــانونه په پیسو دي
د ښکـــــلو د مخونو تصویرونه په پیسو دي(صابر، ۱۳۸۵: ۳۸)

پورتني بیت کې شـاعر د ښـکلا لپاره یو څه بیانوي او وایي چې په اوسـنۍ زمانه کې ښـایسـت ټول په پیســو باندې خرڅیږي او که څوک وغواړي چې د ښــکلو مخونه او انځورونه په پیســو واخلي؛ نو تر لاسه کولای یې شي دلته دکانونه د انځورونو سره تشبیه شوي دي چې دکانونه (مشبه) او تصویرونه (مشبه به) دي دکانونو سره د حسن د رنگونو توصیفي ترکیب دی چې موصوف یې دکانونه دي او د تصـویرونو سره د ښـکلو د مخونو توصـیفي ترکیب راغلی دی چې تصـویرونه یې موصوف دي؛ نو د تشبیه د ډولونو له مخې په دې بیت کې توصیفي موکد تشبیه کارول شوې ده.

**موکده محض تشـبیه:** محض په لغت کې سـوچه یا نا گډوله ته وایي، هغه تشـبیه ده چې مشـبه او مشبه به پکې نه توصیفي او نه اضافي ترکیب ولري(همکار، ۱۳۹۸: ۶۷). د صاحب شاه صابر په شعرونو کې د موکد محض تشبیه بېلگې په لاندې ډول دي:

هغه وی چـــــــــــې ته وحشي یې
خپل اختیار غـــــــــــــواړې باغي یې(صابر، ۱۳۷۶: ۱۲۸)

په پورتني بیت کې مخاطب (مشبه) او وحشـــي (مشبه به) دی معنا دا چې دلته شاعر مخاطب انسان چې په خپل شعر کې یې ورته خطاب کړی دی د وحشـــي ځناور سره تشبیه کړی دی، بیا په دویم نیم بیت کې یې ویلي دي ته، ځکه د وحشــــي په څېر یې ته غواړې چې ازادي واخلې او د خپل نفس او خواهش تابع شې، معنا دا چې غواړې خپل اختیار په خپل لاس کې واخلې او دا کار تا باغي کوي، نو په پورتني بیت کې د مشــبه او مشــبه تر منځ نه اضــافي ترکیب شــتون لري او نه توصیفي ترکیب؛ بلکې دې ډول تشبیه ته موکد محض تشبیه ویل کېږي.

صاحب شاه صابر په بله بېلگه کې ویلي دي:

دا ونې، بوټي واورې او گـــــــلونه مې وطن دی
دا غرونه مې هډوکـــي دي دا خاوره مې بدن دی (صابر، ۱۳۸۹: ۱۳۵)

په پورتني بيت کې شـــاعر خپل ځان له غرونو سره تشــبيه کړی دی او بيا دويم ځل يې بدن د خاورې سره تشبيه کړی دی چې له مخې يې په لومړۍ تشبيه کې هډوکي (مشبه) او غرونه (مشبه به) په ډول کارول شوي دي او په دويمه تشبيه کې بيا بدن (مشبه) او خاوره (مشبه به) په ډول راوړل شـوي دي چې د ادبي فنونو له مخې په دې بيت کې موکد محض تشـبيه کارول شـوې ده، ځکه توصيفي او اضافي ترکيب پکې نشته چې اضافي يا توصيفي موکده تشبيه دې پکې کارول شوي وي.

يا لکه په لاندې بيت کې چې ويلي يې دي:

په وحشـي د څــــــه خبر يې
چې دا څــــــه کوې په څه مرې (صابر، ۱۳۷۶: ۱۲۷)

په دې بيت کې شـــاعر د متکلم پر ځای خپل ځان راوړی دی او مقابل لوري ته وايي چې ته لکه د وحشـــي په څېر يې له هېڅ هم خبرتيا نه لرې، ځکه د دنيا له انسانانو څخه خبر نه يې چې دوی په دنيا کې څه کوي؟ بل دا چې دوی چې وژل کېږي دا په څه مري؟ نو ستا حال د وحشـــي په څېر دی. دلته مخاطب (مشبه) او وحشـــي (مشبه به) دی د دوی تر منځ نه کوم اضافي او نه توصيفي ترکيب شتون لري. د بيان له مخې دې ډول تشبيه ته موکد محض تشبيه وايي.

يا لکه په لاندې بيت کې چې ويلي يې دي:

هغه وی چــــې ته وحشي يـــې
ډېر ســــــــــاده يې ډېر وهمي يې (صابر، ۱۳۷۶: ۱۲۵)

پورتني بيت کې بيا هم شـاعر د غائب په توگه راغلی دی او مخاطب ته يې ويلي دي چې سـتا مثال لکه د وحشـــي په څېر دی، معنا دا چې مخاطب يې وحشـــي سره تشبيه کړی دی، نو دلته مخاطب انسان (مشبه) او وحشي (مشبه به) په توگه راغلی دی دا يې ولې تشريح کړی دی؟ ځکه يو خو مخاطب ډېر ساده دی په ډېر څه باندې نه پوهېږي، بل دا چې ډېر وهمي دی همېشه يې په

زړه کې وهم، شک او گمان وي؛ نو ځکه یې وحشـي سره تشبیه کړې ده. دا چې له ادبي فنونو له مخې په پورته بیت کې موکد محض تشبیه کارول شوې ده.

په بل ځای کې بیا په دې اړه وایي:

هر عالـــــــــم او فنکار ښه دی
هر یو گـــــــــل او گلزار ښه دی
چې غمجن د بـــــــــل په غم دی(صابر، ۱۳۷٦: ۱۲۳)

په پورته بیتونو کې عالمان او فنکاران د گل او گلزار سره تشـبیه شـوي دي شـاعر وايي، لکه څرنگه چې عالمان او فنکاران ښه دي داسې هر یو گل او هر گلزار هم ښه دی او بیا وايي: هر هغه انســـان چې د بل په غم باندې غمجن وي هغه تر هر چا ډېر ښـــه او محترم دی، نو دلته عالمان (مشبه) او گلان (مشبه به) په توگه راغلي. همدارنگه فنکاران (مشبه) او گلزار (مشبه به) په صفت راغلی دی او بیا غمجن انسان (مشبه) گل او گلزار (مشبه به) په ډول راغلی دی؛ په پورتنیو تشبیهاتو کې که پاملرنه وشي، نو هېڅ ډول اضافي او توصیفي ترکیب پکې نشته؛ بلکې د ادبي فنونو له مخې په پورتنیو بیتونو کې موکد محض تشبیه کارول شوې ده.

صاحب شاه صابر په بل ځای کې بیا په دې اړه وایي:

ته چې ژوند زده کـــــــــړې ژوندی شې
چې زمـــــا په شـــــــــــان سړی شې(صابر، ۱۳۷٦: ۱۲۱)

په پورته بیت کې صاحب شاه صابر مخاطب ته خطاب کړی او ورته ویلي یې دي: که دې د ژوند په هر اړخ باندې ځان پوهه کړ، نو ستا مثال دا سې دی لکه د ژوندي انسان په څېر او که دې پوهه نه کړ بیا نو دا سې یې لکه د مړي په څېر، د ژوند زده کړه یو هنر دی او د هنر د پېژند په اړه په یو ځای کې راغلي دي: "هنر د کلتور یوه برخه ده، چې د اجتماعي، شعور د اشکالو په مطالعه کې د توجه وړ دی"(زېور، ۱۳۹۷ل، ص ۱۷). نو ژوند هم د کلتور یوه برخه ده او په ټولنه کې په بېلا بېلو بڼو څرگندېدای او د خلکو توجو را جلب کوي، بل دا چې د ژوند په اړه دې پوهاوی تر لاسه کړ، نو بیا به د شاعر صابر په څېر شې. دلته مخاطب (مشبه) او متکلم صاحب شاه صابر یا شاعر

(مشبه به) دی چې د دواړو تر منځ هېڅ ډول اضافي او توصيفي ترکيب نشته؛ نو ويلای شم چې د تشبيه د ډولونو له مخې په پورته بيت کې موکد محض تشبيه کارول شوې ده.

يا لکه په لاندې بېلګه کې چې صاحب شاه صابر ويلي دي:

د وجوده مې چـــــــاپېره خوشبويي شوه
دا مې ته په خوا کــــې تېر شوې که بهار دی (صابر، ۱۳۸۹: ۱۱۳)

په دې بيت کې شاعر د پســـرلي هغه ښکلې او معطره خوشبويي د انسان له وجود سره تشبيه کړې ده شـاعر وايي زه نه پوهېږم چې زما له بدن څخه څرنګه خوشـبويي چاپېره شـوې ده؟ ايا ته مخاطب ته اشاره ده زما په خوا کې تېر شوې که نه دا خوشبويي د پســرلي له امله ده؛ نو په پورتني بيت کې مخاطب (مشـبه) او بهار (مشـبه به) دی چې يو بل سره تشـبيه شـوي دي د ادبي فنونو له مخې په پورتني بيت کې نه توصــيفي او نه اضــافي ترکيب شــته؛ بلکې موکد محض تشــبيه پکې کارول شوې ده.

په بل ځای کې بيا په دې اړه وايي:

ذرې، ذرې شي چې رڼا ته رسي لـــمر ته رسي
ستوري د سختو نه تېرېږي چې ســـحر ته رسي (صابر، ۱۳۸۹: ۱۲۲)

په پورتني بيت کې شاعر د هغو انســانانو يادونه کوي چې خپل ټول ژوند په خواري او محنت کولو کې تېروي؛ نو دغســې انســانان به حتماً د نړۍ په ســطحه يو ســتوری وي، لکه څرنګه چې ستوري د شپې لخوا ځمکې او د ځمکې کايناتو ته رڼا ورکوي همداسې انسان هم کله چې د نړۍ په سطحه ستايل شوی شخص ترې جوړ شي بيا نورو انسانانو ته خير رسوي، خو لوړې مرتبې ته رسېدل حتماً له ســختيو سره مقابله کولو سره تړاو لري. هر هغه انســان چې خواري کوي او تنګې ســختې په ځان تېروي حتماً به روښــانه راتلونکی ولري؛ نو دلته انســانان او خواريکښ خلک د ستورو سره تشبيه شوي دي چې انسانان (مشبه) او ستوري (مشبه به) په ډول راغلي دي. د تشبيه د ډولونو له مخې په دې بيت کې نه توصيفي او نه اضافي موکد تشبيه لري؛ بلکې موکد محض تشبيه پکې کارول شوې ده.

یا لکه په لاندې بیت کې چې ویلي یې دي:

درد د پرهـــــــــــر آینه و ځنډله
لکه سپرلی چې وي سینګار یې کاوه(صابر، ۱۳۸۹: ۱۳۳)

په دې بیت کې شــاعر د محبوب د زړه د درد په اړه ویلي دي چې لکه څرنګه چې انســان په آیینه کې وګوري او په کتلو سره یې زړه ته تسـلي ورځي همداســې چې سـپرلي کې انســانان ګلان ویني؛ نو بدن ته یې راحت او ارام موندل کېږي. دلته شــاعر دوه تشــبیه ګانې کارولې دي لومړۍ تشبیه کې درد (مشبه) او پســـرلی (مشبه به) دی. همدارنګه په دویمه کارول شوې تشبیه کې پرهر (مشبه) او سینګار (مشبه به) دی دلته په دې تشبیه ګانو کې نه اضافي او نه توصیفي ترکیبونه کارول شوي؛ بلکې د ادبي فنونو او د تشبیه د ډولونو پر اساس دې ډول تشبیه ته موکد محض تشبیه ویل کېږي.

په بل ځای کې بیا صاحب شاه صابر ویلي دي:

مــــا ته وایي چې زما په رضا ګـــــرځه
پوهــــــوم یې خو کـــــــافره نه پوهېږي(صابر، ۱۳۸۹: ۱۸۲)

په پورتني بیت کې شــاعر وایي زما معشــوقه ماته وایي چې زه چې درته څه وایم له هغې انکار مه کوه او زما خو ښه دا ده چې ته هر کار زما په خو ښه وکړې لکه څرنګه چې یې زه غواړم هغسې یې کوه، خو شــاعر بیا دلته ویلي دي چې زما معشــوقه کافره یا پټونکې ده، ځکه زه یې هره ورځ پوهوم خو هغه نه پوهېږي؛ نو په پورتني بیت کې محبوبه (مشبه) او کافره (مشبه به) په ډول کارول شوي دي د تشبیه د ډولونو له مخې دې ډول تشبیه ته موکد محض تشبیه ویل کېږي.

په بل ځای کې بیا صاحب شاه صابر ویلي دي:

د سپرلي له خـــــوابه دومره نصیب غـــواړم
چې د ګـــل شونډې پخپلو وینو سرې کـــــړم (صابر، ۱۳۸۹: ۲۰۲)

په پورتني بیت کې شاعر د ګل او سپرلي سره خبرې کوي او وایي چې زه له ګلانو څخه داسې سرخي او ښایست غواړم لکه څرنګه چې د انسان شونډې په وینو باندې سرې شوې وي؛ نو دلته

په دې بيت کې گل (مشبه) او محبوب (مشبه به) په ډول کارېدلي دي. همدارنگه دويمه تشبيه پکې بيا شونډې (مشبه) او وينې (مشبه به) دي چې د دواړو تر منځ مشترکه وجه سوروالی دی دا چې په پورتني بيت کې کوم اضافي او توصيفي ترکيب نشته؛ نو د تشبيه د ډولونو له مخې په دې بيت کې موکد محض تشبيه کارول شوې ده.

په بل ځای کې بيا په بله بېلگه کې وايي:

حيا مې لـــــکه وينه په رگـــــونو کې توده شي
احساس د بې وسۍ لکه گــــرمکې را چوکه شي(صابر، ۱۳۸۵: ۳۰)

په دې بيت کې هم دوه تشبيه گانې کارول شوې دي لومړی شاعر حياء د وينې سره تشبيه کړې ده او بيا احساس د گرمکو سره تشبيه شوی دی شاعر وايي: زما حياء دومره توده ده لکه د انسان په بدن کې په رگونو کې چې وينه توده وي، خو يو شی چې زه يې بې وسه کړی يم هغه بې وسي ده او دا داسې ده لکه گرمي چې کله ډېره شي او د انسان د وس او توان نه بهر شي؛ نو بيا پر انسانانو باندې گرمکې راخېژي زما احساس هم بې وسۍ سره مخ دی، نو دلته په دې بيت کې حياء (مشبه) وينه (مشبه به) په ډول کارول شوي دي. همدارنگه په دويمه تشبيه کې احساس (مشبه) او گرمکې (مشـبه به) په ډول راغلي دي؛ نو د تشـبيه د ډولونو له مخې چې په دې بيت کې نه اضـافي او نه توصيفي ترکيب شته؛ بلکې پر ځای يې موکد محض تشبيه کارول شوې ده.

يا لکه په لاندې بيت کې چې صاحب شاه صابر ويلي دي:

د هغه غـــــــرځنۍ غړې مې هغسې په زړه ده
لا هغسې مې فکر په کنجکو پسې گـــــــرځي(صابر، ۱۳۸۵: ۶۱)

په پورتني بيت کې شاعر د خپلې معشوقې د ښايست ستاينه کوي او وايي چې زما د محبوبې غړې لکه د غرځنۍ په څېر ده چې ماته ياده ده او زما فکر د کونجگو پسې اوس هم گرځي د هغې خيال کوي؛ نو دلته په دې بيت کې محبوبه د غرځنۍ سره تشبيه شوې ده چې له مخې يې محبوبه (مشبه) غرځنۍ (مشبه به) ده او په دې بيت کې نه اضافي ترکيب او نه هم توصيفي ترکيب شته؛ بلکې پر ځای يې موکد محض تشبيه کارول شوې ده.

## د څېړنې موندنې

د څېړنې په پايله کې لاندې موارد تر لاسه شوي دي:

۱. صاحب شاه صابر د هغه شاعرانو له ډلې څخه دی چې په خپلو شعرونو کې يې د تشبيه کارونې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.

۲. د نوموړي شاعر په شعرونو کې د موکدې تشبيه اړوند درې واړو ډولونو: اضافي موکده تشبيه، توصيفي موکده تشبيه او موکد محض تشبيه بيتونه پيدا او تشريح شوي دي.

۳. د موکدې تشبيه د ډولونو په کارولو کې صاحب شاه صابر په ډېر ماهرانه ډول د الفاظو اوډنه او ترتيب کړی دی چې لوستونکي ترې په اسانۍ سره تشبيه ډول معلومولای شي.

۴. لکه د نورو شاعرانو په څېر د صاحب شاه صابر د شعرونو اړوند ځينې بيتونه تحليل او تفسير ته اړتيا لري، بغير د کلمو له معنا کولو څخه ترې د تشبيه ډول معلومول ستونزمن دي، همدې موخې تر لاسه کېدو لپاره يې ټول بيتونه تحليل او تشريح شوي دي.

۵. صاحب شاه صابر په خپلو شعرونو کې ډېره ساده ژبه او ا سانه الفاظ کارولي دي، د کلمو د استعمال په برخه کې کومه پېچلتيا نه لري.

۶. وروستۍ موندنه دا ده چې د صاحب شاه صابر له شعرونو څخه راټول شوي بيتونه به د موکدې تشبيه او ډولونو په پېژندنه کې يوه لويه لاسته راوړنه وي او په دې برخه کې به شته خلاء يو څه راکمه شي.

## مناقشه

د صاحب شاه صابر په شعرونو کې موکد تشبيه سرليک لاندې موضوع چې تر اوسه پورې ليکوالو او څېړونکو پرې څېړنه نه وه تر سره کړې، د لومړي ځل لپاره زه په دې موضوع څېړلو باندې بريالی شوم. مګر د نوموړي شاعر د شعرونو په اړه په (۱۴۰۱) لمريز کال عنايت الله نوبهار (د صاحب شاه صابر په شاعرۍ کې انساني لاربښوونې) سرليک لاندې او عبدالجليل رحيمي په (۱۴۰۲) لمريز کال د (صاحب شاه صابر په شعرونو کې د انسان دوستۍ څېړنه) موضوعاتو باندې کار شوی دی. اما موږ په دې مقاله کې د ټاکل شوي شاعر په شعرونو کې د موکد تشبيه ډولونو لکه: (توصيفي،

سمبولیکي، تلمیحي، موکد محض او تشبیهي اضافت تشبیه اړوند بېلګې پلټلې، تحلیل او سپړنه یې شوې ده؛ نو ویلای شو چې زموږ څېړنه د پورتنیو لیکوالانو له لیکنو سره بشپړ توپیر لرونکې ده.

## پایله اخیستنه

د صاحب شاه صابر په شعرونو کې موکد تشبیه سرلیک لاندې موضوع په بشپړېدو سره دا پایله تر لاسه شوې ده چې صاحب شاه صابر د کوزې پښتونخوا د ملاکنډ د سیمې شاعر او لیکوال دی، تر دوکتورا پورې یې زده کړې کړې دي او د ژوند په دوام کې یې ګڼ شمېر شعري اثار لیکلي او پنځولي دي. چې دلته یې یو شمېر اثار او له شعرونو څخه د موکد تشبیه اړوند(تشبیهي، توصیفي، تلمیحي، سمبولیکي او موکد محض تشبیه سره تړاو لرونکي بیتونه راټول او تحلیل شوي دي. موکد تشبیه هغه تشبیه ده چې د مشبه او مشبه به سربېره د تشبیه وییکي (ادات) پکې نه وي راوړل شوي د یادې تشبیه هر ډول لومړی تعریف شوی او اړوند بېلګې یې همالته ښودل شوي دي؛ نو د څېړنې په پایله کې تر لاسه شوه چې د صاحب شاه صابر په شعرونو کې د موکده تشبیه اړوند ډېرې بېلګې شتون لري چې ګڼ شمېر یې په پورته ډول راوړل شوي دي.

## وړاندیزونه

۱. خپرندویه ټولنو ته مې وړاندیز دا دی چې د صاحب شاه صابر اثار دې په افغانستان کې چاپ او خپاره شي، ترڅو له دې لارې د پښتو ژبې او ادب مینه وال ترې دلته هم مستفید شي.

۲. د هېواد ټولو کتابتونونو مسئولینو ته مې وړاندیز دا دی چې په کتابتون کې دې د صاحب شاه صابر اثار هم ور اضافه کړي.

۳. د هېواد له شتمنو او بډایه سرمایه لرونکو مې وړاندیز دا دی چې د خپلې سیمې او ولایتونو اړوند دولتي کتابتونونو سره دې د کتابونو د اخیستلو په برخه کې هر اړخیزه همکاري وکړي چې له دې لارې د ولس ځوانه طبقه له مطالعې سره اشنایي پیدا او بلد شي.

## اخځلیکونه

ازمون، لعل پاچا .(۱۴۰۰ل). ادب تیوري. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

رحیمي، عبدالجلیل .(۱۴۰۲ل). د صاحب شاه صابر په شعرونو کې د انسان دوستۍ څېړنه (لېسانس دورې مونوګراف). کونړ: سیدجمال الدین افغاني پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځی پښتو ژبې او ادب څانګه.

رفیقي، عبدالروف .(۱۳۹۵ل). ویاړلي (پنځم ټوک). کابل: اسد دانش مطبعه.

زېور، زېورالدین .(۱۳۹۷ل/ ۲۰۱۸م). د پښتو ادبیاتو تاریخ (دویم چاپ). جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه

صابر، صاحب شاه .(۱۳۸۵ل/ ۲۰۰۶م). قامتونه قیامتونه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

صابر، صاحب شاه .(۱۳۷۴ل/ ۱۹۹۵م). په پښتو ادب کې تحقیق او تنقید (علمي اثر). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

صابر، صاحب شاه .(۱۳۸۹ل/ ۲۰۱۰م). د صاحب شاه صابر کلیات. سمون، راټولونه او سریزه د ذبیح الله شفیق په زیار. کابل: اسد دانش مطبعه.

صابر، صاحب شاه .(۱۳۹۴ل/ ۲۰۱۵م). د پښتو شاعرۍ په وده کښې د تنقید کردار. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

مسلم دوست، عبدالرحیم .(۱۳۸۸ل). خوږه ژبه. پېښور: عنایت کتاب پلورنځی.

ناګار، فضل ولي .(۱۴۰۱ل). معاني. جلال آباد: میهن خپرندویه ټولنه.

نوبهار، عنایت الله .(۱۴۰۱ل). د صاحب شاه صابر په شاعرۍ کې انساني لارښوونې (لېسانس دورې مونوګراف). کونړ: سیدجمال الدین افغاني پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځی پښتو ژبې او ادب څانګه.

همکار، محمد ابراهیم .(۱۴۰۳ل). کره کتنه. جلال آباد: هاشمي خپرندویه ټولنه.

همکار، محمد ابراهیم .(۱۳۹۸ل). بیان پوهنه. جلال آباد: همکار خپرندویه ټولنه.

همکار، محمد ابراهیم .(۱۳۹۱ل) قافیې فن (شپږم چاپ). جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

هېوادمل، زلمی .(۱۳۷۹ل/ ۲۰۰۰م). د پښتو ادبیاتو تاریخ. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

# The Emphatic Simile in the Poetry of Sahib Shah Saber

Hayatullah Hamid

Master's Student, Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Nangarhar University

hayathamid500@gmail.com

## Abstract

Sahib Shah Sabir is one of the poets who has used symbols, similes and extensively in his poems. In this article, the introduction of sahib shah Sabir, his works, the introduction and types of emphatic simile, and the verses from sahib shah sabir’s poems in which emphatic similes are used have been collected and explained. The value of the selected research lies in the fact that the examples of emphatic similes are relevant to the lovers of the Pashto language and literature, The problem that previously existed in this regard is that writers and researchers have not conducted research in this field so far, which is a problem in itself. In view of this gap, this topic has been worked on. The purpose of the research is to increase the examples of emphatic similes in literature. The descriptive – analytical method of library research was used for the study. First, examples related to the topic were searched in the poems of sahib shah Sabir, and then they were applied to the types of emphatic similes, which to some extent also has a comparative form. The result of the study was that there are many examples of emphatic similes and types in the poems of sahib shah Sabir, a number of which are presented here.

**Keywords:** works, sahib shah saber, poems, metaphor and its types.

# د ګړني او لیکني ادب د برید پولو نوي پیوندونه

یاسر پاچا سادات

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت علمي غړی

yasarpachasadat@gmail.com

## لنډیز

نن سبا د علومو په هره برخه په ځانګړې توګه د ټولنیزو علومو په ځینو برخو کې د پام وړ ټړښتونه تر سترګو کېږي، په دغه لړ کې د ګړني او لیکني ادب ترمنځ هم د پام وړ نوي پیوندونه رامنځ ته شوي دي. که چېرې د ګړني او لیکني ادب ژبنیز او محتوایي خواوو ته کتنه وکړو، نو دغه ورته والی په کې له ورایه څرګندېږي؛ دغه ډول ورته والي یو طرفه نه، بلکې دوه اړخیز دي، څکه ځینې وختونه لیکلي ادبیات په محتوایي لحاظ له ګړني ادب څخه ډېر توکي، لکه متلونه، لنډۍ، ولسي اصطلاحات، محاورې، تکیه کلامونه، رمزونه او نور را اخلي او ډېر کله بیا ګړنی ادب په ژبني او معنوي لحاظ له لیکني ادب څخه ډېر زیات اغېزمنېږي او نوې مفکورې په ځان کې رانغاړي، په کومو چې په دې څېړنیزه مقاله کې بحثونه شوي دي.

د ګړني او لیکني ادب وروستي ټړښتونه د پام وړ دي، خو بیا هم په دې برخه کې کوم کار نه دی شوی. همدې اړتیا ته په کتو مې د ګړني او لیکني ادب وروستي ټړښتونه په هر اړخیز ډول وڅېړل او جوته شوه چې د ادب دواړو ډولونو یو پر بل ژورې اغېزې کړې دي. په دې لیکنه کې له تحلیلي – تشریحي میتود کار اخیستل شوی دی.

**کلیدي کلمې:** فولکلور، ګړنی ادب، لیکني ادب او ورته والي.

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمدٍ و علی اله وصحبه اجمعین اما بعد!

ډېر کله به مو اورېدلي وي، چې په علومو کې د نویو تجربو په منځ ته راتګ سره د دوی ترمنځ ځینې برید پولې نړېږي او نوي پیوندونه پیدا کوي او کله بیا د نویو تجربو په منځ ته راتګ سره د دغو علومو ترمنځ دومره پراخې فاصلې ایجادېږي، چې نوې مفکورې او مضامین رامنځ ته کوي. دلته د ګړني او لیکني ادب ترمنځ اړیکه په لومړۍ قضیه باندې را څرخي، یعنې په ژبني او محتوایي لحاظ د ګړني او لیکني ادب تر منځ برید پولې سره ډېرې نږدې شوې دي.

پورته خبرو ته په پام، ځینې پوهان او څېړونکي په دې فکر دي، چې د دغو تړښتونو د ژورتیا له مخې به یو وخت د ادبیاتو دغه دوه ډولونه یو په بل کې مدغم شي، خو خبره داسې نه ده، ځکه د لیکلي او نالیکلي ادب فورمونه خپل ځانګړي قالبونه او ډولونه لري، چې له مخې یې د ادب دغه دوه ډولونه یو په بل کې ادغام کېدای نه شي. د ګړني او لیکلي ادب د تړښت او ادغام همدغو خبرو ته په پام مې لازمه وبلله، څو «د ګړني او لیکني ادب د برید پولو نوي پیوندونه» تر عنوان لاندې مقاله ولیکم او موضوع په ښه توګه روښانه کړم.

دغه راز د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې دا څېړنه د یو لړ پخو او مؤثقو دلایلو پر بنا د ګړني او لیکني ادب ترمنځ ګډې خواوې او ځانګړنې راپېژني، ځکه اوسمهال د ګړني ادب له ډولونو څخه په لیکلي او د لیکلي ادب له ځینو خواوو څخه په نالیکلي ادب کې ډېره استفاده کېږي، چې دې چارې د ادب د دغو دوو ډولونو تر منځ یو ډول تړښت رامنځ ته کړی دی، خو له بده مرغه (د شفاهي او لیکلي ادب ترمنځ) د دغو ګډو ځانګړنو یادونه د ډېرو څېړونکو له پامه غورځېدلې ده، چې په دې لیکنه کې یې هر اړخیزه سپړنه شوې ده.

همداشان باید یادونه وکړم چې د شفاهي او لیکلي ادب ځینې ځانګړنې دومره سره نږدې شوې دي، چې ځینې لیکوال یې بېلول هم مناسب نه بولي، په دې څېړنه کې ثابته شوې، چې د شفاهي او

لیکني ادب ترمنځ تړاو شته، خو دغه تړښت په دې کچه هم نه دی، چې موږ دې دواړه (ګړنی او لیکنی) ادب یو وبولو او ترمنځ یې له شته توپیرونو سترګې پټې کړو، چې دا بحثونه د دې څېړنې اهمیت په ګوته کوي.

دا څېړنه یو لړ ځانګړې اصلي او فرعي موخې هم لري، چې ځینې مهمې یې دا دي:

۱) د شفاهي او لیکلي ادب ترمنځ د نویو پیوندونو/ تړښتونو هر اړخیزه څېړنه، ځکه اوس مهال د ګړني او لیکني ادب د ځانګړنو ترمنځ پراخ واټونه رالنډ شوي دي.
۲) د ګړني او لیکلي ادب د ځینو ګډو ځانګړنو سربېره د ځینو توپیرونو په ګوته کول.
۳) د ګړني ادب د پېژندنې په برخه کې د پخوانیو تعریفونو تر څنګ د یوه نوي تعریف وړاندې کول.

په دې علمي – څېړنیزه مقاله کې لاندې پوښتنو ته ځواب ویل شوی دی:

۱) د شفاهي او لیکلي ادب ترمنځ د بېلښت بنسټیزې کرښې څو دي؟
۲) د شفاهي او لیکني ادب ترمنځ اوسنۍ ګډې ځانګړنې کومې دي؟
۳) لیکني ادب پر شفاهي ادب باندې کومې اغېزې ښندلې دي؟

د دې څېړنې په پای کې د څېړنې موندنې، اړوند وړاندیز او پایله هم راوړل شوې ده او له ۱۵ غوره مأخذونو څخه کار اخیستل شوی دی.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې لومړی ستونزه مشخص شوې او له اړینو شرحو وروسته یې مطلوبه پایله ترلاسه شوې ده، نو دې خبرو ته په پام سره ویلای شو، چې د دې مقالې په بشپړولو کې له تحلیلي - تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی او د څېړنې ډول یې مروري دی.

په دې څېړنه کې له ۱۵ مأخذونو څخه ګټنه شوې ده او له هر مأخذ څخه مې د خپلې موضوع په تړاو د کار مواد اخیستې دي او کوښښ شوی چې موضوع را څخه ډېره اوږده نه شي، بلکې د خپلو حدودو په دایره کې وڅېړل شي. ځینې مسایل چې جدي وو، نو د هغې د حل لپاره لازم دلایل او اوږدې تبصرې راوړل شوي دي، تر څو د موضوع حق په ښه ډول ادا شي.

## اصلي موضوع

پښتو ادب په لومړۍ سر کې پر دوو برخو (گړني او ليکني ادب) باندې وېشل کېږي. د ليکني ادب اکثره فورمونه له نورو ژبو، لکه عربي، اردو او جاپاني ژبو څخه پښتو ژبې ته لار موندلې ده، چې دا ټول شعري فورمونه د سېلاب –تونيک جوړښت له مخې هماغه قوانين مني، چې د پښتو د گړني ادب د نظمونو پر بېلابېلو فورمونو تطبيقېږي (يون، ۱۳۷۷: ۱).

د گړني او ليکني ادب دا دوه ډولونه له شکلي اړخ ورها خوا په معنوي لحاظ هم يو له بل سره ورته والي لري او دا ورته والي يې اوسمهال نور هم زيات شوي دي، ځکه که دا خبره ومنو چې ژبه، ادب او ټولنه سره تړلې پديدې دي، نو بيا له دې خبرې هم انکار نه شو کولای، چې ژبه او ادب دې له ټولنيزو بدلونونو سره ـ سره بيا هم جامد او په خپل حال پاتې شي، ځکه ژبه او ادب له ټولنيزو بدلونونو سره سم تغير کوي. همدې خبرو ته په پام د شفاهي ادب په پخوانۍ تيوري کې اوسمهال ځينې نوي بدلونونه تر سترگو کېږي، چې دا چاره د گړني او ليکني ادب پخوانيو بريد پولو ته يو نوی پيوند ورکوي.

د گړني ادب په اړه ويل کېږي، چې گړني ادبيات؛ هغو ادبياتو ته ويل کېږي، چې په کليو او بانډو کې د ښځينه وو او نارينه وو له لوري په منظومه او يا هم په منثوره بڼه توليد شوي وي او هنري ارزښت ولري (وفا، ۱۳۹۲: ۱۸). يا دا چې گړني ادبيات د ولس په غېږ کې د ولس له هنري تجربو څخه رامنځته شوي وي او د يوه ځانگړي ولس د ذوق، شوق، تخيلي او فکري تجربو څرگندونه کوي (ازمون، ۱۳۹۷: ۲۳۳).

د گړني ادب په اړه به دا ډول تعريف تر يوه بريده سم وي، خو د گړني ادب په اړه ډېر نور داسې تعريفونه هم شته دي، چې د ياد ادب د ښې پېژندنې په اړه پوښتنې را ولاړوي. يوه خبره، چې تر دې دمه د گړني ادب په اړه کېده او لا هم کېږي، دا ده چې د گړني ادب ليکوال به معلوم نه وي. دا خبره تر ډېره بريده سمه ده، چې د گړني ادب د ځينو فورمونو ويونکي تر دې دمه معلوم نه دي او د عام ولس مال گڼل کېږي، مگر اوس مهال موږ او تاسې وينو، چې گړنی ادب د فردي کېدو لور ته روان دی او په دغه برخه کې د مشخصو اديبانو له لوري فردي او اگاهانه هڅې کېږي. زموږ ډېرو اديبانو او ليکوالانو په دې برخه کې قلم ازمايي کړې او لا يې هم کوي، لکه د چاربيتو په اړه

د عبدالوحيد ټپکدار، همېش خليل او نورو ځانګړي آثار يادولای شو. د دې خبرې د لا وضاحت په اړه يو ليکوال ليکي: «زموږ په هيواد کې ډېر داسې معلوم کسان تېر شوي او اوس هم شته، چې ګړني ادبيات ايجادوي. په ځينو منظومو شفاهي آثارو کې د دوی نومونه يا تخلصونه هم شته دي»(الهام، ۱۳۹۹: ۸).

دغه راز له خاص منظوم ګړني ادب ښخه وروسته، په عام منظوم ګړني ادب کې هم د ځينو ليکوالو او ادبپالو هڅې يادولای شو، چې يوه ښه بېلګه يې د دکتور يارمحمد يزال «د کابل غاړې» ادبي تخليقات دي. دغه تخليقي اثر لا تر اوسه نه دی چاپ شوی او هيله ده، چې چاپ شي. دغه شان د لنډيو په اړه هم مشخصو ليکوالو قلم ازمايي کړې او نوې لنډۍ يې تخليق کړې دي، مګر که اوس هم د دغو او ځينو نورو دلايلو له مخې فولکلوري ادب ته داسې تعريف وټاکو، چې ليکوال به يې معلوم وي، نو دا به مو د پښتون ولس د زرګونو کلونو هغې فولکلوري پانګې سره جفا کړې وي، چې لا يې هم ليکوال معلوم نه دي او د عام ولس مال ګڼل کېږي، نو د داسې تناقص د حل لارې لپاره څه کول په کار دي؟

دغه راز له پورته پوښتنې سره په تړاو او وضاحت، ځينې ليکوال په ګړنيو ادبياتو کې فردي هڅې او پنځونې مصنوعي فولکلوري ادبيات بولي، خو دا خبره تر ډېره سمه نه برېښي، يا په بل ډول که د همدغو ليکوالو فولکلوري څېړنې له نظره تېرې کړو، نو هلته يې فولکلوري ادب د ملي ادب په نوم هم ياد کړی او وړانديز يې دا وي، چې زموږ ملي شاعران بايد د خپلې ژبې په دغو فورمونو کې شاعري وکړي، خو کله چې ملي شاعر د همدغه وړانديز پر بنا په پښتو فولکلوري فورمونو کې شاعري پيل کړي، بيا يې مصنوعي بولي، ولې؟

د ولې ځواب د لاندې کرښو په ليکلو سره جوتولای شو، ځکه په ليکلي ادب کې هم درې ډوله شعوري، لا شعوري او تحت الشعوري شاعري کېدای شي، چې د شاعرۍ دغه ډولونه په فولکلوريک ادب کې هم شته، چې دلته به يې په لنډون سره يادونه وکړو:

۱ـ شعوري (اګاهانه) شاعري هغه ده، چې شاعر هر وخت د شعر د ليکلو په خيال کې وي، فکر کوي، مضمون او موضوع لټوي. دغه ډول شاعري د احساساتو، جذباتو او عواطفو تر تاثير لاندې نه وي او په ارادي توګه ترسره کېږي.

۲ـ ناشعوري (ناگاهانه) شاعري هغه ده، چې د شاعر ذهن ته کومه مفکوره یا خیال ورشي او هغه سملاسي د ادبي فورمونو په يو چوکاټ کې ځای پر ځای کړي. دغه ډول شاعري د احساساتو، عواطفو، جذباتو او خیالاتو تر تاثیر لاندې په غیر ارادي توگه تر سره کېږي.

۳ـ تحت الشعوري یا ارثي شاعري: هغه ډول شاعري ده، چې د وراثت تر اغېزو لاندې تر سره کېږي. له وراثت څخه موخه ټول هغه رواني او بدني مشخصات دي، چې د نسل د تولید له لارې له مور او پلار (والدینو) څخه اولادونو ته لېږدول کېږي. د دې ډول شاعرۍ ښه بېلگه هغه کورنۍ دي، چې د کونړ ولایت د اسمار ولسوالۍ د ډب خوړ په سیمه کې اوسېږي، چې ټول یې له یوې مخې ولسي شاعران دي (سادات، ۱۳۹۷: ۱۹).

پورتنۍ موضوع نوره روښانه شوه او په دې توگه یې رالنډوو: هغه لیکوال، چې په فولکلوري ادبیاتو کې په شعوري توگه فردي هڅې او پنځونې کوي، هغه باید مصنوعي فولکلوري ادبیات ونه بولو، بلکې د گړني ادب هغه خوا یې بللای شو، چې په شعوري توگه رامنځ ته شوي دي، دغه ډول (شعوري) شاعري په گړني ادب کې هم هغومره ارزښت لري، څومره یې چې په لیکني ادب کې شعوري شاعري لري.

بل بحث چې د گړني ادب په تیوري کې یې بدلون لیدلی او انفرادي اړخ لري، هغه د لوستي او نالوستي خبره ده. د گړني ادب په تعریف کې تل دا خبره کېږي، چې دغه ادبیات د نالوستو او بې سوادو خلکو د اذهانو محصول دی، خو حقیقت دا دی، چې په گړني ادب کې له ډېر پخوا څخه د نالوستو ترڅنگ لوستو او با سوادو هم شاعري کړې ده، مثلاً که تاسو اکثره بگتۍ له نظره تېرې کړئ، نو په بگتیو کې په ډېر ښکلي او لوړ انداز سره د الله جل جلاله حمد او ثنا بیان شوې ده، معنا دا چې اکثره بگتۍ د نالوستو تر څنگ د لوستو خلکو له خوا هم ویل شوې دي او ویونکي یې معلوم کسان دي، دغسې د گړني ادب نور فورمونه هم در واخله. اوس مهال د گړني ادب شاعري ډېره پیکه شوې او نږدې له نشت سره برابره ده، ولې بیا هم زموږ ځینې لوستي لیکوال او شاعران په شعوري توگه دا هڅه کوي، چې په دې برخه کې قلم ازمایي وکړي او دغه ملي ادب ته د ژوند نوې ساه ورکړي، چې دا کار هم د گړني او لیکلي ادب ترمنځ هغه سرحد له منځه وړي، چې وایي گړنی ادب د نالوستو اذهانو محصول دی.

که لږ متوجه شو، نو د پورته بحثونو په پايله کې يوې بلې مناقشې ته لاړ پرانېستل کېږي او هغه دا چې د يوې يواځينۍ مفکورې (ګړني ادب) د پېژاند لپاره په يوه وخت کې دوه تعريفونه رامخې ته شول، چې دواړه تعريفونه د خپل اصالت او ثقه والي د اثبات پاخه ثبوتونه لري:

۱ـ ولسي ادبيات هغو ادبياتو ته ويل کېږي، چې په ټولنه کې د نالوستو خلکو له خوا په غير شعوري توګه رامنځ ته شوي او ليکوال يې معلوم نه وي.

۲ـ ولسي ادبيات هغو ادبياتو ته ويل کېږي، چې په ټولنه کې د لوستو خلکو له خوا په شعوري توګه رامنځ ته شوي او ليکوال يې معلوم وي.

د يوې ځانګړې اصطلاح لپاره د دوو بېلابېلو او متضادو تعريفونو وړاندې کول، خپله د يادې اصطلاح په پېژاند کې لوستونکي له مغالطې سره مخامخ کوي، خو د دواړو تعريفونو د محتوا سموالی بيا د پورته بحثونو په وجود کې ثابت شو، نو اوس لازمه ده، چې د ولسي ادب د دغو دواړو تعريفونو لپاره يو درېيم تعريف رامنځ ته کړو، چې د دواړو تعريفونو ګډ ځواب ووايي او ياده ربړه په نسبي توګه حل کړی شي، نو ويلای شو: ولسي ادبيات هغو ادبياتو ته ويل کېږي، چې په ټولنه کې د نالوستو او لوستو خلکو له خوا په شعوري او غير شعوري توګه رامنځ ته کېږي او ليکوال يې کله مشخص او کله هم غير مشخص وي.

که پورته تعريف لږ نور هم جامع او عمومي کړو، نو په دې توګه يې وړاندې کولای شو: ولسي ادبيات هغو ادبياتو ته ويل کېږي، چې د عامو، خاصو، لوستو او نالوستو خلکو له خوا په شعوري يا غير شعوري توګه په ولسي فورمونو کې رامنځ ته شوي وي. (۱۵: شخصي يادښت)

په زغرده ويلای شم، چې دغه تعريف، په ټوله کې زموږ د لوړو بحثونو يو ګُلي انځور وړاندې کولای شي او د دغه تعريف په وړاندې کولو سره نور د يوې ځانګړې اصطلاح لپاره د دوو تعريفونو د وړاندې کولو طرحه په نسبي توګه حل شوه. د دغو بحثونو په وجود کې دا هم ثابته شوه، چې ګړني ادبيات، لکه ليکني ادبيات مشخص ليکوال هم درلودای شي او د ليکني ادب غوندې په کې لوستي شاعران هم شاعري کولای شي، چې دا چاره د شفاهي او ليکلي ادب ترمنځ ځينو بېلښتونو ته نوي تړښتونه ورکوي.

کله چې د شفاهي او لیکني ادبیاتو د برید پولو د پیوند بحث کوو، نو لږ تر لږه دغه بحث په دوو خواوو کې تر څېړنې لاندې نیولای شو، چې یو د شفاهي او لیکني ادبیاتو محتویات او بل یې هم شکلیات دي، البته دلته له شکلیاتو څخه موخه ژبنی خواوې دي. دا خو ښځي ثابته خبره ده، چې لیکلي ادبیات د شفاهي ادبیاتو د پراختیا په پایله کې منځ ته راغلي دي، معنا دا چې له وخت او زمان سره سم کرار ـ کرار لوستو، با سوادو او ښاري خلکو د فولکلور او فولکلوري ادبیاتو شته بڼې او محتوا ته بدلون ورکړی او له هغو څخه یې په الهام اخیستنې اوسني لیکلي ادبیات رامنځ ته کړي دي، د بېلګې په توګه که اوسنیو داستاني ادبیاتو (لنډې کیسې، ناول، رومان او...) ته ځیر شو، دا اصلاً د هماغو فولکلوري کیسو، نکلونو او اسطورو پرمختللې بڼه یادولای شو، چې د نوو تجربو په پراختیا سره یې معاصره بڼه خپله کړې ده (لېوال، ۱۳۹۶: ۲۳۹۹). معنا دا چې په انساني اړتیاوو پورې اړوندې پدیدې په لومړیو کې د فولکلور په بڼه رامنځ ته کېږي او دغه رامنځ ته شوې مادي او معنوي تجربې د وخت له تېرېدو سره بشپړېږي او علمي بڼه خپلوي. که د لا وضاحت په موخه د علومو په برخه کې طبابت ته نظر وکړو، نو طبابت هم لومړی عنعنوي بڼه لرله، خو د همدغه عنعنوي طب کرار ـ کرار پراختیا، نن په طبابت کې یو انقلاب رامنځ ته کړی دی.

پورته خبرو ته په پام به لومړی دا پوښتنه ځواب کړو، چې ایا اوس مهال په معنوي لحاظ د شفاهي او لیکني ادب ترمنځ کوم پیوند او تړاو شته او که نه؟

که په معنوي لحاظ د فولکلوري ادب پخوانۍ محتوایي بڼې ته ځیر شو، نو هلته د فولکلوري ادب عمده محتویات ولسي او کلیوالي رنګونه دي، هلته فولکلوري ادب د پرګنو د میتولوژیکې ایډیالوژۍ، اخلاقي معیارونو، عنعنوي اړخونو او محرومیتونو یو ډول انعکاس دی، لکه په لاندې لنډیو کې:

مـــــورې ماشوم له مې ورنه کړې

زه چې ماشوم را لویوم زړه به شمه (۱۵: شخصي یادښت)

جـــــانانه چېــــــرته رانه لاړې

زه خو زيارت په زيارت ځم تا لټومه (پتمن، ۱۴۰۱: ۱۱۱)

***

کـــه جنت غواړې عبادت کړه

بې عبادته موندی نه شې جنتونه (پتمن، ۱۴۰۱: ۱۱۳)

ليکني ادبيات هم تر ډېره بريده پر همدغو موضوعاتو را څرخي، ولې په موضوعاتو کې يې يو څه نوښت او معاصريت پروت وي. ورځني او په اصطلاح ګرم موضوعات، د هنريت په انداز کې ټولنې ته وړاندې کوي او د ارايې ژبه يې د هنريت، بلاغت او ښکلا په رنګينيو سنبال وي، مګر اوس که د لوستو له لوري په شعوري توګه جوړو شويو ګړنيو ادبياتو ته نظر وکړو، نو هلته هم په موضوعاتو کې نوی والی، معاصريت او نوښت ليدل کېږي، چې په موضوعي لحاظ دا چاره د ګړني او ليکني ادب ترمنځ يو تړښت رامنځ ته کوي، لکه:

د مسينجر غـــمی دې شين دی

اول سلام وکړم که زړه در ولېږمه

***

د مسينجر غمـــی يې شـــــين دی

اوس زړه نازړه يمه چې څه ور ولېږمه

***

د زنې خــــال دې پرنـــــګی دی

ځکه دې پلار په انګليسي سلام کوينه (پتمن، ۱۴۰۱: ۱۲۶).

په پورته لنډیو کې په موضوعي او محتوايي لحاظ یو ډول د عصري وسایلو یادونه وینو، یعنې په دغو لنډیو کې په معنوي لحاظ معاصریت شته، چې په موضوعي لحاظ له لیکنیو ادبیاتو سره یو ډول تړاو پیدا کوي.

دغه راز اوس مهال په فولکلوري آثارو کې د شکل او محتوا تر څنگ احساسات، تأثرات او د زړه د دردونو او هیلو ژور انعکاس هم ځای لري (شینواری، ۱۳۹۹: ۷۱) چې له لیکني ادب سره جوته اړیکه پیدا کوي.

په اوس وخت کې د شفاهي او لیکني ادب ترمنځ د برید پولو پیوندونه دومره سره نږدې شوي، چې ځینې لیکوال یې بېلول هم مناسب نه بولي، مثلاً یو لیکوال لیکي: «د پښتو په شعري صنفونو کې د ولسي او غیر ولسي ادب ترمنځ توپیر کول، په یو ډول د پښتو د شعر دنیا نیمول دي. دغه نیمول مناسب نه ښکاري.» (غضنفر او منلی، ۱۳۹۰: ۹۸).

پورته نظر یو څه د تأمل وړ ښکاري؛ سمه ده چې اوسمهال د شفاهي او لیکني ادب ترمنځ یو ډول تړاو شته، خو دغه تړښت په دې کچه هم نه دی، چې موږ دې دواړه (شفاهي او لیکلي ادب) یو وبولو او ترمنځ یې له موجوده توپیرونو څخه سترگې پټې کړو. بله دا چې په پښتو شاعرۍ کې د شفاهي او لیکني ادب توپیرول، د پښتو شعر نیمول نه دي، بلکې دا چاره د پښتو د شعر په رنگارنگۍ او بډاینې دلالت کوي.

تر دې ځایه مو په دې خبره بحث وکړ، چې لیکلی ادب پر شفاهي ادب باندې کومې اغېزې کړې؟ او څومره یې موضوعات یا محتویات، په معنوي لحاظ له لیکني ادب څخه اغېزمن شوي دي؟ اوس به په دې خبره بحث وکړو، چې اوسمهال لیکنی ادب له گړني ادب څخه څومره اغېزمن او برید پولې یې تر کومې کچې سره پیوند شوې دي؟ ځکه موږ، چې کله د شفاهي او لیکني ادب د برید پولو ترمنځ د تړښت یادونه کوو، نو دغه تړښتونه یو اړخیز نه، بلکې دوه اړخیز دي، ځکه اوسمهال په لیکلو ادبیاتو کې هم د شفاهي ادب له توکو څخه په پراخه پیمانه کار اخیستل کېږي، لکه: په ناول، لنډه کیسه، طنز او نورو فورمونو کې د متلونو، لنډیو، ولسي اصطلاحاتو، محاورو، تکیه کلامونو، رمزونو او کنایو او نورو پښتني دودونو، پراخه کارونه زموږ ادعا نوره هم په ثبوت رسوي.

پښتو کيسه ليکونکی سيد راحت زاخېلي په خپلو لنډو کيسو کې ډېر زيات متلونه په مناسبه توګه کارولي دي، د بېلګې په توګه: نه کار، نه روزګار او ډوډۍ څلور په شمار يا ړوند له خدای نه څه غواړي، دوه سترګې او نور. دغه راز عبدالکافي اديب هم د خپلو کيسو په يوه ټولګه «کاږه مخونه» کې ځای پر ځای متلونه کارولي، د دغې ټولګې په «دا څه وشو؟» کيسه کې د «څه ژرنده ورانه او څه دانې لمدې» (خاورې، ۱۳۹۹: ۴۵۲) دا متل يې د بېلګې په توګه يادولای شو.

په پورتني متن کې ليدل کېږي، چې سيد راحت زاخېلي او عبدالکافي اديب، چې دواړه معاصر ليکوال دي، په خپلو داستاني ليکنو کې يې په پوره ظرافت سره ډېر متلونه کارولي دي، چې موږ يې دلته (مشت نمونه يې خروار) يادونه وکړه. د سيد راحت زاخيلي له لوري ځينې استعمال شوي نيمه منظوم متلونه ډېر عام او مشهور نه دي، ولې بيا هم د پښتنو په ځينو سيمو کې د استعمال موارد لري، لکه دا متل چې وايي: (نه کار، نه روزګار او ډوډۍ څلور په شمار) دغه متل ډېر عام نه دی، ولې بيا هم زموږ هغه ادعا ثابتولای شي، چې له شفاهي ادب څخه په ليکني ادب کې هم ګټه اخيستل کېږي.

د لرې پښتونخوا د کيسې پياوړې ليکواله زيتون بانو هم ډېر کله په خپلو لنډو کيسو کې متلونه کارولي، يوه بېلګه يې په کيسه کې دا ډول راوړې ده: (...و دې کته کنه، چې درته وايمه چې «بغير زما نه يې په والله چې شل نه کړې» نو هغه ....) (بانو، ۲۰۱۵: ۴۱۱).

ليکوالې په لنډه کيسه کې د پښتو يو مشهور متل (له ما پرته به يې شل نه کړې) راوړی دی. دغه متل د پښتنو په بېلابېلو سيمو کې ګڼ نور بديل شکلونه هم لري، چې ليکوالې په دغه بڼه راوړی دی.

همدا شان ماسټر عبدالکريم بيا په لنډو کيسو کې ډېرې لنډۍ راوړې دي، چې ټولې راوړل شوې لنډۍ يې له متن سره نېغ پر نېغه معنوي تړون لري، لکه دی خپله يوه لنډه کيسه «د يتيم اختر» په دې لنډۍ سره پيلوي:

د مسافرو به څـــه حــــال وي

يا به نهر وي يا به سپو خوړلي وينه (خاورې، ۱۳۹۹: ۴۵۴).

له متلونو او لنډيو ورهاخوا، اصطلاحات او محاورې هم د ولسي ادب د يوه ژانر په توگه په پښتو لنډو کيسو او ناولونو کې کارول کېږي او ځينو کيسه ليکوالو، خو داسې ډېر څه کارولي، چې په يوه کيسه کې يې لس پنځلس اصطلاحات او محاورې هم شته دي، د بېلگې په توگه ماسټر عبدالکريم په خپلو لنډو کيسو کې اصطلاحات او محاورې ډېرې کارولې دي. نوموړي د شفاهي ادب له اصطلاحاتو او محاورو څخه په ډېره ښکلې بڼه په داستاني ادبياتو کې گټه اخيستې ده او د دواړو (شفاهي او ليکني) ادبياتو ترمنځ يو ښکلي معنوي تړون رامنځ ته کړی دی. د دغه ليکوال په يوه لنډه کيسه «ړنده پاچايي» کې لاندې محاورې راغلي دي:

د اسمان ستوري ښودل (په يو چا سخته او کړاو راوستل)، د مستۍ نه چاودل (ډېر زيات خوشحالېدل)، نوبتونه غږېدل (حکم چلېدل)، ساگ سيلۍ وړل (خواري بې ځايه تلل)، په تنگ وخت کې لاس کول (په سختۍ کې له چا سره مرسته کول)، په سترگو کې نبغ نبغ کېدل (مخې ته را پورته کېدل)، سترگه نه سول (د چا پروا نه کول)، بډې وهل (يو کار ته چمتو کېدل)، بريره لمر ته سپينول (خپل عمر بې ځايه تېرول) او داسې نور (خاورې، ۱۳۹۹: ۴۵۷).

د گړني ادب د پورته بېلگو، لکه: متل، لنډۍ، اصطلاح او نورو فورمونو له راوړلو څخه هدف دا دی، څو جوته کړو، چې په ليکلو ادبياتو کې په پراخه پيمانه د شفاهي ادب له معنوي پانگې څخه هم کار اخيستل شوی دی، خو يو ليکوال په دې اړه ليکي: زموږ په گڼو کيسه ييزو مکالمو کې د خبرو اترو د طبيعي ښودولو لپاره د محاورو، متلونو او عادي غږېدا د داسې نورو ځانگړنو په استعمال کې افراط کېږي (غضنفر، ۱۳۹۲: ۸۲).

په دې برخه کې د ليکوال نظر تر يوه بريده سم دی، ځکه د ليکلي ادب په ډېرو کيسو کې وينو، چې په هره مکالمه کې يو متل يا محاوره کارېدلې وي، چې دا په کيسه ييزو مکالمو باندې يو ډول بوج باروي، مگر له گړني ادب څخه په ليکني ادب کې سمه او پر ځای گټنه ادب ته خاصه ښکلا ورکوي. زموږ د گړني ادب هره برخه دومره خوږه او پياوړې ده، چې حتی بهرني ليکوال هم په خپلو کيسو کې زموږ له ملي او فولکلوري کيسو څخه کار اخلي، د بېلگې په توگه د ولټر يوه کيسه «سپين او تور» نومېږي، چې (د کندهار شاهزوی) په نامه هم مشهوره ده. دا يوه افسانوي کيسه ده، چې اتل يې يو کندهاری رستم دی. «سپين او تور» افسانه د پېښو، کرکټرونو او پيغام له نظره د

محمد ګل نوري د «ملي هيندارې» اثر نکلونو ته ډېره ورته ده. د ولټر کيسه يوه فلسفي فرضيه پر مخ بيايي او د جبر او اختيار ترمنځ د انسان د ژوند د کشمکش ښکلې ښېښه تمثيلوي (لېوال، ۱۳۹۴: ۱۹). د دې افسانوي کيسې غټې صحنې او ډېرې برخې په افغانستان، کشمير او هند کې پېښېږي او دلته هم له ګړني ادب څخه ډېره ګټه شوې ده.

دغه راز که د پښتو په ليکلي ادب کې د کلاسيکې او معاصرې دورې د شاعرانو (خوشحال خان خټک، عبدالرحمن بابا، عبدالحميد مومند، امير حمزه شينواري او نورو) شعرونو ته پام وکړو، نو هلته هم د ګړني ادب او فولکلوري توکو استعمال ته نغوتې شوې دي، لکه: پښتونواله، ننواتې، جرګه او مرکه، حجره، بدرګه، پېغور، ښېراوې او دعاوې، اشر او غوبل، سپېلني لوګی کول، ناغه، درمندونه او داسې نور (زکريا، ۱۳۹۵: ۲۴).

له لوړو خبرو او بحثونو څخه زموږ موخه دا ده، چې په معنوي لحاظ د ګړني ادب له ځينو برخو څخه په ليکني او د ليکني ادب له ځينو خواوو څخه په ګړني ادب کې ګټنه کېږي، چې په پايله کې يې په معنوي لحاظ د ګړني او ليکني ادب ترمنځ يو ډول تړښت او پيوند رامنځ ته کړی دی. دغه راز د ګړني او ليکني ادب ډولونه په شکلي لحاظ هم يو له بل سره ځينې ورته والي او تړښتونه لري، چې په پيل کې ورباندې خبرې وشوې.

## موندنې

۱) په دې څېړنه کې وموندل شوه، چې په ګړني ادب کې هم، د ليکني ادب په څېر شعوري، تحت الشعوري او ارثي شاعري شونې او هېڅ ليکوال بايد په ګړني ادب کې شعوري شاعرۍ ته د مصنوعي شاعرۍ کلمه ونه کاروي.

۲) دغه راز په دې څېړنه کې دا هم جوته شوه، چې ګړنی او ليکنی ادب يو پر بل باندې متقابلې اغېزې لري او په ځينو موضوعي خواو کې يو له بل سره ډېرې نږدې پولې لري. همدا شان د شفاهي ادب د پخواني تعريف په اړه هم تشريحي خبرې وشوې او نويو واقعيتونو ته پر کتو ورته يو بل بديل تعريف وړاندې شو.

## پایله اخېستنه

اوس وخت په شعوري او کله نا کله په غیر شعوري توگه په پراخه پیمانه په شفاهي ادبیاتو کې معاصر وییونه او اصطلاحات کارېږي، چې د دې کار یو لوی لامل د معاصرې ټکنالوژۍ چټک پرمختگ یادولای شو.

دغه راز په لیکني ادب کې هم د شفاهي ادب له موضوعاتو څخه په پراخه پیمانه کار اخیستل کېږي، د بېلگې په توگه په لیکلي ادب کې د متلونو، لنډیو، ولسي اصطلاحاتو، محاورو، تکیه کلامونو، رمزونو او کنایو پراخه کارونه او همدا شان د لیکلي ادب په ډولونو؛ لکه لنډه کیسه، ناول او نورو کې د پښتني دودونو او ولسي اصطلاحاتو پراخه کارونه زموږ دغه ادعا (چې شفاهي ادب له لیکلي ادب سره نوي پیوندونه جوړ کړي) نوره هم ثابتوي.

## وړاندیز

اکثره لیکوال/ څېړونکي کله نا کله؛ گړني ادبیات په اصلي/ طبیعي او مصنوعي برخو سره بېلوي، نو هیله ده، چې له دې وروسته هېڅکله گړني ادبیات پر اصلي او مصنوعي برخو سره بېل نه شي. ټول گړني ادبیات (هغه که په شعوري او یا غیر شعوري توگه رامنځ ته شوي وي) ملي او اصلي ادبیات یې گڼلی شو.

## اخځلیکونه


ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۷). پښتو نظم پوهنه، د افغانستان د علومو اکاډمي او د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځی.

الهام، محمد رحیم. (۱۳۹۹). د سیمپوزیم اساسي وینا، د فولکلور پوهنې سیمپوزیم (د مقالو ټولگه)، دویم چاپ، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.

بانو، زیتون. (۲۰۱۵). د شگو مزل (د لنډو کیسو ټولگه)، پېښور.

پتمن، نازیه. (۱۴۰۱). د لنډۍ پېژندنې تیوري او د راټولولو لارې چارې، د دکتورا ډیزرټېشن، ناچاپ اثر: کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانگه.

خاورې، ګل غوټۍ. (۱۳۹۹). په پښتونخوا کې پښتو لنډه کیسه، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.

سادات، یاسر پاچا. (۱۳۹۷). په پښتو ادب کې چاربیته، ناچاپ اثر، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو فولکلور او شفاهي ادبیاتو څانګه.

شینواری، دوست. (۱۳۹۹). د فولکلور ملیت او بین الملیت، د فولکلور پوهنې سمپوزیم (د مقالو ټولګه)، دویم چاپ، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.

غضنفر، اسدالله او منلی، نجیب. (۱۳۹۰). د ادبیاتو دنیا، لومړی چاپ، کابل: (...)

غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۲). په کیسو کې مکالمه، کابل مجله، ۹- ۱۰مه ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت.

لېوال، عبدالغفور. (۱۳۹۴). د ولتېر یوه کیسه او پښتو نکلونه، کابل مجله، ۲ مه ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت.

لېوال، عبدالغفور. (۱۳۹۶). په ادبیاتو کې د اسطورې څېړنه، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.

ملاتړ، زکریا. (۱۳۹۵). د حمزه په شاعرۍ کې د ځینو فولکلوري توکو یادونه، کابل مجله، ۱۰مه ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز.

وفا، محمد داود. (۱۳۹۲).. د فوکلور پېژندنې لارښود، دویم چاپ، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

یون، محمد اسمعیل. (۱۳۷۷). د پښتو شعر هندسي جوړښت، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

خپل شخصي یادښتونه.

# New Connections at the boundaries of oral and written literature

Yasar Pacha Sadat

Institute of Pashto Language and Literature, Center of Languages and Literature, Academy of Sciences of Afghanistan

yasarpachasadat@gmail.com

## Abstract

Today, in every field of science, especially in some fields of social sciences, significant connections and closeness can be seen. In the same way, we are witnessing that such relations and closeness are to be found between oral and written literatures. If we analyze oral and written literature from linguistic and content point of view, the closeness and the interrelations are apparent. It is obvious that the relations between oral and written literature is mutual or reciprocal rather than being one-sided. Sometimes written literature uses form oral literature contents, another times oral literature benefits from written literature virtually and linguistically. In this research paper this interrelation of oral and written literature is discussed.

The recent connections between oral and written literature are significant, yet no work has been done in this area. In response to this need, I have comprehensively examined the recent connections between oral and written literature, and it has become clear that both forms of literature have had a profound impact on each other. This article uses an analytical and descriptive method.

**Keywords:**Oral literature, written literature, Similarity, and Folklore.

# د روسي ښکېلاک پر وړاندې د پښتو شعر ونډه

صفي الله اثر

پښتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، نیمروز پوهنتون

safiullahasar97@gmail.com

## لنډیز

زموږ هېواد د خپلې اهمې جغرافیې په لرلو سره ډېری وخت د پردیو جنګونو ښکار شوی، چې ادب هم ورڅخه بې اثره نه دی پاتې شوی، د دې څېړنې موخه د روسي ښکېلاک پر وړاندې د پښتنو شاعرانو د فکري او ادبي دریځ څرګندول دي او روښانه شوې چې د پښتو ژبې شاعرانو د روسي ښکېلاک پر وړاندې کوم فکري او ادبي دریځ خپل کړی دی؟ د ښکېلاک پر وخت د شاعرانو په شاعرۍ کې د اسلام ، جهاد ، ازادۍ ، قربانۍ ، خپلواکۍ ، سپېڅلې لار ، فتحې او کامیابۍ ، ټوپک ، داشکې ، سټینګر ، نیپال، د شهیدانو سپېڅلې وینې ، او دې ته ورته نورې بې شمېره کلمې ذکر شوې دي. جهادي شاعرانو ولسونو ته د خپلې شاعرۍ او سپېڅلې عقیدې پرمټ د ازادۍ روحیه ورکړې. پښتو شعر د سیاسي او ټولنیزو بدلونونو تر څنګ د ملي مبارزې یوه اغېزمنه وسیله هم پاتې شوې ده، د روسي ښکېلاک پر مهال شاعرانو د خپلو احساساتو، ملي درد، مقاومت، بیدارۍ او ازادۍ غوښتنې انعکاس د شعر له لارې ولس ته رسولی.کوم کار چې له روسي یرغله وروسته پښتو ادب ته شوی هم باید سترګې پرې پټې نشي او مجاهدینو هم په پښتو ادب کې شاعرۍ ته نوی رنګ ورکړی، نورو منځلارو هم خپله څانګړې لاره نیولې، د شوروي یرغل له ماتې او سپېڅلي جهاد څخه وروسته چې بیا څه شوي بېله موضوع ده، د دې څېړنې ډول مروري، میتود او کړنلاره یې تشریحي تحلیلي ده.

**کلیدي کلمې**: ادب، روسي یرغل، جهاد.

## سریزه

بسم اللّه الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمدٍ و علی اله وصحبه اجمعین اما بعد!

د ټولنې د اصلاح ، بدلون او خپلواکۍ له پاره ادب او شعر تل بنسټیز رول لوبولی. پښتو ادب په ځانګړي ډول پښتو شعر د ولس د احساساتو، فکري جریانونو او ټولنیزو بدلونونو ژباړونکی پاتې شوی، زموږ ټولنه له پخوا راهیسې وخت ناوخت د پردیو د جنګ ښکار شوې، زبرځواکو هېوادو پرې هر وخت د خپل فکر پر پاچاهۍ یرغلونه کړي، خو پر افغان ولس له یرغل وروسته یې پاچاهي په ملنګۍ بدله، او د ژوند تاج او راج یې کچکول پر غاړه کړی.

د دغو یرغلونو پر وړاندې د پښتو شاعرانو احساساتي، فکري او ادبي غبرګون د دې موضوع اساس او بنسټ جوړوي. شاعر د خپل ولس ژبه، زړه او ضمیر دی، شاعر د ټولنیزو ناروغیو، بدبختیو او غلامۍ د درملنې له پاره د هنر او فکر له لارې د سمونې او ازادۍ پیغام ورکوي. پښتو شعر د خپل تاریخ په اوږدو کې، نه یوازې د مینې او عرفان خبرې کړې، بلکې د ظلم، جهل او نابرابرۍ په وړاندې یې د مقاومت بڼه هم خپله کړې ده، چې.

د روسي ښکېلاک پر وړاندې د پښتو شعر ونډه موضوع، په خپله غېږ کې د پښتنو شاعرانو د مسؤلیت د سرته رسولو راز خوندي کوي او تر څنګ یې د روسي یرغل په مقابل کې د پښتنو شاعرانو فکري او ادبي دریځ څېړل شوی دی، چې د روسي ښکېلاک پرمهال په پښتو شعر کې کوم موضوعات ډېر مطرح شوي دي؟ په دې مقاله کې دجهادي شاعرانو د شعرونو څخه د څو د مخکښو شاعرانو شعرونو یادونه وشي، لکه: د مولوي محمد یونس خالص شاعري، د استاد فضل ولي ناګار، پیرمحمد کاروان، سالک او نور... دوی او دې ته ورته نورو جهادي شاعرانو د خپل شعر له لارې د بدلون تخم کرلی، د انسان د ازادۍ غږ یې پورته کړی او د ټولنې د وګړو د راویښولو هڅه یې کړې ده، په دې څېړنه کې هم د پښتو شعر پر ورسپارل شوي مسؤلیت په یو معلوم وخت کې رڼا واچول شي.

د روسي ښکېلاک پر وړاندې د پښتو شعر ونډه د معاصر پښتو ادب له هغو مهمو بحثونو څخه ده، چې تر اوسه يې ژوره علمي څېړنه، نه ده شوې پښتو شعر د تاريخ په اوږدو کې يوازې ادبي ارزښت نه دی لرلی، بلکې د سياسي او ټولنيزو بدلونونو تر څنګ د ملي مبارزې يوه اغېزمنه وسيله هم پاتې شوې ده، د روسي ښکېلاک پر مهال شاعرانو د خپلو احساساتو، ملي درد، مقاومت، بيدارۍ او ازادۍ غوښتنې انعکاس د شعر له لارې ولس ته رسولی. دا څېړنه له يوې خوا د مقاومت ادبياتو په پېژندنه کې مرسته کوي او له بلې خوا د پښتو شعر تاريخي رول روښانوي. همدارنګه دا څېړنه د نوي نسل له پاره د ملي شعور، تاريخي حافظې او ادبي هويت د پياوړتيا ارزښت لري او کولای شي د ادب او تاريخ تر منځ اړيکه لا نوره هم پياوړې کړي، د دې څېړنې موخې د روسي ښکېلاک پر وړاندې د پښتنو شاعرانو د فکري او ادبي دريځ څېړل همدارنګه د پښتو شعر له لارې د مقاومت، ازادۍ غوښتنې او ملي احساساتو د بيان څرنګوال روښانه کول ددې سره سره څېړنه لاندې پوښتنو ته ځواب پيدا کوي:

۱ـ د پښتو ژبې شاعرانو د روسي ښکېلاک پر وړاندې کوم فکري او ادبي دريځ خپل کړی دی؟

۲ـ د روسي ښکېلاک پرمهال په پښتو شعر کې کوم موضوعات ډېر مطرح شوي دي؟

## د څېړنې کړنلاره

په دغه څېړنه کې مې له مختلفو کتابونو او کتابخانو څخه ليدنه کړې،هره برخه مې، له کومې غوټې او ستونزې پرته سپړلې ده، په همدې اساس زما دڅېړنې ډول مروري دی، ميتود او کړنلاره يې تحليلي ـ تشريحي ده چې د دې ليکنې په ترتيب او ليکلو ترې مناسب او وړ ګټه پورته شوې، په راتلونکو پاڼو کې يې هر څه په ډاګه راغلي دي.

## اصلي موضوع

### د روسي ښکېلاک پر وړاندې د پښتو شعر ونډه

ادب يوازې د الفاظو نړۍ نه، بلکې هغه ژوره هنري تجربه ده، چې د ژبې له محدود وسيلو څخه د انسانانو ارواپي نړۍ ته لاره پرانيزي او د يو ملت د فکري، کلتوري، او ټولنيز ژوند هنداره ګرځي،بېلابېلې دورې، پړاوونه او لوړې ژورې لري.

د پښتو ژبې ادبي دورې استاد روهي په درې برخو ویشلي: لرغونې دوره، منځنۍ دوره او معاصره دوره ده، هغه لیکلي چې معاصره دوره درې مهم پړاوونه لري روښانتیا پړاو، ویښتیا پړاو، د اوښتون پړاو، څلورم پړاو چې کېدای شي د سمون پړاو یې وبولو نوی پیل شوی (روهي، ۱۳۸۴، ۴۲م) چې زموږ څېړنه په ټوله کې د اوښتونو پړاو د منظومو ادبیاتو سره تړاو لري.

د ټولنې هر وکړی کولای شي ځان دهغه ټولنې په ادبیاتو کې وګوري، د خوند،غیرت، پوهې او د ژوند د نورو برخو لپاره یې ولولي او د راتلوونکي ژوند د لارښوونو لپاره ترې ګټه پورته کړي، خپلې او د ټولنې شته نیګړتیاوې په کې پیدا او د لیکوال د لارښوونو تر څنګ یې لوستونکي هم په حل لارو فکر وکړي، د وخت په تېرېدو سره هر څه تغیر کوي هغه که انساني فکرونه دي او که انساني ټولنه ده او یا د ژوند نورې برخې، پر همدې بنسټ لاندې عوامل د ادب د احوالو پر بدلون باندې اغېز ښندي.

((طبعي چاپیریال، دینونه ،ټولنیز،سیاسي او فرهنګي چاپیریال، د ولسونو د یو بل سره اړیکې مستقیماً پر ادب اغېز کوي)) (همت،۱۳۸۵: ۹۴ ـ ۹۵).

د اوښتون پړاو ادبیاتو مخکې او شاته د سیاست غرونه پراته دي.طبعي چاپیریال یعنې د اوسېدو ځای چې د نورو علومو تر څنګ پر ادب هم مستقیمې اغېزې لري،کله چې یو بهرني زبرځواک زموږ په خاوره یرغل کړی د نورو قومونو په څېر یې ځینو ملاتړ کړی چا ورسره توره راخیستې او چا یې پر پلوی قلم چلولی، ځینو یې بیا په مقابل کې د ازادۍ توره پورته کړې، او خپل افغاني او اسلامي مسؤلیت یې په داسې ډول ادا کړی لکه څنګه چې په کار وي.

**روسي یرغل:** که څه هم په ظاهر شاهي دور کې د روس هېواد د مداخلو شواهد شته، خو وروسته د داخلي اختلافاتو له وجهې کارمل واک ته د رسېدو لپاره هر ډول غوښتنو ته تسلیم شو.(( د (۱۳۵۸)ل د مرغومي په شپږمه نېته د (۱۹۷۹)م کال د دسمبر په وویشتمه کارمل د شورویانو قواوو سره یو ځای کابل ته راوستل شو او د روسانو تر څارنې لاندې د کابل د رژیم د ریس په توګه کېنول شو))(ساپی،۱۳۹۵: ۱۲۷).

په افغانستان کې د شوروي اتحاد د نظامي ځواکونو د پلې کېدلو په هکله راز راز نظریې موجودې دي چې هر څوک یې د خپلو ملي او سیاسي ګټو په رڼا کې څرګندوي ځینې سیاست پوهان باور

لري چې د شورويانو هدف داوه چې د هند سمندر او ګرمو اوبو ته ځان ورسوي چې دا یو مسلط نظر و او دی ځینې بیا باور لري چې په افغانستان کې د شوروي نظامي ځواکونو پلي کېدل د هغه هېواد د ستراتیژیکو ګټو یوه برخه و چې په ایران کې د امریکار د ممکنه مداخلې له وېرې یې دا کار وکړ یو شمېر یې بیا په دې باندې ټینګار کوي چې دا د تزاري روسې او انګلستان تر مینځ د نولسمې پېړۍ د سیالیو زوړ پلان و ځینې یې بیا په دې اند دي چې هدف یې د یو داسې حکومت منځ ته راوړل و چې د هغوی تر کنترول لاندې وي که د پخواني شوروي اتحاد د سمندري ځواکونو پرمختللي تخنیک ته پاملرنه وشي نو دا په ډاګه شي چې د دې تخنیک په مرسته شوروي اتحاد عملا د هند په سمندر کې لا پخوا خپل موجودیت تثبیت کړی و او دې کار ته یې دومره ضرورت نه درلوده.(( سربېره پردې شوروي اتحاد له ایران سره ډېره اوږده ګډه پوله درلوده چې بیا هم په ایران باندې د امریکا د ممکنه یرغل وېره د پیړۍ د سیالۍ بڼه بدله شوې و او ځای د دوو سستمونو (دوه زبرځواکونو) جیوپولیټیک موقیعت له امله نظامي ځواکونه پلي کړه تر څو داسې حکومت منځ ته راشي چې د دوی تر کنترول لاندې وي او پورتني ټول مشاهدات د همدې نظریو ښکارندوی وي))
(پکتین،۱۳۹۴ : ۱۵۲).

**د جهاد پر پلوۍ پنځول شوی پښتو منظوم ادب**

هغه شاعرانو، چې د روسي یرغل په طرف یې شاعري کوله، د هغوی سره هم د نورو سیاسي موخو ترڅنګ ظاهراََ د خوار او غریب غم و، له کومه وخته چې د شوروي په ملاتړ دخلق دیموکراتیک ګوند پر سردار محمد داوود خان کودتا وکړه او نظام یې نسکور کړ له هغه وخته لیکل شوی پښتو ادب د هغوی د مفکورې او فکر تابع و، د هېواد د زورېدلې ټولنې دانسانانو د ژوند انځورولو ته هم په کې وخت ورکړل شوی ترڅنګ یې د انقلاب پر پلوۍ هم په شاعرۍ کې د ډېروشعرونو بېلګې شته دی چې د سلیمان لایق شاعري یې ښه مثال دی:

مونږه وې کـــــه دا مظلوم وطـن ازاد شي

افغانان به په غمجنه خـــــــاوره ښـاد شي

هر ساعت چې موږ خندلي خپل قسمت ته

لا مـــــاښــــــام نه وي هغه هیله برباد شي(لایق،۲۰۱۳ : ۱۲۸)

((هغه ادب چې دښکېلاک د دفاع یا پرمختیا لپاره لیکل شوی یا ددې پر ضد کې لیکل شوی دواړه یو قسم ته د مزاحمتي ادب حیثیت لري، غرض او منشا یې د افغانستان د وروسته پاتې کېدو علتونه له مینځه وړل و))(وزیر، ۲۰۱۸ : ۲۷۲ـ۲۷۳ ). د سرو لښکرو د نظامي یرغل سره همهاله او یو ځای فکري یرغل هم ملگری و، چې د نظامي یرغل تر څنگ یې زموږ ټولنې په زیاته پیمانه تاوانونه واړول (( عسکري جگړه جنگي وسایل او ودانۍ له منځه وړي، خو فکري جگړه ایمان، عقیده، عزم او اراده له منځه وړي))(مجاهد، ۱۳۹۳ :۴۶)

روسي یرغل د افغانستان پر پاکه خاوره ناځاپي چپاو نه و، بلکې له پخوا پلان شوې وسیله وه، چې څنگه روسي سرې لښکرې د افغانستان له لارې ځان تودو اوبو ته ورسوي، د یرغلگرو په ملاتړ لاشاعرانه زمزمې په ظاهر شاهي دور کې غږېدلې(( د سلیمان لایق د (چونغر ترانې) د انقلابي نظم لومړۍ زمزمې وې چې په ظاهرشاهي دور کې د خلکو غوږونو ته رسېدلې وې)) (روهي،۱۳۸۴: ۱۴۸_۱۴۹).

د مجاهدو لیکوالو تر څنگ کیڼ اړخو شاعرانو هم شاعري کړې، اسحاق ننگیال د انقلاب د لومړیو سختو ورځو یادونه کوي او وايي چې موږ او زموږ هم فکره ملگرو چې کومه سختي تېره کړې او یا یې تېروي یوازینۍ موخه یې د ولس ارامي او د هېواد پرمختگ دی له دې انقلاب او بدلون مخکې شپې ورځې یې د تورتمونو سره ورته بللي او ښه ژوند او ارامو ورځو د راتگ انتظار باسي.

چې پر اغزنو لارو ځـــــو سبا گـــــلونو کې ځو

د عشق درشل ته په سکروټو په اورونــــو کې ځو

خــو

شپو کې د لمر زړي کـــــرو وربځې په ستورو ولو

پاتې مـــــــزل پورې اشنا په ســـــهارونو کې ځو

کړې کوځې که د ســـفر څـــو له تیارو ډکې وي

د وینو سور مشال په لاس کـــــې تورتمونو کې ځو

خــو

له زړونو پرخې ورووو په جـــــل وهلي فصــــــل
شپې شپې لکه وږمـــــې مړاوو باغــــونو کې ځو
د وصل لاره کې رقیب خیـــر که کـــوهي کیندلي
سبا به غاړه غړۍ یـــــاره منزلونــــــو ته ځـــــــو (ننګیال، ۱۳۶۸: ۵۷)

جهادي شاعرانو هم د خپلې خاورې او اسلام د بري لپاره قلم چلولی او شعرونه یې لیکلي دي.(( کله چې د حزب دیموکراتیک نظام په هېواد برلاسی او د داود خان جمهوریت یې چپه کړ د دغه نظام پر ضد جهاد پیل شو، افغانان پېښور او کوټې ته مهاجر شول او د شمال اوسېدونکي زیاتره ایران ته لاړل په حقیقت کې پېښور او تهران د جهاد دوه لوی سیاسي مرکزونه وو))(باجوړی،۱۴۰۱: ۲۲۲).

د پوهاند مجروح (شوری نوسنده گان) او اطلاعاتي مرکز چې تر اوسه یې ولس ټوکه کتابونه خپاره کړي دي او دې ته ورته افغان اطلاعاتي مرکز چې په (۱۹۸۲)م کال په پېښور کې د ښاغلي محمد حسن ولسمل له خوا جوړ شوی و چې د افغان مجاهد او مجاهد ولس جریدې خپرولې پوره ځلور کاله وروسته په پېښور کې د افغانستان جهادي څېړنو مرکز په (۱۹۸۶)م کال کې په کار پیل شروع کړی و چې هرو دوو میاشتو کې د قلم په نوم تحقیقي او ادبي مجله خپروله او همدارنګه ((د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه چې د ښاغلي عبدالرسول امین له خوا جوړه شوې و چې منظم نشرات یې درلودل په هېواد کې دننه د امان کتاب خپرولو موسسه ده چې دا موسسه په (۱۹۷۸)م کال کې جوړه شوې او په (۱۹۸۰)م کال راهیسې په پېښنو کې مطبوعاتي فعالیت لري))(وزیر،۲۰۱۸: ۲۷۸ ). د جهاد او جهادی ادب لومړۍ فسلفه د دین او هېواد سرلوړي د وطن عزت او ناموس خپلواکۍ او ازادۍ تقویت ورکول او له هېواده په ټولو برخو کې دفاع کول یې سپېڅلې موخه وه.

د جهاد پر وخت په لسګونو اثار چاپ شوي او ټولنې ته وړاندې شوي چې د ټولو موخه یې د ولس ویښوونه او بیدارول و، روسي یرغلګرو د نظامي یرغل ترڅنګ کلتوري او فرهنګي یرغل ته هم لارې هوارولې یو شمېر محصلین یې د خپلې فکري ملګرتیا په پار مسکو ته د زده کړو لپاره په

مختلفو برخو کې ولېږل له بل پلوه يې د دهري فرهنگ رواجولو ته هم مخه کړه او له هرې ممکنې لارې په گټې اخيستنې يې ورته د خپلو همکارانو پر مټ هلې ځلې کولې په دې تړاو غوث خيبري په خپل يوه کتاب کې چې ( په افغانستان کې توپان) نومېږي داسې ليکلي.

د خلق ديموکراتيک گوند چې تر پايه د خلق گوند ونه پېژندل شو په پراخه کچه د کمونيستي ايډيالوژۍ د خپرولو او رواجولو په موخه تبليغات پيل کړل د گوند غړو په وياړ سره د نوموړې ايډيالوژۍ په رڼا کې ليکنې او شعر و شاعري د يوې اغېزمنې وسيلې او وسلې په توگه کارول خپله دنده يې وپېژندله او په شعرونو او ليکنو کې يې د کمونيزم او کمونيستي نظام خيالي ښېگڼې شرحه کړې (خيبري،۱۳۸۹: ۱۴۱).

همدارنگه مصطفی سالک د هغې ارامۍ او سوکالۍ ارمان کوي کومې چې په هېواد کې له جگړو مخکې قرار درلود، د سوکالۍ او ارامۍ کيسې يا پرې خپله تېرې شوي او يا يې له پلرونو او نيکونو له خولې اورېدلې دي.

لکه چې وايي:

نه يـزيــد و نه دا ســـوې کـــربلا وه

شور دپيـــغلو و د شـــين گـودر اروا وه

نه به داسې زمــونږ کلي کـــې تياره وه

نه په ټولو څلو شمــــعې وې رڼـا وه

د چرگانو جنگ د تيرو ويشتل دود وه

ښه خوږه د خـــوړ د غاړې مشغولا وه (سالک،۱۳۹۳: ۱۲)

کله چې د هېواد ټوله ځمکه په سره اور بدله شوه او د عام ولس حال تر دې بدبختۍ را ورسېد چې له ماښامه ترسهاره يوازې د انساني وينو لښتي بهېدل، شاعر اديب او منلي ليکوال ښاغلي فضل ولي ناگار د شعر په ژبه داسې بيان کړې ده.

د ملامت سړي ګرېوان ښـــــــکاري هر څوک یې نیسي
هېواد مو خدای خبر څه شان ښکاري هر څوک یې نیسي
نګـــین ورک شوی دی پېریانو پرې غوبل جـــــوړ کړ
چـــور ورته تخت د سلیمان ښکاري هرڅوک یې نیسي
جـــــــفا یې قتــــــل ناز یې قتل په پرده پرده کې
لکۍ رنګینه د شیطـــان ښکاري هر څـــــوک یې نیسي
د پرګنو د سر دســــــــړی نشته کـه نه یې مني څـوک
دا څه بې پیره مریدان ښـــــــکاري هر څوک یې نیسي
د رنګیو په ځای پرې خپـــــــــل خوني پیغام باروي
ناګاره ! تش د پند میدان ښکاري هـــــــر څوک یې نیسي(ناګار،۱۳۸۹: ۲۶).

د استاد ناګار شاعري ټوله د جهادي او د ازادۍ له ولولو ډکه ده او په هېواد یې د بهرنیو تیری او ظلم په خورا ښه ډول انځور او غندلی دی. یو بل جهادي لیکوال چې په هېواد کې یې ټولې نارواوې او ظلمونه په خپلو سترګو لیدلي او د مجاهدینو په فتح او بریا یې څرګنده خوشالي ښکاره کړې.

د بېلګې په ډول د استاد عبدالشکور رشاد د شاعرۍ یوه بېلګه چې روسي یرغل یې په کې په څرګنده ډول په سره وبا نومي نظم کې غندلی راخلو

چې ګډه په وطــــــــن شوه سره وبا کلي په کلي
د خدای مسلمانان یې کــــړل تباه کـــلي په کلي
ماړه یـــې کړل لېوان د افغـــــــانانو په سرو وینو
لو ګډ د ژوندانه دی نن ســـــبا کلي په کلـــــي
وطن شو سره تبۍ په کې نیني دي د ســـــــــرونو

ځوانان د پښتو شـــول نیمه خوا کلــــي په کلي
شـــراوې دي، ژړاوې دي، چغارې دي کوکارې
سوې ساندې دي د بورو هـرې خوا کلي په کــلي
په وینو یې اوبه کــــــړل دښت او غر دافغانــانو
په وروس ظالم مو پور دی خون بها کــلي په کلي
ای لویه قادره ! دغه خـــواست مې ته قبول کـــړه
روس کـــړه په خپل قــهر مبتلا کـــــلي په کلي(وزیر،۲۰۱۸: ۲۹).

د روسي ښکېلاک د رامنځ ته کېدو له وجهې نه یوازې افغاني ټولنې په لویه کچه انساني زیان ولید بلکې له دې سره یو ځای افغاني کلتور، رویات او عنعنات د سختو ستونزو سره مخ شول د هېواد قومي او ملي راوجونه هم بد بختې جگړې وننگول او د ښکېکلاک په هر څه خپل کرغېړن اغېز پرېښود مولوي محمد یونس خالص په (له زندانه) نومي نظم کې په دې ډول انځور کړې.

**له زندانه**

مه خانده ظالمه کــــــړپهار د زولنـــــــو ته مې
گوره نتیجه کـــې اخـــــر کار د زولـــــنو ته مې
...
خدای چې راته وایې څه دې راوړه ورتـــه وایم به
دا په پښو کـــــــې وگوره پرهـــار د زولنو ته مې
...
خیز کړه (نبي خیله) په مورچـــــل باندې ور ودانگه
زرکـــــړه ملتفت ظالــــــــم پیکار د زولنو ته مې(خالص،۱۳۹۳: ۱۵۰-۱۵۰)

د جهاد په دې مقدسه او سپېڅلې مبارزه کې ځینې داسې کسان هم و چې موخه یې جهاد نه بلکې د جهاد په نوم یې ځینې نورې موخې درلودې خو د هغوی د دغسې ارادو مخه په هېوادو مینو

لیکوالانو او شاعرانو شنډ کړې دي دغمخوار شریک د شعر یوه نمونه یې دلته د اثبات لپاره راوړو، چې د نصرالله جان وزیر په کتاب کې راغلې ده.

لکونه په کښې ورک شول خو څو تنه شول اباد

جهاد دې زنده باد وي جهاد دې زنده بـــاد وي

رهبر دې وي خوشاله نور عـــالم که وي نا ښاد

جهاد دې زنده باد وي جهاد دې زنده بـــاد وي(وزیر،۲۰۱۸: ۲۹۴)

شپون که انسان دوست او بشردوست شاعر دی خو په کوم وخت کې چې یر غلگر روسي ځواک په هېواد کې په مظلومو افغانانو ظلمونه لوړې کچې ته رسولي، ژوندي یې تر خاورو لاندې کړي دا هرڅه یې په خپلو سترګو لیدلي دي او دهغه چا ستاینه یې د شعر په ژبه کړې چې د دې ټولو ظلمونو پر ضد را پورته شوي او د افغان ولس د ازادۍ لپاره به یې توره پورته کړې او د دوی د حیا ساتنې لپاره یې مبارزه پیل کړې.

**د مجاهد بې وفا یار**

ستا د سترګـــــــو شوبلې راغلې        د زړه کـــــلي ورانوي

کـــــــبرې وریځې نرۍ ملا دې        پښتانه روســــــــانوي

کـــه هر څـــــــو درنه پناه شم        خپل زړه وا خـــفا کړم

ستا ظالمې غـــــــبر چې راشي        سمه غــــــر روښانوي

یو ورک نومی کـــــــلیوال وم        یو تش لاسی مجاهد وم

اوس مې نوم په درست جهان کې        عاشقان گـــــــــردانوي

زمــــــــــــا د زړه په توره بوره        ستا برگـــۍ کړي گذارونه

کـــــــــه همت راته ستنگر شي        د زړه کــــــــار اسانوي

په رگ رگ کـــــــــې مې کرلي        تا ظــــــــالمې پټ ماینونه

ربه داسې سترګـــــــــې راکـړه　　چـــې پټ ماين عيانوي

ستـــــــــا د حسن پاچاهي مې　　ټول وجود کنډ او کپر کړ

زړه مې هسې سلـــــطان غواړي　　چې يې بيــــا ودانوي (شپون،۱۳۶۹: ۴۶_۴۷)

ښاغلي مصطفی سالک په خپله شاعرۍ کې له د جنګ، دربدرۍ، لانجو او په هېواد کې رواونو ناخوالو خوابدی دی نوموړی مني چې له شکه پرته جنګ ډېر خطرونه لري خو بيا د امن او سولې د راتلو لپاره جنګونه ګټور بللي هغه ليکي مونږ او بلکې ټول افغانان به له ژونده هله خوند واخلي چې ګودرونو مو اباد او هېواد کې د خوشحالۍ او خوښۍ فضا حاکمه شي او د ناولې جګړې ټغر له ټول هېواده راټول شي لکه چې وايي:

منم چې ډېر لـــري خطر جنـــګـونه

امن ته ښــــه دي د نـــــظر جنګــونه

...

هلـــته به ومنـــــم چې امــــن راغی

که پيغلې وکــړي په ګودر جنــــګونه (سالک،۱۳۷۷: ۴۶)

د سرو فوځونو افغانستان ته را داخلېدل او پر ضد يې د افغانانو سپېڅلې مبارزه د ګران هېواد پر خوږه خاوره د يو ستر ناورين داستان دی له همدې وخته د هېواد د ويجاړۍ او لوټه لوټه کېدو او کور په کور خفګان او ژړا لړۍ پيل شوه د دې ستر ناورين تر شا چې کومو خلکو لاس درلود د ځرګندو مالوماتو پر بنسټ هغه په خپله روس او امريکا او د هغو جنګي ملاتړي ملګري وو. په دغه بد بخته وخت کې مو د هېواد مشران، کشران، ځوانان او سپين ګيري د مرګ تر کومي ورسېدل افغانستان ته د سرو لښکرو د راتلو ظاهري موخه داو چې و چې هغوي په افغانستان د يو نوي او پرمختللي نظام ملاتړ او د يو دوست هېواد په فکر راغلي و ورسره يو ځای د افغانانو مخې ته د ډالرو، کلدارو، درهمو او دينارو پنډونه مخې ته کېښودل شول د ناوړه سياليو ټول تاوان يوازې او يوازې افغان مظلوم ولس ته رسېد، د افغان غازيانو مبارزې او د شهېدانو د سپېڅلو وينو پر برکت روسي يرغلګر ځواک په بې شرمۍ د له دې پاکې خاورې څخه سر ټيټي ووتل او د افغانانو مبارزې رنګ

راوړ. د عملي جهاد تر څنګ استاد محمد اصف صميم هر اخيزې ژباړې او ليکنې کړې چې د پښتوادب ګلبڼ پرې ښېراز دی د استاد د ليکنو په نظمي برخه کې د روسي ښکېکلاک پرضد مبارزې ته د خلکو هڅول او او د وطن د ازادۍ روحيه ورکول چې د هرڅه سرخندنو ته ضرورت لري په روښانه ډول انځور شوي دي.

بېلګې :

لـه دې ســـهاره خو ماښـــام ښـــه دی

نه په کې زه ښه، نه مـــې قام ښـــه دی

چې جـــنازه ځـــينې د حـــق وتې وي

هغه نـــظام په څـــه اســـلام ښـه دی

...

چـې ازادي د چـــا زغـــملای نـــشي

د غسې ذهـــن تل غـــلام ښـه دی(صميم،۱۴۰۲: ۱)

کله چې په هېواد کې بې ګناه مرګونو زور اخيستی نو استاد هم چپ نه دی پاتې شوی هغه د افغانانو بې ګناه مرګ غندلی او په پار يې قلمي مبارزې ته زور ورکړی، لومړی خلکو فکر نه کاوه چې په هېواد کې به د ظلمونو لړۍ تېزه شي خو د وخت په تېرېدو حتا په نږدې ورځو کې عام خلک پوه شوه چې روسي ځواک او روسي پلوه مو نه د هېواد او نه د اسلام په خير دي نو هماغه و چې مبارزې رنګ راوړ او هېواد له دې شره خلاص شو دا چې وروسته بيا هرڅه وشول هغه بېل موضوع ده.

**سور کابل او شين کابل**

کابل چې سور و　　نو تک شين و

خو چې شين شو　　داسې سور شو

چې سره يې هم ګوته په غاښ کړل (صميم،۱۴۰۲:۱۰)

استاد فضل ولي ناګار چې روسي ښکېلاک پر ضد یې عملي او علمي مبارزه کړې افغان مجاهدین ستایي او سپېڅلي جهاد ته یې هڅوي.

سلام دی په هغو چې انقلاب په مخـــه بیایي
قانون پلي کـــــوي ام الکتاب په مخه بیایي
چې پــــــولي ورانوي کلابندۍ ته د انسان
ماڼو د نوح شاګرد طوفان سېلاب په مخه بیایي
...
ورګډ د اخوت په ســـمندر شـــو مسلمان
د اپوځ د حبل الله په لوی تناب په مخه بیایي (ناګار،۱۳۸۹: ۱۰)

استاد ناګار په خپله شاعرۍ کې هغه خلک غلامان بللي چې قوم د پردیو د ګټو په پار نا خبره ساتي او د قوم په دې ناخبرۍ کې د پردۍ ګټې ترڅنګ خپله مادي ګټه په پام کې نیسي لکه چې وایي:

ځان به غـــلام قام به د ټول عـــمر بندي ساتي
څوک چې لاسونه ورکوي سر او تنـــدي ساتي
...
زه د مـــــلالې د مـقام مـــبارکي ورکـــوم
چې ښېتنه زړه کې هوډونه مـــیوندي ســـاتي
...
د لو پټو بنګړو خیر غواړه بې ننـــګي زورشوې
زمونږ د کــــلي ګـــــودرونه اوس پردي ساتي
د ازادۍ په شـــیرنۍ شینــدي د وینو برسات
ناګـــار چې هرڅه کوي مینـــــه فرهادي ساتي(ناګار،۱۳۸۹: ۱۹)

استاد جهاد په هېواد کې د ټولو شته ناخوالو او ظلمونو د خلاصون لار ګڼي له ورایه یې کفري نړۍ په شاعرۍ کې پر ګونډو یاده کړې ده چې دازادۍ لمر یې په خپلو خوبونو کې لا پخوا لیدلی و چې وروسته رښتیا او د سرو لښکرو د ظلم څخه ټوله نړۍ د افغانانو د سپېڅلې مبارزې په برکت

ازاده او خپلواکه شوه خلک یې جهاد رابللي اوله دې شره د خلاصون یواځنۍ لار جهاد ګڼي لکه چې وايي.

**د ازادۍ سبا**

جهاد روښانه خط د پیغمبر ص دی ځئ چې ځو
د خدای ج د ازموینې خور ډګر دی ځئ چې ځو (ناګار،۱۳۸۹: ۲۵_۲۴)

پیرمحمد کاروان چې په شاعرۍ کې د غښتلې انځورګرۍ څخه کار اخلي او نوموړی یو انځورګر شاعر دی،چې وخت په وخت یې د وطن ناخوالې، دردونه او حالات په ښه ډول انځور کړي کله چې په هېواد کې داخلي ګډوډې راپیدا شوې کاروان قلم راخیستی او هغه څه یې پرې لیکلي چې د وخت او حالاتو ضرورت وه.

اینښې سندرمارې ښاپېرۍ په کـــې هنـــداره ده
زړه د سنـــدریزو تصویرونو ورکــــه لاره ده
هر لوري ته منډې وهم ګورم یې خو ښکاري نه
غـــږ یې راځي ناسته په هر لـــوري سندرماره ده
یوه ټپه لـــه صدقه د مــــلالې د زړه پورته شوه
غـوره د ریــــا د تکبــــیرونو په زر واره ده
سل خمه د خدای په هــر یونوم له خدایه غواړمه
ژوند مې لـــویه تنده له خـــماره تر خـماره ده
تورې د لوګــــي جامې یې اور د ښکلا پټ ساتي
ســـره لمبه راوتې د برکـــــلي د چنـــاره ده
یو غشی یې وشاړه او ســـــل غـــاټول یې ووژل
توی پرې توده وینه د هوسیو لــــــه پرهاره ده

ورکه هغه زاڼه چــــې کـــتار به پسې زاڼې تلې

رب دې يې پخلا کـــــړي مروره د کتـــاره ده

گــــرځي بدرگـــــه د سپينو ستورو پسې ورکه ده

ورکه ده سپوږمۍ لېـــونۍ چاوې چې هوښياره ده

ډار لـــــري کـــــاروانه چې ښکې به يې وبـاسي

پټه شـــــاعري دې لـــــه نـــــثاره خـــــطا کاره ده(کاروان،۱۳۸۷: ۱۵۷)

ربښتيا ده چې د غزل هر بيت پادشاه دی او هر بيت يې د يوې موضوع په تړاو بشپړ مالومات په خپله غېږ کې خوندي کوي خو که په ربښتيا شاعر شاعر وي نو ډېرې زياتې موخې او مالومات په خپل مهارت په يو بيت لاخه په يو نيم بيتي کې په داسې ډول ځای پر ځای کوي چې د اضافي کلمې ځرک لا په کې نه تر سترگو کېږي کاروان همداسې شاعر دی چې په پوره مهارت سره له دې ځواکه کار اخلي هغه د ملالې يوه ټپه د جهاد د هغه تکبيرونو زرواره بهتره گڼي چې د شخصي موخو او د ريا په پار يې سرته رسولی نوموړي هغه مشران چې د شخصي گټې موخه نه بلکې سپيڅلی جهاد يې هدف و له نورو خود غرضه کسانو خفه ياد کړي چې له شکه پرته حقيقت يې هم همداسې و د کاروان شاعري د بېلابېلو موضوعاتو کاروان دی چې هر اړخيزو موضوعاتو ته يې په واضح ډول اشاره کړې ده کله چې افغان بې گناه ولس په پردي جنگ کې د پرديو په لمسون او اشارو زورول شوي او وژل شوي نو کاروان هم هغه پېښې په دا ډول انځور کړي دي.

بدرنگه زمــــانه شوه ښـــــکاري لال په غشو ولي

د وروځو په پيوند کې شينکی خـــال په غشو ولي

رباب يې په زړه وويشت د ښکـلا سرود شهيد شو

لــــــه درده راوتــــلی سراو تال په غـــــشو ولي

شيشه په غشو ولـــــي وژني روح د ښــــاپېريو

ديوان را پارېدلي دي جـــمال په غـــــشو ولي

ماښام يې د نکـــــــريزو په سرو وينو لمـــبولی
سبـــا به اختر وژني نن هـــــلال په غشـو ولي

څوک نشي يـــادولی د يـــــار نوم په تـــرنم
دا دور د بـــــتانو دی بـــلال په غــــشو ولي

دا ټول غـــشي مې ښېرته پردې يو زړگـــي لگېږي
سهيـــل په غشو ولـــي که شمـــــال په غشو ولي

تيارو شپو د سبـــا پر کـــاروان بيا کړی يرغل دی
لـــه ستـــــړيو لاروېو نه مشـــال په غـــشو ولي (کاروان،۱۳۸۷: ۷۸)

## موندنې

کله چې د جهاد پر پلوی شعر او شاعري شروع کېږي، دغه زمانه د پښتو معاصرې دورې د اوښتون پړاو پورې اړه لري، په ټوله کې د دې وخت شاعرۍ د شعار بڼه درلوده، مفهوم ته يې چنديان توجه نه کېده، د جهاد پر پلوۍ چې کومه شاعري شوې په دې شاعرۍ کې د جنگي اصلحو او اسبابو نومونه ذکر شوي، لکه: ټانگ، توپ، طياره، ټوپک، مرمۍ، داشکه، شهيد، غازي ، غنيمت، زولنې، سنگر او نور.... د دې ترڅنگ په دغه زمان کې له هره پلوه فکري بيداري موندلې او فکري لحاظ بيدار شوي، چې مخکې له دې برخې چنديان برخمن نه و، کومو شاعرانو چې د روسي يرغل په طرفدارۍ شاعري کړې د هغوی په شعرونو کې بيا د مزدور، خوار، غريب، کور، کالي، او ډوډۍ کلمې راغلي، او ياد يرغل يې د دوی وينا په هېواد کې د شته تيارو له منځه وړل و، چې دا يوه کمونيستي مفکوره وه.

د دې يادونو تر څنگ پښتو شعر په دغه وخت کې په پراخه ډول د شعار بڼه خپله کړه او همدارنگه د وطن د ساتنې او ازادۍ د گټلو فکر عام شوی او هر څوک د دين او هېواد دفاع ته د بهرني روسي يرغل په وړانې رابلل شوي، افغانانو د هېواد د ساتنې او اسلام د ژغورنې په پار ځانونه نذرانه کړي او په پای کې د روسي سرو لښکرو څخه په خپله پاکه خاوره پاکه کړې ده.

## پایله اخیستنه

پښتو شعر د روسي یرغل او ښکېلاک پر وړاندې یوازې یو ادبي ارزښت نه و، بلکه د ملتپالنې، تبلیغ، مبارزې، ملت ویښونې او بیدارۍ داسې وسله وه، چې د چاپېریال شرایطو پرې هیڅ دول اثر نه کاو، شاعرانو د خپل ادبي رسالت د اداکولو په موخه د کفر او اسلام تر منځ کرښه روښانه کړه، حق یې حق یې حق وګاڼه او باطل ته یې باطل وویل، د یاد یر غل پر وړاندې یې د افغانانو او امت مسلمه ذهنیتونه د خپل شعر پرمټ داسې بیدار کړل، چې د راتلونکو نسلونو په ذهنونو کې هم د ازادۍ نوم پر ډبرینو لوحو و لیکل شو، په ټول افغان ولس کې یې د اسلام او خاورې لپاره د قربانۍ روحیه پیاوړې کړه، په پای کې د دې پړاو شاعري د پښتو ادب په تاریخ کې د ازادۍ د مبارزې د ادبي بنسټ بنسټیز فصل جوړوي.

## وړاندیزونه

۱: په درسي کتابونو کې دې د جهادي شاعرۍ د شعرونو بېلګې شاملې شي.

۲: د دې پړاو شاعرانو ته دې د فرهنګي اتلانو حیثیت ورکړل شي.

## ماخذونه


باجوړی، بریالی.(۱۴۰۱). د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ او ښتون پړاو. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

پکتین، راز محمد.(۱۳۹۴).افغانستان له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته. کابل : اسد دانش مطبعه.

خالص، مولوي محمدیونس. (۱۳۹۳ل). دامونه او دانې. پېښور: احسان خپرندویه ټولنه.

خیبري، غوث.(۱۳۸۹ل). په افغانستان کې.کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

روهي. محمد صدیق .( ۱۳۸۴).دپښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک دریم چاپ .دانش خپرندویه ټولنه تخنیکي څانګه پېښور.

سالک، مصطفی. (۱۳۷۷ل). طاووس بڼکه. پېښور: ناهد کتاب خپرولو موسسه.

سالک، مصطفی. (۱۳۹۳). غمي په کچکول کې. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

شپون، سعدالدین.(۱۳۶۹). پرخه په ترخه. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

شهباز ساپی، حزب الله.(۱۳۹۵). د افغانستان معاصر تاریخ له احمدشاه تر اشرف غني. جلال اباد: روغانیوال خپرندویه ټولنه.

صمیم، محمداصف. (نغمې او تغمې) ناچاپ شعري ټولګه.

کاروان، پیرمحمد.(۱۳۸۷ل). چنار خبرې کوي. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

لایق، سلیمان.(۲۰۱۳م). سندرې په سویو واټونو کې. لاهور: پښتو ادبي غورځنګ کوټه.

مجاهد، مولوي عبدالهادي.(۱۳۹۳). فکري پوهنه. پېښور: ایوب مکتبه او اسلامي کیسټ مرکز.

ناګار، فضل ولي.(۱۳۸۹ل ). سندریون.ننګرهار : ناګار خپرندویه ټولنه.

ناګار، فضل ولي.(۱۳۸۹ل ). شملې هسکې ولونه ولونه.ننګرهار : ناګار خپرندویه ټولنه.

ننګیال، اسحاق.(۱۳۶۸). څاڅکي څاڅکي. د افغانستان د لیکوالو انجمن دولتي مطبعه

وزیر، نصرالله جان.(۲۰۱۸م). په پښتو ژبه او ادب د افغانستان د ثور انقلاب اثرات.پېښور : فاسټ ټریک کمیو نیکېشن.

همت. عبدالمالک.(۱۳۸۵). ادب او ادبي کره کتنه . صحاف نشراتي موسسه اکرم پریس لاهور.

شهباز ساپی، حزب الله.(۱۳۹۵). د افغانستان معاصر تاریخ له احمدشاه تر اشرف غني. جلال اباد: روغانیوال خپرندویه ټولنه.

# The Role of Pashto Poetry against the Russian Occupation

Safiullah Asar

Department of pashto, Faculty of Education, Nimroz University

safiullahasar97@gmail.com

## Abstract

Owing to its significant geopolitical location, our country has repeatedly been subjected to foreign wars, from which literature has not remained unaffected. The aim of this study is to highlight the intellectual and literary stance of Pashtun poets against the Russian occupation and to clarify what kind of ideological and literary position Pashto-language poets adopted during that period. During the occupation, poets frequently employed in their poetry numerous concepts and terms such as Islam, jihad, freedom, sacrifice, independence, the sacred path, victory and success, weapons like rifles, DSHK, Stinger, Nepal, the sacred blood of martyrs, and many similar expressions. Through their poetry and sacred beliefs, jihadi poets instilled a spirit of freedom among the masses. Alongside political and social transformations, Pashto poetry has remained an effective instrument of national struggle. During the Russian occupation, poets conveyed their emotions, national pain, resistance, awakening, and desire for freedom to the people through poetry. The developments that occurred in Pashto literature after the Russian invasion should not be overlooked; the Mujahedeen also introduced a new color and direction to Pashto poetry, while other moderate voices adopted their own distinct paths. What happened after the defeat of the Soviet invasion and the end of the sacred jihad is a separate subject altogether. This study is a review-based research, and its methodology and procedure are descriptive-analytical.

**Keywords**: Literature, Russian invasion, Jihad.

# په اسلامي شریعت کې اسانتیاوې او رخصتونه

روح الله حمیدي[1*] او سمیر احمد احمدي[2]

د اسلامي علومو او فرهنګ څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، پکتیا پوهنتون

mojahid.mu@gmail.com

## لنډیز

اسلامي شریعت د الهي رحمت او حکمت یو بشپړ نظام دی، چې د انسان د ژوند د ټولو اړخونو لپاره د اعتدال او اسانۍ لاربښوونې لري. د اسلامي شریعت ځانګړنه دا ده چې د مکلفینو د توان په کچه احکام وضع کوي او د هر هغه حالت لپاره چې مشقت او سختي رامنځته کړي، د رخصتونو او اسانتیاوو بدیل وړاندې کوي. دا څېړنه د همدې اسانتیاوو او رخصتونو د علمي وضاحت لپاره ترسره شوې ده. د دې څېړنې ارزښت او اړتیا په دې کې ده چې ډېری خلک یا د دین په اړه د سختۍ برداشت لري او یا د اسانیو د اصل په اړه بې سرحده پراخي کوي. له همدې امله د اسلامي شریعت د اسانیو د قاعدو روښانول د دین له سمو ادرسونو، د مسلمانانو د دیني پوهاوي او د معاصر ژوند د ستونزو د حل لپاره یوه بنسټیزه اړتیا ده. دغه موضوع په توصیفي ـ تحلیلي ډول ترسره شوې ده، چې لومړني منابع (قرآن کریم، سنت او فقهي قواعد) او ثانوي منابع (معاصر کتبونه او څېړنې) پکې کارول شوي دي. موندنې ښیي چې شریعت د مشقت پر ځای اسانی ته لومړیتوب ورکوي. د لمانځه قصر د سفر پر مهال، د ناروغ لپاره د روژې رخصت او د اضطرار پر مهال د حرامو شیانو د خوراک روا والی د دې څرګندې بېلګې دي. په ټوله کې، د اسانتیاوو اصل د دین د عملي کېدو، د عبادت د روح د ساتنې او د مکلفینو د زړه د ډاډ ضمانت کوي.

**کلیدي کلمې:** اسانتیاوې، ضرورت، عذر، مشقت، مکلف.

## سریزه

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم[ط]

الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمدٍ و علی اله وصحبه اجمعین اما بعد!

قال الله تبارک وتعالی: ﴿يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ﴾.. و قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:﴿بَشِّرُوا وَلاَ تُنَفِّرُوا وَيَسِّرُوا وَلاَ تُعَسِّرُوا﴾. اسلامي شریعت د الله تعالی هغه الهي نظام دی، چې د انسان د ژوندانه ټولې برخې یې په حکمت او عدالت سنبالې کړې دي. د شریعت ځانګړنه دا ده، چې د انسان د فطري اړتیاوو، د هغه د توان د کچې او د حالاتو د بدلون مطابق لارښوونې لري. د قرآن کریم په څرګند نصوصو کې دا اصل واضح شوی دی، الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره سختي نه غواړي؛ بلکې د اسانۍ غوښتونکی دی، له همدې کبله د اسلامي شریعت په ټولو برخو کې د اسانتیا اصل، د رخصتونو مشروعیت او د مشقت د رفع کولو قواعد موجود دي. د موضوع ارزښت په دې کې نغښتی دی، چې د اسلام دغه ځانګړنه نه یوازې د شریعت د عملي کېدو ضمانت برابروي؛ بلکې د دین د قبولیت او د انسان د ارام ژوند بنسټ هم ایښودل کېږي. که د شریعت ټول احکام په سختۍ او مشقت ولاړ وای، د بشري ځواک له توانه لوړېده او د دین عملي بڼه به له ستونزو سره مخامخ کېده. نو ځکه د اسانتیاوو او رخصتونو څېړنه د دې څرګندونه کوي چې اسلام د اسانۍ او رحمت دین دی، نه د تکلیف او ستونزې. د موضوع ستونزه په دې کې ده چې ډېری خلک د اسلامي شریعت د احکامو په اړه له متوازن فهم څخه بې برخې وي. ځینې په دې ګومان وي چې د دین ټول احکام د سختۍ او درووند بار په بڼه وضع شوي دي او ځینې نور د رخصتونو او اسانیو په اړه بې ځایه پراخ برداشت کوي. په دواړو حالتونو کې یا په دین کې غیر ضروري تنګوالی، یا بې ځایه سستي منځته راځي. له همدې کبله د شریعت د اسانتیاوو د اصل او د رخصتونو د حدودو روښانول یوه علمي او ټولنیزه اړتیا ده. د موضوع اړتیا په دې دلیل ډېره ده چې د معاصر انسان ژوند له بېلابېلو ستونزو سره مخ دی؛ د سفرونو زیاتوالی، د ناروغیو کثرت، د اقتصادي ستونزو پراخوالی او د کلتوري بدلونونو اغېز د دې سبب شوي چې خلک د دین په عملي کولو کې د اسانیو اړتیا زیات احساس کړي. که د اسلامي شریعت دغه الهي رخصتونه او اسانۍ په سمه توګه وپېژندل شي، مسلمانان

کولای شي د ژوند له مشقتونو سره د دین د اصولو په رڼا کې مقابله وکړي، له ګناه څخه وژغورل شي او د عبادتونو روح وساتي.

په یاده موضوع کې دغه اصلي او فرعي پوښتنې مطرح کېدونکي دي، اصلي پوښتنه: اسلامي شریعت د اسانتیاوو او رخصتونو اصل څنګه تشریع کړی؟ او د دې اصل حدود او ضوابط د فقهي قواعدو په رڼا کې کوم دي؟ فرعي پوښتنې: د اسانتیا او رخصت مفهوم په لغوي او اصطلاحي لحاظ څه دی؟ د سختۍ (مشقت) سره یې اړیکه څنګه تعریف شوې ده؟ د اسلامي شریعت له نظره د اسانتیاوو او رخصتونو شرعي دلایل کوم دي؟ او دا اصل څنګه له قرآن، سنت، او اجماع څخه ثابتېږي؟ کوم فقهي قواعد د اسانتیاوو او رخصتونو بنسټ جوړوي، او دا قواعد په عملي فقه کې څه رول لري؟ د مشقت او سختۍ ډولونه کوم دي او کوم ډول مشقت شرعي اسانتیا او رخصت را منځته کوي؟ د اسانتیاوو اسباب (لکه سفر، ناروغي، اکراه او اضطرار) څنګه د احکامو په تطبیق کې د حکم بدلون یا تخفیف رامنځته کوي؟ د موضوع موخې هم په څو نکتو کې خلاصه کېدای شي چې: د اسلامي شریعت په عمومي فلسفه کې د اسانۍ اصل څرګندول. د رخصتونو ډولونه، لکه د سفر، ناروغۍ، اضطرار او عذر په حالاتو کې د هغوی پېژندنه. د فقهي قواعدو (المشقة تجلب التیسیر، الضرورات تبیح المحظورات، او...) د رول بیانول. د شریعت د عملي کولو په لاره کې د اسانۍ او اعتدال د توازن ښودل. د امت د عامو مسلمانانو د دیني پوهاوي لوړول او د غلطو برداشتونو اصلاح کول. په دې مقاله کې له قرآني آیاتونو، نبوي احادیثو، فقهي قواعدو او نورو ډېرو معتبرو فقهي کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## د څېړنې مېتودولوژي

په دې څېړنه کې توصیفي ـ تحلیلي تګلاره کارول شوې ده. د موضوع د وضاحت لپاره لومړی د اسلامي شریعت د اسانتیاوو مفهومي څېړنه شوې او د پخوانیو او معاصرو علماوو د آراوو مقایسه شوې ده. د معلوماتو د راټولولو سرچینې په دوو برخو وېشل شوي دي :لومړني منابع لکه قرآن کریم، نبوي سنت، فقهي قواعد او د اسلامي فقهې معتبر کتابونه؛ او ثانوي منابع لکه معاصر علمي کتابونه، څېړنیزې رسالې. د رخصتونو او اسانتیاوو د اصل دلایل په منطقي بڼه وړاندې شي. په څېړنه کې هڅه شوې چې د اسلامي نصوصو او معاصرو اړتیاوو ترمنځ یوه متوازنه اړیکه جوړه شي.

### د موضوع محدودیتونه

دغه څېړنه يوازې د اسلامي شريعت د اسانتياوو او رخصتونو په عمومي اصل او فقهي قواعدو تمرکز لري. د هرې څانگې تفصيلي فقهي مباحث، د مذهبونو ترمنځ ژور اختلافات او د معاصرې فقهې ټول جزئيات پکې نه دي څېړل شوي. همدارنگه، څېړنه د اسلامي نصوصو او د نامتو فقهاوو د نظرياتو تر حده محدوده ده، د تجربوي يا ميداني څېړنې اړخ نه لري. د وخت او د منابعو د لاسرسي محدوديتونه هم د دې لامل شوي چې د موضوع يوازې بنسټيز اړخونه وڅېړل شي، نه هر اړخيز جزئيات.

## اصلي موضوع

### د اسانتياوو پېژندنه

اساني د سختي په مقابل کې وي، اساني او سختي کله په حواسو د درک کېدو وړ وي او کله نه وي، په مکلف شخص باندې اساني دې ته ويل کېږي، چې ترسره کول يې اسانه وي او سختي هغه ته ويل کيږي چې ترسره کول يې سخت وي( الأفريقي،۱۴۱۴،ج۲ :۶۱) او په اصطلاح کې اسانتيا دې ته ويل کيږي چې له يو شرعي حکم سخت والی په نسخې، اساني او د ځينو برخو په له منځه وړلو پورته شي، کله چې په اصل کې يې سختي او حرج وي(الجوزي،۱۴۲۲ ،ج۲ :۶۱).

### د اسانتياوو لپاره شرعي دلايل

دا په قطعي توگه ثابته او لکه د لمر په څېر روښانه ده، چې اسلام اسانۍ راوستونکی دين دی، په دې کې سختي نه شته لکه: په سفر کې د لمانځه نيمايي کېدل، په سفر او ناروغۍ کې د روژې خوړلو اجازه، د مجبوريت پر مهال د حرامو شيانو خوراک او .... دا ټول په دې دلالت کوي چې په دې دين کې سختي نه شته، همدا ډول شريعت خلک له دې څخه منعه کړي دي چې يو څوک پر ځان داسې سختي وکړي چې بيا يې تر پايه ونه شي رسولای او په منځ کې يې پرېږدي؛ که چېرې د شريعت اراده د سختي راوستلو وای نو بيا به يې په يو حکم کې هم اساني نه وای کړې او نه به يې رخصت ورکړی وای(البرونو، ۱۴۱۶: ۲۲۰).

**الف ـ له قرآن کریم څخه**

۱ ـ الله تعالی فرمایلي دي: (يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ... ﴿۱۸۵﴾) ( سورة البقرة: ۱۸۵).

ژباړه: اراده لري الله تعالی په تاسې د اسانتیا او اراده نه لري په تاسې باندې د سختی (کابلی تفسیر،۱۴۱۴، ج ۱ : ۱۳۸).

۲ ـ بل ځای یې فرمایلي دي: (يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا ﴿۲۸﴾)( سورة النساء: ۲۸).

ژباړه: اراده لري الله تعالی ددې چې سپک کړي بار له تاسې څخه او پیدا کړی شوی دی انسان کمزوری(کابلی تفسیر،۱۴۱۴، ج ۱: ۴۵۹).

۳ ـ بل ځای یې هم فرمایلي دي : (لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ۗ...﴿۲۸٦﴾)( سورة البقرة: ۲۸٦).

ژباړه: نه کوي تکلیف الله پر هیڅ نفس باندې مګر په اندازې د طاقت دده، دې نفس لره، ثواب د هغه عمل چې کړی یې دی او شته په ده باندې وبال د هغه عمل چې کړی یې دی (کابلی تفسیر،۱۴۱۴، ج ۱: ۲۴۱).

**ب ـ له نبوي سنتو څخه**

۱ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَأَبْشِرُوا وَاسْتَعِينُوا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ )( البخاري، ۱۴۲۲ ، ج ۱: ۱٦، حدیث نمبر:۳۹).

ژباړه: ابو هریره رضی الله تعالی عنه له رسول الله صلی الله علیه واله وسلم څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي دي: بیشکه د اسلام دین اسانه دی هیڅ څوک په دین کې سختي نه کوي ـ له خپل توان څخه پورته شیان پر ځان نه باروي ـ مګر دا چې دین پرې غلبه کوي. دین پرې سختیري ـ نو میانه روي کوئ، د عباداتو خواته نیږدې کیږئ او زیرې ورکړئ. د خوښی او تکړه توب په وختونو کې عبادت وکړئ. د مسافر په څیر چې په سهار، له غرمې څخه وروسته او د شپې په یوه برخه کې مزل کوي او پرته له ستومانتیا منزل ته ځان رسوي.

۲ـ عن عائِشَةَ رَضِي الله عَنْهَا، أنَّها قالَتْ: مَا خُيِّرَ رسولُ الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم، بَيْنَ أمْرَيْنِ قَطُّ إلاَّ أخَذَ أيْسَرَهُما مَا لَمْ يَكُنْ إثْماً، فإنْ كَانَ إثْماً كَانَ أبْعَد النَّاسِ مِنْهُ، وَمَا انْتَقَمَ رسولُ الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم لِنَفْسِهِ فِي شَيْء قَطُّ إلَّا أنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ الله فَيَنْتَقِمَ بِها لله( نيشاپوري، ب.ت، ج۴: ۱۸۱۳، حديث نمبر: ۲۳۲۷).

ژباړه: له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، چې ويلي يې دي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هيڅکله هم د دوکارونو ترمنځ اختيار نه دی ورکړل شوی؛ مګر دا چې هغه به پکې اسانه وټاکه، چې ګناه به پکې نه وه، خو که د ګناه کار به وو بيا به له هر چا څخه دی ترېنه لرې وو او رسول الله صلى الله عليه وسلم هيڅکله د ځان لپاره له چا څخه بدله نه ده اخيستی؛ مګر په هغه ځای کې چې هلته به د الله تعالى احکام تر پښو لاندې کېدل، بيا به يې بدله واخيسته.

۳ ـ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِذَا بَعَثَ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِهِ فِي بَعْضِ أَمْرِهِ قَالَ « بَشِّرُوا وَلاَ تُنَفِّرُوا وَيَسِّرُوا وَلاَ تُعَسِّرُوا » ( نيشاپوري، ب.ت، ج۳: ۱۳۵۸، حديث نمبر: ۱۷۳۲).

ژباړه: له ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دی: لکه به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم څوک د يو کار لپاره ليږه، نو هغه ته به يې وويل: تاسې زيری ورکړئ او نفرت مه خپروئ، اساني وکړئ او سختي مه کوئ.

**ج : د امت إجماع**

د علماوو اجماع په دې ده، چې د اسلامي شريعت په تکليفي چارو کې سختي او تنګسيا نه شته، دا په دې دلالت کوي چې الله تعالى په خپلو مخلوقاتو د سختۍ اراده نه لري، نو که چېرې سختي وای بيا به په شرعي امورو کې يو ډول ټکر او تناقض شتون درلود او اسلامي شريعت له ټکر او تناقض څخه پاک دی( الشاطبي،۱۴۱۷، ج۲: ۲۱۲ ).

**د ـ د اسانتياوو په اړه فقهي قواعد**

۱ ـ له پنځو سترو قاعدو څخه يوه قاعده داده چې: ( المُشَّقةُ تَجلِبُ التَّيسِيرَ) (المحاسني،۲۰۰۳: ۱۷) يعنې سختي اساني راولي.

۲ ـ بله قاعده ده چې:( الضَّرُورَاتُ تُبِيحُ المَحظُورَاتَ ) (ابن نجیم،۱۴۰۰: ۷۳) یعنې ضرورتونه منعه کړل شوي شیان روا کوي. چې په دې باند د الله تعالی له کتاب څخه څو آیتونه دلالت کوي لکه:(... فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ ۙ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣﴾ ) ( سورة المائدة:۳)

ژباړه: نو هر څوک چې اړ شو خوراک د حرام شي ته په سخته لوږه کې حال دا چې نه وي مائل گناه ته، پس بې له شکه الله ښه مغفرت کوونکی او ډېر رحم والا دی (کابلی تفسیر،۱۴۱۴، ج۱: ۵۹۲).

۳ ـ بله قاعده (الحَاجَةُ تَنزلُ منزلةَ الضرورةِ، عامةً كانت أو خاصةَ) (الندوي، ۱۴۱۲ : ۲۱۷).

یعنې حاجت که عام وي او که خاص د حرام شي په مباح گرځولو کې کله د ضرورت په منزله او مرتبه کې واقع کېږي، او ځای یې نیسي.

همداسې له نورو شرعي نصوصو څخه هم معلومیږي چې اسلامي شریعت په خلکو اساني راوستونکی دی، نه سختي کوونکی، شریعت ډېره هڅه کړې چې له خلکو سختي لرې او اساني پرې راولي، همدا د اسلام روح دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم ډېرې چارې له دې وېرې پرېښودې چې هسې نه زما امت په سختي کې واقع شي او هم به یې ډېر ځلي په اسانۍ امر کاوه او خلک به یې له سختۍ او تشدد څخه منعه کول.

**د اسانتیا راوستلو او د سختي له منځه وړلو څخه د شریعت موخه**

د شریعت موخه دا ده چې پر مکلف د بې اړتیا سختۍ بار کم کړي، خو دا اصول یوازې هغه وخت عملي کېږي چې سختي د عادي ستونزو څخه زیاته وي او د دیني یا دنیوي فساد سبب شي.که سختي په داسې حالت کې وي چې په اړه یې ځانگړی دلیل نه وي، تخفیف ممکن دی؛ خو که ځانگړی دلیل ولري بیا هلته تخفیف نشي کېدای، لکه په سخته گرمي کې د روژې نیول، کله چې د رمضان میاشت په سرطان کې راشي. د سختۍ لپاره دا اړتیا نه شته چې د اضطرار تر کچې دې وي؛ همدا کافي ده چې د حرج، تنگۍ او عسر یوه اندازه وي، چې د چارو د اسانولو سبب شي. له همدې امله ویل کېږي: (الحَاجَةُ تَنزلُ منزلةَ الضرورةِ، عامةً كانت أو خاصةَ) (الحنفي،۱۴۰۵، ج۱: ۲۹۳).

یعنې حاجت که عام وي او که خاص د حرام شي په مباح گرځولو کې کله د ضرورت په منزله او مرتبه کې واقع کېږي، او ځای یې نیسي.

دلته يوه پوښتنه مطرح کيږي: که شارع د تکليف پر مهال سختۍ ته مقصد نه لري، نو څنگه مکلف ته د تکليف او حرج احکام ورکول کېږي؟ ځواب يې په دې ډول دی چې: د ټولو علماوو په دې کې اتفاق دی چې شارع پر مکلف باندې د سختي راوستلو اراده نه لري، خو بايد د عادي سختۍ او غيرعادي سختۍ ترمنځ توپير وشي: نو که د عمل دوام د انسان په ځان، مال يا ژوند کې زيان راولي، نو دا سختي عادي سختي نه ده. که عمل په طبيعي توگه د انسان پر ژوند يا حالت اغېز ونه لري، نو يوازې د تکليف په توگه شمېرل کېږي، نه د حقيقي سختۍ په توگه. د ژوندانه ټولې چارې لکه: خوراک، څښاک او نور ورځني کارونه، په طبيعي ډول سختي لري، خو انسان پرې برلاسی لري او ترسره کول يې د هغه په توان کې دي، نو دا سختي نه گڼل کيږي.

نو هغه سختي چې د تکليف برخه وي، مقصد يې د مکلف د خير او مصلحت لپاره دی، نه د تکليف زياتول. شريعت په مأموراتو او منهياتو کې د مکلف پر سر سختي هدف نه لري، بلکې د هغه د خير راوستل او د فساد مخنيوی يې مقصد دی. لکه څرنگه چې الله تعالی فرمايلي دي: (يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ... ﴿١٨٥﴾) (سورة البقرة: ۱۸۵).

ژباړه: اراده لري الله تعالی په تاسې د اسانتيا او اراده نه لري په تاسې باندې د سختۍ (کابلی تفسير، ۱۴۱۴، ج ۱ : ۱۳۸).

که د مکلف پر سر د تکليف عادي کچه، د ځانگړو حالاتو يا ځانگړو خلکو لپاره له حده لوړه شي، نو شريعت د رخصتۍ دروازې پرانيزي او هغه څوک چې په حرج يا سختۍ کې وي، معاف کوي يې ( السدلان، ۱۴۱۷ :۲۳۲).

**د حکم له اړه د اسانتياو او سختيو ډولونه**

رخصتونه او اسانتياوې په يو حکم کې نه دي؛ بلکې د مکلف د ظروفو په اعتبار سره پکې بدلون راځي چې له هغو څخه ځينې يې په لاندې ډول دي:

**لومړی ډول:** چې اسانتيا روا گرځوي، په دې معنا چې د فعل حکم او صفت کې بدلون راولي، تر هغه مهال چې ضرورت پر خپل حال ولاړ وي، لکه مجبور انسان ته د مردارې دومره خوراک چې له هلاکت څخه بچ پاتې شي، همدا ډول د خنزير د غوښې او شرابو خوراک، د بشپړې اکراه يعنې

په مرګ يا د بدن د يو غړي د قطعه کېدو ګواښ په صورت کې؛ اما د نيمګړې اکراه په صورت کې چې د بندي توب او وهلو تهديد وي، په داسې حالت کې بيا د حرامو خوراک نه دی روا.

ددې شيانو خوراک د مجبوريت او اړتيا په صورت کې د الله تعالی ددې قول له امله روا دی چې: (الا ما اضطررتم اليه) يعنې تاسې د هغې خوراک ته سخت اړ شئ، نو له حرامو څخه استثنا روا والی راوړي.

سخته اړتيا لکه څرنګه چې په ولږه کې منځته راځي، همدا ډول په بشپړې اکراه کې هم منځته راځي، نو د حرامو خوراک روا ګرځي؛ خو کله واجب هم ګرځي، په داسې حالاتو کې بيا د حرامو له خوراک څخه ځان ساتنه حرامه ګرځي که چېرې امتناع يې وکړه او مړ شو دا انسان ګنهکاريږي، ځکه په امتناع سره يې ځان په هلاکت کې وغورځاوه، په داسې حال کې چې خلک له دې کار څخه منعه کړل شوي دي (البرونو، ۱۴۱۶: ۲۳۶).

**دويم ډول:** دا هغه اسانتياوې دي چې د هغه حراموالی په هيڅ صورت کې له منځه نه ځي، يعنې فعل په خپل حال حرام پاتې وي، خو د يو ضرورت له کبله پرې اقدام لپاره اجازه شوې وي، لکه د يو مسلمان مال له منځه وړل او يا يو مسلمان په زنا تورنول او د هغه عزت ننګول، يا د کفر د کلمې په ژبه ويل خو چې زړه يې په ايمان ډاډمن وي، په هغه حالت کې چې اکراه بشپړه وي، نو دا چارې په خپل ذات کې حرامې دي خو د اکراه له امله پکې رخصت راغی، د رخصت اغيز د حکم په تغير کې هغه يوازې مؤاخذه ده نه د هغه حراموالی بدلون او له فعل څخه ځان ساتنه، په دې ډول کې غوره دي، نو که يو څوک له دې کار څخه ځان وساتي او ووژل شي، هغه ته اجر ورکول کيږي (البرونو، ۱۴۱۶: ۲۳۶).

**درېيم ډول:** هغه چارې دي چې په هيڅ يو حالت کې هم نه روا کيږي او نه پکې رخصت راځي، نه د بشپړې اکراه په صورت کې او نه د نيمګړې اکراه په صورت کې، لکه د يو مسلمان وژل، زنا کول، د خپل مور او پلار وهل، دا هغه چارې دي چې هيڅ اقدام پکې نه دی روا، ددوی مؤاخذه او ګناه نه لرې کيږي که يو چا دا کړنې د اکراه په صورت کې ترسره کړې، دلته مکلف پر وړاندې دوه مفسدې واقع شوې نو په سپکې مفسدې دې عمل وکړي ترڅو له سترې مفسدې څخه بچ پاتې شي، د مسلمان وژنه ستره مفسده ده له هغه څخه چې په قتل وګواښل شي، نو که په داسې حالت

کې ووژل شي، ده ته اجر ورکول کیږي که څوک ووژني ظالم ګرځي. دلته یوه پوښتنه مطرح کیږي چې: که یو انسان د اکراه په صورت کې بل ووژني آیا له یوازې قاتل څخه او که له یوازې اکراه کوونکي څخه او یا له دواړو څخه قصاص اخیستل کیږي؟ په دې مسئله کې د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی که د بشپړې اکراه په صورت کې زنا وکړي، دلته د شبهې له امله حد ساقطیږي، خو ګناه یې شته.

نو پر همدې اساس په لومړي ډول کې ضرورت حکم له صفت سره پورته کوي، ترسره کوونکی یې نه نیول کیږي او نه ګنهکاریږي، ځکه فعل مباح بلکې واجب وګرځېد لکه څرنګه چې مخکې مو یادوونه وکړه، خو که یو څوک د بل چا د مال خوراک ته اړ شي، نو په هغه یې تاوان شته، ځکه اړتیا او مجبوري د بل چا حق نه باطلوي.

او په دویم ډول کې اړتیا مؤاخذه پورته کوي نو ترسره کوونکی یې نه ګنهکاریږي، خو اړتیا د فعل صفت او تاوان نه پورته کوي؛ بلکې فعل تر پایه حرام پاتې کیږي.

او په درېیم ډول کې اړتیا نه مؤاخذه او ګناه ، نه د فعل صفت او نه یې تاوان پورته کوي، خو د شهبې له امله حد دفعه کیږي. نو په همدې بنا دا قاعده اخیري ډول له ځان سره په بر کې نه نیسي، ځکه هغه په یو حال کې هم روا نه ګرځي، دا له دې قاعدې څخه مستثنی ده، خو دلته یې ددې لپاره یادوونه کیږي؛ترڅو خلکو ته روښانه شي چې دا په تېرو دواړو ډولونو کې نه دي داخل، ځکه ددې په ځینو فرعو او مسئلو کې د علماوو ترمنځ اختلاف دی، قاعده لومړی ډول په بر کې نیسي چې فعل روا ګرځي او دویمه قاعده هم په بر کې نیسي، خو حراموالی یې په خپل حال پاتې کیږي او رخصت د ګناه په پورته والي کې دی، لکه د ډاکټر کتل د ناروغ او ټپي عورت ته، کوم چې شرعا بل چا ته نه دی روا، نو دا رخصت دی د ګناه په پورته والي کې نه د حراموالي په پورته والي کې، ځکه حرمت یې پر خپل ځای باقي پاتې دی، همدا ډول اړمن انسان لپاره د پردي مال خوراک، نو اړتیا د پردي مال حراموالی له منځه نه وړي؛ بلکې ګناه یې له منځه وړي او په هغه باندې یې تاوان او یا له څښتن څخه یې د بښنې غوښتنه واجب ده (البرونو، ۱۴۱۶: ۲۳۶).

**هغه سختیانې چې شرعي اسانتیاوې راولي**

سختیانې په دوه ډوله دي:

**لومړی:** هغه سختیانې چې عبادت پرې نه ساقطیږي لکه: په سختې یخنې کې اودس او غسل کول، همدا ډول لمونځ په سختې ګرمي او یخني کې، په ځانګړي ډول د سهار لمونځ او د روژې سختي په سخته ګرمي او اوږدو ورځو کې، د حج سختي چې په غالب ډول له حج څخه نه بېلیږي او د علم د ترلاسه کولو په لاره کې د سختیو او سفرونو زغمل، د زناکارو په رجم کولو کې سختې زغمل، په مجرمانو باندې د الله تعالی د حدودو اقامه په ځانګړي ډول د مور، پلار، زامن او لوڼو په حق کې، همدا ډول پردیو مجرمانو او د زامنو او لوڼو د خپلوانو په حق کې، په دې اړه الله تعالی فرمایلي دي: (...وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾)( سورة النور :٢).

ژباړه: او نه دې نیسي تاسو لره په دغو زړه سوی او مهرباني په انفاذ د حکم د الله تعالی کې که یې تاسې چې ټینګ یقین لرئ پر الله او په ورځې د آخرت او حاضر دې شي عذاب کولو د دې دواړو ته یوه ډله له مؤمنانو څخه(کابلی تفسیر،١٤١٤، ج ٢: ٢٨٦ ).

او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم فرمایلي دي: " وَايْمُ اللَّهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا "( البخاري،١٤٢٢ ،ج٣: ١٢٨٢، حدیث نمبر: ٣٤٧٥).

ژباړه: قسم پر خدای که چېرې فاطمه د محمد لور غلا وکړي، نو زه به یې ارومرو لاس پرې کړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له هر چا زیات غوره دی چې دغه سختیانې وګالي، ځکه الله تعالی په خپل کتاب کې نوموړی په مؤمنانو رحیم او مهربان په صفتونو یاد کړی، دا ټولې سختیانې د عباداتو په سقوط او تخفیف کې کومه اغېزه نه لري؛ ځکه که چېرې اغېز یې کولای نو د عباداتو مصلحتونه به په ټولو یا زیاتره وختونو کې له منځه تللي وو او تر قیامته به ددې کارونو ثوابونه هم چا نه اخیستل.

**دویم:** هغه سختیانې چې عبادات هم په زیاتره وختونو کې پرې ساقطیږي

دا بیا په څو ډولونو دي:

لومړی ډول: تر ټولو ستر مشقت او سختي چې د انسان ژوندانه او يا د بدن د يو غړي د قطعې او يا د هغه د ګټو ګواښ پکې شتون ولري، نودا اساني او رخصت راوستونکی مشقت دی؛ ځکه د نفس او غړو ساتنه د دواړو جهانونو د مصلحت لپاره ډېر غوره دی له دې څخه چې هغه دې فوت کولو ته وړاندې کړل شي او بيا يې مثل هم فوت شي.

دويم ډول: خفيف مشقت لکه په ګوته کې کم درد، يا کمه سردردي، يا د طبعيت خرابېدل، دا د مکلف لپاره يو ګواښ دی اما څه غټه ستونزه نه ده، ځکه په عباداتو کې د مصلحتونو ترلاسه کول ډېر غوره دي، نسبت دې ته چې داسې مشقت دفعه کړل شي کوم چې غټه ستونزه ونه لري.

درېيم ډول: هغه مشقت چې د دواړو مشقتونو ترمنځ مختلف وي په خفت او مشقت کې، نو کله چې لوړ مشقت ته نږدې شي تخفيف راوړي؛ اما کله چې ادنی مشقت ته نږدې شي هلته بيا تخفيف نه راوړي، مګر د اهل ظاهرو علماوو په نزد. لکه سپکه تبه او د غاښ درد، نو دا د دواړو رتبو ترمنځ په کشمکش کې دی، نو ځينې خلک يې لوړې مرتبې سره تړي او ځينې خلک يې ښکته مرتبې پورې تړي، نو کله چې له لوړې مرتبې سره نږدې شي بيا تخفيف او اسانتيا پکې راوستل غوره دي او کله چې ښکته مرتبې ته نږدې شي، بيا نو غوره داده چې تخفيف او اسانتيا پکې ونه شي، کله بيا داسې شي چې يو لوري ته هم نږدې نه شي، بيا په داسې حالت کې توقف غوره دی، خو ځينې خلک يې بيا د يو بل بيروني کار باندې ترجيح ورکوي، لکه په روژه کې د اوږو تېږول، يا د لارې ګرد چې ځان ساتنه ترېنه ډېره سخته ده، دا وايي کوم اغېز نه لري، ځکه ځان ساتنه ترې سخته ده، خو له دې اخوا چا لپاره بيا معافي نشته؛ ځکه ځان ساتنه ترې ډېره سخته نه ده، لکه د مضمضې اوبه تېرول چې دا هم د دواړو مرتبو ترمنځ دي.

څلورم ډول: چې ځان ساتنه ترې سخته نه وي، په دې کې معافي نه شته.

پنځم ډول: چې د دواړو مرتبو ترمنځ وي.

په دې کې اختلاف دی ځينې علماء يې له هغه احکامو سره تړي چې سختي يې زياته وي، ځکه چې سختي يې له هغو شيانو زياته ده کوم چې له دې څخه په ښکته مرتبه کې دي، خو ځينې علماء يې له هغه احکامو سره تړي چې مشقتونه يې کم دي، ځکه سختي يې له هغه احکامو څخه کمه ده، کوم چې له ده څخه په لوړه مرتبه کې واقع دي، نو دا بيا د علماوو په صحيح قول کې نه

عفوه کیږي؛ مګر په دې کې کله زیات غرر او نامعلومتیا پرته وي لکه: د غوزانو پلورل په خپل پوستکي کې، خو کله یکې د خلکو د زیاتې اړتیا له امله چې وپلورل شي په سختي کې اساني راوستل کیږي، نو په دې کې غوره داده چې په جواز یې فتوی ورکړل شي، لکه په پوستکي کې د شنه لوبیا پلورل، خو په لمانځه کې چې په ولاړه سخته شي له داسې ناروغۍ له امله چې عاجزي او اذکار ویلو کې یې تشویش پیدا کیږي، نو حکم په دې کیږي چې په ناسته وشي، د علماوو په اتفاق سره په دې کې بیا ضرورت او له ولاړېدو څخه ناتواني شرط نه ده او له ناستې څخه ملاستې ته د تګ لپاره شرط دادی، چې له ولاړېدو څخه ناستې ته له انتقال څخه سخت حالت شتون ولري، دا ځکه چې ملاسته د عبادت له لوړوالي سره په ټکر کې حالت ده، بیا په ځانګړې توګه لمونځ خو له خپل رب سره یې مناجات دی.

اما هغه عذرونه چې یوازې د جماعت د لمانځه لپاره د سقوط باعث ګرځي هغه بیا سپک دي، ځکه په مسجد کې لمونځ په جماعت سره ترسره کول سنت دي او له ځان سره جمعه کول یې بدل ګرځي، د روژې د سقوط لپاره هم عذرونه سپک دي لکه: سفر او هغه ناروغي چې روژه ورسره په سختي نیول کیږي، همدا ډول په مسافر هم روژه سخته تمامیږي، دا دواړه سپک عذرونه دي؛ اما هغه عذرونه چې له دې څخه سخت وي، نو په هغو خو ډېره مناسبه ده چې روژه دې وخوړل شي لکه: نفس خطر او یا د بدن د یو غړي د تلف کېدو خطر.

اما د حج هغه عذرونه چې حج پرې ساقطیږي هغه هم سپک دي، نو د ګنډل شوو جامو اغوستل هم هغه چا ته روا ګرځي چې ناروغیږي، چاته چې یوه ستره ستونزه پیښیږي لکه د نفس هلاکیدل او یا د غړو پرې کیدل یا د غړو خرابېدل، بیا خو دوی ته روا ده چې تیمم ووهي.

دویمه مرتبه: په مرتبه کې له تېرو مشقتونو څخه سپک مشقت لکه: د یو خطرناکه ناروغۍ د را پیدا کېدو وېره، نو په صحیح قول له لومړۍ رتبې سره تړل کیږي.

درېیمه مرتبه: ددې وېره چې د زخم به یې زر جوړ نه شي او یا دا چې نور به هم سخت شي، نو دداسې ناروغۍ دویمې رتبې سره په تړلو کې د علماوو ترمنځ اختلاف دی، خو غوره خبره داده: چې له همدې دویمې رتبې سره وتړل شي.

څلورمه مرتبه: په بدن کې د داغ جوړېدو وېره که په پټو ځایونو کې د داغ جوړېدو وېره وه، هغه عذر نه گڼل کیږي؛ اما که داغ په ظاهري شکل جوړېدو بیا په دې کې د علماوو اختلاف دی، خو غوره نظر دادی چې روا گرځي، دا ټول عذرونه لکه څرنگه چې مخکې مو یادوونه وکړه د روژې په افطار او د لمانځه په ناسته اداء کولو په روا والي اثر لري (سلطان العلماء،۱۴۱۴: ج۲: ۷ ـ ۱۰).

**د سختیانو هغه اسباب چې اسانۍ راوستونکي دي**

سره له دې چې د اسلامي شریعت اساس په اسانتیا او د سختۍ په له منځه وړلو شوې، شریعت دې اړخ ته زیاته پاملرنه کړې او د ناڅاپي سختیو په اړه یې هم د اسانۍ راوستلو تصمیم نیولی که هغه اسماني افتونه وي او که غیر اسماني.

**الف: هغه اسماني افتونه چې اساني راولي**

هغه اسماني افتونه چې اساني له ځان سره راولي په دې ډول دي: کوچني والی، لیونتوب، بېړاتوب، هیره، خوب، بې هوشي، غلامي، ناروغي، مرگ، حیض او نفاس. د هر یو تفصیل په لاندې ډول دی:

۱ ـ کوچنیوالی: کوچنیوالی مکلفیت پورته کوي، په همدې هغه څه هم ساقطیږي کوم چې له بالغ شخه د لیونتوب له امله ساقطیږي، ځکه د مکلفیت اساس پر عقل ایښودل شوی دی.

۲ ـ لیونتوب: په دائمي لیونتوب سره ټول عبادتونه او مکلفیتونه ساقطیږي.

۳ ـ بېړاتوب: بېړاتوب له لیونتوب څخه په کمه درجه کې قرار لري او یا دا هم د لیونتوب یو ډول دی، چې مکلفیت له منځه وړي او هم دا چې هېڅ مکلفیت نه لري لکه ممیز ماشوم.

۴ ـ هیره: هېره په حق الله کې عفوه اود گناه په له منځه وړلو کې یو عذر دی، نه په حقوق العبادو کې.

۵ ـ خوب: خوب هم د قدرت له استعمال څخه ناتواني ده، نو د خطاب تأخیر واجبوي، خو وجوب نه منعه کوي او هم خوب له اختیار سره په ټکر کې دی.

٦ – بې هوښي: دا هم د خوب په څېر ده که چېرې اوږده شي بیا اداء پرې ساقطیږي، خو چې له یوې شپې او ورځې څخه واوړي.

۷ ـ مریيتوب: دا هم يو حکمي ناتواني ده نه حقيقي، چې يوازې حج او د جمعې لمونځ ترېنه ساقطيږي.

۸ ـ ناروغي: د توان تر بريده پرې عبادات واجب دي، د هغه له توان څخه پورته عبادتونه ترې ساقط شوي.

۹ـ حيض او نفاس: دا دواړه اهليت له منځه نه وړي، خو لمونځ پرې ساقطيږي او روژه د ستونزې د رفعې له امله ځنډيږي.

۱۰ ـ مرگ: مرگ هم ټول دنيوي مکلفيتونه ساقطوي، يوازې هغه شيان پرې پاتې کيږي چې هغه ورته اړتيا لري لکه: تکفين، تجهيز، د قرضونو اداء او وصيتونو پلي کول.

**ب ـ مکتسبه او يا غير اسماني افتونه**

۱ ـ له شريعت څخه ناخبري: هغه مسلمان لپاره چې په دار حرب کې اوسيږي او داراسلام ته هجرت ونه کړي، نو هغه له احکامو څخه په ناخبرۍ معذور گڼل کيږي، همدا ډول که يو څوک په پټه خپله ځمکه وپلوري او خپل گاونډي خبر نه کړي نو دا هم عذر گڼل کيږي، هغه لپاره د شفعې حق هغه وخت ثابتيږي کله چې خبر شي.

۲ ـ بې عقلي: دا هم له غير اسماني افتونو څخه يو افت دی چې يو څوک په مال کې سم تصرف نه شي کولای، نو په دې باندې د محکمې له خوا بنديز لگول کيږي، ترڅو مال يې وساتل شي.

**د اسانتياوو اسباب**

په عباداتو او غير عباداتو کې د اسانتياوو اسباب اوه دي چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

**لومړی ـ سفر**

ددې اسانتياوې ډېرې دي چې يو څو يې په لاندې ډول دي:

الف: د مضاربت له مال څخه په سفر کې په مضارب باندې د مصرف روا والی.

ب : په سفر کې روا ده چې کله يو ملگری مړ شي د خپل ملگري مال وپلوري او پيسې يې پرته له ولايت او وصيت او د قاضي له حکم څخه د هغه ورثه وو ته وساتي.

ج: د سفر د عذر له كبله د اجارې د فسخې روا والی.

د: له حد او قصاص څخه پرته په نورو قضاياوو كې د شهادت تحميل روا والی.

ه: د فرضي لمونځونو د ركعتونو نيمايي والی.

و: د روژې د خوراک روا والی (داوقافو او شؤن اسلامي وزارت، ۱۴۰۴ ، ج۱۴: ۲۲۸).

**دويم ـ ناروغي**

د ناروغي اسانتياوې ډيرې دي چې يو څو يې په لاندې ډول دي:

الف: د شهادت د تحميل روا والی.

ب: له رجم پرته تر روغتيا پورې د حد د پلی كولو ځنډېدل.

ج: د خلوت مانع گرځېدل برابره خبره ده كه د خاوند له لوري وي او كه د مېرمنې له لوري (داوقافو او شؤن اسلامي وزارت، ۱۴۰۴ ،ج۱۴: ۲۲۷).

**درېيم: اكراه (جبر او زور)**

اكراه هغه گواښ ته ويل كېږي، چې يو څوک پرې وېرول كېږي، لكه سخت وهل، د وژنې يا د غړي د پرې كولو گواښ، اوږد بند او زولنې، يا د زورواكو له خوا نور ضرر. دا دوه ډولونه لري:

- ملجئ (سخته اكراه): دا هغه اكراه ده چې د انسان د قتل او يا د بدن د يو غړي د قطعې گواښ پكې شتون ولري.
- غير ملجئ (كمزوری اكراه) :هغه چې د زړه رضا له منځه يوسي، خو سخت فشار نه وي. نو اكراه په خپلو دواړو ډولونو سره يا به په تړونونو كې او يا به د هغو په له منځه وړلو كې وي او يا به په حرامو شيانو كې وي، يا به په دوی كې ټوكې او مسخرې اغېز لري او يا به يې نه لري او حرام شيان به يا داسې وي چې د ضرورت پر مهال روا گرځي او يا به د ضرورت پر مهال روا نه گرځي، يا به دا پر بل كس جنايت وي لكه: د يو معصوم انسان وژنه او يا د هغه د بدن د يو غړي قطعه كول، يا به پر بل كس جنايت نه وي لكه: ارتداد.

الف – هغه تړون او تړون ماتېدنه چې ټوکې پرې اغېز لري: لکه پلور، اجاره، رهن، هبه، اقرار او ابراء که څوک پرې مجبور شي، وروسته له اکراه د ده اختیار دی چې معامله فسخه کوي یا یې پر ځای پرېږدي.

ب – هغه تړون او تړون ماتېدنه چې ټوکې پرې اغېز نه لري: لکه نکاح، طلاق او د قصدي قتل وینې معاف کول، په دې کې اکراه هېڅ اغېز نه لري، نو وروسته له اکراه دا ټول نافذ پاتې کېږي، خو مکرَه (هغه چې مجبور شوی) کولای شي پر مکرِه (مجبور کوونکي) دعوه وکړي. خو د طلاق په صورت کې مهر له خاوند څخه ساقطېږي.

ج – هغه منهیات چې د ضرورت پر مهال روا کېږي: لکه د بل مال ضایع کول یا د شرابو څښل، په ملجئ اکراه کې روا، بلکې واجب ګرځي، خو د مال ضمان د مکرَه په غاړه وي.

د – هغه منهیات چې د ضرورت پر مهال هم روا کېدونکي نه دي او د بل پر وړاندې جنایة ګرځي: لکه د معصوم انسان وژنه یا د غړي پرې کول، دا په هیڅ صورت نه روا کېږي که څه هم په سختې اکراه کې وي او که ترسره یې کړي، په اکراه کوونکي قصاص لازمیږي.

هـ – هغه منهیات چې د بل په حق کې جنایة نه وي: لکه ارتداد، مکرَه ته اجازه ده چې د کفر کلمه پر خوله وباسي، خو زړه یې باید په ایمان ډاډمن وي او که توریه (داسې پټه نیت لرل چې بل څه یې مراد وي) ور په ذهن راغله، نو واجب ده توریه وکړي. که یې توریه ونه کړه، کافر ګرځي او مېرمن یې پرې حرامېږي (داوقافو او شؤن اسلامي وزارت، ۱۴۰۴ ،ج۱۴: ۲۲۹).

**څلورم: هېره**

هېره هغه حالت ته ویل کېږي چې انسان د کوم شي یادولو ته اړتیا ولري، خو هغه نه وریادیږي. علماوو په دې اتفاق کړی چې هېره د جزا د ساقطېدو سبب دی. ددې له اسانتیاوو څخه یې ځینې دا دي:

۱ ـ که څوک د هېرېدو له امله په داسې څه کې واقع شي چې سزا ورباندې واجب وي، نو دا هېره د جزا د رفعه کولو لپاره شبهه ګرځي.

۲ ـ که پورړی خپل پور هېر کړي او همداسې مړ شي، په داسې حال کې چې پور د يو جنس بيه يا قرض وي، نو په دې نه نيول کيږي، خو که پور د غصب په ډول وي، د هغه تاوان له منځه نه ځي ( داوقافو او شؤن اسلامي وزارت، ۱۴۰۴ ،ج۱۴: ۲۲۹).

**پنځم: ناپوهي**

جهل هغه حالت دی چې څوک بايد پوه شي خو نه پوهېږي. جهل کله نا کله د اسانتيا سبب ګرځي، چې ځينې يې دا دي:

۱. که شفيع د خپلې شفعې د پلورل کېدو په اړه نا خبر وي، د شفعې د غوښتنې په ځنډ کې معذور ګڼل کيږي.

۲. که وکيل يا قاضي د عزل يا محجور د حجر له حکم څخه بې خبره وي، نو تر هغې د دوی د خبرېدو پورې يې تصرفات صحيح ګڼل کيږي.

۳. که پلار يا وصي د يتيم مال وپلوري، وروسته دوی ادعا وکړي چې مال يې د ناخبرۍ له امله په لوی تاوان پلورلی، د هغه خبره قبلېږي.

۴. که يو وکيل د پور د ورکړې مسوول وي او پور پرې کړي، وروسته څرګنده شي چې پور ورکوونکي دغه پور پور اخيستونکي ته هبه کړی وو، خو وکيل نا خبره وو، نو پر وکيل يې تاوان نه شته.

۵. که وارثان د وصيت اجازه ورکړي، خو دوی نه پوهېدل چې مړي څه وصيت کړی، نو د دوی اجازه نافذه نه ده.

۶. که په پلورل شوي شي کې داسې عيب وي، چې عام خلک يې په لومړي نظر کې نه پېژني او پېرودونکی پرې خبر وي خو د عيب په معنا نه پوهېږي، وروسته چې پوه شو دا عيب دی، د فسخ حق لري. د ده لومړنی خبر رضايت نه ګڼل کيږي.

۷. دعوې په تناقض هم کله معاف کېږي، په ځانګړي ډول هغه موارد چې سبب يې پټ وي، لکه د نسب او طلاق دعوې. مثلاً که څوک پر بل ادعا وکړي چې هغه يې پلار دی، مدعی عليه

انکار وکړي او وروسته ووایي چې هغه زوی دی، نسب ثابتیږي؛ ځکه د اولاد ترون د نطفې له لارې کیږي چې پټ امر دی.

۸. همدارنګه که ښځه د خلع په بدل کې له میړه جدا شي، خو وروسته ادعا وکړي چې میړه یې مخکې درې طلاقه ورکړي وو او په دې ادعا یې دلیل هم وړاندې کړي، نو د خلع بدل بېرته اخلي. دلته د هغې تناقض معاف کیږي؛ ځکه طلاق د میړه کار دی او ښځه پرې بې خبره وي.

۹. که څوک په دارالحرب کې مسلمان شي او د شریعت احکام ورته نه وي رسېدلي که حرام کارونه یې په ناپوهۍ سره کړي وي، معذور ګڼل کیږي (داوقافو او شؤن اسلامي وزارت، ۱۴۰۴ ،ج۱۴: ۲۳۰).

**شپږم: سختي او عامه بلوی**

کله چې خلک په داسې عامه ستونزه کې ښکېل شي، چې ډېر خپره شوې وي او د خلاصون لاره یې سخته وي، نو په داسې حالت کې شریعت اسانتیاوې راوړي. ځینې یې دا دي:

۱. د کرنې، اوبو لګونې، سلم، استصناع او اجارې جواز. له همدې امله د یوې شي اجاره په بلې هغه ته ورته شي نه کیږي او نه هم د داسې منافعو اجاره صحیح ده چې اصل کې مقصود نه وي، ځکه په دې کې د سختۍ او ابتلاء تحقق نه کیږي.

۲. د ډاکټر، شاهد او د واده غوښتونکي لپاره پردې ښځې ته کتل روا ګرځول شوي دي.

۳. پر مجتهدینو د ظن غالب په کفایت کولو سره آسانتیا.

۴. په سودي شیانو کې هغه لږ څه چې د وزنونو تر منځ داخلیږي، معاف بلل کیږي.

**اووم: مېرمن توب**

مېرمنې ډېر هغه مسؤلیتونه چې نارینه پرې مکلف ګرځول شوي، ندي مکلفې شوې لکه: جهاد، جزیه ورکول او د قاتل دیت (داوقافو او شؤن اسلامي وزارت، ۱۴۰۴ ،ج۱۴: ۲۳۱).

**اتم: تېروتنه يا خطا**

تېروتنه به يا په عمل کې وي او يا په قصد کې.

۱ـ په عمل کې تېروتنه: لکه يو څوک غواړي چې ښکار وولي، ښکاري نه ټوپک خطا شي او انسان ترې وويشتل شي.

۲ـ په قصد کې تېروتنه: لکه يو څوک چې يو شخص په دې فکر وولي چې معصوم انسان نه دی، خو له ويشتلو وروسته څرگنده شي چې هغه معصوم انسان وو. همدا ډول د قبلې پېژندنې په اړه که څوک په اجتهاد قبله ولټوي او تېروتنه وکړي، وروسته ورته معلومه شي چې قبله بل لوري ته وه.

تېروتنه په عبادتونو او حقوق الله کې د اسانتياوو راوستونکو له اسبابو گڼل کيږي، لکه څرنگه چې الله تعالی فرمايلي دي: (... وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا أَخْطَأْتُم بِهِ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥﴾)( سورة الأحزاب :٥)

ژباړه: او نه شته پر تاسې هيڅ گناه په هغه شي کې چې خطا شوي يې تاسې په کې، وليکن شته گناه په هغه شي کې چې قصد يې وکړي زړونه ستاسې او دی الله ښه ښښونکی او ډېر رحم لرونکی (کابلی تفسير،۱۴۱۴، ج۲: ۶۵۵).

او رسول الله صلى الله عليه وسلم هم فرمايلي: تَجَاوَزَ اللهُ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ , وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ (البيهقي،۱۴۲۴ ، ج۱۰: ۱۰۴، حديث نمبر:۲۰۰۱۳ ).

خو خطا په حقوق العبادو کې د اسانتياوو له راوستونکو اسبابو څخه نه گڼل کيږي. که يو څوک د چا مال په خطا سره له منځه يوسي، په هغه يې تاوان اچول کيږي. په جناياتو کې د تخفيف سبب گرځي، د قصاص پر ځای د ديت ورکول. د پردې ښځې په خطا سره وطې کې حد نه پلی کيږي. په حقوق الله کې تېروتنه د گناه زوال سبب کيږي او عبادت هم بيا راگرځول شرط نه دي (داوقافو او شؤن اسلامي وزارت، ۱۴۰۴ : ج۱۴: ۲۳۱).

**نهم: وسوسه**

وسواسي هغه څوک دی، چې په عبادت کې ډېر شک لري، تر دې چې يو کار يې کړی وي بيا هم شک کوي چې دا يې نه دی کړی. قاعده دا ده چې که يو څوک د يو کار په نه کولو کې شک

وکړي هغه باید هماغه کار تکرار کړي، لکه یو څوک چې سر پورته کړي او په دې کې شک وکړي چې رکوع یې کړې کنه، نو په دې کس باندې رکوع کول لازمي دي؛ ځکه قاعده داده چې شک ته اعتبار نه شته، په یقین به اقدام کوي که یو څوک شک وکړي چې ده درې رکعته لمونځ کړی که څلور نو هغه دې شوی لمونځ درې رکعته وګڼي او یو رکعت دې بل وکړي، په پای کې دې د سهوې سجده وکړي، خو که یو څوک دائمي وسواسي وي، د هغه وسوسې ته اعتبار نه شته، ځکه هغه په حرج کې واقع کیږي او حرج په دین کې نه شته، دا به په غالب ګومان پسې د اسانتیا له امله ځي؛ ترڅو وسوسه یې قطعه شي( داوقافو او شؤن اسلامي وزارت، ۱۴۰۴ ، ج۱۴: ۲۳۳).

**لسم: اسلام ته نوي داخل شوي مسلمانان**

دا هم د اسانتیا یو سبب دی، څو هغوی د شریعت د ناپوهۍ له امله معذور وګرځي:

۱. څوک چې نوی مسلمان شي او د ځینو شیانو په حراموالي لا نه وي پوه، نو دغه نا پوهي یې عذر ګڼل کیږي. دا داسې شبهه ده چې د حدودو د ثبوت لپاره مانع ګرځي.

۲. هغه عبادات او ټول حقوق الله چې له اسلام راوړلو دمخه پرې پاتې دي، هغه ترې ساقط دي، نو د قضائي غوښتنه ورڅخه نه کیږي.

۳. هغه کافر ته زکات ورکول، چې د اسلام راوړلو احتمال یې موجود وي، ترڅو تشویق او اسلام پرې پیاوړی شي( داوقافو او شؤن اسلامي وزارت، ۱۴۰۴ : ج۱۴: ۲۳۳) .

**د تخفیف ډولونه**

د شریعت تخفیفونه څو ډولونه لري:

**لومړی: د اسقاط تخفیف**

دا هغه حالت دی چې عبادت د وجوب څخه معاف کېږي کله چې عذر موجود وي، لکه: د حیض یا نفاس پر مهال لمونځ. د هغه چا لپاره چې د حج لپاره یې امکانات نه وي، لکه بحرې سفر، د لارې د امنیت ګواښ. ښځې ته د محرم د نه شتون.

**دويم: د تنقيص تخفيف**

دلته د عذر له امله عبادت يا کمېږي او يا ساده کېږي لکه: د سفر پر مهال د څلور رکعتي فرضي لمونځ نيمايي کېدل. د ناتوانی په صورت کې په اشارې سره د لمانځه اداء کول.

**درېيم: د بدل تخفيف**

دلته يو عبادت په بل عبادت سره بدلېږي لکه: د اوداسه يا غسل پر ځای تيمم کول، چې اوبه نه وي او يا د استعمال توان ونه لري. د ناروغ لپاره د ولاړې پر ځای په ناسته لمونځ کول. د رکوع او سجدې پر ځای اشاره کول. د روژې نيولو پر ځای د هغې خوړل څوک چې د روژې وس نه لري.

**څلورم: د تقديم تخفيف**

دلته عبادت مخکې له خپل ټاکلي وخت ترسره کېږي، لکه: د عرفات په ورځ د ماسپښين او مازديګر لمونځ يوځای کول. د کال له پوره کېدو دمخه د زکات ورکړه، چې د نصاب مالک وي، همدا ډول د روژې له بشپړېدو د مخه د سرسايې ورکول.

**پنځم: د تاخير تخفيف**

دلته عبادت له ټاکل شوي وخت څخه وروسته ترسره کېږي، لکه: د مزدلفې په ورځ د ماښام او ماخستن لمونځونه يوځای کول. د رمضان روژه له خپل وخت څخه د ناروغ او مسافر لپاره ځنډول، د لمانځه ځنډول د هغه چا لپاره چې د يو ډوب شوي انسان په راويستلو بوخت وي او يا د داسې ناروغ مراقبت چې د تلف کېدو ګواښ يې موجود وي، يا د ناروغ په عملياتو د بوخت ډاکټر لپاره د لمانځه ځنډېدنه.

**شپږم: د اضطرار تخفيف**

دلته عبادت يا حرام شوي کارونه د اضطراري حالت له امله روا ګرځي لکه: د سختې لوږې او د مرګ وېرې په صورت کې د مړو شوو ځارويو يا د خنزير د غوښې خوراک او د شرابو څښل.

**اووم: د بدلون تخفيف**

دلته د اړتیا له کبله د عبادت نظم بدلېږي لکه: د لمونځ ترتیب بدلول د وېرې، خطر یا ستونزې پر مهال (ابن نجیم، ۱۴۰۰: ۹۲).

## پایله

دغه څېړنه دې نتیجې ته رسېدلې ده، چې اسلامي شریعت د الهي رحمت، حکمت او عدالت یو بشپړ نظام دی، چې د انسان د ژوند ټولو اړخونو ته یې په معتدل ډول لارښوونې کړې دي. د قرآن کریم نصوص، د رسول الله ﷺ احادیث او د فقهاوو قواعد په څرګنده ښیي چې اسلام د مشقت دین نه؛ بلکې د اسانتیا او اعتدال لارښوونکی دین دی. د الله تعالی دا وینا چې: ﴿يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ﴾ د دې اصل تر ټولو روښانه بیان دی. په څېړنه کې څرګنده شوه چې د اسانتیاوو اصل د شریعت د عملي کېدو ضمانت برابروي. که د دین ټول احکام د طاقت نه پورته وای، د مکلفینو پر اوږو به دروند بار جوړ شوی وو او د دین له قبلولو او عملي کولو څخه به ډډه کېده. له همدې امله شریعت د رخصتونو او اسانیو په بڼه داسې لارې پرانیزي چې د انسان د حالاتو او توان سره سمون ولري؛ لکه د سفر پر مهال د لمانځه قصر، د ناروغ لپاره د روژې رخصت، د بې وسۍ په حالت کې د فرض بدیل او د اضطرار پر مهال د محظوراتو جواز. پایله دا ده چې اسلامي شریعت د اسانتیاوو او رخصتونو له لارې د دین د تلپاتې والي، د مکلفینو د زړونو د ډاډ او د عبادت د روح د ساتنې ضمانت کوي. مسلمان باید د دې اصل په پېژندلو سره د دین په تطبیق کې له توازن، اعتدال او سم فهم څخه کار واخلي، څو د الله تعالی رضا په اسانه او پر دوامداره توګه ترلاسه کړي.

## پایله اخیستنه

د څېړنې پایلې څرګندوي چې اسلامي شریعت د الله تعالی د رحمت او حکمت څرګند نظام دی، چې د انسان د ژوند د ټولو اړخونو لپاره د اعتدال او اسانۍ اصول لري. د قرآن کریم او سنتو په نصوصو کې دا اصل په وار وار تکرار شوی چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره مشقت نه غواړي؛ بلکې د هغوی د توان په اندازه یې مکلفیتونه ټاکلي دي. د فقهي قواعدو لکه: المشقة تجلب التيسير، الضرورات تبيح المحظورات او العادة محكمة په رڼا کې څرګندیږي چې که په هر ځای د سختۍ

او عذر حالت پيدا شي، شريعت د هغې د لرې کولو لپاره مناسب بديل وړاندې کوي. دغه اصل د شريعت د عملي کېدو ضمانت دی؛ ځکه که د دين ټول احکام د طاقت نه پورته وای، د مکلفينو پر غاړه دروند بار کېده او د دين له قبلولو او عملي کولو څخه به ډډه کېدله. له همدې امله، رخصتونه د رحمت ځرګندونه ده، نه د سستي او بې‌پروايۍ دروازه. پايله دا ده چې د اسلامي شريعت د اسانتياوو او رخصتونو پېژندنه د مسلمان د ديني پوهاوي لپاره خورا اړينه ده، څو وکولای شي د ژوند د بېلابېلو حالاتو په وړاندې د اسانۍ له لارې د الله تعالی رضا تر لاسه کړي او د دين د عملي کولو پر مهال له توازن او اعتدال څخه کار واخلي.

## وړانديزونه

### علماوو ته

- د اسلامي شريعت د اسانتياوو او رخصتونو اصل بايد د نصوصو او فقهي قواعدو په رڼا کې روښانه او هېوادوالو ته د ممبر له لارې وړاندې کړي.
- په اختلافي مسايلو کې له يو ځه تسامح څخه هم کار واخلي.
- د حال مطابق فتوا ورکړي، چې د دين، مذهب او افغاني کلتور سره په ټکر کې نه وي.
- له غير ضروري سختيو څخه ډډه وکړي.

### عامو هېوادوالو ته

- په دې ځان پوه کړي چې اسلام د اسانتياوو دين دی.
- له افراطي او تفريطي فکرونو ځان وساتي.
- دين له باوري علماوو زده کړي.

## مأخذونه

القرآن الكريم

ابن نجيم، الشيخ زين العابدين بن ابراهيم .(۱۴۰۰). الأشباه والنظائر على مذهب ابي حنيفة النعمان، بيروت ـ لبنان: دارالكتب العلمية.

الأفريقي، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى.(۱۴۱۴). لسان العرب، بيروت: دار الصادر، چ:۳.

البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي.( ۱۴۲۲). صحيح البخاري،بيروت ـ لبنان: دارطوق النجاة، چ:۱.

البرونو، الشيخ الدكتور محمد صدقي بن احمد بن محمد.( ۱۴۱۶). الوجيز في ايضاح قواعد الفقه الكلية، بيروت ـ لبنان: مؤسسة الرسالة، چ:۴.

البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر.(۱۴۲۴). السنن الكبرى، بيروت – لبنان: دارالكتب العلمية، چ:۳.

الجوزي، جمال الدين أبي الفرج عبد الرحمن.( ۱۴۲۲). زاد المسير في علم التفسير ، بيروت ـ لبنان: دارالكتاب العربي، چ:۱.

الحنفي، أحمد بن محمد مكي، أبو العباس، شهاب الدين الحسيني الحموي.( ١٤٠٥). غمز عيون البصائر في شرح الأشباه والنظائر، بيروت ـ لبنان: دارالكتب العلمية، چ:۱.

داوقافو او شؤن اسلامي وزارت.(۱۴۴). الموسوعة الفقهية الكويتية، كويت: دار السلاسل، چ:۲.

الزرقاء الشيخ احمد بن الشيخ محمد.( ۱۴۰۹). شرح القواعد الفقهية، سوريه ـ دمشق: دارالقلم، چ:۲.

السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي .( ۱۴۲۰). سنن أبي داود، بيروت لبنان: دار الكتاب العربي.

السدلان، الدکتور صالح بن غانم.(۱۴۱۷). القواعد الفقيه الكبرى و ما تفرع عنها، المملكة العربية السعودية الرياض: دار البلنسية، چ:۱.

ديوبندي، محمود الحسن.، او عثماني، شبير احمد. (ب ت). کابلي تفسير: د قرآن کريم تفسير او ژباړه په پښتو ژبه کې (د افغانستان د علماو ټولنې ژباړه؛ ۲-۱ ټوکه).

سلطان العلماء، أبو محمد عز الدين عبد العزيز بن عبد السلام بن أبي القاسم بن الحسن السلمي الدمشقي .( ۱۴۱۴). قواعد الأحكام في مصالح الأنام، محقق : محمود بن التلاميد الشنقيطي، قاهره ـ مصر: مكتبة الكليات الازهرية.

الشاطبي، ابراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي.( ۱۴۱۷). الموافقات، سعودي عربستان: دار ابن عفان، چ:۱.

العيني، أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين .( ب.ت). عمدة القاري شرح صحيح البخاري، بيروت ـ لنبان: دار احياء التراث العربي.

الندوي، علي احمد.(۱۴۱۲). القواعد الفقهية: مفهومها، نشأتها، تطورها، دراسة مؤلفاتها، ادلتها، مهمتهاو تطبيقاتها، دمشق ـ سوريه: دارالقلم، چ:۲.

# التيسيريات والرخص في الشريعة الاسلامية

روح الله حميدي [1*]، سمير احمد احمدي [2]

قسم العلوم الاسلامية و الثقافة، كلية التعليم والتربية، جامعة بكتيا [1-2]

mojahid.mu@gmail.com

**الملخص**

تعد الشريعة الإسلامية نظاما إلهيا متكاملا، بني على الرحمة والحكمة، يستوعب حاجات الإنسان في جميع جوانب حياته، ويوازن بين القدرة البشرية ومتطلبات التكليف الشرعي. ومن أبرز خصائصها أنها شريعة يسر واعتدال، وضعت الأحكام على قدر الطاقة، وجعلت لكل حالة من حالات المشقة والحرج بابا من التيسير والرخصة. تتجلى في أن كثيرا من الناس يقعون بين طرفي الإفراط والتفريط: فبعضهم يظن أن الدين كلّه مشقة وعسر، فينفر منه، وآخرون يوسعون مفهوم الرخص حتى يخرج عن حده المشروع. ومن هنا برزت الحاجة الماسة إلى إبراز قواعد التيسير في الشريعة، وبيان ضوابطها العلمية، تحقيقا للفهم الصحيح، وتلبية لمقتضيات الحياة المعاصرة. اعتمد البحث على المنهج الوصفي التحليلي، مستندا إلى المصادر الأصلية كالقرآن الكريم والسنة النبوية والقواعد الفقهية الكلية، بالإضافة إلى المراجع الثانوية من كتب وبحوث معاصرة. أما النتائج، فقد أثبتت أن الشريعة الإسلامية تقدم حلولا واقعية لكل ما يعترض الإنسان من مشقة: كقصر الصلاة في السفر، والفطر في المرض، وجواز المحظور عند الضرورة. فالتيسير ليس بابا للتهاون، بل هو مظهر من مظاهر رحمة الله بعباده، وضمان لاستمرارية تطبيق الشريعة وحفظ روح العبادة في حياة المسلم.

**الكلمات المفتاحية:** التيسيرات، الضرورة، العذر، المشقة، المكلف.

# په موضوعي لحاظ د امیر کروړ شعر ته لنډه کتنه

محمد داوود منګل[1*] او کمال الدین کمال [2]

پښتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، پکتیا پوهنتون [1-2]

kamaldeenkamal@gmail.com

## لنډیز

د امیر کروړ شعر په پښتو لیکني ادب کې لومړنی شعر دی، چې د پټې خزانې په واسطه تر موږ را رسېدلی دی، د ده د شعر په هکله څېړونکو او ادبپوهانو بېلابېل نظریات وړاندې کړي دي، ځینې د امیر کروړ شعر د مضمون او منځپانګې له مخې حماسه بولي او ځینې نورو بیا ویاړنه بللې ده. د دې لپاره چې موضوع روښانه شي، چې د امیر کروړ شعر ویاړنه ده که حماسه؛ په دې څېړنه کې د معاصرو ادبپوهانو او حماسه پېژندونکو وضعه کړو معیارونو ته توجه شوې او د هغوی په رڼا کې د امیر کروړ شعر ارزول شوی دی. د دغې څېړنې د ترسراوي په موخه له مروري ډول او تحلیلي – تشریحي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده. د موضوع د بشپړاوي لپاره د بېلابېلو ادبپوهانو او ادب تاریخ لیکونکو آثار لوستل شوي او له اړتیا وړ موادو څخه یې د موضوع څېړنې په بهیر کې ګټه اخیستل شوې ده. یادې څېړنې ثابته کړه، چې د امیر کروړ شعر حماسه نه، بلکې یوه ښه ویاړنه ده.

**کلیدي کلمې**: ادب، امیر کروړ، پښتو، حماسه، ویاړنه.

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمدٍ و علی اله وصحبه اجمعین اما بعد!

د پښتو ادبیاتو په لرغونې دوره کې د امیر کروړ شعر د لومړني ترلاسه شوي شعر په توگه تر موږ رارسېدلی دی. په نوموړي شعر سره د پښتو تحریري منظوم ادب تاریخ پیل شوی دی، چې څېړنه یې خورا ارزښتمنه چاره ده. د نوموړي شعر ارزښت ته په کتو په دغه څېړنیزه مقاله کې یاد شعر د موضوع او منځپانگې له مخې ارزول شوی دی. د دغې مهمې څېړنې ارزښت دا دی، چې د پښتو څانگې محصلان او عام لوستونکي به د یاد شعر پر موضوعي اړخ هراړخیز مالومات ترلاسه کړي، همداراز به د حماسي ادبیاتو په برخه کې د حماسې، حماسي شعر او ویاړنې پر توپیرونو او ځانگړنو هم پوه شي.

د دغه شعر په اړه په بېلا بېلو آثارو کې متفاوت نظرونه وړاندې شوي دي. ځینو لیکوالو یاد شعر حماسه، ځینو حماسي شعر او ځینو ویاړنه بللی دی. په پښتو حماسي ادبیاتو کې دا یوه لویه ستونزه او اړتیا وه، چې د دغه شعر پر موضوعي اړخ کره او نوې څېړنه ترسره شي.

د امیر کروړ د شعر په باب لومړنی مؤلف ارواښاد محمد هوتک دی، چې پخپل کتاب «پټه خزانه» ۱۳۸۹ل کال چاپ کې یې نوموړی شعر «ویاړنه» نومولی دی. ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ ۱۳۸۴ل کال چاپ، حنیف خلیل د پښتو ژبې او ادب تاریخ ۲۰۱۱ز کال چاپ، ارواښاد پوهاند زیورالدین زیور د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره ۱۳۸۹ل کال چاپ، ښاغلي څېړنپوه زلمي هېوادمل د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې او منځنۍ دوره ۱۳۹۳ل کال چاپ، فرید احمد هلال د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې دوره ۱۳۹۲ل کال چاپ کتابونو کې د امیر کروړ شعر حماسه، حماسي شعر او ویاړنه گڼلی دی. ښاغلي زرین انځور د زړو پاڼو تول ۱۳۹۴ل کال چاپ کتاب کې صراحتاً یاد شعر حماسه نومولی او امیر کروړ یې د حماسې اتل یاد کړی دی.

خو په دغه څېړنيزه مقاله کې دغې پوښتنې ته د معاصرو معيارونو په رڼا کې ځواب ويل شوی، چې د امير کروړ شعر حماسه ده او که وياړنه؟ خو دا ثابته شوې، چې حماسه، حماسي شعر او وياړنه خپل تعريفونه او بېلا بېلې ځانګړنې لري او په موضوعي لحاظ يو له بله متفاوت اصطلاحات دي. د نويو څېړنو او د معاصرو ادبپوهانو له خوا وضعه شويو ځانګړنو او معيارونو ته په کتو دغه شعر وياړنه ونومول شو.

محصلانو او عامو لوستونکو ته د نوموړي شعر د موضوعي اړخ په اړه کره مالومات وړاندې کول، لوستونکي د حماسې، حماسي شعر او وياړنې پر توپيرونو او ځانګړنو پوهول او د نويو او معاصرو څېړنو په رڼا کې ياد شعر وياړنه نومول د دغې څېړنې د ترسره کولو مهمې موخې دي.

### د څېړنې ميتودولوژي

په دغه څېړنيزه مقاله کې د څېړنې له مروري ډول او تحليلي – تشريحي ميتود څخه استفاده شوې ده. د څېړنې په بهير کې د بېلابېلو ادبپوهانو او ادب تاريخ ليکونکو له معتبرو کتابونو څخه ګټه اخيستل شوې ده.

## اصلي موضوع

### په موضوعي لحاظ د امير کروړ شعر ته لنډه کتنه

د تاريخ په هره دوره کې نامتو شاعران او شخصيتونه را ټوکېدلي دي، د دغو شاعرانو پر ټولنيز موقف او ټولنيزو شرايطو کې د هغو پر ژوند، د پنځول شويو آثارو پر علمي او ادبي ارزښتونو پوهېدل، د را منځته کېدو عوامل مشخص کول لازمي دي، چې راتلونکو ادبي جريانونو په اړه اړين مالومات ولرو.

څنګه چې افغانستان يو لرغونی تاريخي هېواد او ددې هېواد په غېږ کې د تاريخ په بېلا بېلو دورو کې په زرګونو سياسي، جنګي او فرهنګي شخصيتونه تېر شوي او د دوی کارنامې تر وروستيو نسلونو رارسېدلې دي، خو د بهرنيو يرغلګرو د يرغلونو له امله لومړی زموږ ادبي او فرهنګي آثار له منځه وړل شوي، چې د افغاني ټولنې لپاره يې هر اړخيز ارزښت درلود. د دښمنانو د دغو کړنو له امله زموږ ادب، فرهنګ او ژبې ته نه جبرانېدونکي زيانونه اړول شوي، چې نن موږ ته د خپلو

فرهنگيانو تش نومونه او يا يې يو څو آثار په ميراث را پاتې او ډېری نور د زمانې توپاني او بې رحمانه څپو په اوبو لاهو کړي دي.

د پښتو ادب تاريخ لومړی ادبي دوره د دويمې هجري قمري پېړۍ څخه را پيليږي، چې تر لسمې آن تر يولسمې هجري قمري پېړۍ پورې دوام کوي، د دغې دورې ډېری آثار متفرق دي، خو بيا هم تاريخي تسلسل لري. دغه آثار د خپلو شکلي جوړښتونو، ځانگړتياوو، د بيان طرز او د موضوعاتو د ځانگړنو له پلوه ځينې گډې وجهې لري، د دغو گډو ځانگړتياوو او تاريخي لرغونتوب له امله دغه آثار په لومړۍ دوره کې مطالعه کېږي.

د تاريخي رواياتو له مخې امير کروړ سوري د امير پولاد سوري زوی و په ( ۱۳۹ هـ ) هجري قمري سنه کې د غور په منديش کې امير شوی او د «جهان پهلوان» په نامه يادېده. وايي، د خپلې واکمنۍ پر مهال يې د غور مختلفې سيمې بالشتان، خيسار او تمران مانۍ او برکوشک يې تر خپلې حکمرانۍ لاندې راوستلې. د تاريخي رواياتو له مخې ويل کېږي، چې امير کروړ ډېر غښتلی پهلوان و، په يوازې تن به له سلو جنگياليو سره جنگېده. په تاريخ سوري کې محمد بن علي البستي داسې کښلي: «د عباسي دعوت په جنگونو کې چې امير کروړ ډېرې سوبې وکړلې، نو يې دا بيتونه وويل، چې وياړنه يې بولي:

زه يم زمری پر دې نړۍ لـــه ما اتل نسته
پر هند و سند و پر تخار او په کابل نسته
بل پر زابل نسته له ما اتل نسته
غشي د من مې ځي برېښنا پر ميرځمنو باندې
په ژوبله يونم يرغـــــــلم پر تښتېدونو باندې
زما د بريو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ و په وياړ
د آس له سوو مې ځمکه رېږدي غرونه کـــاندم لتاړ
کړم ايوادونه اوجاړ ـ له ما اتل نسته

زما د توري تر شپول لاندې دي هرات و جروم
غرج و بامیان و تخار بولي نوم زمـــــا په ادوم
زه پېژندوی یم په روم ـ له ما اتل نسته
پر مروه زما غشي لوني ډاري دښن را څخه
د هریرود پر څنډو څـم تښتي پلن را څخه
د زرنج سوبه مې د توري په مـخ سور وکړه
ستر مې تربور وکړه له ما اتل نسته
خپلو وګــــــړو لره لور، پېرزوینه کوم
دوی په ډاډېینه بامم ښه یې روزنه کوم
تل یې ودنه کوم - له ما اتل نشته
پر لویو غرو مې وینا درومي نه په څنډ و په تال
نړۍ زما ده، نوم مې بولـــــــي پر دریغ ستایوال
په ورځو، شپو، میاشتو و کــــــال له ما اتل نشته (هلال، ۱۳۹۲: ۲۲ – ۲۳)

د امیر کروړ د شعر په هکله بېلابېلې لیکنې موجودې دي، ځینو پخپلو لیکنو کې حماسي شعر، ځینو ویاړنه او ځینو نورو بیا حماسه بللی دی.

پټه خزانه لیکي: «امیر کروړ ډېرې سوبې وکړې دا بیتونه یې وویل چې (ویاړنه) یې بولي:

زه یم زمری پر دې نړۍ له مـــا اتل نسته
پر هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته... (بن داؤد، ۱۳۸۹ : ۱۳).

همدارنگه حنيف خليل په خپل اثر کې له پټې خزانې څخه را اخيستي دي، چې امير کروړ په جنگو کې ډېرې فتحې وکړې، نو يو زبردست حماسي شعر يې ووايه، چې (وياړنه) يې بولي (خليل، ۲۰۱۱ : ۲۱ ).

زلمی هېوادمل د پښتو ادبياتو تاريخ کتاب کې د امير کروړ د شعر په هکله ليکي: «د امير کروړ لاس ته راغلی شعر د اشعارو د معنوي ډولونو له پلوه وياړنه يا فخريه ده، چې شاعر خپلې برياوې، سوبې، ميړانې او د هغه زمان له شرايطو سره سم خپل افتخارات پکې بيان کړي دي ( هېوادمل، ۱۳۹۳ : ۳۰).

پوهاند پښتون آقا شېرزاد په خپل اثر «د پښتو ادبياتو تاريخ لرغونې دوره» کې ليکي: «په پښتو ادبياتو کې لومړنی شاعر، چې تر اوسه پورې يې موږ ته لومړنی شعر لاس ته راغلی او يا لومړنی موندل شوی شعر د امير کروړ دی، چې د ( ۱۳۹ هـ ـ ق ) په شاوخوا کې ويلی دی، دغه شعر وياړنه نومېږي » ( شېرزاد، ۱۳۹۳ : ۲۷ ).

پوهاند عبدالحی حبيبي په خپل اثر د پښتو ادبياتو تاريخ لومړي او دويم ټوک کې ليکي: « د پښتو په خورا زړو او پخوانيو ادبي آثارو کې چې تر اوسه زموږ لاس ته راغلی، هغه د امير کروړ سوري يو حماسي( Epic ) شعر دی، چې پټې خزانې د تاريخ سوري په حواله خوندي کړی دی (حبيبي، ۱۳۸۴ : ۴۴۱ ). »

همدرانگه پوهاند زيورالدين زيور په خپل اثر د پښتو ادبياتو تاريخ لرغونې دوره کې ليکي: « د پښتو په خورا زړو ادبي آثارو کې چې تر اوسه زموږ لاس ته راغلی، د امير کروړ شعر حماسي بللی دی ... » ( زيور، ۱۳۸۹ : ۷۳ ).

استاد حبيب الله رفيع ليکي: «د امير کروړ بابا حماسه ده، چې د خپلې واکمنۍ برم او پرتم، اراده او اداره، ځواک او واک يې پکې تمثيل کړي دي» ( رفيع، ۱۳۹۲ : ۱۵).

فريد احمد هلال «د پښتو ادبياتو تاريخ په لرغونې دوره (څېړنه او سپړنه)» تر سرليک لاندې کتاب کې ليکي: «تر دې دمه د پښتو ژبې لومړی لاسته راغلی شعر د امير کروړ هغه حماسي شعر بلل شوی دی، چې په دويمې لېږديزې پېړۍ پورې اړه لري » ( هلال، ۱۳۹۲ : ۱۸ ).

پوهاند محمد اسماعیل یون په خپل اثر د پښتو ادب تاریخ لرغونې دوره کې لیکي: « ... د عباسي دعوت په جنگونو کې امیر کروړ، چې ډېرې سوبې وکړې، نو یې دا بیتونه وویل: چې ویاړنه یې بولي ... » (یون، ۱۳۹۹ : ۱۱۱ ).

امیر کروړ شعر حماسه ده او که ویاړنه؟ ددې ځواب د موندلو لپاره به لومړی حماسه د لغت او اصطلاح له مخې وپېژنو او بیا به یې په ځانګړتیاوو لږ و ډېر بحث وکړو.

حماسه په لغت کې زړورتیا، زړورتوب، شجاعت، دلاوري، توري، مېړانې او حماست ته وایي ( پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس، ۲۰۱۲ : ۱۱۷۳).

حماسه عربي کلمه ده، چې د زړورتوب او اتلولۍ په معنا راغلې ده، په ادبیاتو کې یو ډول شعري داستان دی، چې د یو قوم او نژاد د پهلوانانو، زړورتوب، مېړانې او اتلولۍ پکې ستایل شوې وي (عمید، ۱۳۸۷ : ۵۳۰ ).

حماسه د وګړیو (فردي یا جمعي) پهلوانیو او مېړانو داستاني روایت دی، چې په لاتین کې ورته (Epic) وایي (لیوال، ۱۳۹٦ : ۴۵).

حماسه د جنګ د وخت سندره ده او جنګ په خپل وخت یو ډول حماسه ده (انځور، ۱۳۹۴ : ۱ ).

حماسه د حمس له کلمې څخه اخیستل شوې ده، د شجاعت، اتلوالۍ او د جنګ مانا ورکوي، په اصطلاح کې هغه ادبي ډول دی، چې د یو قوم د پیلیدو څخه بیا د هغه قوم د عروج ته تر د رسېدو پورې ټولې پېښې پکې را نغاړل شوې وي، دا ډول د ډېرو پخوانیو ډولونو څخه دی ( مرهون، ۱۳۸۸ : ۱۵۸).

حماسه د (ح په زور) د شجاعت مانا لري، په اصطلاح کې هغه موضوعي او یا معنوي جوړښت دی، چې د یو ملت، قوم، قبیلې او یا یو شخص د مېړانې، تورې کیسې او جنګې کارنامې په کیسه ییز او داستاني بڼه پکې بیان شوې وي. هر ډول حماسي او جنګي شعرونه حماسه نشي جوړولی که څه هم حماسه له حماسي او جنګي شعرونو څخه جوړېږي، خو هر حماسي یا جنګي شعر یا ویاړنه حماسه نه ده ( کمال، ۱۴۰۴ : ۷ ).

کره کتونکو د حماسې لپاره لاندې شپږ ځانګړنې شمارلې دي:

۱ ـ د کیسې په طرح کې د داسې یو اتل شتون، چې فوق العاده ځانګړنې ولري او د هغه کار، چې نور نه شي کولای، دی یې د یوه لوی ځواک په ملاتړ ترسره کوي.

۲ ـ د عادي بشر تر توانه پورته بریالیتوب ترلاسه کول، چې بشپړول یې د نورو په توان کې نه وي.

۳ ـ د ټاکلي زمان او مکان له محدودې څخه بهر وي او یوه پراخه عیني او ذهني زمینه ولري.

۴ ـ د ماوراء الطبعي (تر طبیعت پورته یا بهر) موجوداتو یا د هغوی د ځواک موجودیت.

۵ ـ د حماسي اثر د بیان سبک باید ځانګړی او تر عادي سبکونو لوړ وي، چې حماسي لحن یې د تشخیص وړ او په ټول اثر کې د سبک دغه ځانګړنه وساتل شي.

۶ ـ شاعر یا لیکوال یې د خپل اثر په ټول پرمختیایي بهیر حاکم او حاوي وي، په دې به پوهېږي، چې کیسه د کوم هدف خوا ته ځي (لېوال، ۱۳۹۶ : ۴۶).

خو سره ددې بیا هم زرین انځور په خپل اثر «د زړو پاڼو ټول» کې لیکلي:

«دا هم د عمل حماسه ده او هم د شعر

دا هم د توري حماسه ده او هم د وینا

دا هم د میدان حماسه ده او هم د خبرو او کتاب

کروړ هم د شعري او هنري حماسو ایجادګر و او هم د میدان حماسه جوړوونکی» (انځور، ۱۳۹۴ : ۱).

نو د پورتنیو څرګندونو څخه معلومه شوه، چې په پښتو کې لومړنی معلوم شعر کروړ تخلیق کړی او هم یې لومړی حماسي شعر را منځته کړی دی.

د دې وضاحت هم په کار دی، چې حماسې له جنګونو را منځته کېږي، لکه: د خپل حق د غوښتلو، د ظلم او استبداد څخه د خلاصون، د خپلواکۍ لپاره د ښه ژوند لپاره ... ترسره شوې وي.

د حماسو منځپانګه غیرت، ننګ، سربښندنو او زړورتوب وي، د دا ډول حماسو چې د پلرونو، نیکونو او اجدادو له سربښندو تاریخي کارنامو څخه جوړې وي، راتلونکي ولسونه وربانديې ویاړي او په تاریخ کې یې یادونه تلپاتې کېږي که نه جنګ ویجاړي او تباهي ده.

امیر کروړ که جنګ د ژوند لپاره کړی وي یا د خپل ځان د پاینښت او یا د خپل ولس ساتنې لپاره، خو بیا هم د حماسې اتل دی.

که له حماسي اساطیرو څخه را تېر شو، د جګړییزو ډګرونو د پهلوانۍ او اتلوالۍ څخه ډکې حماسې هم موندلای شو، چې ځینې تاریخي پېښې په شعري څولۍ کې رانغاړي او دا په تاریخي دوران پورې تړلې او مربوطې حماسې دي او باید دا ډول حماسې د تاریخي حماسو په نوم یادې شي.

دا ډول د پهلوانۍ، مېړانې او اتلولۍ له افتخاراتو ډکې عنعنوي حماسي سندرې په اریایي سرودونو کې په عنعنوي توګه دوام لري.

همدارنګه ددغسې عنعنې دوام یوه بله سرچینه عربي ادبیات بلل کېږي، چې زموږ پر ولس او ادبیاتو یې اغېز ښندلی او زموږ په ادبیاتو کې یې تاثیرات را څرګند شوي او څرګندېدی شي.

د لرغونو عربي ادبیاتو له اشعارو څخه څرګندېدیږي، چې دوی په خپلو نسبونو او شجرو فخر کاوه، د خپلو اجدادو نیکونو او پلرونو افتخارات او ویاړنې او نورې کارنامې به یې د حماسي اشعارو په بڼه په قصایدو کې وړاندې کول، حماسي اشعار هغو شعري ټوټو او قصایدو ته ویل کېدل، چې د قبیلو افتخارات پکې یادېدل. دغه افتخارات د جنګ ډګر مېړانې له دښمن څخه انتقام او غچ اخیستنه به د شاعر له خوا په اشعارو کې یادېدل، یا هغه قصیدې دي، چې یو چا به د خپل ځان زړورتوب او د قهرمانیو یادونه کوله (انځور، ۱۳۹۴: ۳-۴).

دا هم ویل کېږي، چې د جاهلیت دورې هرې قبیلې به غوښتل، چې د دوی په قبیله کې شاعر، مشر او ښه ویناوال پیدا شي، د مشرانو او ویناوالو په پرتله به یې د شاعرانو ډېر قدر کاوه، په کوم قوم کې چې به شاعر پیدا شو، هغه به را بلل کېده او په ویاړ به یې جشن نیو، عربي قبایلو به مبارکي ورته لېږلې، دا ټول یې په دې خاطر کول، چې شاعرانو به د خپلو قومونو او قبیلو تورې او مېړانې په

شاعرۍ کې وړاندې کولې او تلپاتې ژوند به يې ورکاوه او شاعرانو به د خپلو اشعارو په بدل کې معاوضه نه غوښتله. ددې يادونه هم بايد وشي، چې دغه مدحې او وياړنې به يې د قصايدو په فورم کې وړاندې کولې (الزيات، ۱۳۹۷ : ۵٦ ).

ښاغلی زرين انځور په دې اړه ليکي، چې د پښتو ادبياتو په تاريخ کې امير کروړ سوري د حماسې ايجاد ګر دی، چې د پښتو ادب په تاريخ کې يوه حماسه په يادګار را پرېښودې ده، حماسه د مضمون او فورم له پلوه بيلابيلې بڼې لري، خو زياتره يې داستاني او قصه يي بڼه لري، چې د پهلوانۍ، ستاينو او د مېړنتوب يادونو ته ځانګړې شوې وي.

د امير کروړ حماسه کومه ځانګړې کيسه نه ده، خو بيا هم د جګړه ييزو حالاتو يوه انځوريزه تاريخي او حماسي وياړنه ده. ښايي دا حماسي وياړنه په لومړيو کې يوه فردي حماسه معلومه شي که ښه ورته متوجه او ځير شو، معلومه به شي، چې دا حماسه يوه اجتماعي حماسه ده، ځکه چې کروړ يوازې ستاينه نه کوي، بلکې هغه غواړي، خيل، ټبر او خلک په يوه خاصه تاريخي مقطع کې تثبيت کړي او د يوه مېړني او باتور قوم په توګه يې وښايي. که د ځان په هکله وايي چې:

زه يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته

پر هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته

بل په زابل نسته        له ما اتل نسته

خو ددې په څنګ کې په همدغه وياړنه کې دا هم وايي:

د زرنج سوبه مې د توري په مخ سور وکړه

په باداری مې لوړاوی د کول د سور وکړه

ستر مې تربور وکړه

لــــــه ما اتل نشته

د امير کروړ له پورتنيو بيتو څخه د خپل ټبر او خلکو د تاريخ تثبيتول دي، همدا وجه ده، چې حماسه له فردي وياړنې څخه را باسي، بله وجه يې د سوري حماسه د ځانګړو ټولنيزو او فرهنګي او

تاریخي حالاتو او پېښو زېږنده ده او ترې څرګندیږي، چې هلته قبیلوي مناسبات حاکم او مسلط ول. یعنې هر څوک په خپله کورنۍ، قبیله ویاړي، د بله پلوه کروړ خپل زړورتوب په شعر کې څرګند کړی، نو ویلای شو، چې د حماسې د ځانګړتیاوو څخه یو اصل زړورتوب او اتلولي ده، د امیر کروړ په شعر کې همدا اصل څرګند دی، له بله پلوه کروړ د خپل ولس د دفاع او ساتنې لپاره توره چلولې ده، دا د ده د تورې، زور او برې ښه انځور وړاندې کوي. د امیر کروړ هومره غښتلی او پیاوړی پهلوان و، چې په یوازې تن له سلو جنګیالیو سره جنګېده ځکه یې همدغه حماسه ایجاد کړې او د ویاړنې شعرونه یې کښلي دي. دا د پښتو لومړنی معلوم شاعر دی او د هغه شعر هم د پښتو لومړنۍ حماسه ده (انځور، ۱۳۹۴ : ۴ـ۶).

څنګه چې امیر کروړ په خپل شعر کې وایي:

زه یم زمری پر دې نړۍ له مـــا اتل نسته

په هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته...

زما د بریو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ او په ویاړ

د آس له سوو مې زمکه رېږدي غرونه کـــــاندم لتاړ

کړم ایوادونه اوجاړ

له مــــــا اتل نشته

پر مرو زما غشي لـــوني، ډاري دښن را څخه

د هریوا د رود پر څنډو ځم تښتي پلن را څخه

رېپي زړن را څخه

له مــــــا اتل نشته

د زرنج سوبه مې د تورې په مخ سور وکړه

په باداری مې لوړاوی د کــول د سور وکړه (هلال، ۱۳۹۲: ۲۲)

په پورتنیو بیتونو کې امیر کروړ ځان زړور، تورزن، پهلوان په دښمن غالب او مقابل لوری یې مغلوب ښودلی دی. رښتیا ده، چې امیر کروړ په خپل شعر کې د ځان ستاینه کړې ده، نو بې له شکه باید دا ډول شعرونه حماسه نه، بلکې ویاړنه وبلل شي. د بل پلوه که د عربو لرغونو ادبیاتو په هکله چې کوم معلومات لرو، له هغوی سره یې مقایسه کړو، نو را ته جوته به شي، چې د امیر کروړ د شعر په څېر شعرونه په لرغونو عربي ادبیاتو کې هم موجود وو، په هغه وخت کې دا ډول اشعارو ته حماسي اشعار ویل کېده. د تاریخي اسنادو له مخې ویل کېږي، کله به چې د عربو د جهالت په دوره کې کوم کس په جگړه او یا جگړو کې برخه واخیسته او خپله مېړانه به یې د جگړې په ډگر کې وښوده که دا جنگیالی به شاعر و، نو ده به د کړې مېړانې او زړورتوب ستاینه پخپله په خپلو اشعارو کې وړاندې کوله او که شاعر به نه و، نو بیا به بل شاعر د ده مېړانه، زړورتوب او اتلولي په اشعارو کې بیانوله او دا ډول اشعار به یې حماسي بلل، نو ددې څرگندونو له مخې ویلای شو، چې د امیرکروړ شعر د هغه وخت د جگړې د ډگر یو تاریخي او عنعنوي حماسي شعر دی.

که د امیر کروړ شعر لرغونتوب ته لاړ شو، نو د ده د مړینې کال ( ۱۵۳ هـ ق ) ښودل شوی دی، نو دده په شعر باندې له نن څخه تقریباً (۱۲۹۴) کاله تېر شوي او هم د ده شعر په شکلي لحاظ له موجوده شرقي او د پښتو ولسي شاعرۍ له کالبونو سره سمون نه لري او له بله پلوه ادبپوهانو د کروړ شعر د پښتو لرغونو سندرو په نوم نومولی دی، نو ویلای شو، چې د هغه وخت د مسلطو سیمه ییزو تاریخي او فرهنگي شرایطو په چوکاټ کې دننه یو خوندور حماسي شعر و، لیکن د ( ۱۲۹۴ هـ ق کال را هیسې د ادب په ډگر کې بې ساري تغییرات او مثبت پرمختگونه رامنځته شوي دي. په دې اوږده موده کې د شعر په هکله د ادبپوهانو او څېړونکو له خوا خورا زیاتې څېړنې ترسره شوې دي، ددغو څېړنو په پایله کې د بڼې او شکلي جوړښت له مخې په لسگونو شعري کالبونه په مختلفو نومونو، لکه: قصیده، غزل، رباعي، قطعه... نومول شوي، چې هر ژانر له یو بل سره جوت توپیرونه لري، همدارنگه د مضمون له مخې مختلف نظمونه په پښتو ادب کې شته، لکه: تاریخي، عشقي، ټولنیز، سیاسي او داسې نور. په دې لړ کې حماسه هم ده، چې د څېړونکو له خوا یو لړ ځانگړتیاوې ورته ټاکل شوې دي، چې د هغو په درلودلو سره د حماسې او ویاړنې توپیر کېدلی شي.

د حماسې ځینې مهمې ځانگړنې د پښتو ځانگې حماسي ادبیات مضمون لیکچرنوټ څخه په لنډیز سره بیانوم:

۱ - په حماسه کې ځینې حیوانات ډېر ستر او بنسټیز نقش لري، چې هغه عادي حیوانات نشو بللی.

۲ - د حماسې اتلان معمولاً داسې کسان وي، چې له هیولاوو او هیبتناکو ژویو سره مقابله کوي. د بلاوو، زمریو او ښامارانو د وژلو وړتیا لري.

۳ - په حماسه کې یاد شوي بوټي، ونې او میوې زیاتره جادویي او خارق العاده ځانګړنې لري.

۴- د حماسې د اتلانو کارونه او خواړه زیاتره خارق العاده، غیر طبیعي او د منطق په تله نه تلل کېږي.

۵- د حماسې ډېری اتلان اوږده او له خطره ډک سفرونه کوي.

۶ - د حماسې اتل په یوه ټاکلې صحنه کې له خپل اصلي دښمن سره تن په تن جګړه کوي.

۷ - د حماسې اتلان تن په تن جګړو کې له بېلا بېلو وسلو څخه کار اخلي، لکه: نېزه، خنجر، توره، ګورز، غشی او لینده.

۸ - د حماسې د جګړې په ابزارو کې فریب او غولونه شامل دي (کمال، ۱۴۰۴: ۱۲-۱۴).

که چیرې د حماسې پورته ذکر شویو ځانګړنو ته وکتل شي، نو هغه د امیر کروړ پر شعر نه تطبیقېږي. د حماسې مهمه ځانګړنه دا ده، چې پیښې به د داستان په بڼه پکې بیان شوې وي، چې د امیر کروړ شعر دغه ځانګړنه، نه لري.

په حماسه کې د غیرعادي حیواناتو او بوټو ذکر راغلی وي، چې جادویي او خارق العاده ځانګړنې لري، چې په دغه ویاړنه کې نشته. همداراز د اتل اوږد او له خطره ډک سفر او له ضد اتل سره تن په تن جګړه هم په دغه ویاړنه کې نشته.

اوس به حماسي شعر او ویاړنه هم وپېژنو، چې د نوموړو اصطلاحاتو پر توپیر ښه پوه شو.

حماسي شعر هم د جګړې، ویاړ او مبارزې ته د جنګیالیو د هڅونې خبرې رانغاړي. په حماسي شعر کې د لنډوالي او اوږدوالي خبره ډېره نه مطرح کېږي. کېدای شي یوه حماسي او جنګي خبره حتی موضوع په رباعي، قطعه یا د غزل کالب، قصیده، چاربیته او کسر کې بیان شي. لکه د خوشحال خان خټک په کلیاتو کې ډېر دا وړ حماسي مطالب او موضوعات د رباعي، قطعې، غزل او قصیدو په کالب کې بیان شوي دي. د ځینو روښانیانو په شعرونو کې هم یو نیم حماسي شعر موندل کېږي.

په چاربيتو او کسرونو کې له پرديو يرغلګرو (متجاوزينو) سره د ولس او د ځينو ولسي اتلانو د جګړو بيانونه او يا د قبايلي جګړو د پېښېدنې خبرې ډېرې راغلې دي او يا هم زموږ د لومړۍ ادبي دورې په شعرونو کې د بابا هوتک، ملکيار غرشين او د تايمني سندري رزمي او جنګي شعرونه دي او بشپړ حماسي شعرونه يې بللی شو، خو حماسې نه دي. د حماسې د جوړوونکو حماسي شعرونو تر منځ - که د بېلا بېلو پېښو او جګړو په باب هم وي - بايد تسلسل موجود وي او داستاني ځانګړنه يې خوندي وي. د يوې منظومې حماسې بشپړوونکې شعري ټوټې چې په ټوليزه توګه بيا يوه بشپړه حماسه ترې جوړېږي، معمولاً د مثنوي په شعري کالب کې وي. ځکه مثنوي د ډېرو اوږدو او سره نغښتو مطالبو او مضامينو د بيان حوصله لري. کېدای شي د حماسې جوړوونکي حماسي شعرونه په نورو کالبونو کې هم ويلي شوي وي، خو ډېرې لږې حماسې په نورو شعري کالبونو کې نظم شوې دي.

په وياړنه کې د يو شخص پر جنګي کارنامو، ملي وياړونو او اتلوليو د وياړ خبرې بيان شوې وي. وياړنه د حماسي شعرونو په فروعاتو کې مطالعه کېږي (کمال، ۱۴۰۴: ۹ - ۱۰). نو جوته شوه، چې د امير کروړ شعر حماسه نه، بلکې د حماسي شعرونو په فروعاتو کې راځي.

په حماسي اثر کې اتل بايد داسې ځانګړتياوې ولري، چې فوق العاده وي، خو د امير کروړ په شعر کې د اتل فوق العاده ځانګړتياوې نه ليدل کېږي.

حماسي اثر بايد د ټاکلي زمان او مکان له محدودې څخه بهير وي، خو د امير کروړ اثر په ټاکلي زمان او مکان کې محدود دی.

د حماسي اثر د بيان سبک بايد ځانګړی او تر عادي سبکونو لوړ وي، خو د امير کروړ د بيان سبک ځانګړنې تر عادي سبکونو پورته نه دي.

څنګه چې د امير کروړ شعر د حماسې، حماسي شعر او وياړنې د ځانګړتياوو په رڼا کې وڅېړل شو، هغه خصوصيات، چې د حماسې لپاره مختص او ځانګړي شوي، هغه پکې نه ليدل کېږي، نو په پايله کې ويلای شو، چې د امير کروړ شعر يوه خوندوره او له وياړه ډکه تاريخي وياړنه ده، نه حماسه.

## موندنې

په دې مقاله کې موږ هغه څه موندل، چې د امیر کروړ د شعر په باب بېلابېلو نظریاتو کې موجود دي، د امیر کروړ شعر په ځینو آثارو کې حماسي، په ځینو کې حماسه او په ځینو کې ویاړنه بلل شوی دی، خو کله چې دغه نظریات د حماسې لپاره د وضع شویو معیارونو په رڼا کې وڅېړل شول، نو ثابته شوه، چې د امیر کروړ شعر حماسه نه، بلکې په ویاړنه پورې تړاو لري.

## پایله اخیستنه

د حقاني عالم د جوړېدو څو اسباب په نښه کوو: ۱. اخلاص نيت ۲. کره او ژور علم ۳. عمل پر علم ۴. ښه اخلاق او تقوا ۵. د سنتو پيروي ٦. حکمت او اعتدال ۷. له تعصب څخه ځان

ساتل ۸ .د امت درد احساسول ۹ . ښو استادانو او سالم چاپېريال اغېز ۱۰ . دوامداره اصلاح او د ځان محاسبه.

**په خلکو باندې د حقاني عالم حقوق**

وعن علي بن أبي طالب -رضي الله تعالى عنه- قال: «من حقِّ العالم عليك أن تُسلِّم على القومِ عامَّةً وتخُصَّهُ بِالتَّحيَّة، وأن تجلس أَمامهُ، ولا تُشيرنَّ عندهُ بِيدك، ولا تعمدنَّ بِعينك غيرهُ، ولا تقُولنَّ: قال فُلانٌ خلاف قوله، ولا تغتابنَّ عندهُ أَحدًا، ولا تُسارَّ في مجلسه، ولا تأخُذ بِثوبه، ولا تُلحَّ عليه إذا كسل، ولا تشبع من طُول صحبته، فإِنَّما هُو كالنَّخلة تنتظرُ متى يسقُطُ عليك منها شيءٌ» (أحمد ،۱۴۳۱: ۱۵۵).
ژباړه: د حضرت علي رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی فرمايي: ستا پر وړاندې د عالم حق دا دی چې پر ټول مجلس عمومي سلام واچوې، خو هغه ته ځانګړی سلام وکړې، د هغه مخې ته کښېنې، د هغه په حضور کې په لاس اشاره ونه کړې، په سترګو بل لوري ته متوجه نه سې، دا ونه وايې چې فلاني د ده خلاف خبره کړې ده، د هغه په مجلس کې د چا غیبت ونه کړې، د هغه په مجلس کې پټې خبرې ونه کړې، د هغه له کالیو لاس ونه نیسې، که ستړی سي، پرې زور ونه راوړې؛ د هغه له اوږدې ملګرتیا مه مړېږه (مه ستړې) کېږه، ځکه عالم د خرما د ونې په شان دی، ته انتظار کوې چې کله به ترې پر تا څه راولوېږي (یعنې علم او ګټه).

د دغه حدیث په حکم کې اختلاف سته، خو زیاتره علما یې ضعیف (کمزوری) یا اثر (موقوف قول) بولي، نه دا چې د رسول الله ﷺ حدیث دی، دا کلام ډېری وخت د حضرت علي رضي الله عنه قول (اثر) په توګه راځي، نه د نبي کریم ﷺ حدیث. د حدیث ماهرین وايي: په سند کې کمزوري (ضعف) سته، ځینې راویان نامعلوم یا ضعیف دي، له همدې امله: دا روایت مرفوع صحیح حدیث نه ګڼل کېږي، بلکې اکثره یې ضعیف اثر بلل کېږي، که څه هم دا روایت له سندي پلوه قوي نه دی، خو د ادب، معنا، علم او د عالم د احترام په اړه چې کومې خبرې پکې راغلي، هغه په عمومي ډول د اسلامي اخلاقو سره سمون لري.

**د خلکو په حقاني عالم حقوق**

کوم نقص او کمي چې په خلکو کې شتون لري دا ټول د علماوو، فقهاؤ او بصیرت لرونکو خلکو د چوپتیا له امله رامنځته سوی دی، ځکه هغوی هغه څه پرې اېښي دي چې پرې لازم وو: نصیحت،

تعلیم، ادب، امر بالمعروف، نهی عن المنکر، انکار او اصلاح... په حقیقت کې پر علماوو لازمه ده چې جاهل ته تعلیم ورکړي، نصیحت ورته وکړي او لاس یې ونیسي، نو هغوی په هغه څه کې چې یې پرې اېښي دي، ګناهګار، نافرمانه او خیانت کوونکي دي... او له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه حدیث راغلی دی چې ویې فرمایل: « هلاکت دی د عالم لپاره د جاهل له لوري، هلته چې هغه یې تعلیم نه کوي» نو د جاهل تعلیم پر عالم واجب دی او لازمي دی، ځکه دا هلاکت د مستحب پرېښودو له امله نه راځي، بلکې الله تعالی یوازې د فرض پرېښودو له امله نیونه کوي، نه د نفلي کار پرېښودو له امله (أبو الحسین ،ب، ت: ۳۷۳). ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ» (النیسابوري، ب، ت: ٦٩). ژباړه: له تاسو څخه چې څوک کوم بد کار وویني نو باید هغه په خپل لاس بدل کړي، که دا وس ونه لري، نو په خپله ژبه دې یې بدل کړي (یعنې نصیحت دې ورته وکړي) او که دا هم ونه سي کولی نو په زړه کې دې ترې کرکه ولري او دا د ایمان تر ټولو کمزورې درجه ده.

د محدثینو له نظره د دغه حدیث حکم صحیح او قوي دی، ځکه چې په "صحیح مسلم" کې راغلی، چې د قرآن وروسته تر ټولو معتبر کتابونو څخه دی.

**د نفرت پېژندنه**

نفرت په لغت کې د محبت (مینی) ضد دی او په اصطلاح کې د هغه شی څخه د نفس کرکه کول دي چې د هغه څخه مخ ګرځول کېږي (زین الدین، ۱۴۱۰: ۸۱).

**په نبوي احادیثو کي د علماءکرامو فضائل**

په نبوي احادیثو کي د حقاني علماوو په هکله زیات شمېر فضایل ذکر سوي دي چي د هغه له جملې څخه ئې ځیني په لاندي ډول دي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم په یو مبارک حدیث کي فرمایي: «مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ فِيهِ عِلْمًا سَلَكَ اللَّهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ، وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ، وَإِنَّهُ لَيَسْتَغْفِرُ لِلْعَالِمِ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، حَتَّى الْحِيتَانُ فِي الْمَاءِ، وَفَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ، إِنَّ الْعُلَمَاءَ هُمْ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا، وَإِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ، فَمَنْ أَخَذَ بِهِ، أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ» (ابو عیسي، ۱۳۹۵، ۴۸).

ژباړه: پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمائي: څوک چي دعلم په لټه کي په یولاره روان سي الله تعالي به هغه د جنت د لارو څخه په یوه لاره روان کړي، بیشکه ملائکي د طالب علم دخوښي لپاره خپل وزرونه غوړه وي، بیشکه دعالم لپاره د آسمانو اوځمکو مخلوقات او ماهیان به اوبو کې د مغفرت دعاوې کوي، بیشکه د عالم فضیلت پر عابد باندي داسی دی لکه د څوارلسمی سپوږمی فضیلت پر ټولوستورو باندې، بېشکه علماء دانبیاء علیهم السلام وارثان دي، انبیاء علیهم السلام دینار او درهم په میراث ندی پرې ایښي بلکې علم یي په میراث پرې ایښي دی،کوم چا چي علم حاصل کړي هغه یوه غټه برخه حاصله کړه.

د دغه حدیث حکم حسن صحیح بلل سوی دی، چې د ابو عیسی الترمذي په سنن کې روایت سوی، د علم د فضیلت په اړه ډېر مشهور حدیث دی، ابو عیسی الترمذي خپله دا حدیث حسن گرځولی دی، ډېرو نورو علماوو لکه ابن حجر العسقلاني او الالباني هم دا حدیث صحیح یا حسن صحیح بللی دی.

همدارنگه په یو بل مبارک حدیث کې د عالم دفضیلت په اړه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ» (الطبراني، ۱۴۳۵: ۲۳۳).

ژباړه:پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: دعالم فضیلت پرعابد باندي داسي دی لکه زما فضیلت ستاسو پر ادنی شخص باندې.

د محدثینو ترمنځ د دې روایت په اړه اختلاف سته، خو د ډېرو علماوو په نزد دا حدیث ضعیف بلل سوی دی، ځینو محدثینو د دې سند کې ضعف یاد کړی دی، الهیثمي هم د دې روایت په اسنادو کې کمزوري ته اشاره کړې ده،

الباني هم دا روایت ضعیف گڼلی دی، که څه هم دا خاص روایت کمزوری دی، خو د عالم د فضیلت معنی په نورو صحیحو احادیثو کې ثابته ده، لکه هغه مشهور حدیث: «فضل العالم علی العابد کفضل القمر علی سائر الکواکب» ، خو د مفهوم له مخې یې اصل په نورو صحیح احادیثو کې ثابت دی.

په یو بل حدیث مبارک کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: چې د قیامت په ورځ درې ډوله خلک به شفاعت کوي، چې د هغو له جملې یوه ډله خلک علماء دی: عَن عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَشْفَعُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلاَثَةٌ: الأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الْعُلَمَاءُ، ثُمَّ الشُّهَدَاءُ. (ابن ماجه، ۱۴۱۸: ۶۸۳).

د محدثینو په نزد دا حدیث ضعیف دی، الباني هم دا حدیث ضعیف گرځولی دی، ځینو نورو محدثینو هم د دې روایت په سند کې ضعف (کمزوري راویان) یاد کړي دي، د شفاعت مسئله په صحیحو احادیثو ثابته ده، په ځانگړي ډول د انبیاوو او شهیدانو شفاعت، خو د فضایلو په باب کې ځینې علما د ضعیف حدیث ذکر جواز بولي.

عَن جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُبْعَثُ الْعَالِمُ وَالْعَابِدُ، فَيُقَالُ لِلْعَابِدِ: ادْخُلِ الْجَنَّةَ، وَيُقَالُ لِلْعَالَمِ: اثْبُتْ حَتَّى تَشْفَعَ لِلنَّاسِ بِمَا أَحْسَنْتَ أَدَبَهُمْ " (ابوبکر البیهقي، ۱۴۲۳: ۲۳۴).

ژباړه: جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی: چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: عالم اوعابد به راژوندي کړل سي، نوعابد ته به وویل سي: جنت ته داخل سه او عالم ته به وویل سي: ثابت قدمه وه اوسه ترهغه وخته چې دخلکو لپاره شفاعت وکړی ځکه چې تاله هغو سره ښه سلوک کړی دی.

دغه حدیث د ابوبکر البیهقي له خوا روایت سوی دی، حکم یې دادی چې د محدثینو په نزد دا حدیث ضعیف بلل سوی دی، د دې روایت په سند کې کمزوري (ضعیف) راویان موجود دي، الباني دا روایت ضعیف گڼلی دی، که څه هم دا روایت ضعیف دی، خو د عالم د فضیلت او د خلکو د هدایت ارزښت په نورو صحیحو نصوصو کې ثابت دی.

**په دنیا کې د علماوو د وجود اړتیا**

د علماؤ وجود په دنیاکې د هر شي څخه زیات ضروري دي، لکه د سلف الصالینو څخه نقل سویدی :«مَوْتُ الْعَالِمِ ثُلْمَةٌ فِي الْإِسْلَامِ لَا يَسُدُّهَا شَيْءٌ مَا اخْتَلَفَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ» (أبو محمد ، ۱۴۱۲ :۳۵۱).

ژباړه: دعالم مړینه په اسلام کې یوه داسي تشه (خلا) ده، چې د قیامت تر ورځې یې هیڅ شي نسي بندولای (ډکولای).

**په ټولنه کې د حقانی علماوو د نشتوالي اغېزې**

عن عبد الله بن عَمرو، قال: قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم: «إِنَّ اللهَ عزَّ وجلَّ لاَ يَقْبِضُ العِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ النَّاسِ، ولَكِنْ يَقْبِضُ العُلَمَاءَ، حَتَّى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا؛ اتَّخَذَ النَّاسُ رُؤُوسًا جُهَّالاً، فَسُئِلُوا، فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ؛ فَضَلُّوا وأَضَلُّوا» (الطبران،، ۱۹۸۳ :۳۹۱).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه الله تعالی د خلکو څخه علم نه اخلي لیکن علماء له خلکو اخلي (مړه کوی یې) د علماوو د مړ یني له کبله به علم ختم سي ترڅو یو عالم پاتې نه سي، خلک به ناپوهان خلګ خپل مشران وګرځوي ، د دین په اړه به د هغو څخه پوښتني کوي هغه به پرته له علمه فتواوې ورکوي، دوی به په خپله هم ګمراه سي او نور به هم ګمراه کړي.

دا حدیث صحیح او ډېر قوي دی، ځکه دا حدیث په اصل کې په صحیحینو (صحیح البخاري او صحیح مسلم) کې هم راغلی دی، نو دا متفق علیه (تر ټولو قوي درجه) حدیث دی.

که چیري یوڅوک د دیني عالم سره د هغه د ناوړو اعمالو له کبله نفرت کوي، نو پر هغه باندې لازمه ده چې د نورو حقاني علماوو سره تعلق او محبت وساتي، د یوعالم د ناوړو اعمالو په خاطر د ټولوعلماوو سره نفرت کول ډیره غټه بې لارې ده،دا داسی مثال لري لکه یوسړی چې د یو ناپوه ډاکتر په وجه د ټولوپوهانو ډاکټرانوڅخه نفرت کوي، که چیرې علماء نه وای نو د پیغمبر صلي الله علیه وسلم وارثان اوخلیفګان به نه واي، که چیري علماء نه وای نو اولیاء اواتقیاء به نه وای، که چیرې علماء نه وای نو د قرآن شریف ژباړی اوتفسیرونه به نه وای، که چیرې علماء نه وای نو په زرهاوو او لکونو مختلفو علمو او فنونو لیکل سوي کتابونه به نه وای، که چیرې علماء نه واي د اسلامي امت عقېدې به چا ور سمه ولای، حلال او حرام مسائل به چا ور ښودلای، د بې دینو او باطلو خلکو سره مبارزه به چاکولای او د واکمنانو په وړاندي به د حق کلمه چا ویلای؟، کوم خلک چې علماؤو ته په سپکه سترګه ګوري، هغه دي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیثو ته متوجه سي، په حدیثوکي رسول الله صلي الله علیه وسلم په ښکاره توګه د علماء کرامو فضیلت بیان کړی دی او د دوی

سپکاوی کول او بغض ورسره کولو په اړه ډېرسخت سخت وعیدونه ذکر کړیدي، چې ځیني یې په لاندې کرښو کې ذکر کېږي.

**د حقاني علماوو سره د ښمنی د الله تعالی لخوا د جگړې اعلان**

خطیب بغدادي رحمه الله د امام شافعي رحمه الله څخه نقل کړیدي که چیرې فقهاء (علماء) د الله تعالی ولیان نه وي نوبیا د الله تعالي هیڅ ولي نه سته: قَالَ الرَّبِيعُ بْنُ سُلَيْمَانَ،سَمِعْتُ الشَّافِعِيَّ ، يَقُولُ: «إِنْ لَمْ يَكُنِ الْفُقَهَاءُ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ فِي الْآخِرَةِ فَمَا لِلَّهِ وَلِيٌّ» (الخطیب البغدادي، ۱۴۲۱ :۱۵۰).

قال ابنُ المباركِ -رحمه الله-: فإنَّه من اسْتَخَفَّ بالعلماءِ ذَهَبَت آخرتُه، فالاستخفافُ بالعلماءِ إيذاءٌ لهم، وهم أولياءُ اللهِ تعالى، ومَن آذى أولياءَ اللهِ تعالى أَوْشَكَ أن تتنزلَ عليه لعناتُ اللهِ تعالى ومقتُه (أبو العلاء، ۱۴۲۲ :۲۷۴). ژباړه: ابنُ المبارک رحمه الله ويلي دي: چا چې د علماوو سپکاوی وکړ، د هغه آخرت له منځه ځي، نو د علماوو سپک گڼل هغوی ته اذيت رسول دي او هغوی د الله تعالی اولياء دي او څوک چې د الله تعالی اولياء وځوروي، نږدې ده چې د الله تعالی لعنتونه او غضب پرې نازل سي، همدارنگه په نبوي احاديثو کې د علماء کرامو سره د نفرت په اړه د مختلفو وعيدونو څخه يو وعيد دا دی چې د حقاني علماوو سره دښمنی کول د الله تعالی سره جگړه کول دي، په حديث قدسي کي راغلي دي:" إِنَّ اللَّهَ قَالَ: مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالحَرْبِ (بخاري، ۱۴۲۲ :۱۰۵).

ژباړه: پیغمبر اکرم صلي الله علیه وسلم فرمايلي دي بېشکه الله تعالی فرمایي کم څوک چې زما د ولي سره د ښمني کوي زماله طرفه څخه وهغه ته د جنگ اعلان دی.

دا حديث صحيح دی، بلکې له قوي احاديثو څخه شمېرل کېږي، ځکه چې دا حديث په صحيح البخاري کې راغلی، نو دا صحيح (تر ټولو معتبر) حديث دی او د حديث قدسي له ډول څخه هم دی (يعنې الله تعالی خپل کلام د نبي ﷺ له لارې بيان کړی).

**د علماؤ نه احترام د ایمان د نیمگړتیا نښه**

په حديث کې د عالم احترام نه ساتل د ايمان د کمبوتيا نښانه ښودل سوې ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: « لَيْسَ مِنْ أُمَّتِي مَنْ لَمْ يُجِلَّ كَبِيرَنَا، وَيَرْحَمْ صَغِيرَنَا، وَيَعْرِفْ لِعَالِمِنَا " (ابن حنبل، ۱۴۲۱ :۴۱۶)

ژباړه: پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: هغه څوک چې زموږ د مشرانو عزت نه کوي او زموږ پر کوچنیانو رحم نه کوي او زموږ د علماؤ حق نه پېژني یعنی قدر یې نه کوي هغه زموږ څخه نه دي.

دا حدیث ضعیف دی، محدثین لکه الباني او ځینې نورو د دې روایت سند کمزوری ګڼلی دی، علت یې د راویانو ضعف یا سند کې د خلط شتون دی، که څه هم دا حدیث ضعیف دی، خو د محتوا معنی د مشرانو احترام، د کوچنیانو رحم، او د علماوو د مقام پېژندنه په نورو صحیحو احادیثو کې ثابت ده.

**د علم او د علماؤ سره نفرت کول د هلاکت نښه**

د علماوو سره بغض او کینه ساتل په نبوي حدیث کې د هلاکت سبب ښودل شوی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (اغْدُ عالِماً أوْ مُتَعَلِّماً أوْ مُسْتَمِعاً أوْ مُحِبّاً وَلاَ تَكُنِ الخَامِسَةَ فَتَهْلَكَ) قَالَ عَطَاءُ بْنُ مُسْلِمٍ: فَقَالَ لِي مِسْعَرٌ: زِدْتَنَا خَامِسَةً لَمْ تَكُنْ عِنْدَنَا ، وَقَالَ: وَالْخَامِسَةُ أَنْ تَبْغُضَ الْعِلْمَ وَأَهْلَهُ (الطبراني، ، ۱۹۸۵ :٦٣).

ژباړه: عالم دین جوړسه یا زده کونکی یا اورېدونکی یا د علم دین سره محبت کونکی او پنځم قسم مه جوړېږه هلاک به سې، عطاء بن مسلم وایي: چې ماته مسعر وویل: دپنځم وضاحت وکه هغه راته وویل پنځم دادی چې ته د علم او د علماء کرامو سره بغض او نفرت وکړې.

د محدثینو په نزد دا روایت ضعیف دی، د دې حدیث په سند کې کمزوري راویان سته، الباني دا روایت ضعیف ګرځولی دی، ځینو علماوو دا د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قول (اثر) هم بللی، نه مرفوع صحیح حدیث، نو د حدیث په توګه پرې قوي استدلال نه کېږي، خو د نصیحت په توګه ذکر کېدای سي.

**د علماوو قدر نه کول د الله تعالی قدر نه کولو نښه**

امام فخرالدین رازی رحمه الله په تفسیر کبیر کې لیکلي دي څوک چې د عالم احترام نه کوي هغه کس به د قیامت په ورځ الله تعالی رسوا او سپک کړي: «مَنْ أَهَانَ الْعَالِمَ فقد أَهَانَ اللَّهَ أَهَانَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» (فخرالدین الرازي، ۴۰۸:۱۴۲۰).

ژباړه: کم څوک چې د عالم سپکاوی وکړي يقينا هغه دالله تعالی سپکاوی وکړي، الله تعالي به د قيامت په ورځ د هغه سپکاوی وکړي .

**د علماء کرامو سره نفرت د څلور ډوله عذاب نښه**

په نبوي حديث کې د علماوو سره نفرت د قحطۍ، د چارواکو د ظلم، د حاکمانو د خيانت او د دښمن د حملې لامل گڼل شوی دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: " إِذَا أَبْغَضَ الْمُسْلِمُونَ عُلَمَاءَهُمْ وَأَظْهَرُوا عِمَارَةَ أَسْوَاقِهِمْ وَتَنَاكَحُوا عَلَى جَمْعِ الدَّرَاهِمِ رَمَاهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِأَرْبَعِ خِصَالٍ: بِالْقَحْطِ مِنَ الزَّمَانِ، وَالْجَوْرِ مِنَ السُّلْطَانِ، وَالْخِيَانَةِ مِنْ وِلاَةِ الأَحْكَامِ، وَالصَّوْلَةِ مِنَ الْعَدُوِّ (أبو عبد الله الحاكم، ۱۴۱۱ :۳۶۱).

ژباړه: د حضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه څخه روايت دي: چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې مسلمانان د خپلو علماؤ سره نفرت شروع کړی او دخپلو بازارو ودانی لوړی لوړی جوړی کړي او د زياتو شتمنۍ له امله نکاح وکړي (يعنې په نکاح کړي د دين داری اوتقوا پرته شتمنۍ ته گوري) الله تعالی به دوی ته څلور ډوله عذاب ورکړی: د وخت قحطي، د حکومت لخوا ظلم، د قضاوت مندانو خيانت، او د دشمن لخوا حملې.

د محدثينو په نزد دا روايت ضعيف دی امام ذهبي د حاکم په تعقيب کې د دې روايت ضعف ته اشاره کړې ده، الباني هم دا روايت ضعيف گڼلی دی، که څه هم دا حديث ضعيف دی، خو د دې مضمون (د علماوو احترام، د دنيا غوښتنې خطر، او د ټولنې فساد پايلې) په عمومي ډول د اسلامي نصوصو سره موافق دی.

**پر ځمکه باندې د علماوو حيثيت**

رسول الله صلی الله عليه وسلم علماء په ځمکه کې د آسمان د ستورو په شان بللي او فرمايلي يې دي: «إِنَّ مَثَلَ الْعُلَمَاءِ فِي الأَرْضِ، كَمَثَلِ النُّجُومِ فِي السَّمَاءِ، يُهْتَدَى بِهَا فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ، فَإِذَا انْطَمَسَتِ النُّجُومُ، أَوْشَكَ أَنْ تَضِلَّ الْهُدَاةُ» (ابن حنبل، ۱۴۲۱: ۵۲).

ژباړه: بيشکه په ځمکه کې د علماؤ مثال داسې دی لکه په آسمان کی ستوري، د دوی په ذريعه سره د وچې اولندې په تاريکيو کې رهنمائي حاصليږي نو هر کله چې ستوري پټ سی نو نژدې ده چې هدايت يافته خلک گمراهان سی يعنې چې علماء د ځمکې پرمخ نه وي خلک به گمراهان سی.

د محدثینو په نزد دا حدیث ضعیف دی، د دې روایت په سند کې کمزوري راویان سته، الباني دا حدیث ضعیف بللی دی، ځینو نورو محدثینو هم دا روایت ضعف بللی دی، د دې حدیث معنا (چې علما د خلکو لپاره د هدایت سبب دي) صحیح ده، او دا مفهوم په نورو صحیح نصوصو کې هم تائید سوی دی،

د حقاني علماؤ سره محبت معمولي نیکي او د هغوي سره نفرت کول معمولي گناه نه ده، ځکه چې ځیني وختونه د الله تعالی د نیکو بندگانو سره د محبت له امله یو گنهکار د جنت حقدار او د الله تعالي محبوب جوړیږي او ظاهرا نیک سړي دالله د نیک بندگانو سره نفرت او هغو ته تکلیف رسولو په خاطر مردود اومبغوض گرځي دامضمون په څو حدیثو کې راغلی دی چې د انسان حشر به د هغه چا سره وي چې د هغه سره محبت کوي،حدیث نبوي دی چې یوصحابي دپیغمبر صلي الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې یوسړی د یوټولني سره محبت کوي لیکن اعمال د هغو په رقم نه کوي نو د هغه په اړه څه حکم دي؟ .

رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمْو فرمایل: «الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ» (الطبراني، ۱۴۳۵ :٦٦).

ژباړه: انسان به(دقیامت په ورځ) د هغه چاسره وي چې د هغه سره یې مینه وي.

دا حدیث صحیح دی، ځکه چې دا د دواړو تر ټولو معتبرو کتابونو (بخاري او مسلم) کې هم راغلی دی.

مفسرینو کرامو لیکلي دي: هر کله چې فرعون د حضرت موسی علیه الصلاة والسلام د مقابلې لپاره د مصر مشهوره جادوگران راټول کړل، نو د جادوگرانو هغه وخت داحالت ؤ چې فرعون ته یې ویل که چیري موږ بریالی سو نو موږ به څه تر لاسه کړو؟ لیکن څه وخت وروسته کله چې موسی علیه السلام پر فرعون او د هغه پر جادو گرانو غالبیږي نو فورا ټول جادو گران الله تعالی ته سجده کوي او وائي:( قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿٤٨﴾) (سورة الشعراء: ۴۷ ـ ۴۸).

ژباړه: (وویل ساحرانو:) ایمان راوړی دی موږ په رب د عالمیانو، رب (پالونکی) د موسی او (رب) د هارون (کابلی تفسیر، ب ت: ۱۱۳۱).

نو مفسرین کرام فرمايي کله چې جادوگران د حضرت موسی علیه الصلاة والسلام مخته راغله د حضرت موسی علیه الصلاة والسلام صورت او سیرت یی ولیدی د دوی په زړو کی دموسی علیه الصلاة والسلام عزت او عظمت پیدا سو او هغو د ادب د څرگندولو لپاره وویل اې موسی تاسو به لومړی عصا وغورځوی یامونږ رسی و غورځوو؟ نو د الله تعالی د پیغمبر دا ښکاره ادب هم بې گټی نه ؤ او الله تعالی دوی ته هدایت ور په برخه کړی.

قال القرطبي: تأدّبوا مع موسى إذا استشاروه فيمن يبدأ بالإلقاء فنفعهم الله بأدبهم مع نبيّه فأسلموا وسعدوا برضوان الله تعالى (أبو بكر الجزائري، ۱۴۲۳:۲۱۸).

ژباړه: امام قرطبي رحمه الله فرمايي: دفرعون جادوگرانو د موسی علیه الصلاة والسلام ادب او احترام وکړ، د موسی علیه الصلاة والسلام څخه یی مشوره واخیستل، چې اول به څوک غورځوي (لکړه،یا رسۍ) نو الله تعالی دوی ته دنبي د ادب په خاطر نفع ورکړه نو هغو اسلام راوړي او د الله تعالی په خوښي سره بریالی سوه،

لیکن په انسانانوکې ځیني داسې انسانان هم سته چې علماؤ ته د نفرت او په سپکه سترگه گوري، که چیرې یو بې عقل علماؤ ته د هغه د علم په خاطر په سپک نظر وگوري نو هغه ته پکارده چې خپل ایمان تجدید کړي ځکه دعلمِ دین سره نفرت کول دآخرت تباهي ده، امام عبدالله ابن مبارک رحمه الله فرمايې: قَالَ الإمَامُ عَبْدُ اللهِ بْنُ المُبَارَكِ رَحِمَهُ اللهُ: ..«مَنِ اسْتَخَفَّ بالعُلَمَاءِ ذَهَبَتْ آخِرَتُهُ» ( أَبُو الخَيْرِ، ۱۴۱۱:۹۷).

ژباړه:امام عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمائي: کم څوک چې د علماوو بې عزتي کوي آخرت یې تباه کیږي.

### د فقهاوو په ویناوو کې علماوو ته د سپکاوي حکم

په بعضو روایاتو کي د علماوو سپکاوي کول د کفر او د طلاق سبب گرځي، فقهاء کرامو علماوو ته د استخفاف او سپکاوي احکام بیان کړي دي چې یو له هغو څخه کفر او د مېرمني طلاق دی. د مجمع الأنهر مصنف د فتاوای بزازیه په حواله لیکي: وَفِي الْبَزَّازِيَّةِ فَالِاسْتِخْفَافُ بِالْعُلَمَاءِ لِكَوْنِهِمْ عُلَمَاءَ اسْتِخْفَافٌ بِالْعِلْمِ وَالْعِلْمُ صِفَةُ اللَّهِ تَعَالَى.. وَالِاسْتِخْفَافُ بِالْأَشْرَافِ وَالْعُلَمَاءِ كُفْرٌ.. وَلَوْ شَتَمَ فَمَ عَالِمٍ فَقِيهٍ أَوْ عَلَوِيٍّ يُكَفَّرُ وَتَطْلُقُ امْرَأَتُهُ ثَلَاثًا إجْمَاعًا (مجمع الانهر، ب، ت:٦٩٥).

ژباړه: په بزازیه کي راغلي دي د علماوو پدې خاطر سپکاوی کول چي علماء دي دا د علم سره سپکاوي کول دي او علم دالله تعالي صفت دي، او علماوو او پوهانو سپکاوی کول کفردي اوکه د یوعالم یاعلوي په خوله کي سپکاوی وکړي نو کافر کیږي او ښځه به یي درې ځله طلاقه سي.

علامه ابن نجیم مصری رحمه الله په خپل کتاب الأشباه و النظائر کې د علماوو د سپکاوي په هکله فرمايي: الاِسْتِهْزَاءُ بِالْعِلْمِ وَالْعُلَمَاءِ كُفْرٌ(ابن نجیم ، ۱۴۱۹:۱۶۰).

ژباړه: د علم او علماوو مسخرې او سپکاوی کول کفر دی.

همدارنګه ابوالولید رحمه الله په لسان الاحکام کې فرمايي: «مَنْ أَبْغَضَ عَالِمًا مِنْ غَيْرِ سَبَبٍ ظَاهِرٍ خِيفَ عَلَيْهِ الْكُفْرُ» (أبو الوليد، الحلبي، ۱۳۹۳:۴۱۵).

ژباړه: کوم چا چی د یوعالم سره د یو ښکاره سبب پرته بغض اونفرت وکړی پر هغه باندی د کفر اندېښنه سته.

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي د علماء کرامو سپکاوي د زهریله غوښو په شان دی : لحوم العلماء مسمومة، من شمها مرض، ومن أكلها مات(الدمشقي، ۱۴۲۴:۶۰).

ژباړه: د علماوو غوښې زهریله دي، څوک يې چې بوی کړی ناروغه کیږی او څوک چې هغه وخوری مړ کیږی، یعنې علماوو ته به څوک په خوله یا په لاس تکلیف نه رسوي او نه به خبری ور پسي کوي تباه او برباد به سي.

دوکتور حسام الدین رحمه الله فرمايي علماء په بدو الفاظو سره یادول د ګمراهي لامل ګرځي: ويجب أن يعلم أن احترام العلماء وتقديرهم واجب على المسلم، قَالَ الإمَامُ الطَحَاوِيُّ: «وعُلَمَاءُ السَّلَفِ مِنَ السَّابِقِيْنَ ومَنْ بَعْدَهُم مِنَ التَّابِعِيْنَ أَهْلُ الخَيْرِ والأَثَرِ، وأَهْلُ الفِقْهِ والنَّظَرِ لا يُذْكَرُوْنَ إلاَّ بالجَمِيْلِ، ومَنْ ذَكَرَهُم بِسُوْءٍ فَهُوَعلى غَيْرِ سَبِيْلٍ» (الدكتور حسام الدين، ۱۴۲۷ :۴۳۳).

ژباړه : د علماوو احترام او عزت پر مسلمان باندی لازمی دی، امام طحاوي رحمه الله فرمائي: مخکني علماء سلف او د هغو څخه وروسته د پیروانو له جملې څخه دخیر خاوندان او د فقهي اونظر خاوندان دي یعنی علماء، پرته له ښو څخه يي نه یادوي ،او هغه څوک چي بد يي یادوي هغه په سمه سیده لاره ندي یعني ګمراه دي.

محترمو ورونړو! حقاني علماؤ د حق دین د ساتنې اوخپرولو لپاره داسې زحمتونه ګاللی اوقربانیانې ورکړیدي چې د هغه موږ تصور هم نه سو کولای، هر فتنه یې څپلې ده، د هرظالم په وړاندې یې مبارزه کړېده، د هر ظالم په وړاندې یې د حق خبره کړې ده، سپکي سپوری اورېدلي، زندانونه یې زغملي او په درو وهل سویدي خو د ظالم د خبری سره یې موافقه نه ده کړې.

امام احمدبن حنبل رحمة الله علیه دخلق قرآن په مسئله کې واکمنانو څومره ځورولی، شکنجه کړی، تړلی او زندانی کړیدی او په وهلو محکوم سویدی (الافریقي، ۱۴۰۴:۴۶۱).

د دین د امامانو را وروسته په هره زمانه کې د هرباطل په وړاندې او د هرې فتنې څپلو والا هم دغه علماءکرام وه، په اوسني عصر کې یوغټه طبقه د علماؤ سپکاوی خپل مقصد ګڼي، ځیني خلک په قصدي توګه علماء کراموته بد اورد وایي، او ځیني خلک بیا په ناپوهي اوبې عقلي کې داسې کوي، د علماؤ او صالحانو په شان کې مسخرې، توهین اوسپکاوی کول داټول د نقصان اود بې ایماني باعث ګرځي، اکثره خلک د غیر سیاسي علماء کرامو سره محبت او مینه لري او د هغو تعریفونه کوي، لیکن د سیاسي علماء کرامو چي په سیاست کې برخه اخلي او وظیفه اجراء کوي، د هغو په اړه بېباکه خبري او بد او رد وایي، ځکه چي د هغو رایه زموږ د رائي څخه بېل وي، یا د یو ټولني دا عادت وي چې د هغو طبیعت او ذهن د علماوو سره د نفرت او بغض کولو باندي جوړوي، د دوی په مجلسو او محفلو کي د علماوو د غیبت پرته بل څه نه وي، د مسلمان لپاره داخبرې د تعجب اوهلاکت لامل ده، پرټولنیزي رسنۍ باندې دا وبا عامه سوېده، او ستر دیني عالمانو سره په ټکر کې ده، ځیني خلک ودې حدته رسېدلي دي چې د سنت رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یعني (ږیره) سپکاوی کوي اوریشخندپرې وهي ، اود علماؤ د سپکاوي اوبدنامي د پاره د بې دینو خلکو اقوال او د شاعرانو شعرونه په فخرسره بیانوي.دغه ټولوخبرو ته په کتلوسره د نورو خلکو د لارښوونې لپاره ما په دغه موضوع کې څو حدیثونه راټول کړیدي چې د هغه په ذریعه موږ خپل اصلاح وکړو،الله تعالي دی موږته پر دغه لیکنه باندي دعمل کولو توفیق راکړي.

## موندنې

هغه علمي او اکاډمیکې موندنې چې د دې څېړنې په اوږدوکې ترلاسه سویدي، په لاندي توګه ور څخه یادونه کیږي:

۱) داچي علماء کرام د انبیاء علیهم السلام وارثان دي، څرنګه چي انبیاء علیهم السلام دسپېڅلی دین لپاره ډېر زیات کوښښونه کړیدي همدارنګه علماء کرامو د دوی تګ لاره غوره کړېده، علم دالله تعالي صفت دی او په هر چاکې چې دا صفت موجود وي هغه د عالم په صفت نومول کیږي، او د علماء کرامو د فضائلو په اړه زیات شمېر احادیث موجود دي.

۲) د واقعي او حقیقي علماء کراموسره نفرت کول او د هغوی سپکاوی یاخبري ور پسي کول د ډول ډول آفتونو او بلیاتو سبب کېږي چې مهم یې: کفر، وچکالي او د ډول ډول عذابونو لامل ګرځي، دا هم په لاس راغلل چي کوم خلګ د علماوو سره د نفرت کولو په مرض اخته دي هغوی دی د الله تعالي څخه ووېرېږي او توبه ګار سي.

## مناقشه

څنګه چي د څېړنې په بهیر کي د حقاني علماوو سره د نفرت ناوړه اغیزې چي د مباحثې او مناقشې وړ ده، او په دې اړوند قرآن کریم او په حدیثو کي د علماء کرامو فضیلت راغلی دی، همدا رنګه د علماء کرامو سره بغض او نفرت کولو په اړه وعید هم راغلي دي، او موږ د حقاني علماوو سره د نفرت ناوړه اغېزې موضوع څېړلو ته ولي مجبوره سوو،لامل یې څه ؤ؟ هغه دا چي په نني عصر کښې داسي خلک شتون لري چي دعلماء کرامو سره بغض، عناد او نفرت کوي، او دوی ته بد او رد وایي او د دوی توهین او سپکاوی کوي، چي دا د ایمان څخه د وتلو او د طلاق د واقع کېدلو لامل ګرځي، خلک د علماء کرامو د عزت او احترام څخه یا ناخبره دي او یا خبر دي خو د عناد او نفرت له امله د علماء کرامو سپکاوی او توهین کوي او دین اسلام د علماوو سره خاص ګڼي او علماء د سیاست څخه لیري ګڼي چې اسلام او سیاست بېل بېل دي او کوم علماء چې سیاست کوي له هغو سره د دوي ورانه وي آن تر دې چي د علم او اسلام څخه نفرت کوي، پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

کوم څوک چې د عالم سپکاوی وکړي الله تعالی به د قیامت په ورځ د هغه سپکاوی وکړي. همدارنگه علماء کرامو ته زیان رسول پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او الله تعالي ته زیان رسول دي.

## پایله اخیستنه

د دې لیکنې له لارې لاندې پایلې ترلاسه کېدای سي:

۱. د علماء کرامو عزت او احترام کول واجب دي، ځکه چې علماء کرام د انبیاء علیهم السلام وارثان دي، لکه څرنگه چې انبیاء علیهم السلام دعوت الی الله او د دین خدمت لپاره کوښښونه کول داغه رنگه علماء کرام هم دغه خدمت کوي.

۲. په نبوي احادیثو کې د علماء کرامو ډېر فضیلت راغلی دی، د بېلگې په توگه د آسمان اوځمکي والا، علماء کراموته د مغفرت دعاوي کوي، علماء کرام د قیامت په ورځ دگناهکاره خلکو شفاعت کوي، الله تعالي به د ځمکې د مخ څخه علم پورته کړي او علم پورته کېدل د علماء کرامو له مړیني له کبله رامنځ ته کیږي، پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي کوم څوک چي زموږ د علماء کرامو قدر نه کوي هغه زموږ څخه نه دي، وغیره.

۳.په نبوي احادیثو کې د علماء کراموسره د نفرت کولو په اړه وعیدونه راغلي دي، د بېلگې په توگه کوم څوک چي د عالم اهانت وکړي الله تعالي به د قیامت په ورځ د هغه اهانت وکړي، د علماوو سره بغض د څلور ډوله عذاب لامل گرځي، علماء کرامو ته زیان رسول دا زیان رسول دي پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او الله تعالي ته، او په حنفي فقه کې راغلي دي چې علماء کرامو ته ښکنځل او سپکاوی کول کفر دی او ښځه په دری طلاقو سره طلاقه کیږي.

## وړاندیزونه

۱ . د علماوو په اړه د نظر څرگندولو پر مهال باید د ادب، انصاف او اسلامي اخلاقو مراعات وسي.

۲ . د نفرت، سپکاوي او بدگمانی پر ځای دې د مکالمې او تفاهم لاره خپله سي.

۳ . ځوانانو ته دې د علماوو مقام، رول او مسؤلیتونه په سمه او علمي بڼه وروښودل سي.

۴ . ټولنيزې رسنۍ دې د اصلاح، پوهاوي او يووالي لپاره وکارول سي، نه د تفرقې او کرکې لپاره.

۵ . د اختلاف پر مهال دې د حق پلټنه وسي، نه د اشخاصو بدنامول.

٦ . د ديني پوهاوي د لوړولو لپاره دې علمي ناستې، درسونه او سيمينارونه تنظيم سي.

٧ . رسنۍ او ليکوالان دې له احساساتي او بې اساسه څرګندونو ډډه وکړي.

٨ . د قرآن او سنتو له لارښوونو سره سم دې د ورورولۍ، زغم او نرمښت فرهنګ پياوړی سي.

٩ . د نيوکې او نفرت ترمنځ دې څرګند توپير خلکو ته وروښودل سي.

١٠ . ټولنه دې د علماوو او عام ولس ترمنځ د باور فضا رامنځته کړي.

## اخځليکونه


أَبُو الخَيْرِ، بدل بن أبى المعمر (١٤١١). *النصيحة للراعي والرعية للتبريزي*. مصر: دار الصحابة للتراث.

ابن حنبل ، أبوعبدالله، احمد بن حنبل. (١٤٢١). *مسند الإمام أحمد بن حنبل*. الترك: مؤسسة الرسالة.

ابن كثير، أبوالفداء، اسماعيل بن عمر. (١٤١٩). *ابن كثير*. بيروت: دارالكتب العلميه.

ابن ماجه، محمد بن يزيد القزويني. (١٤١٨). *سنن ابن ماجة*. بيروت: دار الجيل.

ابن نجيم ، زين الدين بن ابراهيم. (١٤١٩). *الْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ*. بيروت - لبنان: دار الكتب العلمية.

أبو الحسين ، محمد بن محمد. (ب، ت). *طبقات الحنابلة*. بيروت: دار المعرفة .

أبو العلاء،محمد بن حسين . (١٤٢٢). *منطلقات طالب العلم* .القاهرة: المكتبة الإسلامية.

أبو الوليد، الحلبي، أحمد بن محمد. (١٣٩٣). *لسان الحكام في معرفة الأحكام*. القاهره: البابي الحلبي.

أبو بكر البيهقي ، أحمد بن الحسين. (١٤٢٣ هـ). *شعب الإيمان*. الرياض: مكتبة الرشد.

أبو بكر الجزائري، جابربن موسى. (١٤٢٣). *أيسر التفاسير لكلام العلي الكبير*. المملكة العربية السعودية: مكتبة العلوم والحكم.

أبو حفص ، عمربن احمد. (١٤٢٤). *الترغيب في فضائل الأعمال*. بيروت - لبنان: دار الكتب العلمية.

أبو عبد الله الحاكم، محمد بن عبدالله . (١٤١١). *المستدرك على الصحيحين*. بيروت: دار الكتب العلمية.

ابو عيسي، محمد بن عيسى. (١٣٩٥). *سنن الترمذي*. مصر: مصطفى البابي الحلبي.

أبو محمد ، عبدالله بن عبدالرحمن. (١٤١٢). *مسند الدارمي*. المملكة العربية السعودية: دار المغني للنشر والتوزيع .

أحمد ، الأهدل. (١٤٣١). *الأخلاق الزكية في آداب الطالب المرضية*. بيروت: مكتبة الملك فهد الوطنية.

الافريقي، محمد بن احمد. (١٤٠٤). *المحن*. الرياض: دار العلوم.

الخطيب البغدادي، أبوبكربن علي. (١٤٢١). *الفقيه و المتفقه*. السعودية: دار ابن الجوزي.

الدكتور حسام الدين. (١٤٢٧). *فتاوى يسألونك*. فلسطين: مكتبة دنديس،.

الدمشقي، عبدالباسط بن موسى. (١٤٢٤). *المعيد في أدب المفيد والمستفيد*. مكتبة الثقافة الدينية.

الطبران،، ابوالقاسم. سسليمان بن أحمد. (١٩٨٣). *المعجم الكبير*. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

الطبراني، ابوالقاسم. سسليمان بن أحمد. (١٤٣٥). *المعجم الكبير*. الرياض: مكتبة ابن تيمية.

الطبراني، ، بوالقاسم. سسليمان بن أحمد. (١٩٨٥). *الروض الداني (المعجم الصغير)*. عمان: المكتب الإسلامي ، بيروت.

النيسابوري، ابوالحسن. مسلم بن الحجاج (ب، ت). *صحيح مسلم*. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

بخاري، ابوعبدالله، محمد بن اسماعيل. (١٤٢٢ ). *صحيح البخاري*. دمشق: دار طوق النجاة.

زين الدين، محمد. عبدالرؤف. (١٤١٠). *التوقيف على مهمات التعاريف*. قاهره: عالم الكتب.

فخرالدين الرازي، محمد بن عمر. (١٤٢٠). *مفاتيح الغيب = التفسير الكبير*. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

مجمع الانهر، عبدالرحمن بن محمد. (ب، ت). *مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر*. ب، ط: دار إحياء التراث العربي.

# آثار الكراهية السلبية تجاه علماء الحقانيين

محمد روحانی[1*] و محمد بصير صديقی[2]

قسم الثقافة الإسلامية، كلية الشريعة، جامعة قندهار[1-2]

mrohani467@gmail.com

## الملخص

العلماء الحقانيّون هم أولئك الذين يتصفون بالعلم الشرعي، وطاعة الأوامر، واجتناب النواهي، يقوم هؤلاء العلماء بتوجيه الناس دينيًا، وأخلاقيًا، واجتماعيًا على ضوء القرآن والسنّة. ولكن حين يظهر في المجتمع الكراهية والازدراء وسوء الفهم تجاههم، فإن ذلك لا يُسيء إلى شخصيات العلماء فحسب، بل يُهدد أيضًا الاستقرار الفكري والروحي والأخلاقي للمجتمع، تهدف هذه المقالة إلى توضيح النتائج السلبية لنشر الكراهية ضد العلماء الحقانيين، وتبيين أنهم أعمدة الدين والأخلاق ووحدة المجتمع، وأن ازدراءهم يقود إلى الفرقة والضعف، ولأن هذه القضية الدينية البحتة وردت في الأحاديث النبوية، وشروحها، وكتب العلماء، فقد تم اعتماد منهج بحثي توثيقي باستخدام مصادر موثوقة، مع استخدام لغة أكاديمية واضحة وسهلة الفهم، فعندما تنتشر الكراهية تجاه العلماء في المجتمع، يبتعد الناس عن الدين، وتنتشر الفُرقة وفقدان الثقة والانحدار الأخلاقي، ويزول احترام العلم الشرعي، مما يؤدي إلى ضعف المجتمع روحيًا. النتيجة يجب استبدال الكراهية تجاه العلماء بمناخ من الاحترام، والفهم، والحوار؛ لأن العلماء الحقانيين هم مصادر التوجيه الديني، وازدراؤهم ليس فقط تقليلاً من حرمة الدين، بل هو بداية لانهيار المجتمع، فعلينا أن نؤمن بأن التقدم لا يتحقق إلا من خلال الوحدة، والتسامح، والبصيرة الدينية، لا من خلال الكراهية والعداء.

**الكلمات المفتاحية:** ازدراء، علم، علماء، محبة، كراهية.

# د (طلب العلم فريضة على كل مسلم) حديث سمه معنیٰ او د ناسمې معنیٰ تردید یې

محمد زمان صارم

اسلامي ثقافت څانګه، شرعیاتو پوهنځی، پکتیا پوهنتون

Zamansarem786@gmail.com

## لنډیز

د اسلامي شریعت له څلورګونو اصولو څخه یو هم د رسول الله ﷺ احادیث دي چې عملي او اعتقادي احکام ورڅخه مستنبط کیږي، د احکامو استنباط یو لړ شرایط او اصول لري، چې درلودونکی یې مجتهد بلل کیږي خو په ډېر تأسف نن سبا وختونو کې د اجتهاد او استنباط شرایط په پام کې نه نیول کیږي، ځیني سر تېزه خلک په خپل کمزورې فهم ځیني حساس موضوعات د احادیثو څخه د استنباط په پلمه ټولنې ته وړاندې کوي او د خلکو له پاکو احساساتو سره لوبې کوي، یو له هغه احادیثو چې نن سبا د هر خاص او عام په خوله زیات چلیږي (طلب العلم فريضة على كل مسلم) حديث هم دی، له دې حدیث څخه د مطلق علم او پر هر چا د فرضیت استدلال کیږي، په دې لیکنه کې د توصیفي، استقرایي، مقایسوي او تحلیلي مېتود په کارونې د مختلفو کتابونو او رسالو څخه په ګټه اخیستنې سره دا ښوول شوې ده چې یاد حدیث خو لومړی دومره قوي نه دی چې د یو حکم فرضیت لپاره مستدل وګرځیږي، او که چیرې ومنل شي چې فرضیت ورباندې ثابتیږي نو هر ډول علم مراد نه دی بلکې هغه علوم مراد دي چې په دیني لحاظ ورته اړتیا لیدل کیږي، د رسول الله ﷺ د یاد حدیث سمه معنیٰ وړاندې کول او د ناسمې معنیٰ څخه مخنیوی کول مو یوازینی موخه ده.

**کلیدي کلمې:** حدیث، معنیٰ، علم.

## سريزه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين محمدٍ و على اله وصحبه اجمعين اما بعد!

د اسلامي ټولنې ځانگړتيا دا ده چې هره چاره يې له اسلامي شريعت څخه سرچينه آخلي، د يادې ټولنې عام وگړي هغه خبرې ته ډېره پاملرنه کوي او د سپېڅلتيا مقام ورکوي چې د شريعت تأييد له ځانه سره ولري، يعنې د اسلامي شريعت له څلورگونو اصولو (قران کريم، سنة الرسول، اجماع الامة او قياس) څخه مستنبطه شوي وي او د مشروعيت بڼه يې خپله کړي وي، يوه مسأله تر هغه د منلو وړ نه ده چې يادو څلورو اصولو له جملې يې د يوه په واسطه تأييد نه وي شوی، خو دا چې د احکامو استنباط به څوک کوي؟ يوه جلا موضوع ده، دومره بايد ووايو چې د احکامو استنباط ساده خبره نه ده چې هر څوک پرې توانايي ولري بلکې تر ټولو سخت اصول او شرائط لري چې په پام کې نېولو پرته يې هيڅوک هم د اجتهاد مقام ته نه شي رسيدلی، خو په ډېر افسوس بايد ووايو چې د اوږدې زمانې راهيسې په ځانگړې ډول نن او سبا ځينې خلک د ناسم پوهاوي له امله پرته له دې چې د اجتهاد اصول او شرائط يې زده کړي وي، په يادو څلورگونو اصولو باندې بې ځايه تيزي کوي په خپل طبيعت ځينې احکام ټولنې ته وړاندې کوي، د دې لپاره چې په خلکو يې ومني نو يادو څلورگونو اصولو څخه يې يوه ته نسبت وکړي، د خلکو له نيکو احساساتو څخه په ډېر بد شکل گټه اخلي پايله کې ټولنه د يوه ناورين سره مخ کيږي، د خلکو په اذهانو کې د دين ارزښت کميږي بلکې خلکو ته العياذ بالله دين يو ناچيزه شی ښکاره کيږي، د يادو څلورگونو اصولو څخه يو هم د رسول الله ﷺ احاديث دي چې د ياد ظلم ښکار شوي دي، د هغوی له جملې چې نن سبا وختونو کې د هر خاص او عام په خوله ډېر چليږي، په هر زمان او مکان کې لوستل کيږي دا يو حديث دی (طلب العلم فريضة على کل مسلم)، له دغه حديث څخه ځينې خلک د مطلق علم پر فرضيت استدلال کوي، يعنې وايي چې هر ډول علم: ديني او دنياوي پر هر مسلمان: نارينه او ښځينه باندې فرض دی، د حديث دا معنیٰ داسې يو څوک وړاندې کوي چې مجتهدين نه دي، اړينه ده

چې د یاد حدیث حقیقت او سمه معنیٰ د محدثینو، مجتهدینو او راسخو علماوو له لیده و ارزول شي او بیا ټولنې ته وړاندې کړل شي، تر څو حقائق روښانه شي او د تحریف مخنیوی وشي.

د یاد شوي حدیث په هکله هر اړخیزه او مجموعي شکل لیکنه مو بیا نه مونده، البته د پخوانیو جیدو علماء کرامو، لکه علامه بیضاوي، سرخسي، سخاوي، ابن جوزي، ملا علي القاري، عبد الحق مظهري.... رحمهم الله په تألیفاتو کې د یاد حدیث په هکله ځینې اشارات شتون لري چې دلته مو راټول او ترتیب کړي دي.

د دې لپاره چې د یاد حدیث په باب کې تر خپلې وسې حقیقت ته رسیدلي یو نو د څو اړخونو به یادې موضوع ته نظر کېږي: لومړی د حدیث تخریج یعنې دا چې دا حدیث د حدیثو کومو کتابونو نقل کړی دی؟ دوهم د یاد حدیث حکم یعنې دا چې یاد حدیث د محدثینو په اند کوم ډول حدیث دی؟ صحیح دی او که غیر صحیح؟ دریم دا چې ایا یاد حدیث د علم پر فرضیت دلالت کولی شي؟ دا به فقهې او اصول فقهې له نظره وڅېړو، څلورم دا که ومنل شي چې یاد حدیث د علم پر فرضیت دلالت کولی شي، نو دا باید واضحه شي چې کوم ډول علم باندې دلالت کوي؟ دنیاوي او یا دیني؟ که یوازې دیني علم فرضیت باندې دلالت کوي، نو څومره علم مراد دی؟ ټول دیني علوم او که مشخص دیني علوم؟ پنځم دا چې که یاد حدیث د علم پر فرضیت دلالت کوي نو کوم ډول فرض؟ یعنې فرض عین او که فرض کفایي ؟ او په چا باندې فرض دی؟ محدودو خلکو او یا ټولو خلکو باندې؟ شپږم دا چې د امت محققین علماء د یاد حدیث معنیٰ څه ډول کوي؟ د یادو پوښتنو ځوابونه زموږ مقاله تشکیلوي.

## د څېړنې مېتودولوژي

په دې څېړنه کې موږ د توصیفي، تحلیلي او مقایسوي مېتودونو څخه په کار اخیستنې د مختلفو مصادرو او مراجعو لکه د قران کریم له ایتونو، نبوي احادیثو، د احادیثو له معتبرو شروحو، د فقهې، اصول فقهې او نحوې کتابونو څخه معلومات راټول او تحلیل شوي. هدف پکې دا دی چې ټولنې ته د یاد حدیث سم تصویر وړاندې شي او د ناسم څخه یې مخنیوی وشي، تر څو مسلمانان د بې ځایه احساساتي شعارونو او مغرضو اشخاصو ښکار نه شي.

## اصلي موضوع

### د (طلب العلم فريضة على كل مسلم) حديث تخريج

نوموړی حديث د حديثو شپږ مشهورو کتابونو څخه يوازې ابن ماجه رحمه الله نقل کړی دی چې سره له اِستناده يې را اخلو:

ابن ماجه رحمه الله فرمايي: «حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ شِنْظِيرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: "طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ» (ابن ماجه، ۱۴۳۰، ج۱ :۱۵۱، د حديث نمبر: ۲۲۴). ژباړه: موږ ته هشام بن عمار حديث بيان کړی دی، (هغه وايي) موږ ته حفص بن سليمان حديث بيان کړی (هغه وايي) موږ ته کثير بن شنظير حديث بيان کړی هغه محمد بن سيرين څخه او هغه له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت کوي، وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: د علم طلب کول پر هر مسلمان فرض دي.

د ابن ماجه څخه پرته نورو معتبرو کتابونو هم نقل کړی دی لکه: (البزار ۲۰۰۹ ،ج۱۳: ۲۴۰، د حديث نمبر : ٦٧٤٦)، (ابو يعلیٰ، ۱۴۳۴، ج۴: ۵۱۵، د حديث نمبر: ۲۸۳۷)، (الطبراني، ۱۴۱۵ هـ، ج۱: ۷، د حديث گڼه: ۹) او داسې نور.

ځينې خلک د ياد حديث په اخر کې د (ومسلمة) کلمه هم زياتوي خو د محدثينو په اند ياده کلمه ثابته نه ده او هيڅ اصل نه لري، علامه سخاوي رحمه الله په دې هکله فرمايي: ( ځينو مصنفينو د دغه حديث په آخر کې د (مسلمة) کلمه زياته کړې ده اگر که د معنیٰ له مخې صحيح ده خو د ياد حديث په سندونو کې يې هيڅ يادونه نه ده شوې (السخاوي ۱۳۷۵ ق: ۲۷۷).

### د پورتني حديث حکم

ذکر شوی حديث د محدثينو په اتفاق يو ضعيف حديث دی، ځکه روايت کوونکي يې زياتره داسې څوک دي چې روايات يې د قبول وړ نه دي، علامه ابن الجوزي رحمه الله پورتنی حديث په گڼو طروقو را نقل کړی دی خو يوه طريقه هم داسې نه ده چې جرح او تعديل امامانو ته د منلو وړ وي، د هر سند په باب يې د مشهورو علماوو تنقيدي نظرونه راټول کړي لنډه اشاره ورته کوو:

نوموړی حدیث د حضرت علي رضي الله عنه څخه په درو طریقو روایت شوی: په لومړۍ طریقه کې یو راوي السمرقندي دی چې منکر روایات نقل کوي، همدارنګه مُحَمَّدُ بْنُ أَيُّوبَ او جعفر بن محمد دي چې انتهایي ضعیفان دي، په دوهمه طریقه کې الخوارزمي دی چې امام الدارقطني رحمة الله علیه ورته متروک (د روایت په باب کې پرېښودل شوی) ویلی دی، په دریمه طریقه کې عباد ابن یعقوب دی چې ابن حبان رحمة الله علیه یې په هکله ویلي : نوموړی منکر[1] حدیثونه روایت کوي، د دې وړ دی چې پرېښودل شي.

د عبدا لله بن مسعود رضي الله عنه څخه هم روایت شوی دی:

په سند کې یې عثمان بن عبد الرحمن دی چې روایت باندې یې څوک دلیل نه نیسي.

د عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه هم په څو طریقو روایت دی:

په لومړۍ طریقه کې یې محمد بن عبدالملک دی، چې امام احمد رحمة الله علیه ورته له ځانه د حدیثو جوړوونکی او دروغجن ویلی، او ابن حبان رحمة الله علیه یې په هکله ویلي: نوموړی باید کتابونو کې په هغه د بد ویلو پرته د بل هدف لپاره یاد نه شي. دوهمه طریقه کې احمد بن ابراهیم بن موسی دی چې ابن حبان رحمة الله علیه یې په هکله ویلي : نوموړی له مالک رحمة الله علیه څخه داسې څه روایت کوي چې هغه ویلي نه وي، او دا حدیث، نه د ابن عمر رضي الله عنه له طریقه اصل لري، نه د نافع رحمة الله علیه او نه د مالک رحمة الله علیه له طریقه اصل لري. دریمه طریقه کې محمد بن ابي حمید دی، چې یحییٰ رحمة الله علیه په هکله ویلي دي: (لیس بشيئ) یعنې هیڅ هم نه دی، او ابن حبان ویلي : دلیل پرې نه نیول کېږي. څلورمه طریقه کې لیث بن ابي سلیم دی، چې ابوزرعه رحمة الله علیه یې په هکله وایي: زه په ده باندې ځان نه بوختوم، او ابن حبان رحمة الله علیه وایي: نوموړي په اخري عمر کې ګډې وډې ویلې، سندونه به یې

[1] منکر حدیث هغه ته ویل کیږي چې په اسناد کې یې د زیاتې تېروتنې ښښتن یا د زیات غفلت ښښتن او یا د څرګند فسق ښښتن راوي شتون لري. یا منکر حدیث هغه ته ویل کیږي چې ضعیف راوي یې نقل کوي او د ثقه راوي مخالف وي (الطحان، ۱۴۲۵: ۱۱۹).

اړول راړول، مرسل[۱] حدیثونه به یې مرفوع کول، ابن مهدي، یحییٰ او احمد پرې ایښې وو یعنې حدیثونه ورڅخه نه نقل کول.

د ابن عباس رضي الله عنه څخه هم روایت شوی دی:

سند کې یې : عائذ بن ایوب دی چې مجهول دی، عبد الله بن عبد العزیز دی چې ابن الجنید یې په هکله وایي: د یوې پیسې برابر هم نه دی.

د جابر رضي الله عنه څخه په څو طرېقو روایت شوی دی:

د جابر رضي الله عنه څخه په روایت کولو کې یو محمد بن عبد الملک دی چې یادونه یې وشوه، عباس بن الولید دی چې د حدیثو په باب کې طعن ورباندې لګېدلی، او کوم حدیث چې نوموړی نقل کوي: نو په لومړي سند کې یې المثنی بن دینار دی چې العقیلي رحمه الله یې په هکله ویلي: د ده په حدیث کې شک شته، په درېیمه طریقه کې یې عبد الله بن خراش دی چې ابوزرعه یې په هکله ویلي: هیڅ هم نه دی، او څلورمه طرېقه کې موسی بن داؤد دی چې مجهول دی، او پنځمه طرېقه کې: عثمان بن عبدالرحمن دی چې یحییٰ رحمه الله یې په هکله ویلي: نوموړي به دروغ ویل، او ابن حبان رحمه الله وایي: له ثقه او مضبوطو راویانو څخه به یې موضوعات نقل کول، کثیر ابن شنظیر دی چې یحییٰ رحمه الله یې په هکله ویلي: نوموړی هیڅ هم نه دی، حفص بن سلیمان دی چې احمد رحمه الله یې په هکله ویلي: نوموړی متروک الحدیث دی (څوک ورڅخه روایات نه نقل کوي)، اسماعیل بن عمر او اسماعیل بن عیاش دی چې دواړه ضعیفان دي. په شپږمه طرېقه کې سلیمان بن قرم دی چې یحییٰ ورته (لیس بشیئ) ویلي دي. اوومه طرېقه کې حسان بن سیاه دی چې الدارقطني رحمه الله ضعیف بللی دی، اتمه طرېقه کې زیاد بن میمون دی چې یزید بن هارون رحمه الله دروغجن بللی ، او یحییٰ رحمه الله یې په هکله ویلي : نه د لږو سره مساوي دی او نه له ډېرو سره، نهمه طرېقه کې احمد بن الصلت دی چې الدارقطني رحمه الله یې په هکله وایي: نوموړي حدیثونه وضع کول. لسمه طرېقه کې عمران بن عبدالله دی چې محدثینو ضعیف بللی، یوولسمه

[۱] مرسل حدیث هغه ته وایي چې سند کې د تابعي څخه مخکې راوي یعنې صحابي غورځېدلی وي او تابعي، حدیث مستقیماً نبي علیه السلام ته منسوبوي او مرفوع هغه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په نسبت کولو سلسله کې کوم راوي ساقط شوی نه وي. (الطحان، ۱۴۲۵ هـ ق، ص۸۷)

طرېقه کې معان بن رفاعه دی چې يحيىٰ رحمه‌الله ضعيف بللی دی، او ابن حبان يې په هکله وايي: د پرېښودو قابل دی بل راوي محمد بن سليمان دی چې ابو حاتم رحمه‌الله يې په هکله وايي: نوموړی منکر الحديث دی، دوولسمه طرېقه کې سليمان بن کران چې ابن عدي پرې بد ويلي دي او ابو حاتم الرازي هم ضعيف بللی، په دې سند کې ابو النضر دی چې مجهول دی، ديارلسمه طرېقه کې مسلم الملائي چې الفلاس رحمه‌الله يې په هکله ويلي دي: نوموړی بيخي منکر الحديث دی او يحيىٰ ويلي دي: هيڅ هم نه دی. په همدې طرېقه کې: حسام بن مصک هم دی چې يحيىٰ رحمه‌الله يې په هکله ويلي: د نوموړي حديث هيڅ شی هم نه دی، په دې طرېقه کې ابن عياش هم دی چې د ده جرح مخکې بيان شوه، په دې روايت کې عبد الوهاب بن الضحاک هم دی ابو حاتم رحمه‌الله يې په هکله ويلي دي: نوموړي به دروغ ويل، او څوارلسمه طرېقه کې الخبائري دي چې ابو حاتم رحمه‌الله متروک الحديث بللی.

نوموړی حديث د ابو سعيد رضي‌الله‌عنه څخه هم نقل شوی:

د ابو سعيد رضي‌الله‌عنه څخه حديث نقل کولواسناد کې يو اسماعيل بن عمرو دی چې الرازي، الدار القطني او ابن عدي رحمهم الله ضعيف بللی دی، په دې سند کې عطيه هم دی چې ټولو محدثينو ضعيف بللی.

د پورتني حديث ذکر شوي ټول طروق او اسانيد علامه ابن الجوزي رحمه‌الله په خپل کتاب (العلل المتناهية في الأحاديث الواهية) کې اصالتًا ذکر کړي دي ، نو د زيات تفصيل لپاره وګوره: (ابن الجوزي، ۱۴۰۱ ق، ج۱:۵۴-۵۶). او په خپله ابن الجوزي نوموړی حديث د الموضوعات نومي کتاب کې په موضوعاتو کې شمېر کړی دی (ابن الجوزی، ۱۳۸۶، ج۱: ۲۱۵).

د امام احمد ابن حنبل رحمه‌الله په وړاندې پورتنی حديث ولوستل شو، نو ده وويل: (هَذَا كَذِبٌ). يعني دا دروغ دي (هدف يې همغه سند وو چې د ده په وړاندې ويل شوی و) ، يو بل راوي د احمد رحمه‌الله څخه د ياد شوي حديث په هکله پوښتنه کوي هغه په ځواب کې وايي: (لا يَثْبُتُ عندنا فيه شيء). يعني په دې هکله له موږ سره کوم شی ثابت نه دی (ابن قدامه المقدسي، ب ت:۱۲۸) .

محدث ابوبکر چې په بزار مشهور دی د ياد حديث په هکله وايي: دا دروغ دي، د حضرت انس رضي‌الله‌عنه څخه په ډېرو سندونو سره روايت شوی دی خو صحيح نه دي(البزار ۲۰۰۹ ، ج۱: ۱۶۴).

محدث حاکم رحمه‌الله فرمايي: ډېر وارې يو حديث مشهور وي خو صحيح نه وي، د هغوی له جملې دا حديث هم دی: پورتنی حديث يې ذکر کړی دی. (الحاكم، ۱۳۵٦: ۹۲).

د مشكاة المصابيح مصنف وايي: د دې حديث متن مشهور دی خو سند يې ضعيف دی په ګڼو طريقو روايت شوی دی خو ټولې ضعيفي دي (الخطيب التبريزي، ۱۹۸۵، ج۱: ۷٦).

لنډيز: د ځينو راويانو ضعف او فسق، د سند انقطاع، او د صحابه کرامو د عمل څخه مخالف واقع کيدل (چې وروسته يې تفصيل راځي) د ياد حديث د ضعف لاملونه دي، ځکه د صحيح حديث لپاره دا شرط دي چې عادلانو، د قوي حافظې څښتنانو به روايت کړی وي، سند به يې متصل وي، علت به پکې نه وي، يعنې پټ مرض چې د حديث صحت ته زيان رسوي او شاذ به نه وي يعنې چې د يو ثقه راوي روايت د اوثق راوي خلاف وي، (الطحان، ۱۴۲۵: ۴۴-۴۵) خو ياد حديث په دې معيار برابر نه دی.

د پورتني حديث چې څومره تحقيق وشي بيا هم داسې علت نشته چې د صحيح احاديثو په قطار کې يې ودروي، د ګوتو په شمېر علماء کرام په دې نظر دي چې نوموړی حديث په ډېرو طريقو روايت شوی نو د حسن رتبې ته چې د صحيح څخه ښکته ده رسيږي، دا نظريه د علامه جلال الدين سيوطي رحمه‌الله هم ده (السيوطي، ب ت:۱۴۱). د يادونې وړ ده چې د حسن څخه مراد حسن لغيره دی، ځکه چې ياد حديث حقيقت کې يو ضعيف حديث دی خو په ګڼو طريقو د روايت کېدو له امله حسن ګرځيدلی دی، همدې ته حسن لغيره وايي:(الحسن لغيره: هو الضعيف إذا تعددت طرقه، ولم يكن سبب ضعفه فسق الراوي أو كذبه) (الطحان، ۱۴۲۵: ٦٦). حسن لغيره په حقيقت کې ضعيف حديث دی چې د روايت وجوهات يې ګڼ وي، يعنې په ډېرو سندونو سره روايت شوی وي، خو د ضعف سبب يې د راوي فسق او يا دروغ نه وي.

**د ياد حديث د الفاظو تشريح**

طلب: ابن فارس وايي: «الطَّاءُ وَاللَّامُ وَالْبَاءُ أَصْلٌ وَاحِدٌ يَدُلُّ عَلَى ابْتِغَاءِ الشَّيْءِ » (ابن فارس، ۱۳۸۹، ج۳: ۴۱۷) ط، ل، ب يو اصل دی چې د يو شي په لټولو دلالت کوي.

علم: علامه جرجاني رحمه الله علیه وايي: «العلم: هو الاعتقاد الجازم المطابق للواقع» (الجرجاني، ۱۴۰۳ :۱۵۵).
علم: هغه پرېکنده باور لرل دی چې د واقعيت سره برابر وي.

فريضة: علامه جرجاني رحمه الله علیه وايي: «الفريضة: فعيلة من الفرض وهو في اللغة التقدير، وفي الشرع: ما ثبت بدليل مقطوع كالكتاب والسنة والإجماع» (الجرجاني، ۱۴۰۳: ۱۶۵). فريضة د فعيلة وزن دی له فرضو څخه اخيستل شوی لغت کې اندازه کولو ته وايي، او شريعت کې: هغه څه چې په قطعي دليل ثابت وي لکه کتاب الله، سنة الرسول او اجماع الأمة.

علیٰ: «كلمة على للإلزام وَأَصله لإِفَادَة معنى التفوق والتعلي» (الشاشي، ۱۴۰۲: ۲۲۹) د علیٰ کلمه د الزام او اجبار لپاره کارول کيږي، اصل کې د پورته والي او اوچتوالي معنیٰ له ځانه سره لري.

كُلُّ: د (معجم مقاييس اللغة) مصنف وايي: «فَأَمَّا كُلُّ فَهُوَ اسْمٌ مَوْضُوعٌ لِلْإِحَاطَةِ مُضَافٌ أَبَدًا إِلَى مَا بَعْدَهُ» (ابن فارس، ۱۳۸۹، ج۵: ۱۲۲) كل اسم دی چې د احاطې لپاره وضع شوی او هميشه به هغه څه ته مضاف وي چې له ده وروسته راځي.

او د (كشف الأسرار عن أصول فخر الإسلام البزدوي) كتاب مؤلف ليکلي:«كَلِمَةُ كُلٍّ وَهِيَ لِلْإِحَاطَةِ عَلَى سَبِيلِ الْأَفْرَادِ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى:( كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ۗ ﴿۱۸۵﴾)(سورة آل عمران: ۱۸۵) «وَمَعْنَى الْأَفْرَادِ أَنْ يُعْتَبَرَ كُلُّ مُسَمًّى مُنْفَرِدًا لَيْسَ مَعَهُ غَيْرُهُ» (علاء الدين البخاري، ۱۳۰۸، ج۲: ۸). يعنې د (كل) کلمه د فرديت په طريقه د احاطې لپاره کارول کيږي، الله تعالی فرمايي: هر نفس د مرګ څکونکی دی، د فرديت معنیٰ دا چې هر نامداره فرد جلا، جلا واخيستل شي او بل څوک ورسره ملګري نه شي.

مسلم: د نارينه مسلمان لپاره کارول کيږي، خو په احکامو کې ښځه د نارينه تابع بلل کيږي، د قران کريم اسلوب هم دا دی چې خطاب نارينه و ته وي او ښځينه هم ورسره ملحوظې وي، نو د (مسلم) کلمې کې (مسلمة) هم تبعاً موجوده ده، په دې هکله د علامه سخاوي قول تېر شوی دی.

**د ياد شوي حديث څخه د علم پر فرضيت استدلال**

د علم اهميت او ضرورت له بديهياتو څخه ګڼل کيږي چې دليل ته اړتيا نه لري، اسماني کتابونو او انبياء کرامو په خپلو لارښوونو کې د علم فضيلت او اهميت په ډاګه کړی دی، دلته زموږ هدف دا

نه دی چې علم فرض دی او کنه؟ دا یو جلا موضوع ده، هدف مو دا ده چې ایا (طلب العلم فریضة علی کل مسلم) حدیث چې مخکې یې یادونه شوې، د علم فرضیت ثابتولی شي او یا نه؟ دا یو علمي بحث دی، لومړی باید فرض وپیژنو او بیا دا وپیژنو چې فرض په کومو دلائلو ثابتیږي؟

**د فرض تعریف**

د فرض تعریف د الفاظو په تشریح کې یاد هم شو دلته یې تکرارًا را اخلو: ابن عابدین شامي رحمة الله علیه فرمایي: «اعْلَمْ أَنَّ الْفَرْضَ مَا ثَبَتَ بِدَلِيلٍ قَطْعِيٍّ لَا شُبْهَةَ فِيهِ كَالْإِيمَانِ وَالْأَرْكَانِ الْأَرْبَعَةِ». (ابن عابدین، ۱۳۸٦، ج٦: ۳۱۳) ژباړه: پوه شه چې فرض هغه څه دي چې په پریکنده او یقیني دلیل ثابت وي هیڅ شک او شبهه پکې موجوده نه وي، لکه ایمان او څلورگوني ارکان (لمونځ، روژه، زکات او حج).

**د فرض حکم**

د فرضو حکم دا دی چې د علم له لحاظه به د دوی په ثبوت باندې یقیني او قطعي علم لاسته راوړل لازم دي، په عقیدوي لحاظ به ور باندې کلک یقین کېږي او تصدیق به یې کېږي یعنې د حقیَّت او ثبوتیت عقېده به یې ساتل کېږي، په بدن سره به پرې عمل تر سره کیږي، منکر یې کافر گرځي پرته له عذره یې پرېښودونکی فاسق گرځي. (ابن عابدین، ۱۳۸٦، ج٦: ۳۱۳).

معلومه شوه چې د فرضو ثبوت په یقیني دلیل سره کیږي، دا چې موږ ته هم معلومه شي چې کوم شیان فرض دي، اړینه ده چې د دوی په هکله موږ ته رسیدلی علم به هم د قطعي او یقیني لارو څخه وي، او علم به هم یقیني وي، شکونه او وسوسې به پکې نه وي. د علم د لاسته راتلو اسبابو څخه یو هم د رسول الله ﷺ احادیث دي، علماء کرامو د احادیثو تحقیق کړی دی، په مختلفو ډولونو یې ویشلي دي، په دوی کې ځینې داسې دي چې د عمل وړ نه دي، ځینې یې د قبول وړ دي، خو فرضیت ورباندې نه ثابتیږي، یوازې فضیلتونو او مستحباتو کې دلیل گرځي، خو د پیغمبر ﷺ په احادیثو کې هغه حدیث چې یقیني او قطعي علم پیدا کوي او کوم شی چې ورباندې ثابت وي، منل یې ضروري دي پریکنده اعتقاد به پرې کېږي داسې به منل کیږي لکه په سترگو یې چې لیدلي وي، متواتر حدیث دی (علاء الدین البخاري، ۱۳۰۸، ج۲: ۳٦۲) ، متواتر حدیث محدثین داسې تعریفوي: « الخبر المتواتر ما رواه عدد كثير، تُحِيل العادة تواطُؤَهم على الكذب.» (الطحان، ۱٤۲٥ :

۲۳). ژباړه: متواتر خبر هغه دی چې دومره ډېرو خلکو روایت کړی وي، چې د عادت له مخې په دروغو باندې د دوی جمع کېدل ناشوني وي.

راځو خپل هدف ته، یاد شوی حدیث د محدثینو په اند متواتر خو بېخي نه دی؛ بلکې خبره د صحت او عدم صحت ده: د محدثینو غوڅ اکثریت په دې قائل دی چې نوموړی حدیث ضعیف دی، او ضعیف حدیث د مردودو احادیثو څخه ګڼل کېږي، چې د استدلال وړ نه وي. (الطحان، ۱۴۲۵: ۷۶) یوازې د ګوتو په شمېر علماء یې حسن لغیره بولي.

که نوموړی حدیث یو صحیح حدیث وګڼل شي بیا هم فرضیت ورباندې نه شي ثابتیدلی ځکه چې د ټولو محدثینو په اتفاق نوموړی حدیث متواتر نه دی، بلکې خبر واحد دی، او خبر واحد فرضیت نه شي ثابتولی: «فَإِنَّ خَبَرَ الْوَاحِدِ لَا يُثْبِتُ الْفَرْضِيَّةَ» (علاء الدین البخاري، ۱۳۰۸، ج۱: ۴۵). ژباړه: خبر واحد فرضیت نه ثابتوي.

**د یاد شوي حدیث څخه د علم د فرضیت ثبوت د منل کېدو صورت کې**

که فرضاً ومنو چې له نوموړي حدیث څخه د علم فرضیت ثابتیږي، نو بیا دا تفصیل باید وشي چې له علم څخه هدف کوم علم دی؟ څومره علم دی؟ په چا باندې فرض دی؟

**په یاد شوي حدیث کې د علم نوعیت (څرنګوالی)**

د لومړي پوښتنې ځواب چې د (العلم) څخه مراد کوم علم دی؟ څو احتماله لري:

لومړی احتمال دا چې حدیث کې د (العلم) څخه مراد مطلق علم دی هغه کې دنیاوي علم دی او دیني علم دی، یعنې دواړه علوم فرض دي.

